تسهیل الوقایه

پښتو شرح

شرح الوقایه

دریم جلد

مؤلف
شیخ القرآن والحدیث حضرت
مولانا عبدالرشید صافي عفي عنه
حالاً مدرس فیض القرآن پغمان کابل

جدید مکتبه رشیدیه
جادۀ میوند سرچوک کابل
محله جنگی قصه خوانی پشاور
0782690850
091-2580074





ماشاء الله لاحول ولاقوة الا بالله

تسهيل الوقاية

د پښتو شرح

٣

شرح الوقاية

تاليف
مولانا عبدالرشيد صافي عفى عنه
مدرس دارالعلوم شمس الاسلام سراچه نغلو جلال آباد

جديد مكتبه رشيديه
جاده ميوند سرچوك كابل | محله جنگي قصه خواني پشاور
0782690850 | 091-2580074

دکتاب نوم: تسهیل الوقایه پښتو شرح د شرح الوقایه ۳ جلد
تالیف: مولانا عبدالرشید صافي عفی عنه
دچاپ زیار: مولوی سید محمد پرواني
مخونه: ۲۸۰
دچاپ کال: جولائی ۲۰۲۰ء بمطابق سرطان ۱۳۹۸

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سرچوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 / 0775681606

دکتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) پشاور
(۲) اکوړه خټک
(۳) کویټه
(۴) فاریاب
(۵) پروان
(۶) کندوز
(۷) غزني
(۸) مزارشریف
(۹) جلال آباد
(۱۰) قندهار
(۱۱) بغلان
(۱۲) لشکرګاه
(۹) لوګر
(۱۰) خوست
(۱۱) کابل
(۱۲) جاده سرچوک
(۱۳) ګردیز پکتیا
(۱۴) هرات
(۱۵) تخار
(۱۶) پکتیکا

دمضامينو فهرست

مضمون صفحه

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب العتاق

كتاب دی په بیان د ازادولو کې

د ماقبل سره د دې مناسبت: ځکه طلاق او عتاق دواړو سره اسقاط د حق راځي او طلاق يې ځکه مقدم کړه چې مناسبت يې د نکاح سره وو خو اسقاطات په څو قسمه دي چې اختلاف د اسماو د دې په اختلاف د انواعو سره راځي لکه اسقاط د حق د رق نه عتق دی او اسقاط د حق د بضع نه طلاق وي او اسقاط د ما في الذمة براءت دی او اسقاط د حق د قصاص او جراحاتو څخه عفوه ده،

يو عتق دې او يو اعتاق: عتق ويل کيږي خروج عن الملک ته، او اعتاق ويل کيږي اخراج عن الملک ته، يعني عتق لازمي دی او اعتاق متعدي دې، نو معنی د لازمي دا ده چې ازاديدل، او معنی د متعدي ازادول، خو مصنف رحمه الله لفظ د عتاق راوړو نه د اعتاق د دې لپاره چې هغه عتق پکې هم شامل شي چې په ملک د ذي رحم محرم کې داخل شي.

او په اصطلاح کې عبارت دې د هغه قوت حکميه نه چې انسان په هغې سره اهل د شهادت او قضاء و غيره ګرځي [بحر الرائق ۳۷۳\۴. و حاشية شرح الوقاية].

(هو يصح من حرٍ مكلفٍ بصريح لفظه بلا نيةٍ كانت حرة او معتق او عتيق او اعتقتك او محرر او حررتك او هذا مولاىَ اويا مولاىَ لفظ المولى مشترك احد معانيه المعتَق وفي العبد لا يليقُ الا هذا المعنىً فيعتق بلا نيةٍ اوراسك حرٌ ونحوه مما عُبربه عن البدن).

ترجمه: دا عتق صحيح کيږي د داسې حر نه چې مکلف وي په ښکاره لفظ سره بې له نيت نه لکه **(انت حر)** ته ازاد يې **(معتق)** ته ازاد کړی شوی يې **(عتيق)** ازاد کړی شوي **(محرر)** ازاد کړای شوي **(او حررتک)** ازاد مې کړي **(او هذا مولاي)** دا زما بادار دې **(يا مولاي)** ای زما باداره، لفظ د مولی مشترک دې خو يوه معنی د دې معتق ده، او په غلام کې مناسبه نه ده مګر همدا معنی نو بلا نيته به ازاديږي **(او راسک حر)** يا ستا سر ازاد دی، همدارنګه داسې نور هغه الفاظ چې تعبير په هغې سره د بدن نه کولې شي.

الهمة الفائقة في بيان العتاقة: غرض د مصنف رحمه الله بيان د حکم د عتق دی چې عتق صحيح کيږي د حر نه نه د مملوک څخه ځکه عتق سرايت نه کوي مګر په مملوک کې او د يو مملوک عتق به څه سرايت وکړي په بل مملوک کې؟ خو د داسې حر نه چې مکلف وي يعني عاقل بالغ وي ځکه

ليونى اهل د تصرف نه وي، همدارنګه ماشوم هم اهل د هغه تصرف نه دى چې ضرريې ظاهر دې.

تصريح لفظيه: غرض د شارح د دې نه وضاحت د الفاظو دى چې الفاظ د دې به يا صريحي وي او يا كنائي، صريحي دېته وايي چې نيت ته ضرورت نه لري، او كنائي دېته وايي چې نيت ته ضرورت لري (**كانت حرا**) دا د صريحي الفاظو امثال دي، په دې الفاظو سره مملوک ازادېږي نيت يې وي او كه نه وي

(**لفظ المولى مشترک**) الخ شارح رحمه الله وايي چې لفظ د مولى مشترک وي په ډېرو معانيو يې اطلاق كيږي چې ابن اثير جزري څه د پاسه شلو ته رسولي دي، په معنى د ناصر سره په معنى د معين سره محب سره ابن العم سره معتَق سره معتِق سره، نو په كوم ځاى كې چې لفظ د مولى راغى نو هلته به د تعين د يوې معنى لپاره قرينه حاليه يا مقاليه موجوده وي.

سوال: كله چې لفظ د مولى شريک شو د څو معانيو تر مينځ نو بيا خو دا صريحي لفظ نه شو نو بلا نيته څرنګه عتق صحيح كيږي؟ نو شارح جواب وكړو چې لفظ د مولى اګر چې مشترک وي او يوه معنى يې معتَق ده، ليكن كله چې د دې اضافت عبد ته وشي نو د دې د يوې معنى چې معتَق دى پخپله تعين راغى، څكه د عبد سره بله معنى د مولى بغير د معتَق نه مناسبه نه ده، نو بلانيته هم عتق راځي.

(**او راسک حر**) په مخكنيو مثالونو كې اضافت د حريت وو ذات د مملوک ته او په دې مثال كې اضافت د حريت دى اجزاو د مملوک ته نو مصنف رحمه الله وايي چې كه اضافت يې سر ته وكړو يا هغه جزء ته چې په هغې سره تعيين د ټول بدن څخه كولى شي نو په دې سره هم مملوک ازادېږي او نيت ته پكې ضرورت نشته.

> **(وبكنايته ان نوى كلاملك لي عليكَ ولاسبيل ولارق وانما كان لاملك لي عليك كناية لانه يحتمل عدم الملك بالبيع ونحوه اوبالاعتاق وكذالاسبيل لي اليك اى الى التصرف فيك اوالى الانتفاع بك و كذالاسبيل لي عليك اى لاملك لي عليكَ فان الملك هو الطريق المؤدي الى التصرف والانتفاع).**

(**قوله و بكنايته**) الخ دا عطف دى په بصريح لفظه باندې.

ترجمه او توضيح: او په كنائي الفاظو سره هم عتق صحيح كيږي (**ان نوى**) خو كه نيت يې د عتق كړى وي څكه الفاظ د كنايات د عتق لپاره نه دي وضع شوي بلكې احتمال د عتق او غير عتق دواړو لري نو د يو محتمل د تعيين لپاره نيت ضروري دي او دلالة الحال هم قائمقام د نيت دى.

(**كلا ملک لي عليک**) په كلا كې كاف د تشبيه لپاره دى او لا نافيه دى يعنى لكه دا لفظ چې لاملک

لي علیک زما ملک په تا نشته (و لا سبیل) او نشته زما لپاره هیڅ لاره په تا باندې (و لا رق) او نشته رق زما لپاره په تا باندې (و انما کان الخ) غرض د شارح د دېنه دا دې چې دغه الفاظ چې لا ملک لي علیک و غیره ولې کنائي الفاظ دي ځکه چې دا لفظ چې لا ملک لي علیک احتمال د سلب ملکیت لري خو په طریقه د بیع سره او احتمال د سلب ملکیت لري په طریقه اعتاق سره نو کله چې یې د اعتاق نیت وکړو اعتاق واقع شو او نور محتملات لغوه شو.

(و کذا لا سبیل لي الیک) دا لفظ هم کنائي دی ځکه چې دا هم د ډېرو معانیو احتمال لري یعني چې زما لپاره په تا کې د تصرف کولو لاره نشته یا د فائدې اخستلو لاره نشته ځکه چې ته ما خرڅه کړې یې، یا مې ازاده کړې یې (و کذا لا سبیل لي علیک) دا هم احتمال د دې لري چې زما ملک په تا نشته ځکه ما خرڅه کړي یې یا مې ازاده کړي یې و غیره نور احتمالات هم لري، نو کله چې دغه الفاظ احتمال د عتق او غیر عتق دواړو ولري نو عتق به په نیت سره متعین کیږي.

(فان الملک الخ) ځکه ملک دا هغه لار ده چې رسیدلي تصرف او انتفاع ته یعنې د دې لپاره وضع شوی چې په مملوک کې تصرف وکړي او فائده ترې واخلي.

(واما لا رق لی علیكَ فاعلم ان الرق هو عجز شرعی یثبت فی الانسان اثرًا للکفر وهو حق اللّٰه تعالی واما الملك فهو اتصال شرعی بین الانسان وبین شیءٍ یکون مطلقًا لتصرفه فیه وحاجزًا عن تصرف الغیر فیه فالشیءُ یکون مملوکًا ولا یکون مرقوقًا لکن لا یکون مرقوقًا الا وان یکون مملوکًا فالرق فی الابتداء یکون سببًا للملك فقوله لا رق لی علیكَ اُطلقَ الرق واراد به الملك).

التحریر المنطوق في بیان الفرق بین المملوک والمرقوق: غرض د شارح د دې عبارت څخه وضاحت د لا رق لي علیک دې او دفع د یو سوال ده، هغه داسې چې لا رق لي علیکَ لفظ فاسد دی ځکه رق یو وصف دی په غلام کې چې په دې وصف سره مملوک ګرځي، خو رق د مالک لپاره په مملوک څه امر نه دی چې مالک ورته ووایي چې زما لپاره په تا باندې رق نشته نو شارح رحمه الله په (فاعلم) سره جواب وکړو چې ملک او رق فرق لري ځکه رق یو عجز شرعي دی یعني شریعت په دې باندې امر کړې دی ثابتیږي په انسان کې د وجې د اثر د کفر نه او دا رق حق د الله تعالی دی ځکه رق د کفر اصلي په جزاء کې شرعًا ثابت دی، او ملک یو اتصال شرعي دی په مابین د انسان کې او په مابین د هغه شئ کې چې جواز ورکونکي وي لپاره د تصرف د انسان په دې کې.

(و حاجزًا) او منع كونكى وي د تصرف د غير نه په ديكې نو د رق او ملک په مينځ كې نسبت د عموم او خصوص مطلق دى په داسې طريقه چې هر مرقوق مملوک دى خو هر مملوک مرقوق نه دى نو رق په ابتداء كې سبب د ملک وي نو ذكر د سبب مراد ترې مسبب دى، يعنې ذكر د رق دى خو مراد ترينه ملک دى، او ملک احتمال د عتق او د غير عتق دواړو لري نو بغير د نيت نه به نه ازاديږي.

(**و خرجت من ملكي و خليتُ سبيلكَ و لامته قد اطلقتك**) **ترجمه**: ته ووتلې زما له ملک نه او خوشې مې كړه ستا لاره او چې وينزې ته ووايي چې ته مې خوشې كړې.

توضيح: دا هم د كناياتو بيان دى چې غلام ته ووايي چې ته زما له ملک ووتلې او ستا لاره مې خوشې كړې ده نو دغه وتل يا تخليه يعنې خوشې كول احتمال د دې لري چې په يوه بلې وجهې سره وي او دا احتمال هم لري چې په عتق سره وي نو كله چې يې د عتق نيت وكړو نو ازاد شو. (**و لامته الخ**) كه وينزې ته ووايي چې (**اطلقتُک**) دا د اطلاق نه ده يعنې خوشې مې كړې نو دا آطلاق هم احتمال د عتق او عدم عتق لري نو بې له نيت څخه عتق نه راځي، او كه وينزې ته داسې ووايي چې طلقتک يا انت طالق نو دا بيا د صريحي الفاظو د طلاق څخه دي په دې سره عتق بالكل نه واقع كيږي نيت وي او كه نه وي.

(**وبهذا ابنى للاصغر والاكبر وانما جاء لفظ الباء فى قوله وبهذا ابنى ليُعلم انه عطف على قوله وبكنايته ولو لم يذكر حرف الباء اوهم انه عطف على امثلة الكناية فى نحو لا ملك لى عليك الى آخره فيلزم حينئذٍ انه كناية وليس كذلك فان المقر له ان كان يولد مثله لمثله وهو مجهول النسب يثبت نسبه منه ويكون حرًا وان لم ينو وان لم يكن كذلك يكون هذا اللفظ مجازًا عن الحرمة فيعتق وان لم ينو لان المجاز متعين ولو كان كناية يحتاج الى النية وفى الاكبر سنًا منه خلاف ابى يوسف ومحمد رحمهما الله تعالى وقد بالغتُ فى تحقيق هذه المسئلة فى فصل المجاز من كتاب التنقيح، وحاصله ان امكان المعنى الحقيقى لا يشترط لصحة المجاز كاطلاق الاسد على الانسان الشجاع فلا يشترط امكان البنوة لصحة المجاز وهو الحرية**).

توضيح: او عتق صحيح كيږي په دې قول د مالک سره چې (**هذا ابني**) چې دا مملوک زما ځوى دى د هغه مملوک لپاره چې وركوتى وي د مالک څخه يا مشر وي د مالک څخه يا ورسره منساوي وي، يعنې لكه څرنګه چې عتق صحيح كيږي په صريحي الفاظو سره او په كنائي الفاظو سره همدارنګه عتق صحيح كيږي په هذا ابني سره.

(و انما جاء بلفظ الباء) شارح رحمه الله په بهذا ابني کې د باء د راوړلو فائده بيانوي چې دغه باء يې د دې لپاره راوړه چې هذا ابني عطف دی په دې قول چې و بکنايته او که حرف باء ذکر نه وي نو دا وهم به راتلو چې دا عطف دی په مثالونو د کنايو باندې، لکه لاملک لي عليک و غيره، نو بيا خو دا کنائي گرځيده او حال دا چې دا لفظ کنائي نه دی بلکې د صريحې پورې ملحق دی او په ديکې هم نيت ته ضرورت نشته.

(فأن المقر له) شارح وايي چې هذا ابني ځکه کنائي نه دی چې هغه غلام چې بادار ورته اقرار په ځوی والي کړی دی چې دا زما ځوی دی **(ان کان يولد مثله لمثله)** که چيرته په شان د دغه مقر له غلام صلاحيت د ځوی والي لروده د دغسې بادار مقر لره يعنې چې د دغې مالک او غلام ترمينځ د عمر دومره تفاوت وو چې د دغه غلام په شان کس د دغې مقر ځوی شي **(و هو مجهول النسب)** حال دا دی چې دغه مقر له غلام مجهول النسب وو يعنې پلارېې معلوم نه وو او نه دده په خپل کور او ځای د پيدا ينبت کې نسب معلوم وو **(يثبت نسبه منه)** نو د دغه مقر له نسب به د دغه مقر نه شرعًا ثابت وي يعنې دايې ځوی شو، ځکه نسب د مقر په اقرار سره ثابتيږي تر څو چې يو مانع نه وي لکه معروف النسب و غيره، او دغه مقر له به ازاد وي.

(و ان لم ينو) ان وصليه دی يعنې اگر چې نيت د عتق ونه کړي خو بيا هم دغه غلام ازاد شو **(و ان لم يکن کذلک)** او که دارنگه نه وو يعنې چې د مقر له په شان ځوی نه شي کيدی د مقر لپاره هغه داسې چې غلام مشر وي د بادار نه يا ورسره برابر وي او يا غلام ترې دومره کشر وي چې په دغه عمر کې د بادار ځوی کيدلې نه شي، مثلا دوه يا درې کاله کشر وي نو په دې صورت کې غلام اگر چې مجهول النسب وي خو بيا هم په هذا ابني سره نسب دد ې غلام د بادار څخه ثابتيږي ځکه امکان د ځوی والي نشته، دويم صورت په ديکې دا دې چې د دغه غلام نسب معلوم وي چې د فلانې ځوی دی دده څخه مشر وي کشر وي يا ورسره برابر وي نو په دې صورت کې د دې غلام نسب د بادار څخه نه ثابتيږي ځکه د هغه نسب د بل نه ثابت دی **(يکون هذا اللفظ)** نو په دې دواړو صورتونو کې اراده د معنی حقيقي نه صحيح کيږي بلکې معنی مجازي صحيح کيږي چې هغه عتق دی او نيت ته پکې ضرورت نشته **(لان المجاز متعين)** ځکه نيت ته ضرورت د تعين د محتمل واحد لپاره وي د محتملاتو څخه او دلته مجاز متعين دی ځکه دا لفظ احتمال د بل شئ نه لري نو عتق به ضرورةً ثابتيږي **(و لو کانَ)** او که هذا ابني کنائي وي نو بيا به نيت ته پکې

ضرورت وو (و في الاكبرِ سنّاً منه) خو په هغه غلام کې چې د بادار څخه مشر وي یا ورسره برابر وي د امام ابو یوسف او امام محمد خلاف دی، د دوی په نزد عتق په هذا ابني سره هلته ثابتیږي چې د دغه مقرله په شان څوی کیدی شي د مقر لپاره او په اکبر سنا یا مساوي کې څوی والی د مقر له نشي راتلی (و قد بالغت) شارح وایي چې ما په کتاب التنقیح کې په فصل د مجاز کې په دې مسئله کې پوره تحقیق کړی دی.

(و حاصله الخ) حاصل او خلاصه د تحقیق دا ده چې په اتفاق سره مجاز خلف دی د حقیقت نه خو اختلاف په جهت کې دی د امام ابو حنیفه په نزد مجاز مخلف دی د حقیقت نه په تکلم کې، او صاحبین وایي چې مجاز خلف دی د حقیقت نه په حکم کې، دویم دا چې د امام ابو حنیفه په نزد د صحت د مجاز لپاره امکان د معنی حقیقي شرط نه دی او د صاحبینو په نزد د صحت د مجاز لپاره امکان د معنی حقیقي شرط دی، نو هذا ابني سره چې اشاره هغه غلام ته وکړي چې د بادار نه مشر وي یا ورسره مساوي وي په معنی حقیقي باندې نه شي حمل کولی ځکه د بادار نه مشر یا مساوي د بادار څوی کیدې نه شي نو د صاحبینو په نزد به هذا ابني په دې صورت کې چې د بادار نه مشر وي یا کشر وي په معنی مجازي هم نشي حمل کولی ځکه د دوی په نزد شرط د معنی مجازي لپاره امکان د معنی حقیقي دی، او د امام ابو حنیفه په نزد به په معنی مجازي حمل کولی شي چې هغه عتق دی چې لازم دی د بنوت سره اگر که معنی حقیقي ممکنه نه وي (کاطلاق الاسد) مثلا د زمري اطلاق په یو زړور انسان باندې کیږي سره د دې چې مراد د معنی حقیقي ممکنه نه ده چې هغه حیوان مفترس ده.

فائده: اصل خبره داده چې هغه خپلوان چې محرم وي لکه لور خوی پلار وغیره چې د چا په ملکیت کې راشي نو هغه ازادیږي همدارنگه که څوک یو غلام د دغه محرم په صفت باندې څوک موصوف کړي هغه هم ازادیږي لکه هذا ابني هذه بنتي و غیره.

(لا بیا ابني و یا اخي لان المقصود بالنداء استحضار المنادی بصورة الاسم من غیر قصد الی المعنی واذا لم یکن المعنی مقصوداً لا یثبت مجازه وهو الحریة بخلاف یا حر لانه صریح لا یحتاج الی قصد المعنی)

تشریح: او عتق نه ثابتیږي په یا ابني او یا اخي سره یعنې چې یو غلام ته اواز وکړي چې ای څویه ای وروره! (لان المقصود) ځکه مقصود په نداء او اواز سره طلب د توجه د منادی دی په صورت د اسم سره بغیر له قصد د معنی نه او کله چې معنی مقصوده نه شوه نو معنی مجازي د دې چې حریت دی نه ثابتیږي خو دا په هغه صورت کې چې نیت یې د عتق نه وي که نیت یې وو نو بیا ازادیږي. [بحر الرائق ۳۸۳/۴].

(بخلاف يا حر الخ) كه غلام ته په يا حر سره اواز وكړي نو دغه غلام ازاديږي اګر چې نيت يې د عتق نه وي ځكه دا صريحي لفظ دى قصد د معنى ته پكې ضرورت نشته.

(و لا سلطان لي عليك اي لا يدَ لي عليك فيمكن ان يكون عبدًا و لا يكون عليه يدًا كالمكاتب)

توضيح: دا عطف دى په يا ابني باندې يعني غلام نه ازاديږي په دې لفظ باندې چې و لاسلطان لي عليك ځكه سلطان په ډيرو معانو سره راځي: په معنى د حجت سره غلبې سره يد [لاس] سره، ترڅو چې نيت د عتق نه وي نو نه ازاديږي ځكه ډير كرتې يو مملوک وي خو د بادريد او تصرف وربانديې نه وي لكه مكاتب غلام چې رقةً غلام دى خو يداً غلام نه دى، نو د عدم يد د وجې نه عتق بلا نيته نه لازميږي.

(ولفظ الطلاق وكنايته مع نية العتق فانه اذا قال لامته انت طالق ونوى العتق لا تعتق عندنا، وعند الشافعي تعتق لان الاعتاق هو ازالة ملك الرقبة والطلاق ازالة ملك المتعة فيجوز اطلاق كل واحد منهما على الاخر مجازًا قلنا المجاز لفظ يذكر ويراد به لازمه وازالة ملك المتعة لازم لازالة ملك الرقبة فانه اذا اعتق امته يزول ملك المتعة ولا لزوم على العكس فيجرى المجاز من احد الطرفين وهو ان يذكر الحرية ويراد بها الطلاق لا على العكس وانت مثل الحر بخلاف ما انت الا حر).

عدم وقوع العتاق بالفاظ الطلاق: قوله و لفظ الطلاق الخ دا عطف دى په يا ابني باندې يعني غلام يا وينزه نه ازاديږي په الفاظو د طلاقو سره چې ورته ووايي طلقتک همدارنګه په كنائي الفاظو د طلاقو سره هم نه ازاديږي چې ورته وايي چې انت بتة بتلة و غيره اګر چې نيت د عتق هم وكړي

(فانه اذا قال) كه يو بادار وينزې ته ووايي چې ته طلاقه يي او نيت د عتق هم وكړي نو دغه وينزه

زمونږ په نزد نه ازاديږي **(و عند الشافعي رحمه الله)** او د امام شافعي رحمه الله په نزد كه نيت يې د عتق وو نو ازاديږي ځكه عتاق او طلاق متناسب الفاظ دي ځكه اعتاق سره ازاله د ملک رقبې راځي او طلاقو سره ازاله د ملک متعي راځي نو جائز ده اطلاق د هر يو په بل باندې مجازاً يعني لكه څرنګه چې د عتق په الفاظو سره طلاق بالاتفاق واقع كيږي دارنګې د طلاقو په الفاظو سره

عتق واقع كيږي **(قلنا المجاز)** شارح د امام شافعي د دليل نه جواب كوي او اثبات د خپل مذهب كوي چې مجاز هغه لفظ دى چې ذكر كړى شي خو مراد په دې سره لازم د دې وي او ازاله د ملک متعي لازم دي د ازالې د ملک رقبې سره يعني چې ملک رقبې ختم شو نو ملک متعي ورسره ضرور ختميږي ځكه كله چې يوه وينزه ازاده كړي نو ملک متعي هم ورسره ختميږي د عتق نه

وروسته ورسره وطي حراميږي (ولا لزوم على العکس) خو عکسًا لزوم نشته يعني په زوال د ملک متعي سره زوال د ملک رقبي نه راځي نو په دې مقام کې هم مجاز د يو طرف نه جاري کيږي هغه داسې چې ذکر د حريت وشي او مراد ترې طلاق شي (لا على العکس) خو داسې نه شي کيدلې چې ذکر د طلاقو وشي او مراد ترې حريت شي (و انت مثل الحر) دا هم عطف دی په يا ابني سره يعني که يو بادار غلام ته ووايي چې ته په شان د حرې نو په دې سره عتق نه ثابتيږي لکن که نيت يې د عتق وو بيا په دې سره هم عتق راځي [بحر ۳۸۵۱۴].

(بخلاف ما انت الا حر) لکن که يو بادار خپل غلام ته ووايي چې ما انت الاحر نو په دې سره عتق ثابتيږي ځکه استثناء د نفي نه اثبات دی على وجه التاکيد کما في کلمة الشهادة [بحر الرائق ۳۸۶۱۴].

(ومن ملكَ ذارحمٍ محرمٍ منه اواعتق لوجهِ اللّٰه تعالى اوللشيطانِ اوللصنم اومكرهًا اوسكران او اضاف عتقه الى ملك اوشرط ووجد عتق قوله ذارحم اى ذاقرابة بسبب الرحم وقوله محرم صفة ذا وجره للجوار وقوله الى ملك نحو ان ملكت عبدًا فهوحر اوشرط ووجد نحو ان قدم فلان فعبدى حر فوجد الشرط عتق لكن يشترط ان يكون العبد فى ملكه وقت التعليق كما عرفت فى الطلاق وقوله عتق اى عتق عليه ليكون ضمير عليه راجعًا الى المبتدا وهومن).

توضيح: (و من ملک الخ) څوک چې مالک شي (ذا رحم) د يو خپلوان (محرم منه) داسې خپلوان چې محرم وي ده ته ازاديږي په مالک باندې دغه ملکيت اختياري وي لکه ملک په شراء سره وغيره او که اضطراري وي لکه ملک په ارث سره د وجې د دې حديث نه چې [من ملک ذا رحم محرم منه عتق عليه] الحديث. وجه پکې صله رحمي ده، من ملک سره د معطوفاتو څخه مبتدا ده او عتق يې خبر دی (او اعتق) يايي د الله تعالى د رضا لپاره ازاد کړي نو دا هم ازاديږي، ځکه عتق داسې يو عبادت دی چې په هغې باندې ثواب ورکولی شي او عبادة نه وي مګر د الله تعالى د رضا لپاره نو چې د الله تعالى په رضائی تصريح وکړه نو دا نور هم محکم شو (او للشيطان) يايي د شيطان په نوم ازاد کړي (او للصنم) يايي د بت په نوم ازاد کړي نو په دواړو صورتونو کې هم ازاديږي يعني عتق صحيح کيږي په هغه تحرير سره چې هغه عبادت وي لکه د الله تعالى د رضا لپاره او په هغه تحرير سره چې معصيت وي ځکه اعتاق رکن مؤثر وي په ختمولو د رق کې او صفت د قربت او ثواب لره په ديکی څه تاثير نشته [بحر الرائق ۳۸۷۱۴].

(او مكرهًا) يا په مالک باندې اکراه او باندی وشي چې دغه غلام دي ازاده کړه نو ازاديږي ځکه چې دغه رکن چې اعتاق دي د اهل نه په محل کې واقع شوي [بحرا] دويم دا چې هزل او توقو سره اعتاق واقع کيږي نو د اکراه په صورت کې خو په طريقه اولی سره واقع کيږي ځکه د هزل په صورت کې قصد نه وي او د اکراه په صورت کې قصد هم موجود وي (او سكران) يا د نشې په حالت کې ازاد کړي نو غلام ازاديږي ځکه د سکران طلاق او اعتاق زجرًا واقع کيږي (او اضاف عتقه الى ملك) يا نسبت د عتق خپل ملک ته وکړي چې داسې ووايي ان ملكتُ عبداً فهو حر نو که د غلام مالک شي نو وربانديې ازاديږي ځکه د اضافت نه مراد تعليق دی او کله چې شرط موجود شي نو مشروط خپله موجوديږي، نو کله چې ملک راشي نو عتق هم راځي (او شرط) يا يې نسبت عتق شرط ته وکړو يعني داسې يې وويل چې ان قدم فلان فعبدي حر (و وجد) او دغه شرط موجود شي (عتق) دغه غلام به ازاديږي ځکه کله چې شرط موجود شو نو مشروط چې عتق دی هم موجوديږي (لكن يشترط) لکن په صورت د اضافت کې شرط ته شرط دا دی چې دغه غلام به په وخت د تعليق کې دده په ملک کې وي، قوله (ذا رحم الخ) يعني خاوند د خپلولۍ په سبب د رحم سره (و قوله محرم) او محرم صفت د ذا دی (و جره للجوار) دا دفع د يو اعتراض ده چې کله محرم صفت د ذا شو نو پکار ده چې منصوب شي او دا خو مجرور دی؟ نو شارح جواب وکړو چې ددی جر د وجې د اتصال او مناسبت د جار نه دی چې هغه مضاف اليه د ذا دی چې رحمٍ دی (و قوله عتق اي عتق عليه) دا دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چې عتق خبر دی او خبر کې عائد ضروري وي چې مبتدا ته راجع شي او دلته خو عائد نشته؟ نو شارح جواب وکړو چې دلته عائد حذف شوی دی تقديريې داسې دی ای عتق عليه نو په عليه کې ضمير مبتدا ته راجع دی چې هغه مَن دی.

(كعبدٍ لحربى خرج الينا مسلمًا والحمل يعتق بعتق امه لا هى بعتقه، واعلم ان الحمل يعتق بعتق الام لا بطريق التبعية بل بطريق الاصالة حتى لا ينجر ولاؤه الى موالى الاب وهذا اذا ولدت بعد عتقها لاقل من ستة اشهر).

تشريح: (قوله كعبد الخ) يعني لکه څرنګه چې ازاديږي هغه غلام چې د حربي کافر وي (خرج الينا مسلما) راوځي زمونږ دار الاسلام ته د اسلام په حالت کې ځکه کله چې دغه غلام اسلام راوړو

او هجرت يې دار الاسلام ته وکړو نو ده خپل ځان محفوظ کړو او ازاد شو **(والحمل)** او حمل ازاديږي په ازادولو د مور دده سره خو موريې نه ازاديږي په ازادولو د حمل سره، مثلا يو کس خپله حامله وينځه ازاده کړي نو د دې حمل هم ازاديږي ځکه تر څو چې د دې ځخه جدا شوي نه وي نو دا د دې يو جزء ددې پورې متصل دی نو په عتق کې داخليږي خو که د وينځې حمل ازاد کړي يعنې داسې ووايي چې ستا حمل دې ازاد وي نو صرف حمل ازاديږي او موريې نه ازاديږي ځکه اضافت د عتق مور ته نه دی شوی او مور تابع د ولد هم نه وي.

(و اعلم ان الحمل الخ) شارح رحمه الله وايي چې حمل ازاديږي په عتق د مور سره خو په طريقه د تبعيت سره نه بلکې په طريقه د اصالت سره يعنې ولد مقصوداً ازاديږي.

سوال: مشهور او معتبرو کتابونو کې ذکر دي چې عتق د حمل تابع د عتق د مور وي؟ جواب: هلته عتق د حمل تابع د عتق د مور وي چې د مور د عتق په وخت کې د دې علوق نه وي يعنې د مور د عتق نه شپږ مياشتې يا زيات وروسته دغه حمل وزيږوي نو بيا معلوميږي چې د عتق په وخت کې دغه حمل موجود نه وو نو بيا په دې صورت کې د حمل په عتق باندې په طريقه د اصالت سره حکم نشي کيدلی بلکه په طريقه د تبعيت سره به وي اما که د عتق ځخه وروسته د شپږو مياشتو ځخه په کمه موده کې يې وزيږوه نو بيا معلومه شوه چې د مور د عتق په وخت کې دغه حمل موجود وو ځکه د شپږو مياشتو ځخه په کمه موده کې ماشوم نه پيدا کيږي نو په دې وخت کې به عتق د ماشوم په طريقه د تبعيت سره نه وي بلکي اصالة به وي لکه شارح رحمه الله هم د دې ذکر په و هذا سره کړی دی، ثمره او نتيجه د دې فرق دا راوځي چې کله حمل په طريقه د اصالت سره ازاد شو نو بيا ولاء موالي د پلار ته نشي راکش کولی [بحر الرائق ۳۹۰۱۴].

ولاء په لغت کې قرب ته وايي او په اصطلاح کې هغه قرابت حکميه دی چې صلاحيت د سبب لري د ميراث لپاره، صورت د راکش کولو د ولاء دا دی چې مثلا د زيد يو غلام دی دده په اجازه يې د عمرو د وينځې سره نکاح وکړه بيا عمرو خپله وينځه ازاده کړه او دغه وينځه په دغه وخت کې حامله وه دغې وينځې د دغه ناکح نه بچی وزيږوه نو که د وخت د عتق نه شپږ مياشتې يا زيات وروسته يې دغه بچی وزيږوه نو ولاء (ميراث) د دغه ماشوم به د مور د بادار [عمرو] وي ځکه ولد حر او ازاد شو تابع د مور نو که اوس د دې بچي د پلار بادار [زيد] دغه زوج چې د وينځې خاوند دی او د ماشوم پلار دی ازاد کړي نو دغه غلام اوس د دغې بچي ولاء او ميراث اولاځان ته راکش کوي او بيايي ثانيا مولی ته ځکه د ولد عتق تبعًا وو نو کله چې پلار ازاد شو نو ولاء يې راکش کړه او که د بچي پيدا کيدل د وخت د عتق نه د شپږو مياشتو نه د کمه موده کې وو او بيايې پلار ازاد شو نو

په دې صورت کې پلار ولاء د ولد ته ځان ته راکش کولی شي او نه مولی ته ځکه عتق د ولد په دې صورت کې اصالة د مور د مولی ځخه واقع شو نو ولاء د ولد به هم د مور د بادار (دعمرو) وي نه د بل چا ، والحمد لله رب العالمين.

(والولد يتبعُ امه في الملك والرق والعتق وفروعه اي ان كانت الام في ملك زيد فالولد المولود في ملك زيد يكون ملكا له وان كانت الام مشتركة كان الولد مشتركا على سهام الام وان كانت الام مرقوقة فالولد المولود حال رقيتها يكون مرقوقا وكذا يتبعها في العتق وفروعه كالكتابة والتدبير فعتق الولد بتبعية الام انما يكون اذا كان بين العتق والولادة ستة اشهر او اكثر فحينئذٍ ينجر الولاء الى موالي الاب فعلم انه لا تكرار وولد الامة من زوجها ملك لسيدها وولدها من مولاها حرٌّ).

تشريح: (**والولد**) د ولد نه مراد جنين يعني هغه ماشوم دی چې د مور په ګېډه وي ځکه کوم ماشوم چې پيدا شي او بيايې مور ازاده شي نو دغه بچی بيا تابع د مور نه وي نو ولد به تابع د مور وي په ملک کې په رق کې په عتق کې او په فروعو د عتق کې (**اي اذا كانت الخ**) شارح اوس تفسير د متن کوي يعني چې د ماشوم مور د زيد په ملک کې وه نو هغه بچی چې د زيد په ملکيت کې پيدا شي هغه به هم د زيد ملکيت کې وي (**و ان كانت الام**) او که د ماشوم مور دد وو يا زياتو کسانو تر مينځ شريکه وه نو دغه بچی به هم سره شريک وي په سهمونو د مور سره يعني څومره سهمونه او برخې چې يو کس په مور د ماشوم کې حق ولري نو په ماشوم کې به هم همغه اندازه حق لري (**و ان كانت الام مرقوقة الخ**) او که د ماشوم مور وينزه وه نو هغه بچی چې د وينزيتوب په حالت کې زيږولي هغه به هم غلام وي (**و كذا يتبعها**) همدارنګه به بچی تابع د مور وي په عتق کې او په فروعو د عتق کې چې عقد کتابت دی او مدبر کول دي يعني که مولی وينزه ازاده کړي نو بچی به يې هم ازاد وي او که د مور سره يې عقد کتابت وکړي نو بچی يې هم په عقد کتابت کې داخليږي او که موريې مدبره وګرځي نو بچی يې هم مدبر ګرځي (**فعتق الولد**) خو دغه عتق د ولد هلته راځي چې د عتق او د ولادت تر مينځ شپږ مياشتې يا زياته موده وي ځکه په دغه وخت کې پوره متيقنه نه وي چې د عتق په وخت کې دی حمل موجود وي نو په دې صورت کې بيا ولاء د ولد موالي د پلار ته راکاږي (**فعلم انه لا تكرار**) غرض د شارح په دې سره دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چې مصنف رحمه الله مخکې ذکر وکړو چې حمل ازاديږي په عتق د مور سره او اوس بيا دلته ذکر وکړو چې ولد تابع د مور وي په رق او عتق کې نو دا خو تکرار شو او تکرار شنيع دی؟ نو

شارح رحمه الله جواب وكړو چې مخكې حكم په عتق د حمل كې وو په طريقه د اصالت سره چې د عتق او ولادت تر مينځ د شپږو مياشتو څخه فاصله كمه وي او دلته بيان دى د حكم د عتق د حمل په عتق د مور سره په طريقه تبعيت سره هغه هلته راځي چې د ولادت او عتق تر مينځ موده د شپږو مياشتو په اندازه يا د شپږو مياشتو څخه زياته وي نو تكرار رانغى (و ولد الامة) كه يوې وينزې د خپل خاوند څخه بچى راوړو نو دا بچى به د دې وينزې د بادار په ملكيت كې وى ځكه ولد تابع د مور وي په رق كې (و ولدها) او كه د بادار څخه يې بچى راوړو نو دغه بچى به ازاد وي ځكه دا د بادار د اوبو څخه پيدا شو نو په بادار ازاديږي، والله الموفق للسداد.

باب عتق البعض

باب دى په بيان د عتق د بعضې غلام كې

مخكې بيان د عتق د كل وو اوس بيان د عتق د بعضې دى او عتق د بعضې رتبةً مؤخر وي د عتق د كل نه نو مصنف رحمه الله هم مؤخر كړو ذكراً.

(وان اعتق بعض عبده صح وسعى فيما بقي وهو كالمكاتب بلا رد الى الرق ولو عجز وقالا عتق كله هذا بناء على ان العتق لايتجزء بالاتفاق فكذا الاعتاق عندهما لانه اثبات العتق كالكسر مع الانكسار فيلزم من عدم تجزء اللازم وهو العتق عدم تجزء ملزومه وهو الاعتاق لكن ابا حنيفة رحمه الله يقول الاعتاق ازالة الملك لانه ليس للمالك الا ازالة حقه وهو الملك والملك متجزء فكذا ازالته فاعتاق البعض اثبات شطر العلة فلا يتحقق المعلول الا وان يتحقق تمام العلة وهو ازالة الملك كله). قاري هدايت الله كمپوز

القول الفارق في بيان تجزء العتق: (و ان اعتق الخ) كه يو بادار د خپل غلام بعضې حصه ازاده كړي مثلا نصف يا ربع يا يو جزء نو دا صحيح ده (و سعى الخ) خو غلام به په پاتې حصه كې سعي وكړي د سعي طريقه داده چې مولى به دغه غلام چاته په اجاره وركړي او د ما بقي قيمت به دده له مزدورۍ اخلي كله چې يې قيمت پوره شو نو غلام بيا مكمل ازاد شو (و هو) دغه غلام چې بعضې حصه يې ازاده شوي پشان د مكاتب دي په بعضې صورتونو كې يعني پشان د مكاتب نه خرڅولي شي نه د بل نه ميراث وړلى شي او نه دده نه څوك ميراث وړلى شي او نه نكاح كولى شي او نه يې گواهي قبليږي دا ځكه چې د دواړو مكمل خلاصيدل د مال د اداء كولو پورې تعلق لري (بلا رد الى

الرق و لو عجز الخ) غرض د شارح په دې سره فرق بيانول دي په مابين د مكاتب او معتق البعض كې هغه داسې چې مكاتب كله د اداء د بدل الكتابة څخه عاجزه شي نو بيرته د ماسبق په شان غلام ګرځي اما معتق البعض كه د اداء د قيمت د مابقي نه عاجزه هم شي نو بيرته غلام نه ګرځي لكه څرنګه چې مخكې وو ځكه د مولى له طرفه پكې اعتاق موجود دي.

(و قالا عتق كله) خو صاحبين وايي چې په اعتاق د بعضې سره عتق د كل راځي نو كله چې بادار د غلام بعضې حصه ازاده كړه نو ټول ازاد شو **(هذا بناء)** شارح د دغه اختلاف اصل بيانوي هغه داسې چې نفس الاعتاق او عتق تجزي بالاتفاق نه قبلوي ځكه ذات د فعل چې علت دى او حكم د دې چې نزول د حريت دى تجزي نه قبلوي همدارنګه رق هم تجزي نه قبلوي ځكه دا يو ضعف حكمي دى او حريت يو قوت حكمي دى نو دواړه په شخص واحد كې نه جمع كيږي نو امام ابو حنيفه جانب د رق ته ترجيح وركړي نو ټول غلام يې رقيق ګرځولى لكه څرنګه چې مخكې وو خو مالك چې كله بعضې ازاد كړو نو د دغې بعضې نه دده ملكيت لرې شو او صاحبينو طرف د عتق ته اعتبار وركړى نو دوى وايي چې كله بادار بعضې حصه ازاده كړه نو ټول ازاد شو.

اما اختلاف په ديكې دى چې اعتاق زوال د ملك راولي او دغه زوال د ملك د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد تجزئ قبلوي او د صاحبينو په نزد اعتاق زوال د رق راولي او زوال د رق تجزئ نه قبلوي **(على ان العتق)** خلاصه دا چې صاحبين وايي چې عتق خو بالاتفاق تجزئ نه قبلوي نو اعتاق يې هم نه قبلوي ځكه عتق لازم دى او اعتاق ملزوم دى نو چې لازم تجزئ نه قبلوي چې عتق دى نو ملزوم چې اعتقا دى په طريقه اولى سره نه قبلوي كالكسر مع الانكسار لكه كسر ماتول د انكسار او (ماتيدلو) سره يعني لكه كسر چې تجزئ نه قبلوي نو دارنګه انكسار يې هم نه قبلوي.

(لكن ابا حنيفة رحمه الله) امام ابو حنيفه وايي چې اعتقا سره ازاله د ملك راځي ځكه د مالك لپاره ازاله د خپل حق شته چې ملك دى او ملك تجزي قبلوي مثلا نيم غلام ستا دى او نيم د بل كس وي نو تجزي يې قبوله كړه نو ازاله د ملك به هم تجزي قبلوي فاعتاق البعض نو كله چې مالك بعضې حصه د غلام ازاده كړي نو د يوه حصه د علت چې هغه ازاله د ملك ده ثابته شوه او معلول چې حريت دى هلته ثابتيږي چې تمام علت موجود شي چې هغه ازاله د كل ملك ده او په صورت د اعتاق د بعضې كې تمام علت موجود نه دي.

(ولو اعتق شریك حظه اعتقه الآخر او استسعاه او ضمن المعتق موسرًا ای حال کون المعتق موسرًا قیمة حظه الضمیر یرجع الی الآخر لا معسرًا والولاء لهما ان اعتق او استسعی وللمعتق ان ضمنه ورجع به ای بالضمان علی العبد وقالا له ضمانه غنیًا ای للآخر تضمین المعتق حال کونه غنیًا والسعایة فقیرًا فقط والولاء للمعتق لان اعتاق البعض اعتاق الکل عندهما).

تشریح: (**و لو اعتق الخ**) که مثلا دوه کسان سره په یو غلام کې شریک وو او یو کس پکې خپله حصه ازاده کړه نو دغه بل کس ته د درې خبرو اختیار دی: ۱۔(**اعتقه الآخر**) چې دغه بل کس ازاد کړي نو غلام به مکمل ازاد شي، ۲۔(**او استسعاه**) یا دا چې دغه بل کس ورنه طلب د سعي وکړي یعني چې مزدوري وکړي چې دده خپل قیمت چې نیمایي حصه ده ورپوره کړي نو د قیمت د پوره کولو څخه وروسته به ټول غلام ازاد شي. ۳۔(**او ضمن المعتق**) دا چې اولني نیمایي ازادونکي څخه تاوان واخلي د خپل سهم خو کله چې یې د خپل سهم تاوان ترې واخستلو نو غلام مکمل ازاد شو. (**موسرًا**) خو شرط په تاوان اخستلو کې دا دی چې اولنی معتِق مالداره وي (**قیمة حظه**) قیمت د خپلې حصې یعني دغه وروستنی به د خپل حصې تاوان ترې واخلي (**لا معسرًا**) که اولنی معتِق غریب وو نو بیا به ترې تاوان نه اخلي بلکې بیا به یې دا دویم کس یا ازادوي او یا به ترې طلب د سعي او مزدورۍ کوي (**والولاء**) میراث و غیره (**لهما**) د دواړو به وي (**ان اعتق**) که دي دویم کس هم خپل سهم ازاد کړو ځکه دواړه معتقین وګرځیدل او ولاء د معتق حق وي (**او استسعی**) او یا دویم کس ترې طلب د سعي او مزدورۍ وکړو نو بیا هم دواړه معتقین وګرځیده او ولاء د دواړو حق دی البته یو فرق صرف شته چې اول کس بلا بدله معتِق دی او دویم کس په مال سره معتق وګرځیده خو ولاء علی السویة حق ده.

(**و للمعتِق**) دریم صورت دا دی که دویم کس د اولني څخه تاوان د خپل سهم واخستلو نو بیا معتق صرف اول کس وګرځیدلو او ولاء هم به د اولني حق وي (**و رجع به**) خو اولنی معتِق به رجوع په تاوان سره په غلام وکړي یعني غلام نه به دغه تاوان واخلي ځکه د هغه بل کس حق د غلام نه طلب د مزدورۍ وو خو کله چې د معتِق اول نه تاوان واخستلو نو اوس به د معتِق اول لپاره سعي کوي او هغه تاوان به پوره کوي، خلاصه دا چې د امام صاحب په نزد که معتق اول مالداره وو نو دریم کس په درې امورو کې اختیارمند دی: ۱۔اعتاق ۲۔استسعاء ۳۔تضمین، او که غریب وو نو په دوه امورو کې اختیارمند دی ۱۔اعتاق ۲۔استسعاء.

(و قالا ضمنه غنيًا) خو صاحبين وايي که معتق اول مالداره وو نو بيا دويم کس ته صرف د يو شئ اختيار دی تضمين دی د اعتاق او استسعاء حق نه لري **(والسعاية فقيرًا فقط)** او که اولني معتِق غريب وو نو بيا دويم کس ته صرف د سعايه حق شته د اعتاق نشته **(والولاء)** او ولاء او ميراث به په دواړو صورتونو کې د معتِق اول وي ځکه د صاحبينو په نزد اعتاق د بعضې اعتاق د کل دی نو اولنی کس مکمل معتِق وګرځيدو نو ولاء هم دده حق دی.

(ولو شهد كل شريك بعتق الآخر سعى لهما في حظهما والولاء لهما وقالا سعى للمعسرين لا للموسرين لان على اصلهما الضمان مع اليسار والسعاية مع العسار فان كانا معسرين تجب السعاية وان كانا موسرين فلا سعاية ولا ضمان ايضًا لان كل واحد يدعي اعتاق الآخر والآخر ينكر ولا بينة).

تشريح: (و لو شهد) د شهادت نه مراد اخبار دی ځکه کوم ځای کې چې نفع ځان ته راځي نو هلته شهادت نه صحيح کيږي نو که د دوو کسانو تر مينځ يو غلام شريک وو او هر يو دا خبر ورکړ چې فلانکی شريکتي زما خپله حصه په دې غلام کې ازاده کړه **(سعى لهما)** نو اوس دغه غلام به د دواړو لپاره سعي کوي هر يو ته به د خپل سهم په اندازه مزدوري برابره وي دغه مالکان يې مالداره وي او که غريب وي يا يو پکې غريب وي او بل مالداره وي ځکه هر يو دا دعوه کوي چې هغه بل خپل سهم ازاد کړي نو دده په ګمان دغه غلام مکاتب وګرځيده ځکه د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد معتق البعض غلام په شان د مکاتب وي او مکاتب غلام کيدی نه شي نو اوس به سعي کوي د دواړو لپاره او تضمين دلته نشي راتلی ځکه هر يو انکار کوي **(والولاء لهما)** او ميراث د دې غلام به د دواړو شريکينو وي ځکه هر يو وايي چې فلانکی خپله حصه ازاده کړې او ولاء به نيمه د هغه وي او زما برخه په سعايه سره ازاده شوه نو ولاء به هم زما وي.

(و قالا) خو صاحبين وايي چې که دواړه شريکين غريب وو نو بيا به غلام ورته سعي وکړي او که مالداره وو نو بيا نه سعي شته او نه ضمان شته **(لان على اصلهما)** ځکه د صاحبينو په دليل باندې ضمان به د يسار سره وي اوسعايه به عسار سره وي يعني که معتِق مالداره وو نو تاوان به هغه بل ته ورکوي او که غريب وو نو غلام به د هغه بل لپاره سعي کوي **(فان كانا)** نو اوس که دواړه غريب وو نو په غلام د دواړو لپاره سعي واجب ده او که مالداره وو نو نه سعي شته او نه ضمان شته ځکه هر يو دا دعوه کوي چې هغه بل شريک ازاد کړي او هغه بل شريک انکار کوي او مينځ کې ګواهان نشته.

(ولو تخالفا يسارًا سعى للموسر لا لضده لان عتقه يثبت بقولهما ثم الموسر يزعم ان حقه في السعاية والمعسر يزعم انه لا حق له في السعاية لان المعتق موسر ولا يقدر على اثبات الضمان لان شريكه منكر فلا شيء له اصلاً فان قلت ينبغي ان لا تجب السعاية في شيء من الاحوال لان العتق انما يثبت باقرار كل منهما باعتاق شريكه والشريك منكر فصار اقرار كل واحد منهما انشاءً للعتق فلا تجب السعاية قلت العبد ان كذب كل واحد منهما فيما زعم لا يثبت عتقه وان صدق فتصديقه كل واحد منهما يكون اقرارًا بوجوب السعاية له على اصل ابي حنيفة واما على اصلهما فتصديقه للموسرين لا يكون اقرارًا وتصديقه للمعسرين يكون اقرارًا وكذا تصديقه للموسر اذا كان شريكه معسرًا).

تشريح: که دواړه شريکين مخالف وو په مالدارۍ کې يعني يو مالدار وو او بل غريب وو او هر يو دا خبر ورکړو زما فلانی شريک خپله حصه ازاده کړې ده خوهغه بل به منکر وو او د يو لپاره هم ګواهان موجود نه وو (**سعى للموسر**) نو په دې صورت کې به غلام د مالداره سړي لپاره سعي کوي په اندازه د خپلې حصې نه د غريب لپاره (**لان عتقه الخ**) ځکه عتق د غلام خو د دواړو شريکينو په قول سره ثابت شو (**ثم الموسر**) خو بيا مالداره سړي دا ګمان کوي چې زما حق په غلام باندې په سعايه کې دی ځکه شريک مې غريب دی او معسر دا ګمان کوي چې زما حق خو په سعايه کې نشته ځکه شريک مې مالداره دی (**ولا يقدر**) او دغه معسر په ذمه د شريک موسر باندې تاوان هم نشي ثابتولی ځکه شريک يې د اعتاق څخه منکر دي او ګواهان هم نشته نو د معسر لپاره يو شئ هم نشته دا د صاحبينو د قول تتمه ده، ځکه د دوی په نزد سعايه په عبد باندې په صورت د اعسار کې ده او تضمين په صورت د يسار کې دی، اما د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد غلام به د دواړو لپاره سعي کوي دواړه مالداره وي که دواړه غريب وي که يو مالداره وي او بل غريب وي ځکه د هر يو شريک په دواړو حالاتو کې احد الشيئين وي چې هغه تضمين او استسعاء ده او تضمين متعذر دی ځکه چې شريک منکر دی نو سعايه لازم شوه او ولاء به هم د دواړو لپاره وي [بحر الرائق۴۰۰/۴۱].

(**فان قلت**) په صاحبينو يو اعتراض واردېږي چې په مخکښې مذکوره دريو صورتونو کې (۱) چې دواړه شريکين مالداره وي، ۲. چې دواړه غريب وي، ۳. چې يو مالداره وي او بل غريب وي بايد سعايه لازم نه شي ځکه عتق په اقرار او شاهدي د هر يو په بل باندې ثابتيږي چې فلانی شريک زما خپله حصه ازاده کړه او شريک منکر دی نو اقرار د هر يو انشاء د عتق وګرځيده يعني دا داسې شوه لکه هر يو چې اوس خپله حصه ازاده کړه او په داسې صورت کې سعايه نه واجبيږي.

(قلت) شارح جواب کوي چې په مذکورو صورتونو کې سعايه په غلام باندې هلته واجبيږي چې غلام د دواړو تصديق وکړي اما که غلام دواړو شريکينو تکذيب وکړي نو بيا نه عتق د غلام ثابتيږي او نه سعايه لازميږي خو که غلام د دواړو تصديق وکړو نو د غلام تصديق موجب د سعايه دی برابره خبره ده چې شريکين دواړه مالداره وي که دواړه غريب وي او که يو غريب وي او بل مالداره وي دا د امام ابو حنيفه په نزد.

(و اما على اصلهما) خو صاحبين وايي که دواړه شريکين مالداره وو او غلام د دوی تصديق وکړو نو بيا دا اقرار په وجوب د سعايه سره نه دی ځکه د مالدارۍ سره سعايه نه لازميږي او که دواړه شريکين غريب وو نو بيا تصديق د غلام اقرار وي په وجوب د سعايه باندې د دواړو لپاره همدارنګه که يو غريب وو او بل مالداره وو او غلام تصديق د مالداره وکړو نو په دې صورت کې بيا تصديق د غلام اقرار دی په خپل ځان باندې د سعايه د موسر لپاره.

(ووُقف الولاء في الاحوال اى حال يسارهما وعسارهما ويسار احدهما وعسار الآخر لان كل واحد منهما منكر اعتاقه فيتوقف الولاء الى ان يتفقا على اعتاق احدهما).

توضيح: د صاحبينو په نزد به ولاء د دې غلام موقوفه وي يعني د يو شريک لپاره به هم حکم د استحقاق نه شي کولی په دريواړو حالاتو کې يعني چې دواړه مشرکين مالداره وي يا دواړه غريب وي يا يو غريب وي او بل مالداره وي ځکه هر يو د اعتاق د غلام څخه منکر دي نو ولاء به تر هغې موقوفه وي چې دواړه شريکين په دې متفق شي چې يو يکې معتِق دی ځکه معتق او مستحق د ولاء د صاحبينو په دليل سره يو کس دی ځکه د صاحبينو په نزد اعتاق د بعضې اعتاق د کل دی او ولاء د هغه چا لپاره وي چې غلام يې ازاد کړی وي او دلته معتِق او مستحق معلوم نه دی ځکه هر يو د بل د استحقاق څخه منکر وي، امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد ولاء د دواړو حق دی کما مر.

(ولو علق احدهما عتقه بفعل غدًا والآخر بعدمه فمضى وجُهل شرطه عتق نصفه وسعى فى نصفه لهما و عند محمد سعى فى كله لان المقضى عليه بسقوط السعاية مجهول فلا يمكن القضاء على المجهول قلنا نصف السعاية ساقط بيقين و كل واحد من الشريكين يقول لصاحبه ان النصف الباقى هو نصيبى والساقط نصيبك فينصف بينهما).

توضيح: که په دوه شريکينو کې يو شريک په يو غلام کې خپل عتق د يو فعل پورې معلق کړو مثلاً که احمد جلال اباد ته راغی نو ته دې ازادې يعني زما برخه **(و الآخر بعدمه)** خو بل شريک په همدې غلام کې خپل عتق د عدم فعل پورې معلق کړو مثلاً که احمد جلال اباد ته رانغی نو ته

دي ازادیږي یعني زما برخه نو اوس که د هر چا شرط موجود شو د هغه برخه ازاده شوه او د هغه بل نه ازادیږي ځکه شرط یې موجود شوی نه دی.

او که شرط مجهوله وو یعنې دا معلومه نه وه چې احمد جلال اباد ته راغلی او کنه؟ نو غلام نیم ازاد شو او په باقي نیمایي کې به د دواړو شریکینو لپاره سعي وکړي **(و عند محمد)** خو امام محمد رحمه الله وايي چې دغه غلام نیمایي نه ازادیږي بلکه په ټول قیمت کې به د دواړو شریکینو لپاره سعي کوي ځکه چې کوم کس چې فیصله کولی شي په سقوط د سعایه سره چې مولا دی هغه مجهول دی، او قضاء په مجهول نه کیږي؟ **(قلنا)** شارح د امام ابو حنیفه له طرفه د امام محمد د دلیل جواب کوي چې نصف سعایه خو په یقین سره ساقطه ده ځکه چې یو شرط خو به خامخا موجود وي او هر یو د شریکینو نه بل خپل شریک ته وايي چې ستا حصه ازاده شوې ځکه شرط دی موجود شوی او باقي نیمایي حصه چې ازاده شوې نه ده هغه زما حصه ده نو دغه نیمایي چې پاتې حصه ده دا به د دواړو شریکینو تر مینځ نیمایي کړی شي د دې لپاره چې د دواړو تر مینځ منازعه ختمه شي نو په نیمایي کې سعي به د دواړو شریکینو سره شریکه وي علی السویه.

(ولا عتق في عبدين اي اذا قال رجل ان دخل فلان الدار غداً فعبده حر وقال الآخر ان لم يدخل فلان الدار غداً فعبده حر فمضى ولم يدر انه دخل اولا لا يعتق شيء من العبدين لان المقضي عليه بالعتق والمقضي له مجهولان ففحشت الجهالة).

تشریح: که دوه کسانو هر یو ځانته بیل بیل غلام درلوده یو پکې وویل چې که فلانی کور ته صبا راغلی نو زما غلام دې ازاد وي هغه بل سړي وویل چې که فلانی کور ته صبا رانغلی نو زما غلام دې ازاد وي **(فمضی)** نو صبا تیر شو **(و لم یدر انه)** خو دا پته ونه لګیده چې فلانی فلانی کور ته راغلی وو او که نه نو د یو غلام هم نه ازادیږي **(لان المقضي علیه)** ځکه چې په کوم کس چې فیصله کولی شي په عتق سره چې هغه مولی دی **(والمقضی له)** او د چا لپاره چې فیصله په عتق کولی شي چې غلام دی دواړه مجهول دي **(ففحشت الجهالة)** نو په دې صورت کې جهالت ډیر زیات شو ځکه نه د مقضی علیه معلومات کیږي او نه د مقضی له او په مخکنې صورت کې یعنې چې د دوو شریکینو په مینځ کې یو غلام وو هلته مقضی به چې عتق د نصف عبد دی معلوم وو او مقضی له چې عبد دی هغه هم معلوم وو او صرف مقضی علیه چې مولی دی هغه مجهول وو نو جهالت زیات نه وو او هغه جهالت هم په دې ختم شو چې د نصف سعایه د دواړو لپاره شوه.

(ومن ملكَ ابنه مع آخر بشراءٍ اوهبة اووصيةٍ اواشترَى نصف ابنه من سيده اوعلق عتقه بشراءنصفه ثم اشتراه مع آخر عتق حصته ولم يضمن الاب علم الشريك حاله اولا اى علم الشريك انه ابن لشريكه اولم يعلم كما ورثاه اى لا يضمن الاب نصيب الشريك فى الصور المذكورة كما لا يضمن الاب اذا ورث هوو شريكه ابنَه وصورته ماتت امرأة ولها عبد هوابن زوجها فتركت الزوج والاخ فورث الاب نصف ابنه فعتق عليه لايضمن حصة اخيها اتفاقا لان الارث ضرورى الثبوت ولا اختيار للاب واعتقه الآخراوسعى له اى لما لم يكن للشريك ولافي التضمين بقي له احد الامرين اما الاعتاق اوالسعاية)

توضیح: (**من ملک ابنه الخ**) که یو کس د خپل ځوی مالک شو د یو اجنبي کس سره په اخستلو سره یا په هبې سره یا په وصیت سره مثلاً عمرو غلام دی د عمرو بادار عمرو لره په دوه کسانو خرڅ کړو چې یو خریدار د عمرو پلار وو او بل کس اجنبي سړی وو یا د عمرو بادار دوی ته بخښښي ورکړو یا یې دوی ته وصیت وکړو چې زما د مرګ څخه وروسته به عمرو د دغو دوو کسانو وي چې یو د عمرو پلار دی او بل اجنبي کس دی (**او اشترى**) یا د عمرو پلار دغه خپل ځوی عمرو د عمرو د بادار څخه نیمایي واخستو یعنې دغه عمرو د دواړو سره شریک شو چې نیمایي د عمرو پلار شو او نیمایي د عمرو بادار شو (**او علق عتقه**) او یا د عمرو پلار د خپل ځوی عتق د نیمایي اخستلو پورې معلق کړي یعنې ځوی ته داسې ووایي که ستا نیمایي حصه ما واخستله نو ته دې ازادیې (**ثم اشتراه**) بیا د دې تعلیق څخه وروسته دغه خپل ځوی د بل کس سره په شریکه د ځوی د بادار څخه واخلي (**عتق حصته**) په دغه ټولو صورتونو کې د پلار حصه ازاده شوه د دې حدیث مبارک په بناء سره [من ملک ذا رحم محرم منه عتق علیه].

او په صورت د تعلیق کې شرط موجود شو (**و لم یضمن الاب**) کله چې پلار باندې نیمه حصه خپله ازاده شوه نو په پلار باندې د خپل شریک تاوان نشته پلاریې مالداره وي او که غریب وي (**علم الشریک الخ**) شراکتي د غلام په حال خبر وي چې دا زما د شراکتي ځوی دی او که خبر نه وي (**کما لو ورثاه الخ**) یعنې په مذکوره ټولو صورتونو کې په پلار تاوان نشته لکه څرنګه چې په پلار په هغه صورت کې تاوان نشته چې پلار او یو بل شریک ته دده ځوی په میراث کې پاتې شي (**صورته**) صورت د مسئلې داسې دی چې یوه ښځه مړه شوه د دې ښځې یو غلام وو چې دغه غلام یې د خپل میړه ځوی وو د بلې ښځې څخه د دې ښځې څخه وارثان دوه کسان پاتې شول چې یویې خاوند وو

او بل يې ورور د دې ښځې وو، نو خاوند يې نيمه حصه د ځوی په ميراث کې ويوړه او نيمه د ښځې د ورور نو په خاوند باندې خپله نيمه حصه ازاده شوه د دې حديث د وجې چې [من ملک ذا رحم محرم منه عتق عليه] خو خاوند د ښځې د ورور د نيمې حصې څه ضامن نه دی په اتفاق د ائمه ثلاثو سره ځکه اسباب د ملک په دوه قسمه دي: ۱۔ اختياري لکه بيع شراء، ۲۔ ضروري لکه ميراث نو ميراث ضروري الثبوت وي د پلار پديکې څه مداخله نشته او ضمان هلته واجبږي چې معتق د افساد نيت وکړي او په دې مذکوره صورتونو کې نشته (و اعتقه الآخر او سعٰى له) کله چې شراکتي لره حق د تضمين نشته نو دوه خبرې ورته پاتې دي: ۱۔ چې يا به شراکتي هم خپل سهم ازادوي او يا به غلام دده لپاره په خپل سهم کې سعي کوی معتق مالداره وي او که غريب.

(وقالا في غير الارث ضمن نصف قيمته غنيًا وسعٰى له فقيرًا لان شراء الفقير اعتاق فان كان موسرًا يجب الضمان وان كان معسرًا سعى العبد، وابو حنيفة رحمه الله يقول انه رضى بافساد نصيبه فلا يُضمنه كما اذا اذن باعتاق نصيبه حيث شاركه في علة العتق وهو الشراء وان جهل فالجهل لا يكون عذرًا).

توضيح: خو صاحبين وايي چې د ارث نه ماسوا په نورو اسبابو د ملک کې به پلار خپل شريک ته نيم قيمت تاوان ورکوي (غنيًا) په داسې حال کې چې پلار مالداره وي (و سعٰى له فقيرًا) او که پلار فقير وو نو بيا به دغه غلام د دغه شريک لپاره سعي کوي ځکه شراء د قريب اعتاق وي نو چې پلار په دې پوهه وو او سره د دې يې ځوی واخستلو نو اوس که پلار مالداره وو نو شريک ته به تاوان ورکوي او که فقير وو نو غلام به د شريک لپاره سعي کوي (و ابو حنيفة يقول) خو امام ابو حنيفه رحمه الله بيا وايي چې شريک د خپلې حصې په فاسدولو راضي وو ځکه دده ته معلومه وه چې د پلار په شراء سره عتق راځي او سره د دېنه شريک ورسره شراکت کولو نو دا په خپله حصه د افساد راضي وو (فلا يضمنه) نو شراکتي د غلام د پلار څخه تاوان نشي اخستلی (كما اذا اذن الخ) دا داسې شو لکه شريک چې ورته اجازه وکړه چې ته زما حصه ازاده کړه (حيث شاركه) ځکه شريک ورسره په علت د عتق کې شريک شو چې هغه علت شراء ده او شرکت په علت د عتق کې رضاء په عتق ده (و ان جهل الخ) دا دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چې شريک به هلته په افساد د حصې راضي وي چې په دې پوهه وي چې د پلار په شراء سره عتق راځي اما که پوهه نه وي نو بيا خو رضا نه شوه؟ نو شارح جواب وکړو چې که شريک د دې څخه ناپوهه وي نو بيا هم تاوان نشي اخستلی ځکه په امور شرعيو کې جهالت عذر نه دی او دده د حصې د افساد لپاره دده شرکت په علت د عتق کې کافي دی.

(وان اشترَى نصفه ثم الاب باقيه غنيًا ضمن له اوسعَى وخالفها فيها ففي هذه الصورة لمريض الشريك بإفساد نصيبه فيُخير وعندهما لا تجب سعايته لان المعتِق غني)

توضيح: كه يو اجنبي سړي د يو غلام نيمايي حصه واخستله بيا د دې غلام پلار هغه باقي نيمايي حصه واخستله نو په پلار باندې په سبب د تملک دغه ځوی ازاد شو (غنيًا) په داسې حال کې چې پلار مالداره وو (ضمنَ له) نو اوس د غلام په پلار باندې تاوان واجب دی چې خپل شريک ته به يې ورکوي (او سعى) او يا به غلام د شريک لپاره سعي کوي د دواړو اختيار دی خو دا په هغه صورت کې چې پلار غني وي او که پلار فقير وي نو بيا صرف سعايه واجب ده ځکه شريک د خپلې حصې په فاسدولو راضي نه دی ځکه د شريک اخستل د پلار د اخستلو څخه مقدم دی (و خالفا فيها) خو صاحبين د امام ابوحنيفه سره د غناء په حالت کې په سعي کې مخالفت لري دوی وايي چې په دې صورت کې صرف تضمين واجب دی او سعي نشته ځکه معتق غني دی او سره د غناء سعي نشته د صاحبينو په نزد باندې.

(ولو دبره احد الشركاء واعتقه الآخر وهما موسران ضمن الساكت مدبره لا معتقه والمدبرُ معتقَه ثلثه مدبرًا الا لما ضمنه هذا عند ابي حنيفة وذلك لان التدبير متجزء عنده كالاعتاق فيقتصر على نصيبه لكنه افسد نصيب شريكيه فاحدهما اختار اعتاق حصته فتعين حقه فيه فلم يبق له اختيار امر آخر كالتضمين وغيره ثم للساكت توجه سببا ضمان اي ضمان التدبير والاعتاق لكن ضمان التدبير ضمان المعاوضة لانه قابل للانتقال من ملك الى ملك وضمان المعاوضة هو الاصل فيُضمن المدبر ثم للمدبر ان يضمن المعتق ثلث قيمة العبد مدبرًا وقيمة المدبر ثلثا قيمته قنًا لان المنافع ثلاثة انواع: الوطي والاستخدام والبيع، فبالتدبير فات البيع ولا يضمن المدبر المعتق الثلث الذي ضمنه الساكت مع ان ذلك الثلث صار ملكًا للمدبِر بسبب الضمانِ لانه ملك بأداء الضمانِ ملكًا مستندًا وهو ثابت من وجه دون وجهٍ فلا يظهر في حق التضمين، واما الولاء فثلثاه للمدبِر وثلثه للمعتِق).

توضيح العبارة: ضمن الساكت کې الساکت فاعل دی (مدبره) صيغه د اسم فاعل ده مفعول د ضمن دی (والمدبِر) صيغه د اسم فاعل ده او فاعل د ضمن مقدر لپاره دی (معتِقه) صيغه د اسم فاعل ده مفعول اول د ه د ضمن مقدر لپاره (ثلثه) مفعول ثاني د ه (مدبرا) صغيه د اسم مفعول ده او حال واقع شوی د ضمير د ثلثه نه.

تشريح: **(و لو دبره الخ)** كه يو غلام د دريو كسانو تر مينځ شريك وو نو يو كس خپله دريمه حصه كې دا غلام مدبر كړو او دغه مدبر مالداره وو بيا هغه دويم كس خپله دريمه حصه ازاده كړه خو دريم كس نه دغه غلام مدبر كړو او نه يې ازاد كړو **(و هما موسران)** خو دا مدبر او معتق دواړه مالداره وو **(ضمن الساكت الخ)** نو اوس كه ساكت او مدبر دواړه تاوان غواړي نو ساكت به د مدبر نه تاوان واخلي د خپلې دريمې حصې وجه يې شرحه كې وروسته راځي **(لا معتقه)** خو ساكت به د معتق نه تاوان نه اخلي **(والمدبر معتقه)** الخ او مدبر به بيا د معتق څخه تاوان واخلي **(ثلثه)** د دريمې حصې د قيمت د دې غلام **(مدبرًا)** خو په داسې حال كې به د معتق څخه د دريمې حصې تاوان اخلي چې مدبر وي يعني د مدبر د دريمې حصې تاوان به وركوي ځكه چې د مدبر قيمت د خالص غلام څخه كم دى **(لا لما ضمنه)** خو مدبر به د معتق نه هغه اندازه تاوان نه اخلي كوم چې مدبر ساكت ته وركړى دى **(هذا الخ)** دا د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دى **(و ذلك الخ)** دا ځكه چې تدبير د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد تجزئ قبلوي لكه څرنګه چې دده په نزد اعتاق تجزي قبلوي نو كله چې مدبر دغه مشترک غلام مدبر كړو نو دده خپله حصه به مدبره وي ځكه دده پكې دريمه حصه ده نه زياته **(لكنه الخ)** لكن مدبر دا يو نقصان وكړو چې د خپلو دوو شريكينو چې ساكت او معتق دى برخې خرابې كړې، ځكه دوى دواړه نه دغه غلام خرڅولى شي او نه يې هبه كولى شي نو اوس دا دواړه مجبوره دي چې يا به دوى هم خپلې حصې مدبرې كوي يا به يې ازادوي يا به عقد كتابت كوي او يا به طلب د سعي د غلام څخه كوي او يا به يې په خپل حال پريږدي.

(فاحدهما الخ) نو اوس چې يو كس په دوى كې اعتاق د خپلې حصې غوره كړو نو دده همدا حق غوره شو د بلې خبرې اختيار ورته پاتې نه شو لكه تاوان وغيره **(ثم للساكت الخ)** اوس صرف يو كس پاتې شو چې هغه ساكت ماما دى او دده لپاره دوه سببه د تاوان متوجه شول چې يو تاوان د تدبير دى او بل تاوان د اعتاق دى يعنې چې د اول نه تاوان د تدبير واخلي او دويم نه تاوان د اعتاق واخلي، ليكن ساكت به تاوان د مدبر نه اخلي ځكه ضمان او تاوان د تدبير تاوان د معاوضې دى او تاوان د عتق تاوان د جنايت دى **(لانه قابل الخ)** دې سره د ضمان د معاوضې بيان كوي چې دغه غلام د تدبير څخه مخكې قابل د دې وو چې د يو ملک نه بل ملک ته منتقل شي خو په تدبير سره دغه انتقال ختم شو نو دغه تدبير سبب د ضمان وګرځيده، اما اعتاق سبب د ضمان د معاوضې نه دى

ځکه کله چې معتِق د غه غلام ازادولو نو په دغه وخت کې غلام قابل د دې نه وو چې د یو ملک نه بل ملک ته منتقل شي ځکه تدبیر مخکې راغلی او تدبیر مانع د انتقال دی نو ضمان د معتِق ضمان د جنایت دی او اصل په ضمان کې ضمان د معاوضې دی نو مدبر څخه به تاوان واخستلی شي.

(ثم للمدبِر الخ) بیا به مدبر د معتق نه تاوان د دریمې حصې د غلام په داسې حال کې چې مدبر وي واخلي ځکه معتق د مدبر حصه په اعتاق سره فاسده کړه ځکه فساد د اعتاق قوي دی د فساد د اعتاق نه خو مدبر به دریمه حصه د مملوک خالص قیمت نه اخلي بلکې دریمه حصه به د مدبر اخلي ځکه معتِق چې کله دغه غلام ازادولو نو په دې وخت کې دا غلام مدبر وو نو اوس به تاوان هم د مدبر وي (و قیمة المدبَر الخ) د مدبر قیمت دوه حصې د قیمت د قن دي یعني مثلاً د یو قن غلام قیمت ۲۷ روپۍ وو نو د مدبر قیمت به په دیکې دوه حصې وي چې هغه ۱۸ دي نو اوس چې مدبِر د معتق نه تاوان اخلي نو دریمه حصه د اتلسو ۱۸ به اخلي چې هغه ۶ راځي نه د قن غلام دریمه حصه چې هغه نهه ۹ روپۍ راځي.

(لان المنافع الخ) غرض د شارح د دې عبارت څخه بیان د دې دی چې مدبر غلام ولې یو ثلث کم دی د قن غلام څخه؟ دا ځکه چې هغه منافع چې د مملوکې څخه اخستلی شي درې قسمه دي: ۱۔وطي، ۲۔ استخدام یعني طلب د خدمت کولو، ۳۔خرڅول نو په تدبیر سره یو شئ فوت شو چې هغه بیع یعنې خرڅول دي نو د همدې وجې نه د مدبر غلام یوه حصه قیمت د قن غلام نه راکښته شو (ولا یضمن المدبر الخ) شارح په دې سره د مصنف د دې عبارت چې لالما ضمنه دی وضاحت کوي چې مدبر به د معتِق نه هغه دریمه حصه مقدار تاوان نه اخلي چې کوم دده نه ساکت اخستلی دی چې هغه ع۹ روپۍ دي (مع ان ذلک الخ) سره د دېنه چې دغه دریمه حصه روپۍ چې کومې مدبر ساکت ته ورکړې د تاوان په وجه د مدبِر ملک وګرځیدې (لانه ملکه الخ) دا دلیل د لایضمن لپاره دی، یعنې مدبر به ځکه د معتق نه هغه ۹ روپۍ مثلاً نه اخلي چې مدبِر د ضمان او تاوان په ورکولو سره د دغې سهم مالک شو خو په ملک استنادي سره یعنې د مدبر ملک په وخت د تاوان کې ثابت شو خو په نسبت سره قبل الاعتاق یعنې که د دې حیثیت نه چې دا ملک ثابت شي په وخت د اداء د ضمان کې نو بیا قبل الاعتاق ثابت نه دی او که د دې حیثیت نه واخلې چې د ملک استناد او نسبت سبب د وجوب ته شوی چې هغه تدبیر دی نو بیا قبل الضمان په وخت د تدبیر کې ثابت شو نو دغه ملک من وجه ثابت شو او من وجه ثابت نه شو (فلا یظهر) نو دغه ملک په حق د تضمین کې نه ښکاره کیږي یعنې چې د بل نه یې واخلي.

نوټ: په هغه صورت کې ساکت د مدبِر نه او مدبر د معتِق نه تاوان اخستلی شي چې مدبِر او معتِق دواړه مالداره وي، او که هر یو غریب وو نو بیا د ضمان اخستونکی حق په غلام طلب د سعي دی.

(و اما الولاء) او ولاء به دوه حصې د مدبر وي ځکه یوه حصه یې خپله اصالةً شوه او بله حصه یې په ضمان سره خپله کړه ګویا چې ده د اول نه دوه حصې دي او دریمه حصه د معتق به وي ځکه معتِق اګر چې هم ضمان ورکړی خو دده ضمان ضمان د جنایت دی نه ضمان د معاوضې، نو د ثلث نه زیات حقدار نه دی دا په هغه صورت کې چې ساکت ضمان غوره کړي اما که ساکت سعایه د غلام غوره کړي نو بیا به ولاء په رایه دامام ابوحنیفه سره په ثلثونو سره وی د دری واړو ترمنځ او دصاحبینو په قول ولاء ټوله د مدبر ده ځکه تدبیر د بعضې تدبیر د کل دی.

(و قالا ضمن مدبره لشریکه موسرًا و معسرًا لانهٗ ضمان تملك فلا يختلف باليسار والعسار بخلاف الاعتاق اذ هو ضمان جناية).

تشریح: مخکې تیر شو که مدبِر مالداره وو نو ساکت ته ضمان [تاوان] ورکوي او که غریب وو نو بیا به غلام نه طلب د سعي کوي یعنې ساکت به غلام نه طلب د سعي کوي دا د امام ابو حنیفه قول دی، اما صاحبین وایي چې مدبِر به د دواړو شریکینو خپلو لپاره ضمان او تاوان ورکوي دغه مدبِر مالداره وي که غریب وي (لانه ضمان تملكٍ الخ) ځکه دغه ضمان د تدبیر ضمان تملک دی یعنې مدبر په تدبیر سره مالک د دې ګرځي چې کسب خدمت یا وطي کار ترې واخلې نو دا تملک د مالدارۍ او غریبۍ سره نه بدلیږي او ضمان اعتاق ضمان جنایت دی هغه د مالدارۍ او غریبۍ سره بدلیږي، خو په دې صورت کې د صاحبینو په نزد د معتِق اعتاق نه واقع کیږي ځکه د مدبِر په تدبیر سره مدبِر د ټول غلام مالک شو، ځکه د صاحبینو په نزد د تدبیر د بعضې تدبیر د کل دی، نو د معتِق اعتاق د بل په ملک کې راځي او د بل په ملک کې اعتاق نه صحیح کیږي.

(ولو قال هي ام ولد شريكي وانكر تخدمه يومًا وتوقف يومًا هذا عند ابى حنيفة وذلك لان المقر اقران لاحق له عليها فيواخذ باقراره ثم المنكر يزعم انها لما كانت فلا حق له عليها الا في نصفها واما عندهما فللمنكر ان يستسعى الجارية في نصف قيمتها ثم تكون حرة لانه لما لم يصدقه صاحبه انقلب اقراره عليه كأنه استولدها فتعتق بالسعاية ولا قيمة لام ولدٍ فلا يضمن غنى اعتقها مشتركة، اعلم ان ام الولد غير متقومة عند ابى حنيفة و عندهما متقومة حتى لو كانت ام ولد مشتركة بين شريكين اعتقها احدهما وهو موسر لا يضمن عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى وعندهما يضمن).

توضيح: و لو قال الخ كه يوه وينزه د دوو كسانو سره شريكه وه خو يو پكې وويل چې دغه وينزه ام ولده د شريك زما ده خو شريک يې د دېنه انكار وكړو چې نه دا زما ام ولده نه ده **(تخدمه يومًا)** نو اوس به دغه وينزه خدمت د دې منكر كوي يوه ورځ **(و توقف يومًا)** او يوه ورځ به موقوفه وي يعنې نه به د مقِر خدمت كوي او نه د منكر دا د امام ابو حنيفه قول دى **(لان المقر)** ځكه اقرار كونكي دا اقرار وكړو چې زما حق په دې وينزه نشته چې ماته خدمت وكړي نو دا به په خپل اقرار رانيولى شي **(ثم المنكر)** خو بيا منكر هم دا گمان كوي چې دا وينزه مخكې ځرنگه شريكه وه نو اوس به هم همغسې شريكه وي نو زما حق په دې وينزه نشته مگر خپله نيمه حصه د دې، خو دا په هغه صورت كې چې د مقر شريک انكار وكړي، اما كه د مقر تصديق يې وكړو چې هو دا زما ام ولده ده نو بيا به نيم قيمت او نيم عقر مقِر ته وركوي.

(و اما عندهما) خو صاحبين وايي چې منكر به د وينزې طلب د سعي كوي په نيم قيمت كې او د سعي نه وروسته به وينزه ازاده وي ځكه هركله چې منكر د مقِر تصديق ونه كړو **(انقلب اقراره)** نو د مقر اقرار په مقِر وروگرځيده **(كأنه استولدَها)** گويا چې همدې مقِر دغه وينزه ام ولده وگرځوله د ځان لپاره نو اوس خو دغه وينزه د منكر خدمت نه كوي نو منكر به د وينزې نه طلب د سعي وكړي او كله چې وينزې سعي وكړه نو وينزه مكمل ازاده شوه.

(و لا قيمةَ لام ولد الخ) يوه ام ولده وه چې د دوو كسانو سره شريكه وه هغه په داسې طريقه چې د دوو كسانو وينزه سره شريكه وه بيايې بچى وزيږوه بيا هر يو د شريكينو نه د دې بچي دعوه وكړه چې دا له ما نه دى نو اوس دغه وينزه د دواړو سره شريكه ام ولده وگرځيده، بيا په دوى كې يو كس دغه مشتركه ام ولده ازاده كړه او دغه معتِق مالداره هم وو نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به د دغه مالداره معتِق ځخه ضمان او تاوان نشي اخستلى، او د صاحبينو په نزد اخستلى شي د دې وضاحت شارح په اعلم سره بيانوي.

(اعلم ان ام الولد) هغه داسې چې ام ولده د امام ابو حنيفه په نزد غير متقومه ده او د صاحبينو په نزد متقومه ده، د صاحبينو دليل دا دى چې د ام ولدې ځخه فائده په وطي سره په اجارې سره په خدمت اخستلو سره كولى شي او دا دليل د تقوم دى هو صِرف دا خبره شته چې خرځولى نه شي خو په عدم بيع سره د تقوم نه نه وځي، او امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې تقوم په احراز [ساتلو] سره راځي او احراز بيا په دوه قسمه دى: ۱۔احراز النسب، ۲۔احراز للتقوم، په ام ولده كې احراز للنسب

دی نه احراز للتقوم او احراز للتقوم تابع د احراز للنسب دی نو که دغه معتِق مالداره وو نو د امام صاحب په نزد تاوان ورباندې نشته او که معتِق غریب وو نو بیا په ام ولده باندې سعایه هم نشته ځکه د امام صاحب په نزد ام ولده غیر متقومه ده، خو صاحبین وایي چې که معتق مالداره وو نو خپل شریک ته به تاوان ورکړي او که غریب وو نو بیا به ام ولده په اندازه د نیم قیمت خپل سعي کوي ځکه دده په نزد ام ولده متقومه ده.

(ولو قال لعبدين عنده من ثلاثة له احد كما حر فخرج واحد ودخل آخر فاعاد ومات بلا بيان عتق من ثبت ثلاثة ارباعه ومن كل من غيره نصفه وعند محمد ربع من دخل ومن غيره كما قالا لان الايجاب الاول دائر بين الخارج والثابت فينصف بينهما ثم الايجاب الثاني دائر بين الثابت والداخل فينصف بينهما فالنصف الذي اصاب الثابت شاع فيه فما اصاب النصف الذي عتق بالايجاب الاول لغات وما اصاب النصف الفارغ وهو الربع بقي فعتق من الثابت ثلاثة ارباعه، واما من الداخل فيعتق ربعه عند محمد لان هذا الايجاب لما اوجب عتق الربع من الثابت فكذا من الداخل لانه متنصف بينهما وهما يقولان ان المانع من عتق النصف يختص بالثابت ولا مانع في الداخل فيعتق نصفه).

الوضوح العجيب في بيان احوال العبيد: د یو کس درې غلامان وو خو دده سره په کوټه کې دوه داني موجود وو ده وویل چې په تاسو کې دې یو ازاد وي د دې دوه غلامانو څخه یو بهر د کوټې نه ووتلو خو بل غلام د بهر نه کوټې ته راداخل شو، باداریې بیا وویل چې په تاسو دواړو کې دې یو ازاد وي بادار مخکې د بیان کولو نه چې دې کې کوم یو ازاد دی او دده اراده د کوم یو ده مخکې د دې بیان نه مړ شو نو اوس به په دې غلامانو کې کوم یو ازاد وي او څومره مقدار؟ **(عتق ممن ثبت)** نو اوس به د شیخینو یعني امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف په نزد د ثابت نه یعني کوم کس چې ځای په ځای ناست دی درې ربع ازادې وي **(و من كل الخ)** او د هر یو نه چې غیر د ثابت نه دي چې داخل او خارج دي نیمایي به ازاد وي لکه نقشه کې ګوره:

ثابت	داخل	خارج
۴	۴	۴
۳	۲	۲
ثلاثة ارباع	نصف	نصف

په دیکې د ثابت درې ربع ازادې شوې او د داخل نصف چې دوه ربعې راځې او د خارج هم نصف

چې دوه ربعې راځي نو ټولې ربعې او حصې چې ازادې شوې اوه ۷ جوړېږي دېته سهام العتق وايي چې د امام ابو حنيفه په نزد اوه شول.

(**و عند محمد ربع من دخل الخ**) خو امام محمد رحمه الله وايي چې د داخل به ربع ازاده وي (**و من غيره الخ**) او د داخل نه ماسوا چې ثابت او خارج دي (**كما قالا**) لكه څرنګه چې شيخينو ويلي دي يعنې د ثابت به درې ربع ازادې وي او د خارج به نصف وي لكه نقشه کې ګوره:

خارج	داخل	ثابت
۴	۴	۴
نصف	نصف	ثلارثة ارباعه
۲	۱	۳

نو د امام محمد رحمه الله په نزد سهام د عتق شپږ شول چې درې د ثابت يو د داخل دوه د خارج چې مجموعه شپږ راځي.

(**لان الايجاب الاول الخ**) شارح په دې سره د دې بيان کوي چې د ثابت درې حصې او د خارج نيمه حصه او د داخل نيمه حصه يا ربعه ولې ازاده شوه؟ نو دلته دوه ايجابه دي ايجاب اول او ايجاب ثاني، ايجاب اول د بادار اولنۍ خبرې ته چې ثابت او خارج ته يې وکړه چې احدكما حر دى وايي، او ايجاب ثاني د بادار دويم قول ته چې ثابت او داخل ته يې احدكما حر وويل وايي نو اول ايجاب د ثابت او خارج تر مينځ واقع دى نو د دواړو تر مينځ به نيمولى شي نو نيم يعنې دوه ربعې ثابت ازاد شو خو دغه نيم مشاع دى يعنې ټول بدن ته شامل دى ځکه تعين يې نه دى شوى (**ثم الايجاب الثاني**) بيا دويم ايجاب د ثابت او داخل تر مينځ واقع دى نو دا به د ثابت او داخل تر مينځ تقسيمولى شي (**فالنصف الذي الخ**) نو هغه نيم چې په ايجاب ثاني سره ثابت ته ورسيده (**شاع فيه**) هغه په ثابت کې خور وور شو (**فما اصاب**) نو هغه اندازه چې ورسيده هغه نيمايي ته چې په ايجاب اول سره ازاد شوى وو (**لغا**) نو دغه مقدار لغوه شو ځکه هلته محل پاتې نه دى بلکې ازاد شوى (**و ما اصاب**) او هغه مقدار چې ورسيده هغه نصف ته چې فارغ وو د عتق نه يعنې ازاد شوى نه وو (**و هو الربع**) دغه مقدار چې نصف فارغ ته رسيدلى ربع ده (**بقي**) پاتې شوه (**فعتق من الثابت**) نو ثابت په ايجاب اول سره نصف يعنې دوه ربع ازاد شوى وو او په ايجاب ثاني سره يوه ربع ازاد شو

نو ثابت په دواړو ايجابينو سره درې ربع ازاد شو او داخل نصف ازاد شو يعنې دوه ربعي **(و اما من الداخل)** خو د امام محمد رحمه الله په نزد د داخل ربع ازاديږي **(لان هذا)** ځکه هر کله چې دويم ايجاب سره د ثابت ربع ازاده شوه نو همدارنګه به د داخل نه هم ربع ازاده وي ځکه دويم ايجاب د ثابت او داخل تر مينځ نيمايي دی **(و هما يقولان)** خو شيخين رحمهما الله تعالى في الفقه وايي چې په ايجاب ثاني سره د ثابت نيمايي ځکه ازاد نه شو چې هلته مانع موجود وو چې هغه مانع دا وو چې په ايجاب اول سره د ثابت نصف ازاد شوی وو او بل دا چې دغه ازاد شوی نصف په تبول بدن خور وو خو په داخل کې بيا دغه مانع نشته ځکه هغه په ايجاب اول کې داخل نه وو نو په ايجاب ثاني سره به داخل نصف ازاديږي.

(وان قاله مريضًا ولم يجز وارث جعل كل عبد سبعة كسهام عتق عندهما وعتق ممن ثبت ثلاثة ومن كل من غيره سهمان وعند محمد كل ستة كسهام عتق عنده وعتق ممن خرج سهمان وممن ثبت ثلاثة وممن دخل سهم وسعى كل في باقيه على القولين ويصح الثلث والثلثان).

توضيح: د بعضې لغاتو تشريح به اول وکړو چې وروسته عبارت پرې حل شي: ۱۔ مخرج: هغه اقل عدد ته ويلی شي چې د دېنه هر فرد د کسرونو په صحيح توګه راويستلی شي مثلا مخرج د نصف دوه دي مخرج د ربع څلور دی، مخرج د سدس شپږ دي مخرج د سبع اوه دي مخرج د ثمن اته دي، نو مثلا څلور مخرج شو او ربع يې کسر شو، عول په لغت کې ميلان غلبې ربع ته وايي خو په اصطلاح کې عبارت دی د دېنه چې په مخرج باندې يو شيء د دې د اجزاو نه زيات شي په هغه صورت کې چې مخرج د سهمونو څخه تنګ شي يعنې په دغه سهمونو سره پوره والی نه شي راتللی.

خلاصة العبارة: که همدغه خبره چې احدکما حر دی ثابت خارج او داخل درېواړو غلامانو ته په مرض الموت کې وکړه مرض الموت هغې مرض ته وايي چې په همدې مرض کې مړ شي **(و لم يجز وارث)** او وارث اجازه هم ونه کړه، مصنف دا قيد ځکه ولګولو چې عتق په مرض الموت کې په حکم د وصيت کې دی او وصيت د ثلث نه جاري کيږي د ورثو د اجازې پورې موقوف نه وي خو که دغه وصيت په ثلث د مال د موصي باندې زيات شي نو د دې نفاذ به د ورثو د اجازې پورې موقوف وي که اجازه يې وکړه نو نافذيږي، او که اجازه يې ونه کړه نو د ثلث نه زياتي به باطل وي، نو د دې عبارت نه معلوميږي چې وصيت د ثلث نه زيات وو او د دې درې غلامانو څخه ماسوا نور مال يې هم نه وو خو د درېواړو قيمت برابر وو نو د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله په نزد به هر غلام په طريقه د عول سره د څلورو نه اوه ۷ وګرځولی شي لکه څرنګه چې د شيخينو په نزد

سهام د عتق اوه ۷ دي. طریقه د عول داسې چې مخرج د کسرونو څلور دي څکه د ثابت نه دري ربعي ازادیږي او دا دري ربعي دري دي د څلورو نه او د خارج نه نصف ازادیږي چې هغه دوه راځي د څلورو نه او همدارنګه د داخل نه هم نصف ازادیږي چې دوه راځي د څلورو نه نو مجموعه سهام د عتق اوه شول په طریقه د عول سره د څلورو نه اوو ته

(و عند محمد رحمه الله) خو امام محمد رحمه الله بیا وایي چې هر غلام به شپږ حصې کړی شي لکه څرنګه چې سهام د عتق د امام محمد رحمه الله په نزد شپږ دي هغه داسې چې د داخل نه ربع ازادیږي او ربع په څلورو کې یوه ده او د ثابت نه دري ربعې ازادیږي چې دا په څلورو کې درې دي او د خارج نه نصف ازادیږي چې دا په څلورو کې دوه دي نو سهام د عتق شپږ شو په طریقه د عول سره د څلورو نه شپږو ته.

(و سعی کل في باقیه علی القولین الخ) او سعي به کوي هر غلام په باقي حصو کې په دواړو قولینو سره یعني د شیخینو او امام محمد قول سره **(و یصح الثلث والثلثان)** او په دواړو قولینو سره پکې ثلث او ثلثان صحیح کیږي لکه شارح چې د دې تفصیل په دې عبارت سره کړی چې **(فعندهما یجعل الخ)** نو د شیخینو په نزد به سهام د عتق چې اوه دي ثلث مال وګرځولی شي او هر غلام به اوه ۷ حصې شي څکه قیمت د هر غلام د ثلث مال سره برابر دی نو د خارج نه دوه سبعي ازادیږي، او په پنځو سبعو د قیمت خپل کې به سعي کوي همدارنګه به داخل دوه سبعي ازادیږي او په پنځو سبعو د قیمت خپل کې به سعي کوي او د ثابت درې سبعي ازادیږي په څلورو سبعو کې به سعي کوي لکه لاندې شکل کې:

داخل		خارج		ثابت	
۷		۷		۷	
-----	--	-----	--	----	---
و یسعی في خمسة اسباع	عتق سبعان	و یسعی في خمسة اسباع	عتق سبعان	و یسعی في اربعة اسباع	عتق ثلاثة اسباع

(و عند محمدٍ یجعل سهام العتق الخ) امام محمد رحمه الله وایي چې سهام د عتق چې شپږ دي دا به ثلث مال وګرځولی شي څکه دده په نزد سهام د عتق شپږ دي نو هر غلام به شپږ حصې شي څکه قیمتونه یې سره برابر دي **(فیعتق من الخارج)** نو د خارج نه به دوه سدسه ازاد شي چې دا دوه سدسه د شپږو ثلث راځي او په باقي دوه ثلثینو کې به سعي وکړي، او د ثابت نه به درې سدسه ازاد شي چې دا نیم د شپږو راځي او په باقي نیم کې به سعي وکړي او د داخل نه به صرف یو سدس ازاد

شي او په باقي پنځه سدسونو کې به سعي وکړي لکه لاندې شکل کې ګوره:

خارج	داخل	ثابت
۲	۲	۲
عتق منه سدسان و يسعى في ثلثي قيمته	عتق منه سدس و يسعى في خمسة اسداس قيمته	عتق منه ثلاثة اسداس و هي نصف الستة و يسعى في النصف الباقي

(فلو كان قيمته الخ) هر کله چې شارح رحمه الله دليل د مسئلې ذکر کړو نو اوس د مثال په طور يو صورت د مسئلې ذکر کوي هغه داسې که فرضًا د هر غلام قيمت دوه څلويښت روپۍ ۴۲ شي او دا د دوه څلويښت ثلث دي نو د درېواړو غلامانو مجموعه روپۍ يو سلو ۱۲۲ راځي او د بادارد دېنه ماسوا نور مال هم نشته **(فعندهما)** نو د شيخينو په نزد به د خارج نه دوه سبع ازادېږي چې هغه يوه سبع ۲ روپۍ راځي چې دوه سبعې دولس درهمه راځي ۴۲÷۷ = ۲×۲=۱۲ او په باقي پنځو سبعو کې چې ديرش راځي غلام به سعي وکړي **(وكذلك الداخل)** همدارنګه د شيخينو په نزد به داخل دوه سبعي ازادېږي چې دولس راځي ۴۲÷ ۷-۲×۲ -۱۲ او په باقي پنځو سبعو کې به داخل غلام سعي وکړي.

(و يعتق من الثابت الخ) او د شيخينو په نزد د ثابت نه درې سبعي ازادېږي چې هغه اتلس راځي ۴۲÷۷-۲×۳-۱۸ او په باقي څلورو سبعو کې چې ۲۴ راځي ثابت غلام سعي وکړي.

(و عند محمد رحمه الله) خو د امام محمد رحمه الله په نزد د خارج نه به دوه څلويښتو کې ثلث چې هغه څوارلس راځي ازادېږي ځکه د امام محمد په نزد سهام د عتق د څلورو نه شپږو ته په طريقه د عول رسيږي نو خارج په ديکې دوه حصې ازادېږي او دوه په نسبت سره شپږو ته ثلث دي نو د خارج ثلث څوارلس راځي ۴۲÷۲-۷×۲-۱۴ او په باقي دوه ثلثو کې چې څلور ۴ سدسونه راځي سعي وکړي ۴۲÷۲-۷×۴-۲۸.

(و من الثابت الخ) او د امام محمد په نزد د ثابت نه نصف ازادېږي چې هغه يوويشت راځي ۴۲÷۲-۷×۳ نصف - ۲۱ او په باقي نصف کې به سعي وکړي او د داخل نه يو سدس ازادېږي چې هغه اوه ۷ راځي ۴۲÷۲-۷×۱-۷ او په باقي پنځو سدسونو کې به سعي وکړي ۴۲÷۲-۷×۵-۳۵ چې پنځه ديرش راځي.

فائده: د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما الله تعالی په نزد سهام د عتق اوو ته رسیږي نو دوه څلویښت به په اوو تقسیم کړي چې د یوې سبع اندازه شپږ راځي چې، تاته معلومه شي او د امام محمد رحمه الله په نزد سهام د عتق شپږ دي نو دوه څلویښت به په شپږو تقسیم کړي چې د یو سدس اندازه تاته معلومه شي چې هغه اوه راځي.

(فمجموع سهام العتق علی القولین الخ) شارح رحمه الله د و یصح الثلث والثلثان تفسیر کوي کوم چې متن کې راغلی، خلاصه دا چې د شیخینو په نزد د خارج نه په دوه څلویښتو کې ۱۲ روپۍ ازادي شوي وي، او د داخل نه هم دولس اود ثابت نه ۱۸ روپۍ ازادي شوي وي نو ۱۸+۱۲+۱۲=۴۲ نو ټول مجموعه ازاد شوي روپۍ دوه څلویښت شوي او دوه څلویښت د یو سلو او شپږ ویشتو ۱۲۶ نه ثلث راځي او د دوی په نزد سهام د سعایه چې خارج دیرش روپو کې سعي کوي او داخل به هم دیرش روپو کې سعي کوي او ثابت په څلیریشت ۲۴ روپو کې سعي کوي نو مجموعه سهام د سعی ۳۰+۳۰+۲۴=۸۴ چې څلور اتیا راځي او څلور اتیا دوه ثلثه راځي، نو د امام ابو حنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله په نزد ثلث چې سهم د عتق دی او ثلثین چې سهام د سعی دي دواړه صحیح شو او د امام محمد رحمه الله په نزد د خارج یو ثلث ازاد شو چې ۱۴ روپۍ راځي او د داخل یو سدس چې اوه ۷ راځي ازاد شو او د ثابت نصف چې ۲۱ روپۍ راځي ازاد شو نو مجموعه سهم د عتق ۴۲ راځي ۱۴+۷+۲۱=۴۲ او دوه څلویښت ثلث مال دی، او د امام محمد رحمه الله په نزد خارج به دوه ثلثه سعي کوي چې ۲۸ راځي، او داخل به پنځه سدسه سعي کوي چې پنځه دیرش راځي ۵+۷=۳۵ او ثابت به نصف کې سعي کوي چې ۲۱ راځي، نو سهام د سعی ۸۴ راځي ۲۸+۳۵+۲۱=۸۴، نو د امام محمد رحمه الله په نزد ثلث چې سهم د عتق دی او ثلثین چې سهام د سعی دي دواړه صحیح شو نو ځکه ماتن رحمه الله وویل چې و یصح الثلث والثلثان، والله اعلم.

(ولو طلق کذلك قبل وطی سقط ربع مهر من خرجت وثلاثة اثمان من ثبتت و ثمن من دخلت ای ان کانت له ثلاث زوجات مهرهن علی السواء فطلقهن قبل الوطی علی الصفة المذکورة فبالایجاب الاول سقط نصف مهر الواحدة متنصفًا بین الخارجة والثابتة فسقط ربع مهر کل واحدة ثم بالایجاب الثانی سقط الربع متنصفًا بین الثابتة والداخلة فاصاب کل واحدة الثمن فسقط ثلاثة اثمان مهر الثابتة بالایجابین وسقط ثمن مهر الداخلة).

توضیح: **(و لو طلق کذلک الخ)** که د یو کس درې ښځې وي او مهر د ټولو یو شان وو او د وطی نه مخکې یې په مذکوره طریقه طلاق ورکړو یعنې د ده سره دوه ښځې دده ناستې وي او

خاوندې ورته وويل چې يوه په تاسې کې دې طلاقه وي په دوی کې يوه بهر ووته او بله دريمه راداخله شوه نو خاوندې بيا وويل چې يوه دې په تاسو کې طلاقه وې خو په دواړو ايجابينو کې يې مراد بيان نه کړو نو اوس دربواړه ښځې طلاقې شوې په طلاق بائن سره ځکه طلاق قبل الوطي سره طلاق بائن راځي چې بيا وربانديې عدت هم نشته خو دلته دوه حکمونه دي يو حکم د ميراث دی او بل د مهر دی نو شارح رحمه الله اوس د مهر حکم په دې الفاظو سره بيانوي چې فبالايجاب الاول الخ نو په اول ايجاب سره چې ثابتې او خارجې ته يې وويل چې يوه په تاسې کې دې طلاقه وې نيم مهر د يوې ساقط شو خو چونکې چې دلته يوه نامعلومه ده نو دغه نيم مهر به د خارجې او ثابتې تر مينځ نيمايي کولی شي نو يوه ربع د خارجې ځخه ساقط شو او يوه ربع د ثابتې ځخه ساقط شو (**ثم بالايجاب الثاني الخ**) خو بيا په دويم ايجاب سره چې ثابتې او داخلې ته يې وويل چې يوه په تاسې کې دې طلاقه وې نو په دې ايجاب سره يوه ربع ساقط شوه ځکه چې طلاق قبل الوطي سره اګر چې نيم مهر ساقطيږي خو دا هلته چې د دې په صحت کې تردد نه وي او دلته تردد دی هغه داسې که په ايجاب اول سره خارجه مراد شي نو بيا ايجاب ثاني صحيح دی ځکه په دې ايجاب ثاني سره به ثابته مراد شي او که په ايجاب اول سره ثابته مراد شي نو ايجاب ثاني صحيح نه شو نو هرکله چې دويم ايجاب من وجه صحيح شو نو په دې سره به ربع ساقطيږي او ربع به د ثابتې او داخلې تر مينځ تقسيميږي نو هرې يوې نه يعني داخلې او ثابتې نه ثمن ساقطيږي نو د ثابتې نه په دواړو ايجابينو سره درې ثمنه ساقط شو ځکه يوه ربعه دوه ثمنه ده، ربع+ثمن = ثلاثة اثمان، او داخلې نه په ايجاب ثاني سره ثمن ساقط شو، نو خلاصه دا چې د خارجې نه يوه ربع مهر ساقط شو او درې ربع ورته واجب شو او د داخلې نه يو ثمن ساقط شو اوه ۷ ثمنه ورته واجب شو او د ثابتې ځخه درې ثمنه د مهر ساقط شو او پنځه ورته واجب شو.

خو دويم حکم د ميراث دی هغه داسې چې د داخلې لپاره نيم ميراث دی او دويم نصف به د خارجې او ثابتې تر مينځ نيمايي کولی شي ځکه داخله يقيني وارثه ده ځکه د داخلې په مقابل کې صرف يوه ښځه ده ځکه په ايجاب اول سره په خارجې او ثابتې کې يوه په يقيني ډول طلاقه شوې نو که په ايجاب اول سره ثابته مراد شي نو دويم ايجاب باطليږي او دويم ايجاب چې باطل شو نو صرف داخله وارثه پاتې کيږي او که په اول ايجاب سره خارجه مراد شي نو بيا دويم ايجاب د ثابتې او داخلې تر مينځ واقع کيږي نو ميراث به د دوی تر مينځ نيمايي وي ځکه يوه په بل غوره والی نه لري نو نتيجه دا شوه چې په هر صورت کې داخله وارثه ده او مقابل کې صرف يوه ښځه ده نو داخلې لپاره به نيم مهر وي او دويم نصف به د ثابتې او خارجې تر مينځ نيمايي وي، خو د خاوند د

مړيني په صورت کې به په هرې يوې عدت د وفات وي ځکه احتمال د دې شته چې هره يوه منکوحه وي خو عدت د طلاقو نشته ځکه دخول نه دی شوی.

(وانما فرضت المسئلة فی الطلاق قبل الوطی ليكون الايجاب الاول موجبًا للبينونة فما اصابه الايجاب الاول لا يبقی محلاً للايجاب الثانی فيصير فی هذا المعنی كالعتق).

توضيح: غرض د شارح رحمه الله د دې عبارت نه دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چې مصنف رحمه الله ولې د دغې مسئلې صورت په طلاق قبل الوطي کې ترتيب کړو؟ نو شارح جواب وکړو دا د دې لپاره چې په ايجاب اول سره بينونت راشي ځکه په طلاق قبل الوطي سره بينونت راځي نو کومې ښځې ته چې ايجاب اول رسيدلی هغه محل د ايجاب ثاني لپاره نه ده پاتې شوې نو په دې معنی کې پشان د عتق وګرځيده يعنې لکه څرنګه چې معتَق په ايجاب اول سره محل نه پاتې کيږي د ايجاب ثاني لپاره همدارنګه په ايجاب اول سره مطلقه هم محل نه پاتې کيږي د ايجاب ثاني لپاره.

(ثم قال بعض المشائخ هذا قول محمد خاصة وقيل هو قولهما ايضًا فعلی هذه الرواية لابد لهما من الفرق بين العتق والطلاق وهو ان الايجاب الاول فی العتق والطلاق اوجب التنصيف بين الخارج الثابت فلما مات قبل البيان تبين ان فی صورة العتق كما تكلم صار متنصفًا بينهما لان الاصل فی الانشآت ان يثبت حكمها مقارنًا للتكلم بها الا ان يمنع مانع ففی العتق ارادة الخارج تعارضها ارادة الثابت فالايجاب الاول يوزع بينهما حتی صار كل واحد معتَق البعض وهذا عند ابی حنيفة اويصير مترددًا بين الحرية والرقية كالمكاتب وهذا عند ابی يوسف فالايجاب الثانی لا يمكن ان يراد به الاخبار للكذب فيكون انشاءً فلا بد من المحل فالداخل كله محل فيعتق نصفه والثابت لو كان كله محلا يعتق بهذا الايجاب نصفه فاذا كان نصفه محلا يعتق منه ربعه)

تشريح: (**ثم قال الخ**) بيا بعضې علماء وايي چې په متن کې دغه مذکور قول چې د داخلې ربع ساقط ده او د خارجې ثمن او د ثابتې درې ثمنه ساقط دي خاص مذهب د امام محمد رحمه الله دی خو بيا بعضې علماء وايي چې دغه مذکور قول د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله دی او دا غوره خبره ده (**فعلی هذه الرواية الخ**) نو کله چې دا اتفاقي قول شو نو بيا د شيخينو لپاره د عتق او طلاقو تر مينځ فرق کول ضروري دي ځکه شيخينو په صورت د عتق کې ويلي وو چې د خارج او داخل دواړو به نصف ازاديږي، او په صورت د طلاقو کې ويلي چې د خارجې به ربع د مهر

ساقطه وي او د داخلې به ثمن د مهر ساقطه وي خو د شیخینو د قول مطابق په عتق کې قیاس دا تقاضا کوي چې د داخلې دې هم ربع د مهر ساقطه شي لکه د خارجې په شان، اما د امام محمد رحمه الله تعالی په نزد بیان د فرق ته ضرورت نشته ځکه هغه په عتق او طلاق دواړو کې په یوه طریقه حکم کړی دی.

(**و هو ان الایجاب الاول الخ**) شارح په دې عبارت سره بیان د فرق کوي چې ایجاب اول په عتق او طلاق کې تنصیف واجب کړي په مابین د خارج او ثابت کې (**فلما مات الخ**) نو هرکله چې معتِق یا زوج مړ شو مخکې د بیان ځخه نو معلومه شوه چې په صورت د عتق کې ځنګه چې یې تکلم په ایجاب اول وکړو نو ایجاب اول د خارج او ثابت تر مینځ نیمائی شو (**لان الاصل**) ځکه اصل په انشاآتو کې داده چې حکم به پیوسته د تکلم سره ثابتیږي مګر که یو مانع موجود وو لکه ابهام یا اجمال نو بیا به حکم موقوف وي او دلته هم ابهام شته نو حکم هم دده د بیان پورې موقوف شو خو کله چې معتق یا زوج بلا بیانه مړ شو نو اوس به حکم کولی شي چې دا ایجاب اول د ابتداء نه د ثابت او خارج ترمینځ منصف وو.

خلاصه د فرق دا شوه چې ثابت په مسئله د عتق کې صلاحیت د دې درلوده چې ایجاب ثاني په ده راشي نو په ایجاب ثاني کې داخل شو نو په ایجاب ثاني سره چې کوم عتق راځي هغه د داخل او ثابت ترمینځ تقسیمولی شي چې د داخل به نصف ازادیږي او د ثابت به رلعه ځکه دلته مانع موجود دی کما مر، اما په مسئله د طلاقو کې ثابته متردده ده په مابین د دیکې چې صلاحیت د ایجاب ثاني لري یا یې نه لري (**ففي العتق الخ**) نو د عتق په صورت کې اراده د خارج مقابل ده د ارادې د ثابت سره یعني په ایجاب اول سره په دې دواړو کې یو ازاد دی خو دواړه په اراده کې سره مساوي دي نه د ثابت اراده ترجیح لري په اراده د خارج او نه د خارج اراده ترجیح لري په اراده د ثابت نو اول ایجاب به د خارج او ثابت تر مینځ تقسیمولی شي تر دې چې هر یو به معتَق البعض وګرځي دا د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد باندې، ځکه دده په نزد تجزي د عتق صحیح ده (**او یصیر مترددًا الخ**) یا به هر یو د ثابت او خارج نه متردد ګرځي په مابین دحریت او رقیت [غلامیـا کې لکه ځرنګه چې مکاتب متردد وي بین الحریة والرقیة خو دغه د تردد مذهب د امام ابو یوسف رحمه الله دی.

(**فان الایجاب الثاني**) نو په دویم ایجاب سره د دروغو اخبار ممکن نه دی چې هغه حریت د ثابت

دی ځکه ثابت يقيني حر نه دی بلکه يا معتق البعض دی او يا د مکاتب په شان متردد دی (**فيکون انشاء**) نو چې اخبار للکذب ممکن نه دی نو ضرور به انشاء راځي او انشاء محل غواړي (**فالداخل کله محل**) نو داخل ټول محل د انشاء لپاره دی ځکه په ايجاب اول کې داخل نه دی نو نيم ازاد شو او ټول ځکه نه ازاديږي چې مقابل کې ورسره يو فرد شته (**والثابت لو کان کله**) او ثابت که ټول محل د ايجاب ثاني وګرځي نو په دې ايجاب سره نيم دده به ازاديږي او که نيم د ده محل د ايجاب وګرځي نو ربعه به يې ازاديږي.

(واما في الطلاق فلا يمكن ان يكون كل واحد منهما مطلقة البعض لان مطلقة البعض مطلقة كلها فلم يتنصف الايجاب الاول فالمطلقة اما الخارجة واما الثابتة، فان كانت الثابتة طُلقت بالاول فلا حكم للايجاب الثاني لانه يمكن ان يراد به الاخبار وان كانت الخارجة فالايجاب الثاني يكون دائرًا بين الثابتة والداخلة على السوية فيثبت ربعه لان الايجاب الثاني باطل على احد التقديرين وهو ارادة الثابتة بالايجاب الاول وهو صحيح على التقدير الآخر وهو نصف التقديرين فيتنصف ونصف النصف ربع فيسقط به ثمن المهر).

توضيح: لکن په طلاقو کې ممکن نه ده چې هر يوه د مطلقة البعض شي ځکه مطلقة البعض ټوله مطلقه وي، لکه صاحب د کفايه وايي چې (**والفرق واضح على اصل ابي حنيفة لان الاعتاق عنده يتجزأ فكان الرق ثابتًا في الثابت فصح الايجاب الثاني من كل وجهٍ كما مر و اما الطلاق فلا يتجزأ فاذا صار بها جزء من الطلاق صارت مطلقة** . کفايه ۲۸۷\٤) نو چونکې چې طلاقه تجزي نه قبلوي نو طلاق د بعضې طلاق د کل دی (**فلم يتنصف الايجاب الاول**) نو ايجاب اول نيمايي نه کړو نو په دغه ايجاب اول سره به مطلقه يا خارجه وي يا ثابته وي (**فان کانت الخ**) نو که ثابته په اول ايجاب سره طلاقه شي (**فلا حکم**) نو بيا د ايجاب ثاني لپاره حکم نشته يعني په دې سره طلاق نه ثابتيږي (**لانه يمکن الخ**) ځکه ممکنه ده چې په ايجاب ثاني سره مراد اخبار د طلاق ماضيه شي يعني مخکني طلاق مراد شي کوم چې په ايجاب اول سره ثابت شوي وو (**وان کانت الخارجة**) او که په اول ايجاب سره مطلقه خارجه مراد شي نو ايجاب ثاني به د ثابتي او داخلي ترمينځ على السويه واقع شي ځکه ثابته او داخله په دې صورت کې خالي دی د طلاقو څخه او صلاحيت هم د طلاقو

لري او يو په بل ترجيح هم نه لري (**فيثبت ربعه الخ**) نو ربعه د طلاق به ثابتيږي (**لان الايجاب الثاني**) دلته دوه تقديره دي يو دا چې د ايجاب اول سره ثابته مراد شي نو په دې صورت کې ايجاب ثاني باطل دی ځکه دا احتمال ددی لري چې دا اخبار شي د مخکني طلاقو څخه يعني چې په ايجاب اول سره ثابته طلاقه شوې وه نو په ايجاب ثاني سره د هغې اخبار مراد شي او کله چې ايجاب ثاني اخبار د طلاق سابق څخه راغی نو بيا په ايجاب ثاني سره طلاق نه ثابتيږي ځکه د ثبوت او وقوع د طلاقو لپاره دا ضرورده چې کلام به انشائي وي او د واقع کيدلو په غرض راوړل شوي وي نو په دې تقدير سره دغه کلام يعني ايجاب ثاني په طريقه د انشائيت سره نه صحيح کيږي او نه ايجاب راځي.

دويم تقدير دا وي چې په ايجاب اول سره خارجه مراد شي نو بيا امکان شته چې په طريقه د انشائيت سره بيا دغه ثاني صحيح شي ځکه دا ايجاب ثاني د ثابتي او داخلي ترمينځ واقع شوي ځکه دواړه مطلقي نه دي نو اوس که ايجاب ثاني من کل وجه صحيح شي نو بيا به د داخلې او ثابتې تر مينځ نصف ثابت کړي خو چونکي چې ايجاب ثاني من کل وجه صحيح نه دی بلکه په طريقه د انشائيت سره من وجه صحيح دی نو نصف به د ثابتې او داخلې تر مينځ نه ثابتوي بلکي نصف النصف به ثابتوي چې هغه ربع ده نو په ايجاب ثاني سره به ثمن د مهر د داخلې او ثابتې ساقطيږي.

(**لان الايجاب**) دلته به د عبارت ترجمه داسې کيږي چې ايجاب ثاني باطل دی په يو د دوو تقديرنو سره (**و هو ارادة**) چې هغه يو تقدير داده چې اراده د ثابتې وشي په ايجاب اول سره (**و هو صحيح**) خو ايجاب ثاني به صحيح وي په دويم تقدير سره چې هغه دا دی چې اراده د خارجي وشي په ايجاب اول سره (**و هو**) خو دغه دويم تقدير چې اراده د خارجي وشي په ايجاب اول سره دا نصف د تقديرنو دی، يعني دلته دوه تقديره شو چې يو تقدير د صحت دی او بل د عدم صحت دی تقدير د عدم صحت دا شو چې په ايجاب اول سره ثابته مراد شي او تقدير د صحت دا شو چې په ايجاب اول سره خارجه مراد شي نو که اول تقدير ته ګوري نو ايجاب ثاني باطليږي او که دويم ته ګوري نو ايجاب ثاني صحيح کيږي او نصف طلاق ورباندې واقع کيږي نو دغه نصف به نيمايي کړی شي او نصف د نصف ته ربع وايي نو په ايجاب ثاني سره به ثمن د مهر د هرې يوې د داخلې او ثابتې نه ساقطوي ځکه ربع چې په دوو تقسيم شي نو ثمن ترې جوړيږي.

(والوطی والموت بیان فی طلاقٍ مبهمٍ کبیعٍ وموتٍ وتدبیرٍ واستیلادٍ وهبةٍ وصدقة مسلمتین فی عتقٍ مبهمٍ دون وطی فیه ای قال لزوجتیهِ احداکما طالق فوطی احداهما اوماتت احداهما فکل منهما بیانُ ان المراد هی الاخری اما الوطی فلان النکاح عقدوُضعَ لحل الوطی والطلاق وُضعَ لازالة ملك النکاحِ ای لازالة حل الوطی اما فی الحال اوبعد انقضاء العدة فالوطیُ دلیل علی ان الموطوءة لم تکن مرادة بالطلاق واما الموت فلما عُرِفَ ان البیان انشاءمن وجهٍ فلابدله من محل).

ترجمة العبارة: او وطي كول د يوې ښځې يا مرګ د يوې ښځې بيان دی په طلاق مبهم كې لكه څرنګه چې بيع د غلام يا مرګ دده مدبر كول د غلام او ام ولده ګرځول د وينځې او هبه او صدقه كول د غلام په داسې حال كې چې موهوب سپارلی شوي وي موهوب له يا متصدق عليه ته بيان دی په عتق مبهم كې خو وطي بيان نه ده په عتق مبهم كې يعني يو سړی خپلو دوو ښځو ته وويل چې يوه دې په تاسو كې طلاقه وي نو په ديكې يې يوه وطي كړه او يا يوه مړه شوه نو هر يو د وطي او مرګ څخه بيان د دې دی چې مراد په ايجاب مبهم سره دغه بله ده كومه چې وطي شوې نه ده يا مړه شوې نه ده، وطي ځكه بيان دی چې نكاح داسې يو عقد دی چې وضع شوی لپاره د حلالوالي د وطي او طلاق وضع شوي لپاره د ختمولو د ملك نكاحي يعني لپاره د ختمولو د حلالوالي د وطي يا في الحال په طلاق بائن كې يا وروسته د عدت د ختميدو نه په طلاق رجعي كې نو وطي دليل په دې شوه چې دغه موطوءه مراد نه وه په طلاقو سره او هر چې مرګ دی نو دا معلومه شوي چې بيان انشاء وي من وجه نو محل ورته پكار ده.

(**القول المسلم في كون الوطي والموت بيان في طلاق مبهم**) كه د يو كس دوه ښځې ذي او دواړو ته ووايي چې يوه تاسو كې طلاقه ده خو تعين يې ونه كړو بيايي يوه وطي كړه نو دغه وطي بيان د طلاق مبهم لپاره وګرځيده يعني معلومه شوه چې دده په طلاقو سره هغه ده كومه چې يې وطي كړې نه ده يا يوه مړه شوه نو دغه مرګ بيان دده د طلاق مبهم وګرځيده يعني دده د طلاق مبهم څخه مراد هغه ښځه ده چې مړه شوې نه ده ځكه په مړې خو طلاق نه واقع كيږي (**اما الوطي**) وطي ځكه بيان د طلاق مبهم لپاره ګرځيدل شي چې نكاح هغه عقد دی چې د حلال والي د وطي لپاره وضع شوي او طلاقو سره خو ازاله د دغې حلالوالي د وطي راځي په طلاق بائن كې في الحال او په طلاق رجعي كې د عدت د ختميدو څخه وروسته نو دا وطي دليل په دې شوه چې دغه موطوءه مراد نه وو په طلاقو سره (**و اما الموت**) او مرګ د يوې ښځې ځكه بيان د طلاقو مبهم لپاره ګرځي چې بيان په ايجاب مبهم كې من وجه انشاء وه ځكه اظهار د حكم ورسره راځي او د انشاء لپاره

محل ضروري دی او محل د طلاقو هغه ښځه ده چې ژوندي پاتې ده ځکه مړه ښځه محل د طلاقو نه ده (**قوله کبیع و موت الخ**) یعنې لکه څرنګه چې دغه مذکوره شیان په عتق مبهم کې بیان دی مثلا یو کس خپلو دوو غلامانو ته وویل چې په تاسو کې د یو ازاد وي او تعین یې ذکر نه کړو خو د دینه وروسته یې یو خرڅ کړو یا یو مړ شو یایي یو مدبر کړو یایي یوه وینزه ام ولده وګرځوله یایي یو هبه کړ یایي صدقه کړو خو په داسې حال کې چې موهوب له یا متصدق علیه ته سپارل شوي وي نو دغه مذکوره ټول بیان دی په عتق مبهم کې یعنې معلومه شوه مراد د دینه هغه بل دی چې نه خرڅ شوي یا نه مړ شوی یا مدبر شوی نه دی یا هغه وینزه چې ام ولده نه ده ګرځیدلی یا هبه شوي نه ده یا صدقه شوي نه ده لکه شارح رحمه الله به د دې تفصیل په (**و ان قالَ احد کما حر**) سره وکړي (**دون وطي فیه**) خو وطي بیان نه دی په عتق مبهم کې یعنې صرف وطي به د ام ولدې ګرځولو څخه بیان نه دی خو دا مذهب د امام ابوحنیفه دی لکه تفصیل به شرح کې وروسته راشي.

(وإن قال احد کما حر فباعَ احدهما او ماتَ احدهما او دبر احدهما او استولد احدهما او وهبه احدهما او تصدق به وسلم فکل ذلکَ بیان ان المراد هو الآخر اما ان وطی احداهما لا یکونُ بیانا لان الاعتاق ازالة الملک فالبیع ونحوه یدل علی ان الملک باق فی المبیع فلا یکون مرادًا بالاعتاق واما الوطی فلان الاعتاق لم یوضع لازالة حل الوطی بل حل الوطی انما یزول بتبعیة زوال الرق او زوال ملک الرقبة و لم یزل شئ منهما وهذا قول ابی حنیفة، واما عندهما فالوطی فی العتق المبهم بیان ایضًا لان الوطی لا یحل الا فی الملک فیدل علی ان الموطوءة ملکه فلم تکن مرادة بالاعتاق.

توضیح: (**و ان قال الخ**) غرض د شارح د دې عبارت څخه شروع ده په صورتونو د بیان کې په عتق مبهم کې، نو که یو کس خپلو دوو غلامانو ته ووایې چې په تاسو کې د یو ازادي وي (**فباع احدهما**) نو د ایجاب مبهم څخه وروسته یو غلام خرڅ کړي (**او مات احدهما**) یا یو غلام مړ شي په هره طریقه چې وي (**او دبر احداهما**) یا یو غلام مدبر کړي چې ته زما د مرګ څخه وروسته ازادیې (**او استولد احداهما**) یایې ام ولده وګرځوله یوه وینزه یعنې دغه ایجاب مبهم یې دوه وینزو ته ویلي وو خو بیایې یوه وطي کړه او بچی یې راوړه او د بچي د نسب دعوه ده وکړه (**او وهب احدهما**) یایې یو غلام چاته بخشش کړو (**او تصدق به**) یایې چاته یو غلام صدقه کړو (**وسلم**) او دغه غلام یې موهوبه له او متصدق علیه ته وسپاره (**فکل ذلک**) نو دغه پورته ټول تصرفات بیان د دې دی چې

مراد په عتق مبهم سره هغه بل دی (اما ان وطي الخ) اما كه يوه وينزه يې وطي كړه نو دغه وطي بيان د عتق مبهم نه شي كيدى (لان الاعتاق الخ) ځكه اعتاق سره ازاله د ملک راځي او بيع او د دې نور امثال دلالت په دې كوي چې ملک په مبيعه كې پاتې دی نو دغه مبيعه يا مدبر غلام يا موهوب غلام وغيره په اعتاق سره مراد نه دی (و اما الوطي) او وطي ځكه بيان نه شي كيدلی چې اعتاق نه ده وضع شوی لپاره د ختمولو د حل د وطي بلكي حل د وطي ختميږي په مملوک كې په تبعيت د زوال د رق سره يعني د زوال د رق سره زوال د حل د وطي راځي مثلا ازاديې كړي چې ازاديې كړو نو بيا نه وطي ورسره كولی شي او نه يې خرڅولی شي او زوال ملک الرقبة يا حل د وطي ختميږي د زوال د ملک رقبې سره مثلا په بل ځايې خرڅ كړي نو د زوال د ملک رقبې سره زوال د حل د وطي هم راځي (و لم يزل شيء منهما) خو په عتق مبهم كې يو هم زائله شوی نه دی يعني نه ملک رقبې زائله شوي او نه رق نو كه وطي ورسره وكړي د هرې يوې سره چې وي نو ورته حلاله ده ځكه ملک قائم دی او چې وطي ورته حلاله شوه نو دغه وطي بيان نه ګرځي ځكه هره وينزه كې ورته جواز شته خو دا قول د امام ابو حنيفه رحمه الله دی.

(و اما عندهما) خو صاحبين وايي وطي په عتق مبهم كې هم بيان دی ځكه حلالوالی د وطي په مملوک كې خاص دی تر ملک پورې كه وينزه دده په ملكيت كې وه نو وطي ورته حلاله ده او بدوک د ملک نه وطي په مملوک كې جائز نه ده نو كله چې يې يوه وينزه وطي كړه نو معلومه شوه چې موطوءه دده ملک ده او دغه موطوءه په اعتاق سره مراد نه ده، خو د امام ابو حنيفه په نزد هلته وطي بيان نه شي واقع كيدې چې دې وطي سره وينزه حامله نشي او كه حامله شي نو بيا بالاتفاق دغه وطي بيان واقع كيدلی شي، او د صاحبينو په نزد مطلق وطي بيان كيدی شي برابره خبره ده چې وينزه حامله شي او كه حامله نه شي، والله اعلم.

> **(وبأول ولدٍ تلديه ابنًا فانتِ حرة ان ولدت ابنا وبنتًا ولم يُدر الاول عتق نصف الام والبنت والابن عبد لان الاول ان كان هو الابن فالام والبنت حرتان وان كانت البنت لم يعتق احد فيعتق نصف الام والبنت واما الابن فهو عبد في كلتا الحالتين).**

تشريح: كه يو كس خپلې وينزې ته ووايي چې كه تا اول بچی نر وزيږوه نو ته دې ازاده يې نو كه دغې وينزې اول نر بچی راوړه نو شرط موجود شو او وينزه ازاده شوه، او كه بچی يې ښځه راوړه نو شرط موجود نه شو نو وينزه هم ازاده نه شوه خو كه ځوی او لور دواړه يې وزيږول او د دې معلومات

نه وو چې اول یې څوی زیږولی دی او که لور (**عتق نصف الام الخ**) نو نصف به د مور ازادوي او نصف به د لور ازادوي او څوی به په ټولو حالاتو کې غلام وي (**لان الاول الخ**) ځکه که څوی اول شي نو شرط موجود شو نو مور او لور دواړه ازادې شوې، مور خو ځکه ازاده شوه چې شرط موجود شو او لور د دې وجې نه چې موریې ازاده ده نو لور هم تابع د مور وګرځیده (**و ان کانت البنت**) او که لور اوله شي په ولادت کې نو شرط موجود نه شو نو یو هم ازاد نه شو (**فیعتق الخ**) نو چونکې چې دا پته نشته چې څوی اول دی او که لور نو مونږ دا فیصله وکړه چې نصف د مور او نصف د لور به ازادې وي او په باقي نصف کې به دواړه سعي وکړي.

(**و اما الابن الخ**) خو څوی په ټولو حالاتو کې غلام دی یعنې که په ولادت کې اول څوی شي او که لور ځکه دده اولاً ولادت شرط وو د مور د حریت لپاره نو مور دده د ولادت څخه وروسته ازادیږي نو ابن په حریت کې تابع د مور نه ګرځي په دې صورت کې چې دده ولادت اولا وي، والله اعلم.

(ولو شهدا بعتق احد عبدیه بطلت الا فی الوصیة ای شهد انه اعتق احد عبدیه فالشهادة باطلة عند ابی حنیفة لعدم المدعی الا ان یکون هذا فی الوصیة بأن شهد انه اعتق احدهما فی مرض موته او شهدا علی تدبیره فی الصحة والمرض واداء الشهادة فی مرض موته اوبعد الوفاة تقبل استحسانًا لان التدبیر والعتق المذکور وصیة الخصم ای المدعی فی اثبات الوصیة انما هو الموصِی لان نفعه یعود الیه وهو معلوم وله خلَف وهو الوصی اوالوارث ولان العتق یشیع بالموت فیکون کل واحد من العبدین خصمًا متعینًا).

توضیح: که دوه سړیو یا یو سړي او دوه ښځو داسې ګواهي ورکړه چې فلانی په خپلو دوو غلامانو کې یو غلام ازاد کړي په عتق مبهم سره نو دغه شهادت د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد باطل دی ځکه شهادت په حقوق العبادو کې سابقیت د دعوې غواړي او د دعوې لپاره مدعي ته ضرورت وي او دلته نه دعوه شته او نه مدعي شته ځکه معتَق احد العبدین دی غیر متعین دی او غیر متعین دعوه نه شي کولی نو چې دعوه موجوده نه شوه نو شهادت هم باطل شو (**الا في الوصیة الخ**) مګر که دغه شهادت په وصیت کې وي نو بیا قبلولی شي (**بأن شهدا الخ**) هغه داسې چې دوه کسه داسې ګواهي وکړي چې فلاني خپل یو غلام په دوو غلامانو کې ازاد کړي په مرض موت کې ځکه عتق په مرض موت کې په حکم د وصیت کې دی همدا وجه چې د ثلث څخه به زیات نه وي. (**او شهدا علی**

تدبيره في الصحة او المرضِ الخ) يا دوو كسانو ګواهي وكړه چې فلاني يو غلام په دوو غلامانو كې مدبر كړو په صحت د مولى كې يا په مرض موت د مولى كې نو دغه شاهدي هم صحيح ده ځكه هركله چې تدبير عتق دى د مولى د مرګ ځخه وروسته نو دا په حكم د وصيت كې وګرځيده برابره خبره ده چې د مولى ځخه په حالت د صحت كې صادر شوى وي او كه په حالت د مرض موت كې (و **اداء الشهادة الخ)** د شهادت اداء كول په مرض موت د مولى كې يا وروسته د مرګ د مولى نه اګر چې د قياس جلي تقاضا داده چې دغه شهادت د قبول نه شي ځكه په وخت د عدم دعوه كې شهادت ته اعتبار نشته او وجود د دعوى هلته راځي چې تعين د صاحب الحق وشي او دلته صاحب الحق غير معين دى ځكه يو غلام دى هغه هم مبهم دى خو بيا هم د قياس خفي چې استحسان ورته ويلى شي تقاضا دا ده چې دغه شهادت د قبول شي په عتق مبهم او تدبير مبهم كې ځكه تدبير او عتق مبهم دواړه په حكم د وصيت كې دى **(والخصم الخ)** او كه ته وايي چې دلته مدعي نشته نو مونږ وايو چې مدعي په اثبات د وصيت كې موصِي يعني وصيت كونكى دى **(لان نفعه)** ځكه فائده د وصيت ده ته رسيږي په دنيا يا آخرت كې او دا معلومه خبره ده **(وله خلف الخ)** او پس د مرګ د موصِي نه د موصِي خلف او نائب قائمقام دده به وي چې هغه يا وارث دى او يا وصي دى وصي هغه چاته ويلى كيږي چې مړى ده ته په خپل ژوند كې د خپل كور انتظام او امور وسپاري كله چې وارث صغير وي **(ولان العتق الخ)** دا دويمه وجه ده د استحسان لپاره، خلاصه دا چې عتق مبهم وروسته د مرګ د مولى نه شائع او خور وور ګرځي په مابين د دواړو غلامانو كې.

(فيكونُ كل واحدٍ الخ) نو هر يو د غلامانو مدعي او متعين ګرځي ځكه هر يو خاوند د حق دى نو هر يو به مدعي جوړولى شي.

> **(اقولُ الدليل الاولِ مشكل لان المتنازع فيه ما اذا انكرَ المولَى تدبير احد عبديه او الوارث ينكر ذلكَ بعدموت المورث والعبدان يريدان اثباته فكيف يقال ان المدعى هو الموصى اونائبه والدليل الثانى يوجب ان الشهادة بعتق احد عبديه بغيروصية ان اقيمت بعدالموت تقبل لشيوع العتق بالموت).**

تنقيح المسئلة: **(اقول الخ)** غرض د شارح د دينه يو اعتراض راوړل دي د استحسان په مذكوره دوه دليلنو باندې حاصل د اعتراض دا دى چې تاسې د استحسان په اول دليل كې وويل چې تدبير او عتق مذكور وصيت دى او مدعي په اثبات د وصيت كې موصِي يعني پخپله مولى دى په ژوند كې او يا پس د مرګ نه وصي يا وارث دى.

سوال دا دې چې متنازع فيه صورت دا دی چې مولی په خپل ژوند کې د تدبير د يو غلام نه په دوو غلامانو کې منکر دی يا د مولی وارث د مولی د مرګ څخه وروسته انکار وکړي او دواړه غلامان د اثبات د عتق اراده لري نو مولی يا دده نائب د تدبير نه منکر دی او ته وايي چې دلته مدعي موصي يعني مولی دی او يا دده خلف چې وصي او وارث دی نو يو کس څرنګه هم مدعي کيدی شي او هم منکر.

بلکي مدعيان خو دلته صرف غلامان وي، نو د دې اعتراض څخه جواب دا دی چې دلته مولی اګر چې صورة منکر دی لکن دا په منزله د مدعي ګرځول شوی دی ځکه نفع د عتق ده ته راځي او دا معلومه خبره ده او بيا دده خلف چې وصي يا وارث دی په منزله د مدعي وګرځول شو (والدليل الثاني) دويم اعتراض په دويم دليل د استحسان باندې دا دی چې تا وويل چې په مرګ سره عتق شائع کيږي نو د دېنه خو دا معلوميږي چې د معتِق د مرګ څخه وروسته که دوه کسه ګواهي وکړي چې فلاني خپل يو مبهم غلام بغير د وصيت نه يعني په صحت کې ازاد کړی دی نو پکار ده چې دا هم قبوله شي ځکه شيوع د عتق په مرګ سره راغله؟ نو د دې جواب دا دی که د مولی د مرګ څخه وروسته ګواهي وکړي چې مولی په خپل ژوند کې په صحت کی داسې ويلي وو چې احدکما حر نو دا ګواهي قبوله نه ده ځکه دا وصيت نه دی ځکه د دې نسبت هغه عتق ته شوی دی چې منجز دی يعني في الحال واقع کيدونکی دی په حالت د صحت کې نو دلته په ديکې هم شيوع د عتق راغلې ده او هر يو د دوی نه خصم متعين کيدی شي [الكفاية والعناية ۲۹۷/۴].

(وقبلت في طلاق احدى نسائه لشرطية الدعوى في عتق العبد عند ابي حنيفة لا الطلاق وعتق الأمة ان حرم الفرج فلغت في عتق احدى امتيه لعدم التحريم اي قبلت الشهادة في طلاق احدى نسائه وهذا الفرق وهو عدم قبول الشهادة في عتق احد العبدين والقبول في طلاق احدى النساء انما هو عند ابي حنيفة خلافا لهما فان الشهادة مقبولة عندهما في الصورتين).

تشريح: که دوه سړي يا يو سړی او دوه ښځې داسې ګواهي ورکړي چې فلاني سړي يوه ښځه په دوو يا زياتو ښځو کې طلاقه کړې ده نو دغه شهادت او ګواهي به قبلولی شي اګر چې مدعي متعين نه دی (لشرطية الدعوى الخ) دې سره شارح علت بيانوي چې څه وجه ده چې په عتق مبهم کې ګواهي نه شي قبلولی او په طلاق مبهم کې قبلولی شي؟ نو شارح وويل دا ځکه چې په عتق د عبد کې دعوه شرط ده په نزد د امام ابو حنيفه رحمه الله کې (لا الطلاق) خو په طلاقو کې دعوه شرط نه ده دا ځکه چې حقوق په دوه قسمه دی: ۱- حقوق الله ۲- حقوق العباد، په حقوق الله کې

ګواهي بلا دعوه قبلولى شي خو په حقوق العبادو کې ګواهي بلا دعوه نه شي قبلولى، نو ... حقوق العبادو څخه دی نو بلا دعوه ګواهي به پکې نشي قبلولى او نکاح او طلاق ... حقوق الله څخه دي ځکه نکاح سره حلالوالى د فروجو راځي او په طلاقو سره حرمت د فروجو او حل او حرمت د حقوق الله څخه دى (و عتق الامة ان حرم الفرج) همدا رنګه دعوه شرط نه ده په عتق د وينزه کې خو په شرط د دې چې حرمت د فرج ورسره راشي يعني چې دغه عتق سره د دغې وينزې وطي کول حرام شي ځکه حرمت هم د حقوق الله څخه دى نو ګواهي پکې بلا دعوه صحيح کيږي.

(فلغت الخ) همدا وجه ده چې کوم ځاى کې تحريم نه وي هلته ګواهي صحيح نه ده لکه په عتق مبهم ديو د دوو وينزو کې کما مر ځکه په دې صورت کې د يوې وينزې سره ثبوت د حرمت نه راځي بلکې د هرې يوې سره وطي ورته جائز ده (و هذا الفرق الخ) خو دغه مذکوره فرق د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دى.

اما د صاحبينو په نزد په دواړو صورتونو کې يعني په عتق د عبد او طلاقو کې بلا دعوه شهادت مقبول دى (و انما فرق) شارح رحمه الله په دې عبارت سره بيان د فرق کوي په مابين د عتق د عبد کې او په طلاق احدى الزوجتينو کې چې ولې په عتق د عبد. کې شهادت بلا دعوه نشي قبلولى او په طلاقو کې شهادت بلا دعوه قبلولى شي نو د دې وجه مخکې مونږ ذکر کړه فلا نعيده ثانيًا، والله المستعان و هو الموفق.

باب الحلف بالعتق

حلف په فتح او کسرې د حاء سره مصدر دى د حلفت بالله څخه يعني په معنى د قسم سره خو د حلف اطلاق په تعليق باندې هم کيږي نو د حلف بالعتق څخه مراد دا دى چې عتق وګرځولى شي جزاء د شرط يعني چې عتق د يو شئ پورې معلق شي [فتح القدير ۴\۲۹۹].

د مخکې بابه سره يې مناسبت دادى چې مخکې د عتق منجز بيان وو يعني هغه عتق چې في الحال واقع کيده او اوس د هغه عتق بيان دى چې معلق دى خو دا باب يې ځکه وروسته کړو چې دا په سببيت کې د هغې څخه قاصر وو ځکه عتق منجز في الحال سبب جوړيږي او عتق معلق په وخت د وجود د شرط کې سبب جوړيږي.

(ويعتقُ بأن دخلتُ الدار فكل عبدٍ لي يومئذٍ حرٌّ من له حين دخل ملكهُ بعد حلفه اوقبله وبلا يومئذٍ من له وقت حلفه فقط مثل كل عبدٍ لي اواملكه حر بعد غدٍ عنده فقوله مثل كل عبدٍ لي اى كما يعتق

من له وقت حلفه فقط في قوله كل عبد لي واملكه حر بعد غدٍ عنده الى يعتق عند بعد الغد).

تشريح: (و يعتق) او ازاديږي (بأن دخلت الدار فكل عبدٍ لي يومئذٍ حر) په دې لفظ سره چې بادار ووايي که زه کور ته داخل شوم نو هر غلام چې مالره وي په دغه وخت کې هغه دې ازاد وي (من له حين دخل) مَن په ترکيب کې فاعل د يعتق دی يعني هغه غلام ازاديږي چې بادار سره وي په کوم وخت کې چې کورته داخليږي (ملكهُ بعد حلفهِ او قبلهُ) برابره خبره ده چې دغه بادار د دې غلام مالک شوی وي وروسته د تعليق نه يا مخکې د تعليق نه (و بلا يومئذٍ من له وقت حلفه فقط الخ) او که يومئذٍ لفظ يې ورسره راوړی نه وو نو بيا صرف هغه غلام ازاديږي چې ده سره وي په وخت د تعليق کې خو هغه غلام نه ازاديږي چې د تعليق څخه وروسته ده په ملکيت کې راشي (مثل كل عبدٍ لي) لکه دا قول چې هر غلام چې مالره وي (او املكه) يائی زه مالک کيږم (حر) ازاد دې وي، دا ځکه چې دا قول کل مملوک لي و کل عبد لي شامليږي هغه چاته چې ده په ملک کې وي في الحال او هغه چاته شامليږي چې د دې قول نه وروسته ده په ملکيت کې راځي دا ځکه چې لام د اختصاص لپاره دی او متبادر د اختصاص نه اختصاص حالي دی (بعد غدٍ عندهُ) يعني دغه مملوک به ازاديږي په وخت د وروسته د صبا نه يعني د دغې غلام عتق به معلق وي تر مابعد الغد پورې نو کله چې ما بعد الغد راغی نو غلام به ازاديږي.

(لا الحمل بكل مملوكٍ لي ذكر حروان ولدته لاقل من نصف سنةٍ وانما قيد بالذكر لانه لم يقيد يعتق الحمل بتبعية الام).

توضيح: او حمل نه ازاديږي په دې لفظ سره چې هر مملوک نارينه چې وې نو هغه دې ازاد وي اګر که د وقت د تعليق څخه د شپږو مياشتو نه په کمه موده کې وزيږوي.
خلاصه دا چې که يو کس ووايي چې هر مملوک زما چې نارينه وي هغه دې ازاد وي او په دغه وخت کې ده يوه وينزه وي چې حامله وي او نر بچی نه ازاديږي برابره خبره ده چې د شپږو مياشتو نه په کمه موده کې راوړي يا په پوره شپږو مياشتو کې يا زيات د دېنه دا ځکه چې د مملوک اطلاق په مملوک کامل باندې کيږي او حمل مملوک مطلق نه دی.

(و انما قيد الخ) دا دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چې تاسو وويل چې لفظ د مملوک صرف مملوک مطلق او کامل ته شامل دی او حمل مملوک کامل نه دی برابره خبره ده چې دغه مملوک موصوف په مذکر وي او که نه وي، نو بيا ولې مصنف دغه مملوک مقيد په قيد د ذکرِ سره کړو؟

نو شارح جواب وكړو چې كه قيد د ذكر مصنف ذكر كړى نوى نو بيا حكم مختلف كيدو هغه داسې چې بيا په ديكې جاريه يعني وينزه هم شامليده ځكه لفظ د مملوك په اعتبار د استعمال سره مذكر او مؤنث دواړو ته شامل دى نو كله چې جاريه ازاده شوه نو حمل د دې هم تبعًا ازاديږي نر وي او كه ښځه، نو د دې وجې نه يې قيد د ذكر ورسره ذكر كړو.

(ودبر بكل عبدٍ لي او املكه حر بعد موتي مَن له يومَ قال لا من ملك بعده فقوله من له يوم قال مفعول قوله ودبر).

ترجمه: او مدبر كولى شي په دې لفظ سره چې هر غلام زما وي يا يې زه في الحال مالک يم ازاد دى اوروسته د مرګ زما نه.

(من له يوم قال) هغه غلام چې وي ده لره په كومه ورځ چې يې دا خبره ويلې ده يعني په ورځ د حلف او تعليق باندې **(لا من ملك بعده)** خو هغه غلام مدبر نه ګرځي چې د تعليق د ورځې ځخه وروسته دده ملكيت كې راغلى وي **(فقوله من له)** نو من له يوم قال په تركيب كې مفعول ما لم يسم فاعله دى چې نائب فاعل ورته ويلى شي نه مفعول به كما لا يخفى على احدٍ.

تشريح: كه يو كس داسې ووايي چې **(كل عبدٍ لي او املكه حر بعد موتي)** نو هر غلام چې د دغې خبرې كولو په وخت كې دده په ملكيت كې وو هغه به مدبر وي خو هغه غلام نه شي مدبر كيدلى چې د تعليق ځخه وروسته او دده د مرګ ځخه مخكې دده ملكيت كې راشي ځكه دغه مذكوره الفاظ صرف مملوك حالي ته شامليږي نه مملوك استقبالي ته.

(وان مات عتقا من الثلث، اعلم انه لما اضاف العتق الى الموت فمن حيث انه ايجاب العتق يتناول المملوك في الحال فيصيرُ مدبرًا التعليقه بالموت فلا يجوز بيعه ومن حيث انه ايجاب بعد الموت يصير وصية فيتناول ما يملكه بعد هذا القول لان المعتبر في الوصايا الملك حالة الموت فلا يكون مدبرًا لانه لم يوجد زمان الايجاب حتى يستحق العتق فيجوز بيعه).

توضيح: **(و ان مات)** او كه په مذكوره صورت كې مولى مړ شو **(عتقا من الثلث)** نو دواړه غلامان يعني هغه غلام چې د تعليق په وخت كې دده په ملكيت كې وو او هغه چې د تعليق نه وروسته د مرګ ځخه مخكې دده په ملكيت كې راغلى دواړه د د ن ځخه ازاديږي لكه د وصيت هم همدا حكم دى نو كه دواړه د ثلث ځخه پوره وو نو مكمل دواړه ازاديږي او كه د ثلث ځخه زيات وو نو هر يو به معتق البعض وي.

خو امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې د تعليق څخه وروسته کوم غلام دده په ملکيت کې راغلی نو هغه په عتق کې عند موت المولی کې داخل نه دی لکه څرنګه چې بالاتفاق په تدبير کې داخل نه دی (اعلم انه الخ) غرض د شارح د دې عبارت څخه توجيه بيانول دي د قول طرفينو ته، هغه داسې چې کله د عتق نسبت مرګ ته وشي يعني داسې ووايي چې زما د مرګ څخه وروسته دې ازاد وي نو د دې حيثيت نه چې دا ايجاب د عتق دی هغه مملوک ته شامليږي چې في الحال مملوک وي نو دغه مملوک حالي مدبر ګرځي ځکه دده تعليق د مرګ پورې راغلی نو بيا دده بيع هم جائز نه ده ځکه مدبر نشي خرڅولی او د دې حيثيت نه چې ايجاب بعد الموت دی يعني د مرګ څخه وروسته ورباندې غلام ازاديږي نو بيا وصيت ګرځي.

(فيتناول الخ) نو بيا هغه غلام ته هم شامليږي چې د دې قول نه وروسته دده په ملکيت کې راغلی وي ځکه په وصيت کې دا ضرور ده چې په حالت د مرګ کې به ملک وي نو دغه غلام چې وروسته د تحليف نه په ملکيت کې راغلی وي مدبر نه ګرځي ځکه دده زمانه د ايجاب نه ده موندلې چې ازاد شي نو لهذا خرڅول يې هم جائز دي.

(ومن اعتق على مالٍ اوبه فقبل عتق والمال دين عليه يكفل به بخلاف بدل الكتابة، صورته: ان يقول انت حر على الف اوبألفٍ فقبل عتق والمال دين عليه فتصح الكفالة به لانه دين صحيح لكونه دينًا على حرٍ بخلاف بدل الكتابة فانهُ دين على عبدهٖ والمعلق عتقه بالاداء مأذون ان ادى عتق لامكاتب، صورته ان يقول ان اديتَ الىّ كذا فانت حر فانه يصير مأذونًا بالتجارة ليتمكن من اداء المال).

تشريح: چا چې يو غلام ازاد کړو په مال باندې هر قسم مال چې وي عروض وي حيوان يا نقود وي، په على سره يا په باء سره، مثلا داسې ورته ووايي چې (انت حر على الف يا انت حر بالفٍ) (فقبل عتق) نو دغه غلام سمدستي تول مال قبول کړو په همدغه مجلس کې نو دغه غلام ازاد شو (والمال دين عليه) او دغه مال چې عوض د عتق ګرځول شوی قرض شو په غلام باندې، يعني د دې مال اداء کول مولی ته وروسته د عتق نه واجب دي (فتصح الكفالة به الخ) کفاله شرعًا دېته وايي (ضم ذمة الكفيل الى ذمة الاصيل في المطالبة بنفسٍ او دينٍ او غيره. الموسوعة الفقهية) يعني پيوسته کول د ذمې د کفيل دي ذمې د اصيل ته په مطالبه کې په نفس سره يا قرض سره يا عين سره، چې عام عرف کې ورته ذمه واري او ضمانت وايي چې کومه مطالبه د اصيل نه کولی شي هم هغه د کفيل نه هم کولی شي.

نو اوس کفاله هم په دې سره صحیح کیږي ځکه دا قرض قرض صحیح دی ځکه دا قرض په حر وي او دین صحیح دېته وايي چې د مدیون ځخه نه ساقطیږي مګر په اداء سره یا په ابراء سره (**بخلاف بدل الکتابة الخ**) اما په بدل کتابت کې کفاله نه صحیح کیږي ځکه بدل کتابت دین دی په غلام باندې او غلام تر هغې نه ازادیږي چې بدل کتابت اداء نه کړي (**والمعلق عتقه الخ**) هغه کس چې معلق کړی شوی عتقه دده د اداء کولو د مال پورې ماذون دی یعنې ده ته په تجارت کې د بادار لخوا اجازه کړی شوې ده، صورت د مسئلې داسې دی مثلا مولی ورته ووايي که تا ماته دومره مال اداء کړو نو ته ازادیې نو اوس دغه غلام ماذون في التجارة وګرځیده د دې لپاره چې بادار ته په مال اداء کولو باندې قادره شي (**ان ادی عتق**) که چیرته یې ټول بادار ته اداء کړو نو ازاد شو او که اداء یې نه کړو نو نه ازادیږي (**لا مکاتب**) خو دغه معلق عتقه مکاتب نه دی، یعنې صرف ماذون في التجارة دی خو مکاتب نه دی ځکه دده او د مکاتب تر مینځ ډیر فرقونه دي کما ذکره المحشي رحمه الله.

(**ویقید اداءه بالمجلس ان علق بإن وباذا لا ای لایقید بالمجلس ورجع المولی علیه ان ادی مما کسبه قبل التعلیق لا مما بعده وعتق فی حالیه ای فی حال ادائه مما کسبه قبل التعلیق وحال ادائه مما کسبه بعده وان خلی بینه وبینه ای بین المولی وبین المال بأن وضع المال فی موضع یتمکن المولی من اخذه و قوله وان خلی یتصل بقوله وعتق ای یعتق وان کان الاداء بطریق التخلیة ای الاداء یحصل بالتخلیة**).

تشریح: (**و یقید الخ**) او مقیده به وي اداء کول د دې مال د مجلس پورې که چیرته مولی عتقه دده معلق کړی وو تر مال پورې په کلمې د اِن سره (**و باذا لا**) او که معلق یې کړو په کلمه د اذا سره نو بیا به د مجلس پورې مقید نه وي، یعنې که بادار عتق د غلام معلق کړو تر اداء کولو د ماله پورې په کلمې د اِن سره نو شرط دا دی چې د دغې مال اداء کول به په دغه مجلس کې وي نو که دغه مجلس کې یې مال اداء کړو نو ازاد شو او که نه نو نه ازادیږي، او که د غلام عتق یې په کلمې د اذا سره معلق کړو نو بیا د مجلس پورې مقید نه دی دا ځکه چې اِن د شرط لپاره راځي په مطلق وخت دلالت نه کوي اما اذا پشان د متی دی د عام وقت لپاره راځي.

(**و رجعَ المولی علیه**) او مولی به بیرته رجوع وکړي په غلام باندې (**ان ادی**) که مال یې مولی ته اداء کړو د هغه مال نه چې غلام مخکې د تعلیق نه ګټلی وي ځکه د تعلیق ځخه مخکې ټول مال د غلام د بادار دی. د رجوع دا معنی چې بادار حق لري چې همدومره اندازه مال تري واخلي (**لا مما**

بعده) خو که غلام د هغه مال اداء وکړه چې د تعلیق څخه وروسته یې ګټلی وي نو بیا بادار وربانديې رجوع نشي کولی ځکه دا د غلام شخصي ګټه ده **(و عتق في حالیه)** خو په دواړو حالتونو کې غلام ازاد دی یعنې که د هغه مال نه یې اداء کړی وي چې قبل التعلیق ګټلی وي او که د هغه مال نه چې بعد التعلیق یې ګټلی وي ځکه شرط موجود شو چې هغه د مقرر مال اداء کول وو.

(و ان خلی بینه و بینه الخ) واو وصلیه دی او دا قول متصل دی تر عتق پورې، قبض په دوه قسمه دی: ۱۔ قبض حقیقي چې لاس په لاس ورته مال وسپاري، ۲۔ قبض حکمي دېته وایي چې غلام مال په داسې ځای کې کیږدي چې مولی د دې په اخستلو قادر وي چې دېته تخلیه هم وایي، نو مصنف رحمه الله وویل چې غلام په دواړو حالاتو کې ازادیږي اګر چې غلام د بادار او د مال تر مینځ تخلیه وکړي چې په تخلیه سره اداء راځي نو په قبض حقیقي سره په طریقه اولی سره راځي.

> **(لا ان ادی بعضه ای لا یعتق ان ادی بعضه وان نُزل قابضًا فی فصلیه: یتصل بما ذکر من العتق بأداء الکل وعدم العتق بأداء البعض فانه یعتق فی الفصل الاول ولا یعتق فی الفصل الثانی مع انه ینزل قابضًا فی کلا الفصلین، وانما قال هذا لان عند بعض المشائخ ان ادی البعض لا یجبر علی القبول، فعلی هذه الروایة ان ادی البعض بطریق التخلیة لا ینزل المولی منزلة القابض لکن المختار انه یکون قابضًا لکنه لا یعتق لان شرط العتق اداء الکل فلا یعتق لهذا المعنی لا لانه لم یصر قابضًا بل صار قابضًا للبعض).**

تشریح: **(لا ان ادی بعضه)** نه ازادیږي دغه معلق عتقه غلام که بعضې مال اداء کړي ځکه شرط د عتق لپاره اداء د کل مال دي چې شرط موجود نه شو نو مشروط هم نه موجودیږي **(و ان نزل الخ)** اګر چې ګرځولی شي مولی قبض کونکی په دواړو فصلونو کې یعنې صورتونو کې **(یتصل بما ذکر الخ)** شارح وایي چې د **(و ان نزل قابضًا في فیصلیه)** الفاظ متصل دي د مصنف د هغې خبرې پورې چې ذکر کړي یې ده **(من العتق)** دا د مصنف د خبرې بیان دی چې که غلام اداء د ټول مال وکړي نو غلام ازادیږي او که د بعضې مال اداء وکړي نو نه ازادیږي سره د دېنه چې مولی په دواړو صورتونو کې قابض ګرځي که اداء د کل مال وي او که اداء د بعضې مال وي **(و انما قال هذا)** شارح وایي چې مصنف رحمه الله ځکه دا خبره وکړه چې مولی په دواړو صورتونو کې قابض ګرځي اګر چې په یو صورت کې غلام نه ازادیږي دا د دې لپاره چې د بعضو علماو په نزد که غلام بعضې مال اداء کړي نو مولی به په قبلولو نشي مجبوره کولی نو که دي روایت ته ګوري نو که غلام بعضې مال په

طريقه د تخليه سره مولى ته ورکړي نو بيا خو مولى په منزله د قابض نه ګرځي.

(لكن المختار الخ) خو غوره دا ده چې مولى قابض ګرځي خو غلام په اداء د بعضې مال سره نه ازاديږي ځکه شرط د عتق لپاره اداء د کل مال ده **(فلا يعتق لهذا المعنى)** نو د دې معنى د وجې نه يعنې د دې وجې نه چې شرط د عتق موجود نه دى چې اداء د کل مال ده غلام نه ازاديږي **(لا لانه لم يصر)** خو نه ازادوالى د غلام د دې وجې نه نه دى چې مولى قابض ونه ګرځيده بلکې مولى خو قابض د بعضې مال دى يعنې د غلام د عدم عتق لپاره وجه داده چې اداء د کل مال ونه شوه خو دايې وجه نه ده چې مولى قابض ونه ګرځيده.

(وفي انت حر بعدَ موتِي بألفٍ ان قبل وبعد موتِه واعتقهُ الوارثُ عتقَ والا فلاَ، اى لا يعتق بالمال المذكور وانما قيدت بهذا القيد لانه قال والا فلا وان لم يوجد المجموع وهو القبول بعد الموت و اعتاق الوارث لا يعتق فيشتمل ما اذا قبل بعد الموت لكن الوارث لم يعتقه فحينئذٍ لا يعتق فيصدق ان يقال لا يعتق بالمالِ المذكور ويشتمل ما اذا لم يقبل بعد الموت لكن الوارث اعتقه فحينئذٍ يصدق ايضًا انه لا يعتق بالمال المذكور ولا يصدق ان يقال انه لا يعتق ضرورة انه يعتق مجانًا).

توضيح: که يو بادار خپل غلام ته داسې ووېل چې ته دې ازاديې وروسته د مرګ زما څخه په زرو روپو باندې **(ان قبل بعد موته)** نو که غلام دغه روپۍ قبولې کړي وروسته د مرګ د بادار څخه او وارث هم ازاد کړو نو غلام ازاد شو، اما که د مولى د مرګ څخه مخکې يې قبول کړ نو بيا نه ازاديږي **(و الا فلا)** او که نه غلام د مولى د مرګ څخه وروسته قبول نه کړو او وارث هم ازاد نه کړو نو بيا په دغه مال مذکوره سره نه ازاديږي **(و انما قيدتُ بهذا)** دا دفع د يو اعتراض ده چې شارح رحمه الله ولې قيد بالمال المذكور ورسره ذکر کړو؟ نو شارح جواب وکړو چې دلته مصنف رحمه الله ويلي وو چې و الافلا يعنې که دغه مجموعه دواړه شرطونه موجود نه شي چې يو قبول بعد الموت دى او بل اعتاق د وارث دى نو غلام نه ازاديږي نو دلته درې صورتونه جوړيږي خو په يو صورت کې دا کلام نه صادقيږي:

۱۔ چې غلام يې بعد موت المولى قبول کړي خو وارث يې ازاد نه کړي، نو په دې صورت کې نفي د عتق مطلقًا صادقيږي، لکه شارح دا صورت داسې ذکر کړى چې **(فحينئذٍ لا يعتق فيصدق ان يقال لا يعتق بالمال المذكور)** خو نفي د مطلق سره نفي د مقيد راځي ځکه کله چې دا صادقه شوه

چې دا مطلقًا نه ازادیږي نو دا به هم صادقیږي چې په مال مذکور سره هم نه لازمیږي
۲۔صورت چې غلام یې نه بعد الموت قبول کړي او نه یې وارث ازاد کړي نو په دې صورت کې هم دا صادقیږي چې دا غلام نه ازادیږي، دا صورت شارح نه دی ذکر کړی، ۳۔ چې غلام یې بعد الموت قبوله نه کړي خو وارث یې ازاد کړي نو په دې صورت کې دا صادقیږي چې په مال مذکور سره دې ازاد نه شي خو دا نه صادقیږي چې وویل شي چې مطلق نه ازادیږي (**ضرورة فانه یعتق مجانًا**) ځکه دا کیدی شي چې مفت دې ازاد شي ځکه دغه غلام د بادار د مرګ څخه وروسته د وارث په ملکیت کې راغلی نو د دې دریم صورت د تصدیق په وجه یې ورسره د بالمال المذکور قید شارح ولګولو، بلکه دا بیا په دریواړو صورتونو کې صادقیږي.

(**ولوحررہ علی خدمته سنة فقبل عتق وخدمه مدته ای وجب علیه الخدمة فی المدة المذکورة والضمیر فی مدته یرجع الی العبد اضافَ المدة الیه بأدنیٰ ملابسةٍ ای مدة ضُربت له ومدتها فی نسخة بخط المصنف یعنی مدة الخدمة ای مدة ضربت للخدمة**).

توضیح: (**و لو حررہ**) که مولی خپل غلام ازاد کړو په خدمت د غلام مولی یا غیر لره یو کال مثلا داسې ورته وویل چې ته ما ازاد کړې په دې شرط چې ته به زما یا د فلانې یو کال خدمت کوې (**فقبل عتق**) او غلام دغه خدمت قبول کړو په دغه مجلس کې نو ازاد شو (**و خدمه مدته**) او خدمت د بادار وربانديې واجب شو په مذکوره موده کې (**والضمیر في مدته**) دا دفع د یو اعتراض ده چې مدته کې ضمیر راجع دی خدمت ته ځکه عام طور د مودې نسبت مظروفاتو ته کیږي لکه مدة الخدمة و غیره نو ضمیر مذکر دی او مرجع یې چې خدمت ده مؤنث ده؟ نو شارح جواب وکړو چې مدته کې ضمیر غلام ته راجع دی خو د ډیر کم ملابست او مناسبت د وجې نه چې تقدیر د عبارت به داسې شي چې (**اي مدة ضُرِبت للعبد**) یعنې هغه موده چې مقرره او معلومه شوې ده د غلام لپاره (**و مدتها**) خو د مصنف په خپل خط بانديې په یوه نسخه کې مدتها هم راغلی دی چې بیا به ضمیر خدمت ته راجع شي مدة الخدمة اي مدة ضُربت للخدمة یعنې هغه موده چې د خدمت لپاره ټاکلې شوې ده.

(**فإن ماتَ مولاهُ قبلها ای قبل المدة تجب قیمته ای قیمة العبد، وعند محمدٍ قیمة خدمت کبیع عبدٍ منه بعینٍ فهلکت تجب قیمته وعندَ محمدٍ قیمتها ای لاختلاف فی مسئلةِ مدة الخدمة بناء علی الاختلاف فی هذه المسئلة وهي ما اذا قال لعبده بعتُ نفسك منكَ بهذه العین کثوب معینٍ مثلا**

فهلکت العین تجب قیمة العبد، وعند محمدٍ قیمة العین لتعذر الوصول الی البدل ههنا کما فی تلك الصورة، وانما تجب قیمة العین عنده لان العین بدل الشئ لیس بمال وهو العتق والعتق لا قیمة له فتجب قیمة العین ولهما ان العین بدل نفس العبد فصار کما اذا باعَ عبدًا بجاریةٍ فمات العبد ثم فسخا العقد فی الجاریة تجب قیمة العبد).

تشریح: (**فان ماتَ مولاهُ**) که مولی د دې غلام مخکې د دغه مقررې مودې څخه مړ شو (**تجبُ قیمته**) نو په دغه محرر غلام باندې قیمت د یو غلام واجب دی (**و عندَ محمدٍ**) خو امام محمد رحمه الله وایي چې قیمت د خدمت به ورکوي (**کبیع عبدٍ منه بعین**) لکه خرڅول د بادار غلام لره (**منه**) په همدې غلام باندې په یو ذات سره یعنې بادار خپل غلام ته ووایي چې ستا ځان مې په تا خرڅ کړو په یو ذات سره، عین د هغه وایي چې په مقابله د نقدو روپو کې وي مثلا یو غوایا په مقابله د روپو کې (**فهلکت**) چې دغه عین هلاک شي (**تجبُ قیمته**) نو قیمت د دې غلام به واجب وي په نزد د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمه الله (**و عند محمدٍ قیمتها**) خو د امام محمد رحمه الله په نزد قیمت د عین واجب دی، په مسئله د خدمت کې وجه د قول د امام محمد رحمه الله دا ده چې خدمت په بدل د هغه شئ کې دی چې هغه مال نه دی چې هغه عتق دی، او عتق قیمت نه لري نو غلام خو د خدمت د کولو څخه عاجز دی نو قیمت د خدمت به ورکړي، خو شیخین وایي چې خدمت بدل د مال کې دی ځکه خدمت چې بدل د نفس د غلام کې دی نو هرکله چې بدل متعذر شو نو تسلیم د مبدل به واجب وي چې هغه غلام دی لکن دلته تسلیم د مبدل هم ممکن نه دی ځکه عتق فسخ نه قبلوي نو ضرور به قیمت د غلام ورکوي.

(**الاختلاف في مسئلة مدة الخدمة الخ**) اختلاف په مسئله د مودې د خدمت کې بناء دی په اختلاف د مسئلې د بیع د عبد په عین باندې (**و هي ما اذا قالَ**) چې یو بادار خپل غلام ته وایي چې ما ستا نفس په تا باندې په دغه ذات باندې خرڅ کړو مثلا یوه معلومه جامه وه (**فهلکت العین**) دغه ذات هلاک شو، نو د شیخینو په نزد باندې به قیمت د غلام ورکړي (**و عندَ محمدٍ رحمه الله**) خو امام محمد رحمه الله وایي چې قیمت د ذات به ورکوي (**لتعذر الوصول**) غرض د دېنه وجه د بناء مسئلې د خدمت په مسئلې د عین باندې بیانوي. یعنې په مسئله د خدمت کې وصول بدل ته چې خدمت دی متعذر او ګران دی ځکه مولی مړ شوی دی لکه څرنګه چې وصول بدل ته چې عین وي متعذر دی ځکه چې بدل هلاک شو.

(و انما تجبُ) د امام محمد رحمه الله په نزد قیمت د عین ځکه واجب دی چې عین بدل د داسې شئ ځخه دی چې هغه مال نه دی چې هغه عتق دی او عتق قیمت نه لري نو قیمت د عین به واجب وي

(و لهما ان العین) خو شیخین وایي چې عین بدل د نفس د غلام ځخه دی (فصار) دا داسې دی لکه چې یو غلام په یوه وینزه خرڅ کړي او غلام مړ شي بیا بائع او مشتري په وینزه کې فسخه د عقد وکړي نو په مولی به قیمت د غلام واجب وي نه قیمت د وینزې. والله اعلم

(وفی اعتقها بألفٍ علی ان تزوجنیها ان فعل وابت عتق ولا شیءَ علی آمرهٖ ای قال رجل لآخرَاعتق امتكَ بألفٍ عليّ بشرطِ ان تُزوجَنِیها فاعتقها المولی وابت الجاریة التزوج فلا شیءَ علی الآمرِلان اشتراط البدل علی الغیرلایجوزفی العتق).

تشریح: (و في اعتقها بالف عليَ الخ) یو سړي بل سړي ته وویل چې ته دې خپله وینزه ازاده کړه په عوض د زرو روپو کې په ما باندې یعني زه به زر روپۍ درکوم (علی ان تزوجنیها) په دې شرط چې ماته به یې په نکاح کوې دا وینزه (ان فعل و ابت عتقت) که مولی دا کار وکړو یعني وینزه یې ازاده کړه خو وینزې د نکاح د دغه سړي ځخه انکار وکړو دا وینزه ازاده شوه (و لا شيءَ علی آمره) او هیڅ شئ نشته په آمر باندې په دغه آمر باندې دغه زر روپۍ واجب نه دي (لان اشتراط البدل الخ) ځکه شرط کول د بدل عتق په غیر باندې په عتق کې جائز نه دی ځکه چې اعتاق سره اګر چې ازاله د ملک راجعې خو معنی د اثبات پکې شته ځکه په اعتاق سره د غلام لپاره یو قوت حکمیه حاصلیږي چې هغه مخکې د اعتاق ځخه نه وو، نو دا په معنی د معاوضې سره شو او اشتراط د عوض په هغه چا جائز نه دی چې هغه ته عوض سپارل شوی نو په اجنبي باندې هم یو شيء واجب نه دی ځکه ده ته هم یو شيء نه دی سپارل شوی.

(ولوضم عنی قسم علی قیمتها ومهرها وتجب حصة القیمة ای لوقال اعتق امتكَ عنی بألف ویأتی المسئلة بحالها فانه یقع الاعتاق عن الآمربطریق الاقتضاء کماعرفت فیقسم الالف علی قیمتها ومهر مثلها فغرضنا ان قیمتها الف ومهر مثلها خمسمائة فیقسم الالف علی الف وخمسمائة فثلثا الالف حصة القیمة وثلثه حصة مهر المثل فوجب علیه اداء ثلثی الالف الی المولی وسقط عنه ثلث الالف لانه قابل الالف بالرقبة شراءوبالبضع نکاحًافسلم له الرقبة دون البضع فوجبَ حصة ماسلم له ولم یجب حصة مالم یسلم له).

توضیح: (و لو ضم الخ) او که چیرته آمر په مذکوره جمله کې کلمه د عني ورسره زیاته کړه یعنې داسې یې وویل چې (اعتق امتک عني بألف علی ان تزوجنیها) مولی وینزه ازاده کړه خو وینزې د نکاح څخه انکار وکړو نو په دې صورت کې دغه اعتاق د آمر څخه واقع شو په طریقه د اقتضاء سره ځکه کلمه د عني اقتضاءً شراء لره متضمن ده ګویا چې آمر داسې وویل چې (بع امتک مني بالفٍ ثم کن وکیلي في اعتاقها).

(قسم علی قیمتها و مهرها الخ) نو دغه زر روپۍ د وینزې په قیمت او مهر مثل باندې تقسیمولی شي او په آمر باندې به حصه د قیمت مولی ته واجب وي دا ځکه چې آمر دغه زر روپۍ په مقابله د دوه شیانو کې ګرځولي وي چې یوه رقبه وه شراءً او بله بضعه ده نکاحًا، نو مولی د وینزې آمر ته رقبه وسپارله خو بضعه یې ورته ونه سپارله نو حصه د رقبې مولی لره په آمر واجب ده او حصه د بضع ورباندې واجب نه ده، مثلا قیمت د وینزې زر روپۍ دی او مهر مثل پنځه سوه دی نو دغه زر روپۍ چې آمر ورته منلي دا به په یو زر او پنځه سوو تقسیم شي نو دوه ثلثه د زرو به حصه د قیمت شي او یو ثلث د زرو به حصه د مهر مثل شي نو په آمر باندې واجب دي چې دوه ثلثه د زرو به مولی ته سپاري او یو ثلث ترې ساقط دی، ځکه دوه ثلثه د زرو په مقابله د رقبې کې شو او یو ثلث د زرو په مقابله د بضعې کې شو (فوجب حصة) نو په آمر واجب ده حصه د هغه شي چې مولی آمر ته سپارلي چې هغه رقبه ده او د هغه شي حصه ورته واجب نه ده چې مولی آمر ته سپارلې نه ده چې هغه بضع ده، والله الموفق للسداد.

> **(فلو نکحت فصحة مهرها مهرها في وجهیه هذا الذي ذکرنا انما هو علی تقدیر الا . ءاما اذا لم ابت و نکحت فمهرها حصة مهر المثل من الالف وهو ثلث الالف فیما فرضناه، وقوله في وجهیه ای فیما لم یقل عني وفیما قال عني).**

توضیح: (فلو نکحت) که چیرته په سابقه صورت کې وینزه انکار د نکاح څخه ونه کړي او د آمر سره نکاح وکړي نو بیا هغه حصه د مهر په زرو روپو کې مهر د دې وینزې دی (في وجهیه) په دوارو وجهو کې یعنې په هغه صورت کې چې د عني لفظ پکې ذکر نه دی او په هغه صورت کې چې د عني لفظ پکې ذکر دی (هذا الذي ذکرنا) یعنې دغه صورت چې مخکې ذکر شو چې وینزه به یې د وجوب د شئ نه په آمر باندې ازاده وي په اولنې صورت کې، او په دویم صورت کې صرف

حصه د قيمت به واجب وي او حصه د مهر به ساقط وي (على تقدير الاباء) دا مذكوره صورت په تقدير د انكار د وينزې كې وو يعني چې وينزه د نكاح څخه انكار وكړي (اما اذا لم ابت) خو كه انكار ونه كړي او نكاح وكړي نو مهر د دې به حصه د مهر مثل وي د زرو څخه چې هغه دريمه حصه د زرو ده، لكه مخكې بيان شو.

باب التدبير والاستيلاد

دا باب دی په بيان د تدبير او استيلاد كې

مصنف رحمه الله چې هركله فارغ شو د اقسامو د هغه عتق نه چې هغه حاصل قبل الموت وي منجز وي او كه معلق وي نو شروع يې وكړه په اقسامو د ايجاب د هغه عتق كې چې حاصل وي بعد العتق، نو چونكې چې تدبير او استيلاد دواړو سره عتق بعد موت المولى راځي نو دواړه يې په يو باب كې راجمع كړل خو تدبير يې په استيلاد څكه مقدم كړو چې تدبير سره ايجاب د عتق صريح راځي او استيلاد سره نه راځي.

تدبير په لغت كې النظر في عواقب الامور د كارونو په اخر انجام كې سوچ كول او په شريعت كې (ايجابه العتق الحاصل بعد الموت بالفاظٍ تدل عليه) واجبول د عتق چې حاصل وي پس د مرګ څخه په هغه الفاظو سره چې دلالت په دې عتق كوي [نهايه ۳۱۲/۴].

او استيلاد په لغت كې طلب الولد ته وايي او شرعًا (عبارة عن ادعاء نسب ولد امه موطوءة من نفسه) خلاصه دا چې مدبر هغه غلام ته وايي چې بادار ورته ووايي چې ته پس له مرګ زما څخه ازاد يې، او ام ولد هغه وينزې ته وايي چې باداريې وطي كړي او دده نه يې بچى وشي او بيا بادار د دې بچي د نسب دعوه وكړي چې دا بچى زما څخه دى.

(مَن اعتقَ عن دُبر مطلقًا باذا متُ فانتَ حرا وانت حرعن دبر مني اوانت مدبرا ودبرتكَ اوان متُ الى مائة سنة وغلب موته قبلها فمدبر، فقوله من اعتق مبتدا وخبره فمدبر واعلم انه قال في الهداية ان التدبير اثبات العتق عن دبر وانما فسره بهذا رعاية الموضع اشتقاق التدبير فلهذا قال في المتن من اعتق عن دبر).

تشريح: (من أُعتق) څوک چې ازاد كړى شو (عن دُبرٍ) وروسته د مرګ د مولى نه (مطلقًا) چې دغه تدبير مطلق يعني غير مقيد وي د وخت يا مرض پورې (باذا متُّ فانت حر) په دې لفظ سره چې كه

زه مړ شوم نو ته دې ازادیې (**او انت حر عن دبر مني**) یا ته ازادیې وروسته د مرګ زما څخه (**او انت مدبر**) یا ته مدبریې (**او دبرتک**) یا ته مې مدبر کړې (**او ان متُّ الی مائة سنة**) یا که زه مړ شوم ترسلو کالو پورې (**و غلب موته قبلها**) او حال دا چې دده مرګ د دې مقیدې مودې نه مخکې غالب وو مثلا د ډیر عمر سړی وو او عمریې اتیا کاله وو او ده وویل چې که زه تر سلو کالو پورې مړ شوم (**فمدبر**) نو په مذکوره ټولو صورتونو کې دا دا غلام مدبر دی ځکه دغه ټول الفاظ صریح دی په تدبیر کې ځکه دا اثبات د عتق دی وروسته د مرګ د مولی نه (**فقوله من اعتق**) شارح وایي چې من أُعتقَ مبتدا او فمدبر یې خبر دی.

(**و اعلم انه قال**) د شارح د دې عبارت نه وضاحت د لفظ د تدبیر دی هغه داسې: د تدبیر لفظ د دُبر څخه ماخوذ دی همدا وجه ده چې صاحب هدایه په هدایه کې د تدبیر تعریف په دې سره کړی دی چې اثبات العتق عن دُبُر (**رعایة لموضع**) د وجې د لحاظ د ځاې د اشتقاق د تدبیر یعنې چې تدبیر ماخوذ دی د دُبر نه (**فلهذا قال**) همدا وجه وه چې مصنف رحمه الله هم په متن کې د تدبیر په ځای داسې وویل چې (**مَن أُعتقَ عن دُبُرٍ**) یعنې اشاره یې دېته وکړه چې تدبیر د دبر څخه ماخوذ دی (**و انما قال مطلقًا**) شارح وایي چې مصنف رحمه الله قید د مطلقًا د دې لپاره ذکر کړی دی چې مقید ترې خارج شي ځکه مدبر شرعًا مدبر مطلق ته وایي نه مقید ته، مدبر په دوه قسمه دی: ۱۔ مدبر مطلق، ۲۔ مدبر مقید، بیا مدبر مطلق په دوه قسمه دی: ۱۔ چې د عتق نسبت مرګ ته مطلقًا وشي بغیر د دېنه چې مقید شي په زمانې یا حال سره لکه شارح چې د دې ذکر په (**ان یعلق العتق**) سره کړی دی، ۲۔ چې نسبت یې مرګ ته وشي خو دغه مرګ مقید په داسې یو قید سره وي چې هغه غالب الوقوع وي او مدبر مقید هغه دی چې د دې دوه صورتونو څخه مخالف وي، یعنې چې د عتق نسبت مرګ ته شوی وي خو دا مرګ مقید په داسې یو قید سره وي چې هغه عام عادت کې غالب الوقوع نه وي لکه دا قول چې (**ان مت في مرضي هذا فهو حر**) که زه په دې مرض کې مړ شوم نو دا غلام دې ازاد وي، نو دلته بادار نسبت عتق د داسې مرګ پورې کړی چې هغه غالب الوقوع عادةً نه دی (**فقوله ان مت**) دا قول د مولی چې که زه تر سلو کالو پورې مړ شوم (**و هو ابن**) حال دا چې دا د اتیا ۸۰ کالو وي مثلا (**و ان کان**) واو وصلیه دی، نو دا قول اګر چې په صورت کې مقید دی خو په معنی کې مطلق دی (**لان الغالب الخ**) ځکه غالب دا ده چې دا به د دغې مودې څخه

ښځکې مړ کیږي (**فقوله ان مت الخ**) نو دا قول ان مت الی مائة سنةٍ په منزله د دې قول دی چې (ان مت) بې د ذکر د قید د مائة سنة ځخه او ان متُ په حکم د مطلق کې دی (**و قوله ان مت الی مائة سنة تقدیره الخ**) غرض د شارح د دېنه دفع د یو وهم ده هغه داسې چې د دېنه ظاهراً دا معلومیده چې دده مرګ په عمر د سلو کې مراد شي نو شارح د دې وهم دفع وکړه چې (**تقدیره ان مت في وقت من هذا الزمان الی مائة سنة**) یعني که زه مړ شوم په یو وخت کې د دې زمانې ځخه یعني اتیا کالو ځخه تر سلو پورې، نو مقصدیې دا شو چې د وینا د وخت نه تر سلو کالو پورې چې کومه موده ده دغه معتبره ده.

(**ثم شرع فی حکم المدبر فقال لایباع ولا یوهب ویستخدم: ویستاجر والامة توطأُ وتنکح هذا عندنا و اما عند الشافعي فیجوز انتقاله من ملكٍ الی ملكٍ**).

احسن النظر في بیان حکم المدبر: مصنف رحمه الله چې هرکله د الفاظو د تدبیر ځخه فارغ شو نو شروع یې وکړه په حکم د مدبر کې نو ویې ویل چې مدبر نه خرڅیدلی شي او نه بخشش کولی شي، مصنف خو دا دوه حکمونه په طریقه د مثال سره ذکر کړل کنه کوم تصرف چې په حر کې جائز نه دی لکه په مهر کې ورکول ګرو ورکول وصیت کې ورکول بیع شراء هبه صدقه دا ټول په مدبر کې جائز نه دی، حاصل دا چې مدبر د مولی د ملک نه صرف په دوه خبرو وتلی شي چې یو اعتاق دی او بل عقد کتابت دی

(**و یُستخدم الخ**) دا عطف دی په لایباع باندې نه په یباع باندې یعنې د نفي لاندې داخل نه دی خلاصه دا چې د مدبر نه طلب دخدمت کولی شي په اجْرت یې ورکولی شي او وینزه مدبره وطي کولی شي په نکاح یې ورکولی شي ځکه په مدبر کې د مولی لپاره ملک رقبي پاتې ده، دا د احنافو مذهب دی (**و اما عند الشافعي**) د امام شافعي رحمه الله په نزد د مدبر انتقال د یو ملک نه بل ملک ته جائز دی مثلا خرڅول یا هبه کول، دلیل یې دا حدیث دی چې د نبي علیه السلام په زمانه کې یو کس خپل غلام مدبر کړو خو دغه کس ډیر محتاجه وو قرضدار وو نو نبي علیه السلام دغه په اته سوه درهمه خرڅ کړو او روپۍ یې ورکړي ورته یې وویل چې قرض د خلاص کړه او په بچیانو د خرڅه کړه دلائل عقلیه یې دادی چې ١۔دا تعلیق د عتق دی د شرط پورې، او تعلیق بالشرط بیع او هبه نه منع کوي لکه نور تعلیقات، ٢۔لکه په مدبر مقید کې چې بیع او هبه جائز د ه نو دلته هم جائز دی، ٣۔تدبیر وصیت دی تر دې چې د ثلث نه به جاري کیږي او وصیت موصِي د

تصرف څخه نه منع کوي، د احنافو لپاره دليل نقل دا دی چې المدبر لايباع و لا يوجب و لا يورث و هو حر من الثلث، دليل عقلي يې دا دی چې تدبير سبب د حريت دی ځکه حريت پس له مرګ څخه ثابتيږي او دې لره سبب پکار دی او دلته بل سبب د دېنه نشته.

د امام شافعي رحمه الله د حديث نه يو دا جواب دی چې
(والجواب انه لا شك ان الحر كان يباع في ابتداء الاسلام على ما روى انه صلى الله عليه وسلم باعَ رجلاً يقال له سرق في دَينه ثم نسخ ذلك بقوله تعالى [وان كان ذو عسرةٍ فنظرة الى ميسرةٍ] ذكر الحاكم في الناسخ والمنسوخ فلم يكن فيه دلالة على جواز بيعه الآن بعد النسخ)

يعني دا حکم .... ۹۹ بيا منسوخ شو، ۲ـ دويم جواب دا چې دا اجازه په بيع د خدمت کې وه (عن جابر انما اذن في بيع خدمته رواه الدارقطني) ۳ـ جواب دا چې دا حديث حمل دی په مدبر مقيد باندې (و قال ابن العز قول من قال يحمل الحديث على المدبر المقيد) ۴ـ جواب چې خدمت د غلام يې خرڅ کړ (ان المراد انه باع خدمة العبد. فتح القدير ۳۱۹۱۴ عنايه ۳۱۹۱۴).

(فان ماتَ سيده عتق من ثلث ماله وسعى في ثلثيه ان لم يترك غيره وفي كله ان استغرق دينه لانه لما كانَ ايجاباً بعد الموت كانَ له حكم الوصية وبيع ان قال له ان مت في سفرِي اومرضِي هذا اوالى سنة اونحوهما مما يمكن غالبًا وعتق ان وُجد شرطه كعتق المدبر فقوله وبيع اى صح بيعه وكذا جميع ما يوجب الانتقال من ملك الى ملك وقوله مما يمكن غالبًا اى مما لا يكونُ وقوعه واجبًا في الغالبِ ذكر الامكان واراد التردد).

توضيح: (فان ماتَ الخ) که د دغه مدبر غلام بادار مړ شو نو دغه مدبر به د بادار د دريمې حصې مال څخه ازاديږي ځکه تدبير په حکم د وصيت کې دی ځکه ايجاب ما بعد الموت دی او وصيت د ثلث څخه جاري کيږي نو د مولی د مرګ په وخت کې که ثلث مال د مدبر د قيمت په اندازه وو يا د هغې څخه زيات وو نو مدبر مکمل ازاديږي او که د مدبر قيمت د ثلث مال نه زيات وو نو مدبر په اندازه د ثلث ازاد شو خو په باقي کې به سعي وکړي دا صورتونه مصنف نه دی ذکر کړی، او که مولی د خپل ځان نه وروسته بغير د مدبر غلام څخه نور مال نه وو پريخي نو د مدبر ثلث به ازاد شي او په باقي دوه ثلثو کې به د ورثوو لپاره سعي وکړي. دا صورت مصنف ذکر کړی تر (ان لم يترك غيره) پورې.

بل صورت مصنف هم ذکر کوي چې که غلام مستغرق بالدين وو يعنې په مولی باندې د مدبر د

قيمت په اندازه قرض وو او نور مال يې هم نه درلوده نو اوس به مدبر په ټول قيمت کې سعي کوي خکه د دين پوره کول مقدم دی په وصيت پوره کولو سره لکه مصنف وايي (و في کله) او په ټول قيمت کې به سعي کوي (ان استغرق دينه) که مدبرلره ټول قرض راګير کړی وو (لانه لما کان) شارح وجه بيانوي چې ولي مدبر غلام د ثلث څخه ازاديږي وجهه ما ذکرنا.

(و بيع ان قال له) مصنف رحمه الله په دې سره د مدبر مقيد احکام بيانوي، و بيع معنی دا چې صح بيعُه يعنی د مدبر مقيد بيع هبه او نور تصرفات ټول صحيح دی (ان مت الخ) که مولی دا الفاظ ورته ووېل چې که زه په دې سفر کې مړ شو يا په دې مرض کې يا په دې کال کې او داسې نور (مما يمکنُ غالبًا) هغه قيودات چې ممکن وي غالبًا دلته د امکان نه مراد ترد د دی يعنې تردد پکې وي چې وبه شي او کنه خو غالب الوقوع نه وي (و عُتق ان وُجدَ شرطه) خو که دا شرط موجود شو کوم پورې چې دده عتق معلق دی نو مدبر مقيد به د شرط د موجود کيدو سره سم ازاد وي (کعتق المدبر) مدبر مقيد به د مدبر مطلق په شان ازاد وي يعنې د ثلث مال نه کما مر اقسامه.

(وامة ولدت من سيدها اومن زوج فملکها صارت امولد وحکمها کالمدبرة الا انها تعتق عند موته من کل ماله ولم تسع لدينه ولا يثبت نسب ولدها الا ان يقربه فان اقر فولدت آخر يثبت نسبه بلا دعوة و انتفى، اعلم ان الفراش اما ضعيف او متوسط او قوى، فالضعيف هى الامة فلا يثبت نسب ولدها الا بدعوة سيدها، فاذا ادعى صارت امولد وهى الفراش المتوسط ويثبت نسب ولدها بلا دعوة لكنه ينتفى بنفيه والفراش القوى هى المنكوحة فيثبت نسب ولدها بلا دعوة ولا ينتفى بالنفى بل يجب اللعان).

حکم الاستيلاد: (قوله و امة ولدت الخ) غرض د مصنف رحمه الله ددی عبارت څخه شروع ده په بيان د احکامو د استيلاد کې نو که يوه وينزه د خپل بادار څخه بچی راوړي بچی مړ وي که ژوندی وي (او من زوج) يا د خپل ميره څخه بچی راوړي (فملکها) بيا ميره د دې مالک وګرځي هغه داسې چې يو اصيل سړي يوه وينزه په نکاح واخلي او د دې وينزې څخه يې بچی وشي بيا دغه خاوند د دې وينزې مالک شي په اخستلو يا هبې يا بلې طريقې سره (صارت ام ولد) نو په دواړو صورتونو کې به دا وينزه ام ولده ګرځي (و حکمها کالمدبرة) او ددی حکم بيا د مدبرې په شان دی لکه څرنګه چې مدبره د بادار د مرګ څخه وروسته ازاديږي ام ولده به هم ازاديږي او لکه څرنګه

چې مدبره د يو ملک څخه بل ملک ته نه شي ويستلى دارنګې به ام . ه هم نه شي ويستلى.
(فان اقر الخ) خو که مولى اقرار وکړو چې دا بچى زما څخه دى (فولدت آخر) او دغې ام ولد د دغه مقر به ولد څخه وروسته بل بچى راوړ (يثبت الخ) نو د دې بل بچي نسب بې د دعوې د نسب څخه ثابتيږي (انتفى بنفيه) خو که باداريې نفي کړي چې دا بچى زما څخه نه دى نو د بادار په نفي سره د دې بچي نسب نفي کيږي (اعلم الخ) شارح رحمه الله د ماسبق د وضاحت لپاره د فراش اقسام بيانوي اصل کې د فراش اقسام څلور دي خو شارح درې ذکر کړي.
۱.ضعيف دا د وينزې دى ځکه چې د دې د بچي نسب بې د دعوې د بادار څخه نه ثابتيږي.
۲.متوسط چې بادار دعوه وکړه چې دا بچى زما څخه دى نو دغه وينزه ام ولده وګرځيده (ويثبت نسب) خو په فراش متوسط کې د دويم بچي نسب بلا دعوى ثابتيږي (لكنه ينتفي) خو که نسب د دويم بچي نفي کوي نو نفي کيږي.
۳.فراش قوي چې منکوحه ده ځکه د دې بچي نسب بلا دعوه ثابتيږي او که خاوند يې نفي کړي نو نه نفي کيږي بلکې د خاوند د نفي سره به لعان واجبيږي.
۴.څلورم قسم چې شارح نه دى ذکر کړى چې هغه فراش اقوى دى چې هغه فراش د هغې معتدې دى چې معتده د بائن څخه وي ځکه کله چې معتده بچى راوړي او موده صلاحيت د بچي ولري نو نسب د ولديې د خاوند څخه ثابتيږي او په نفي کولو سره نه نفي کيږي ځکه لعان نشته، ځکه د لعان په شرطونو کې قيام د زوجيت دى او د معتدې د بائن کې زوجيت قائم نه وي.

(وام ولد النصراني اذا اسلمت تسعى في قيمتها وتعتق بعدها اى بعد السعاية ان عُرِضَ عليه الاسلام فأبى وهي بحالها ان عرض فاسلم اى تكون ولد له كما كانت فان ادعى ولد امة مشتركة اى بين المدعي وبين آخر يثبت نسبه منه وهي ام ولدِهِ وضمنَ نصف قيمتها ونصف عُقرها لا قيمة ولدها لانه لما استولد الجارية يثبت النسب في النصف لمصادفته ملكه فيثبت في الباقي ضرورة ان النسب لا يتجزأ لان الولد لا ينعلق من مائين، فيلزم تملك الباقي فيجب عليه نصف قيمتها وايضًا نصف عقرها لحرمة الوطى بخلاف وطئ جارية الابن فان قوله عليه السلام انت ومالك لابيكَ لا يراد به المعنى الحقيقي وهو ان يكون ملكًا للاب ضرورة كونه ملك الابن يدل عليه قوله عليه السلام انت ومالكَ لابيكَ فيراد به المعنى المجازي وهو حل الانتفاع فتصير قبيل الوطى ملكًا للاب ليكون الوطى حلالاً فلا يجب العقر وفي مسألتنا وقع الوقاعُ في محلٍ بعضه ملك الغير ولا سبب لحل الوطى فيحرم فيجب

العقر والتملك يثبت ضرورة ثبوت النسب منه فيثبت قُبيل العلوق لكن بعد ابتداء الوطى فلا يجب قيمة الولد).

البيان الكافي في بيان ام ولد النصراني: (**و ام ولد النصراني الخ**) او ام ولده د نصراني مراد د نصراني څخه هر كافر ذمي مراد دى (**اذا اسلمت**) كله چې اسلام راوړي (**تسعى في قيمتها**) سعي به كوي په خپل قيمت كې (**و تعتق بعدها**) او وروسته به د سعايه څخه ازاده وي (**ان عُرض عليه الاسلام فابى**) كه چيرته نصراني ته اسلام وړاندې كړى شو او هغه انكار وكړو (**و هيَ بحالها ان عُرضَ فاَسلم**) خو ام ولده به په خپل حال وي يعنې د همدې نصراني ام ولده به وي كه اسلام ورته وړاندې شو او هغه قبول كړو.

خلاصه د دې دا شوه كه يو كافر دمي چې د هغه ام ولده اسلام راوړي نو دي كافر ذمي ته به اسلام هم وړاندې شي نو كه كافر ذمي اسلام قبول كړو نو ام ولده به په خپل حال وي، يعنې لكه څرنګه چې مخكې دده وه اوس به هم دده ام ولده وي، خو كه كافر ذمي اسلام قبول نه كړو نو ام ولده به په خپل قيمت كې د مولى لپاره سعي وكړي او كله چې مال د سعايه اداء كړو نو ام ولده ازاده شوه.

(**فإن ادعَى ولد امة مشتركة**) كه يو كس دعوه وكړه د ولد د وينځې مشتركې يعنې يوه وينځه د مدعي او د بل كس سره شريكه وه او دغې وينځې بچى راوړ او مدعي دعوه وكړه چې دغه بچى زما څخه دى (**يثبت نسبه منه**) نو نسب د دغه بچي به د مدعي څخه ثابت وي (**و هي ام ولده**) او دغه وينزه به د مدعي ام ولده وي (**و ضمن نصف قيمتها**) او مدعي به خپل شريك ته تاوان د نيم قيمت د دې وينزې وركړي (**و نصف عقرها**) او نيم تاوان به د عقر وركوي مراد د عقر نه مهر المثل دى نو مدعي به تاوان د نيم مهر مثل وركوي، خو بعضې علماء بيا وايي چې عقر دېته وايي كه فرضًا زنا حلاله واى نو د داسې ښځې سره به په څو روپۍ وطي شوې وه نو د دې اجرت نيمايي به شريك ته وركوي لكه كفايه كې داسې ذكر كوي چې (**والمراد بالعقر مهر المثل فيكون الشريك ضامنًا لنصف مهر مثلها هكذا في مبسوط شمس الائمة السرخسي و في مبسوط شيخ الاسلام والمحيط العقر قدر ما تستاجر هذه المرآة لو كان الاستيجار للزنا حلالا. كفايه ۵\۴۵**).

(**لا قيمة ولدها**) خو په مدعي قيمت د ولد نشته (**لانه لما استولد الخ**) ځكه هركله چې مدعي وينزه مشتركه ام ولده وګرځوله په وطي كولو سره او په دعوى د ولد سره (**يثبت النسب**) نو نسب

ثابتيږي په نيمايي کې (لمصادفته) د وجې د مخامخ کيدو د دې نصف د ملک سره ځکه مدعي مالک د نصف دی (فيثبت الخ) چې په نيم کې نسب ثابت شو نو په باقي کې هم د ضرورت د وجې ثابتيږي ځکه نسب تجزيه او حصې نه قبلوي چې په بعضې ولد کې ثابت شي او په بعضې کې ثابت نه شي دا ځکه چې سبب د دې علوق دی (لان الولد الخ) او ولد د دوو اوبو څخه نه جوړيږي د علوق معنی حمل اخستل (فيلزم تملک) نو په دې خاطر چې علوق د دوو اوبو څخه نه راځي لازميږي مالک کيدل د باقي نيمايي حصې (فيجب) نو په دغه مدعي باندې واجبيږي نيم قيمت د وينزې او نيم قيمت د عقر يعني د وطي (لحرمة الوطي) د وجې د حرمت د وطي نه ځکه علوق وروسته د وطي څخه راځي او وطي په حصې د شريک کې راغلی.

(بخلاف وطي جارية الابن) په خلاف د وطي کولو سره د پلار وينزه د ځوی لره يعني که پلار د ځوی وينزه وطي کړي نو په پلار باندې بالکل عقر نشته نه نيمايي او نه ټول (فان قوله عليه السلام) ځکه دا قول د نبي عليه السلام چې ته او ستا مال ستا د پلار دی (لا يراد به الخ) په دې حديث سره معنی حقيقي د دې مراد نه ده چې (و هو ان يکونَ) هغه داسې چې د ځوی مال دی د پلار ملکيت وګرځي (ضرورة کونه ملک الابن) ځکه معنی حقيقي مراد نه ده چې دا ملکيت د ځوی دی ځکه دا ممکن نه ده چې په حالت واحده کې د يو شئ په ملکيت تامه سره د دوو مالکانو په ملکيت کې راشي (يدل عليه) دليل په دې چې دا د ځوی مال دی دا حديث د نبي عليه السلام دی چې (انتَ و مالک لابيکَ) په دې حديث کې يو د انت لفظ راغلی نو که د دې معنی حقيقي اخستلی شي نو بيا خو دا لازميږي چې پلار ځوی هم خرڅولی شي او دا غير معقول دی، همدارنګه د مال اضافت ابن ته په کاف خطابي سره شوی چې مفيد د تملک او اختصاص دی دا دلالت په دې کوي چې دا د ځوی مال دی او د پلار مال نه دی (فيراد به المعنی المجازي) نو مراد په دې سره معنی مجازي وي چې په وخت د ضرورت کې د انتفاع حلالوالی دی (فتصير الخ) نو کله چې پلار د ځوی وينزه وطي کړه نو دغه وينزه د وطي څخه مخکې د پلار په ملکيت کې راغله د دې لپاره چې وطي حلاله شي، نو چې وطي حلاله شوه نو په پلار باندې عقر هم نه واجبيږي ځکه عقر په وطي حرامه کې واجبيږي.

(وفي مسألتنا الخ) او په دغه مذکوره مسئله کې يعني په وطي کولو د مشترکې وينزې کې (وقع

الوِقَاع) واقع شوي جماع په داسې محل کې چې بعضې حصه ملک د غير وه **(ولا سبب)** او هيڅ سبب او دليل د حلالوالي د وطي لپاره نه وو نو وطي حرامه شوه چې وطي حرامه شوه نو عقر واجب شو **(والتملک الخ)** دا دفع د يو اعتراض ده چې هرکله مدعي واطي د خپل شريک د حصې مالک وګرځيده نو وطي خو په خپل ملک کې راغله نو بيا وطي څنګه حرامه شوه؟ نو شارح جواب وکړو چې دغه ملکيت راوستل د واطي د وجې د ضرورت د ثبوت د نسب د واطي نه شو يعني د دې ضرورت په اساس چې د دې واطي څخه نسب ثابت شي **(فيثبت قبيل العلوق)** نو دغه ملکيت مخکې د علوق څخه ثابتيږي خو د وطي څخه وروسته نو وطي په ملک د غير کې راغله **(فلا يجب)** نو ضمان دعقر ورباندې نيمايي واجب دی خو قيمت د ولد ورباندې واجب نه شو ځکه علوق په خپل ملک کې راغی.

(وان ادعياهُ معًا فهو منهما خلافًا للشافعي فان عنده يُرجع الى قول القائف وهو الذى يتبع آثار الآباء في الابناء وهي امولدٍ لهما وعلى كل نصف عقرها وتقاصا ويرث من كلٍ ارث ابنٍ لان المقر يواخذ باقرارهٖ وورثا منه ارث ابٍ لان الاب احدهما لكنه غير معلومٍ فيوزع ميراث الاب عليهما).

اوجه الوجهين في اثبات النسب من الابوين: (قوله و ان ادعياه معًا) که دوو کسانو شريکينو چې په اوصافو کې سره برابر وو دعوه د دې ولد وکړه په يو وخت کې او په يو ځای چې دا بچی زمونږ څخه دی يعني هر يو دعوه وکړه چې دا بچی زما څخه دی **(فهو منهما)** نو دا بچی د دواړو څخه وي دلته يوه خبره شته چې مخکې مونږ وويل چې نسب تجزي نه قبلوي، او دلته د دې عبارت څخه معلوميږي چې نسب تجزي قبلوي ځکه د يو کس نسب د دوو کسانو څخه ثابت شو، نو صاحب هدايه د دغه وهم د دفع لپاره داسې ويلي چې نسب اګر چې تجزي نه قبلوي خو تعلق يې د هغه احکامو سره دی چې هغه تجزي قبلوي لکه نفقه ولايت د تصرف په خپل مال کې حضانت، ميراث نو کوم احکام چې تجزيه قبلوي لکه ميراث نو دا به په حق د دواړو کې على التجزء ، ثابتيږي او کوم چې تجزيه نه قبلوي لکه ثبوت د نسب، ولايت د انکاح دا به په حق د هر يو کې کاملاً ثابتيږي يعني ګويا چې له ده سره بل کس نشته [کفايه ۴۸۱۵، فتح القدير ۴۸۱۵].

(خلافًا للشافعي رحمه الله الخ) خو د امام شافعي رحمه الله په نزد د يو کس نسب د دوو کسانو څخه نه ثابتيږي بلکې دده په نزد به قائف ته رجوع کيږي **(و هو الذي الخ)** دا د قائف تفسير او وضاحت کوي چې قائف هغه چاته وايي چې آثار د آباو په ابناو کې معلومولی لکه رنګ تناسب د اندامونو و

غيره ماخوذ دی د قاف يقوف څخه چې مقلوب دی د قفا اثره څخه او قيافت په بني مدلج قبيله کې ډير مشهور وو [فتح القدير ٤٧١٥].

وجه د امام شافعي رحمه الله داده چې اثبات د نسب د دوو کسانو څخه متعذر وی ځکه ولد د دوو او بو څخه نه پيدا کيږي نو رجوع به قائف ته کيږي، او عمل به په مشابهت سره کولی شي لکه څرنګه رسول الله ﷺ د زيد او اسامه بن زيد په رابطه کې خوشحالی اظهار وکړه چې قائف د دوی په باره کې وويل چې دا پښې بعضې د بعضو څخه دي، احناف د دې څخه دا جواب کوي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم خوشحالي په دې وجه وه چې کفارو په نسب د اسامه رضي الله عنه کې د زيد رضي الله عنه څخه طعن او عيب لګوه چې اسامه د رنګ څخه تور وو او زيد سپين وو نو د قائف په خبرې سره د هغوی طعن ختم شو، نو د دې څخه دا نه معلوميږي چې شرعًا د په ثبوت د نسب کې قول د قائف معتبر وي د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کی دوو کسانو يوه وينزه وطي کړې وه او بيا يې بچی راوړه نو عمر رضي الله عنه دا حکم وکړو چې دا ماشوم به د دواړو څخه ميراث وړي او دوی دواړه به د ماشوم څخه ميراث وړي [بيهقي، بنايه، فتح القدير ٤٩١٥].

(**وهي ام ولد لهما**) او دا وينزه د دواړو ام ولده وي يعني يوه ورځ به د يو کس خدمت کوي يوه ورځ به د بل کس خدمت کوي (**وعلى كلٍ نصف عقرها**) او په هر يو شريک باندې به نيم عقر تاوان وي (**وتقاصا**) خو قصاصًا به وي يعنې يو بل ته به يې مجری کوي يعني هر شريک باندې نيم عقر واجب دی ځکه وطي په ملک د غير کې راغلي خو هر يو به خپل مال ځان ته مجری کړي او بل ته به يې نه ورکوي.

(**ويرثُ من كلٍ ارث ابٍ الخ**) او دغه ولد به د هر يو څخه که مړ شي ميراث د پوره ځوی وړي ځکه دواړو دده په نسب اقرار کړی او اقرار په نسب اقرار په ميراث دی ځکه مقر په خپل اقرار نيولی شي (**وورثا منه ارث ابٍ**) خو که دغه ولد مړ شي نو بيا دغه دواړه مدعيان دده نه ميراث د يو پلار وړي ځکه پلار خو يو وو خو غير معلوم وو نو د يو پلار ميراث به په دواړو تقسيمولی شي، والله تعالى اعلم.

(**وان ادعى ولد امةٍ مكاتبه لزمه عقرها ونسب الولد وقيمته لانه وطی معتمدًا على الملك فيكونُ ولده ولد المغرور وهو ثابت النسب وهو حر بالقيمة لا الامية اى لا تصير الامة ام ولد له اذ لا ملك له فيها حقيقة ان صدقه مكاتبه اى انما يثبت النسب ان صدق المكاتب المولى وعند ابى يوسف لا يشترط تصديق المكاتب للمولى والا لا يثبت نسبه الا اذا ملكه يومًا اى ان لم يصدق المكاتب المولى لا يثبت النسب الا اذا ملكه المولى الولد يومًا**).

التوضیح: (**قوله و ان ادعی الخ**) که یو کس دعوه وکړه د ولد د وینزې د مکاتب خپل یعنې د یو کس یو مکاتب غلام وو د دغه مکاتب وینزه واخستله وینزې بچی وزیږاوه د مکاتب مولی دعوه وکړه چې دا بچی زما څخه دی (**لزم عقرها**) نو اوس په دغه مولی باندې عقر د وینزې لازم دی همدارنګه نسب د ولد او قیمت د ولد ورباندې لازم شو (**لانه وطي معتمدًا**) ځکه مولی وطي کړې وینزه په داسې حال کې چې مولی اعتماد کونکی په ملک وو یعنې د مولی دا ګمان وو چې دا وینزه ګټه د مکاتب ده او د مکاتب ګټه زما ګټه ده (**فیکونُ ولدهُ الخ**) نو د مولی ولد ولد مغرور شو ولد مغرور دېته وایي چې یو کس وینزه په دې ګمان په نکاح کړي چې دا حره یعنې اصیله ده (**و هو ثابت النسب**) نو ولد مغرور به د مولی څخه ثابت النسب وي (**و هو حر**) خو دغه ولد به حر وي هلته چې د دې وینزې بادار ته د دې ولد قیمت ورکړي (**لا الامیة**) خو دغه وینزه ام ولده د مولی د مکاتب نه ګرځي (**اذلا ملک لهُ**) ځکه د مولی په دې وینزه کې حقیقةً ملک نشته (**ان صدقه مکاتبه**) خو د دې ولد نسب هلته د مدعي څخه ثابتیږي چې مکاتب تصدیق د مولی وکړي چې هو دا بچی له ستا څخه دی (**و عند ابي یوسف رحمه الله**) خو امام ابو یوسف رحمه الله وایي چې تصدیق د مکاتب د مولی لپاره شرط نه دی بلکې صرف په دعوې د مولی سره نسب ثابتیږي لکه څرنګه چې پلار د ځوی وینزه وطي کړي نو صرف په دعوی د پلار سره نسب ثابتیږي، ځکه چې د مکاتب ګټه د مولی ګټه وي لکه څرنګه چې د ځوی وینزه ګټه د پلار ګټه ده، نو په دواړو صورتونو کې تصدیق یا تکذیب ته اعتبار نشته خو مونږ د امام ابویوسف رحمه الله څخه دا جواب کوو چې په مولی او پلار کې فرق شته هغه داسې چې مولی د تصرف واک د مکاتب په ګټه کې نه لري او نه په وخت د ضرورت کې د هغې مالک کیدی شي خو پلار مالک کیدی شي.نو تصدیق د ابن د پلار لپاره شرط نه دی خو تصدیق د مکاتب د مولی لپاره شرط دی (**و الا لایثبت**) او که مکاتب تصدیق د مولی ونه کړي نسب د ولد د مولی څخه نه ثابتیږي (**الا اذا ملکه یومًا**) مګر هلته به د ولد نسب د مولی څخه ثابتیږي چې مولی په کومه ورځ د دې ولد مالک وګرځیده یعنې که چیرته دغه مدعي د دې ولد مالک شي نو په دغه ورځ بیا بې له تصدیق د مکاتب څخه د ولد نسب د مدعي څخه ثابتیږي ځکه مانع لرې شو چې هغه حق د مکاتب وو.

كتابُ الأيمان

: دې تقدير داسې راځي (هٰذا كتاب في بيان احكام الايمان) أيمان جمع د يمين ده، په دې باب كې
: يو څو خبرو بيانول ضروري دي: ۱ـ مناسبت د ماقبل سره، ۲ـ معنی لغوي د يمين، ۳ـ معنی
اصطلاحي د يمين، ۴ـ شرط د يمين، ۵ـ سبب د يمين، ۶ـ ركن د يمين، ۷ـ حكم د يمين، ۸ـ اسماء
د يمين، ۹ـ اقسام د يمين، ۱۰ـ وجه د حصر د اقسامو:

۱ـ مناسبت يې د ماقبل سره دا وو چې يمين عتاق طلاق نكاح ټول په ديكې سره شريک دي چې هزل يعني ټوكه او اكراه يعني جبرا وزور پكې اثر نه كوي خو نكاح يې په ټولو ځكه مقدم كړه چې نكاح عباداتو ته نژدې ده او طلاق سره رفع د نكاح راځي او عتاق د طلاقو سره په اسقاط كې شريک دي نو ځكه يې عتاق مقدم كړو.

۲ـ معنی لغوي د يمين قوت دی لكه الله تعالى فرمايي چې [لاخذنا منهُ باليمين] همدا وجه ده چې د انسان ښې لاس ته هم يمين وايي ځكه چې ديكې هم زيات طاقت دی په نسبت سره بل لاس ته.

۳ـ معنی اصطلاحي د يمن داده (و في الشريعة عقد قوي به عزم الحالف على الفعل او الترک) يعني هغه عقد دی چې مضبوطيږي په دې سره اراده د قسم كونكي په يو كار كولو يا نه كولو باندې.

۴ـ شرط د يمين دا دی چې حالف يعني قسم كونكی به مكلف يعني مسلمان عاقل بالغ وی.

۵ـ سبب د يمين دا دی چې اراده د ثبوت د هغه شي چې حالف د هغه قصد كړی دی.

۶ـ او ركن د يمين هغه لفظ دی چې يمينورباندې منعقد كيږي.

۷ـ حكم د يمين دا دی چې بر يعني كاميابي ده په كوم شيء كې چې بر واجب دی او كفاره ده په وخت د فوت كيدلو د ديكې.

۸ـ اسماء د يمين شپږ دي: ۱ـ حلف ۲ـ قسم ۳ـ عهد ۴ـ ميثاق ۵ـ ايلاء ۶ـ يمين.

۹ـ اقسام د يمين درې دي: ۱ـ يمين لغوه ۲ـ غموس ۳ـ منعده.

۱۰ـ وجه د حصر د اقسامو ثلاثو داده چې يمين بالله به خالي نه وي چې يا به پديكې مواخذه وي او يا نه كه پديكې مواخذه وه نو بيا به خالي نو يا به پكې مواخذه دنيوي وي او يا به اخروي كه دنيوي مواخذه پكې وه دېته منعقده وايي او كه اخروي مؤاخذه پكې وه نو دېته غموس وايي او كه مؤاخذه پكې بالكل نه وه نو بيا دېته لغوه وايي [فتح القدير ۵۴۱۵، كفايه ۵۴۱۵].

(اليمينُ تقوى الخبر بذكر الله او التعليق وهى ثلاث اى الايمان التى اعتبرها الشرع ورتب عليها الاحكام ثلاث وانما قلنا هذا لان مطلق اليمين اكثر من الثلاث كاليمين على الفعل الماضي صادقًا و

عنينا بترتب الاحكام عليها ترتب المؤاخذة على الغموس وعدمها على اللغو والكفارة على المنعقدة).

السمط الثمين في بيان اليمين: (**اليمين**) غرض د شارح د دېنه اشاره ده معنى اصطلاحي د يمين ته چې يمين دېته وايي چې تقوي الخبر مضبوطول د خبر په ذكر د الله سره يعني په اسماء او صفاتو د الله تعالى سره (**او التعليق**) يا مضبوطول د خبر دى په تعليق سره مراد د تعليق نه شرط او جزاء دي ځكه د فقهاو په نزد تعليق د طلاقو وغيره هم يمين دى (**و هي ثلاث**) او دغه يمين چې تعلق لري د ذكر د الله تعالى پورې په درې قسمه دي (**اى الأيمان**) شارح په دې عبارت سره مرجع د هي ضمير بيانوي چې مرجع د هي ضمير مطلق يمين نه دى ځكه د مطلق يمين اقسام د دريو ځخه زياتيږي بلكي مرجع د دې هغه يمين دى چې تعلق لري د ذكر د الله تعالى پورې يعني شريعت اعتبار وركړى وي او احكام ورباندې مرتب كيږي چې هغه درې دي.

(**و انما قُلنا الخ**) شارح وايي چې مونږ ځكه دغه قيد د اعتبرها الشرع ذكر كړو چې د مطلق يمين اقسام د دريو ځخه زيات دي لكه يمين په فعل ماضي باندې د صدق په حالت كې مثلاً تاسو مونځ وكړو او بيا ته ووايي چې (**والله لقد صليت الصبح**) دا قسم يمين په هغه درې اقسامو كې داخل نه دى (**و عنينا**) شارح وايي چې زمونږ مراد د ترتب د احكامو ځخه ترتب د مؤاخذې او عدم مؤاخذې او د كفارې دى چې په يمين غموس كې اخروي مؤاخذه شته او په يمين لغوه كې د ګناه مؤاخذه نشته، او په يمين منعقده كې كفاره ده، والله اعلم.

(**فحلفه على فعلٍ او تركٍ ماضٍ كاذبًا عمدًا غموس يمكن ان يراد بالفعل مصطلح النحاة او مصطلح اهل الكلام وهو المصدر اعم من ان يكون قائمًا بالعقلاء او بالجمادات نحو والله لقد هبت الريح فان قلت اذا قيل والله ان هذا حجر كيف يصح ان يقال هذا الحلف على الفعل قلت يقدر كلمة كان او يكون ان اريد في الزمان الماضي او المستقبل والمراد بالترك عدم الفعل، وقوله كاذبًا حال من الضمير في قوله فحلفه ثم يبين حكم الغموس بقوله يأثم به**).

قهر القدوس على يمين الغموس: (**فحلفه**) مصنف رحمه الله بيان د يمين غموس كوي چې يمين غموس دېته وايي چې قسم خوړل په يو فعل يا ترک باندې يعني چې دا كار مې كړى يا مې نه دى كړى په ماضي كې، دغه قسم خوړل دده په دروغو سره قصداً وي غموس د غمس ځخه دى غمس معنى غوپه كول (**لانه ما سمي غموسًا الا لانها تغمس صاحبها في الاثم ثم في النار ـ كفايه ٥\٥٥**)

يعني غموس ته هم ځکه غموس وايي چې دا هم خپل خاوند اولا په ګناه کې غوپه کوي بيا په اور د جهنم کې (**يمكنُ ان يراد**) شارح وايي چې فعل خو په دوه قسمه دی: ۱. فعل نحوي چې كلمة (**دلت على معنًى مستقل و اقتران احد الازمنة**) دی، ۲. فعل لغوي يا معنی مصدري چې اصطلاح د اهل كلامو ده، دلته كومه يوه معنی مراد ده؟ نو شارح جواب وكړو چې دواړه ممكن دي چې هم هغه فعل مراد شي چې مصطلح د نحاتو دی او هم هغه فعل مراد شي چې مصطلح د اهل كلامو دی خو د غموس په تعريف كې د فعل په مقابله كې ترک راغلی دا دلالت په دې كوي چې د فعل نه معنی لغوي مراد ده نه هغه فعل چې مصطلح د نحاتو دی (**و هو المصدر اعم**) دغه معنی مصدري بيا عام ده چې قائم په عقلاو وي چې هغه انسانان جنيات او فرشتي دي (**او بالجمادات**) او كه قائم په جماداتو وي جمادات دېته وايي چې نه پكې ژوند وي او نه عقل (**نحو والله**) د جماداتو مثال لكه والله هبت الريح قسم په الله چې باد راوالوته نو د هبوب يعني راالوتل د صفاتو د باد ځخه دی او باد د غير ذوي العقولو ځخه دی.

(**فان قلتَ**) شارح رحمه الله وايي كه څوک ووايي چې ته وايي چې غموس دېته وايي چې قصداً په دروغو قسم خوړل په فعل يا ترک باندې نو كه يو كس ووايي چې (**والله ان هذا حجر**) يمين غموس شو خو حلف على الفعل خو نه شو (**قلت يقدر**) نو شارح جواب وكړو چې كه اراده يې په زمانه ماضي كې وه نو كانَ به مقدر وي او كه اراده يې په مستقبل كې وه نو يكونُ كلمه به مقدر وي خو ګوره د تقدير ځخه دا معنی مراد نه ده چې لفظًا به كان يا يكونُ مقدر وي بلكې معنی داده چې د يو شيءٌ نسبت بل شيءٌ ته كيږي نو ديكې به خامخا معنی د كون يعنې د كيدو موجوده وي او دغه كون يا موجوديدل په يوه زمانه كې د دريو زمانو ځخه يا په ټولو كې راځي (**والمراد بالترک الخ**) مراد د ترک ځخه عدم فعل وي، مثلا يو كس ووايي چې والله كه ما دا كار كړی وي او حال دا چې ده دا كار كړی وی (**و قوله كاذبًا**) د غموس په تعريف كې كاذبًا په تركيب كې حال د هغه ضمير نه دی چې حالف ته راجع دی چې هغه په حلفه كې دی (**ثم يين**) بيا مصنف رحمه الله حكم د غموس بيانوي چې ياثم يعني په يمين غموس كې انسان ګناه ګاريږي او اخروي مواخذه پكې ده.

(**ثم عطف على قوله كاذبًا قوله اوظانًا انه حق وهوضده لغوثم بين حكمه بقوله يُرجى عفوه**)

حکم العفو في بیان یمین اللغو: مصنف رحمه الله اوس د یمین اللغو تعریف کوي د یمین اللغو تعریف د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد داسې دی چې یو کس قسم وخوري چې دا کار داسې دی دا په خپل ګمان کې رشتني وي خو هغه کار هسې نه وي، مثلاً ووایي چې والله زید راغلی وو دده په ګمان دا حق او رشتیا وو خو هغه په واقع کې نه وو راغلی یا داسې ووایي چې والله زید نه وو راغلی دده په ګمان دا رشتیا وو خو هغه په واقع کې راغلی وو دا تعریف د یمین لغوه، د عبد الله بن عباس څخه منقول دی او د امام شافعي رحمه الله په نزد د یمین لغوه تعریف داسې دی چې لا والله بلی والله لکه عام طور مونږ محاوره کې وایو چې نه والله چې هو والله چې دا تعریف د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه منقول دی (**یُرجیٰ عفوه**) په دې سره حکم د یمین لغوه بیانوي چې امید شته چې په یمین لغوه کې الله تعالی حالف ته معافي وکړي څکه حالف یا قسم خوړونکی معذور دی څکه دده په ګمان دا رشتیا دی نو دیکې نه مؤاخذه شته او نه کفاره، والله عفو کریم.

(**ثم عطف علی فعل او ترکٍ قوله وعلی آتٍ منعقدة الاحسن ان یقال وآتٍ منعقدة بلا کلمة علی لیکون معطوفًا علی ماضٍ فانه اذا ذکر لفظة علی یکون معطوفًا علی فعلٍ او ترکٍ ثم لا بد ان یقدر لقوله آتٍ موصوف وهو فعل او ترك فیکون فیه اطناب مع وجوب تقدیر ما لیس بمذکور ولو سقط لفظة علی حتی یکون عطفا علی ماضٍ ففیه ایجاز بلا احتیاج تقدیر شیء غیر ملفوظ فان قلت الحلف کما یکون علی الماضی والآتی یکون علی الحال ایضًا فلم لم یذکره وهو من ای قسمٍ من اقسام الحلف؟ قلت انما لم یذکره لمعنًی دقیق وهو ان الکلام یحصل اولا فی النفس فیعبر عنه باللسان فالاخبار المتعلق بزمان الحال اذا حصل فی النفس فیعبر عنه باللسان فاذا تم التعبیر باللسان انعقد الیمین فزمان الحال صار ماضیًا بالنسبة الی زمان انعقاد الیمین فاذا قال کتبت لابد من الکتابة قبل ابتداء التکلم واذا قال سوف اکتب لابد من الکتابة بعد الفراغ من التکلم بقی الزمان الذی من ابتداء التکلم الی آخره فحصول زمان الحال بحسب العرف وهو ماض بالنسبة الی أن الفراغ وهو انعقاد الیمین فیکون الحلف علیه الحلف علی الماضی**).

حل العقدة في بیان یمین المنعقدة: (**و علی آتٍ الخ**) او قسم خوړل په داسې فعل یا ترک باندې چې راتلونکی وي (**منعقدة**) یمین منعقده دی (**فالاحسن ان یقال الخ**) شارح وایي چې د مصنف کلام هم صحیح دی چې د آتٍ لپاره یا موصوف راوباسي او یا آتٍ عطف کړي په ماضي باندې خو غوره داده چې و اتٍ منعقدة بې له کلمې د علی څخه ووېل شي نو بیا به په ماضٍ باندې عطف شي څکه

که لفظ د على ذکر شي نو دا به بيا عطف شي په فعل او ترک باندې او کله چې عطف شي په فعل او ترک باندې نو ضرور به د آتٍ لپاره موصوف راوباسي چې هغه فعل يا ترک دی نو دلته بيا دا حکم کولی شي چې په دې عبارت کې د آتٍ موصوف محذوف دی **(فيكون فيه اطناب)** نو دلته دوه نقصانه راغلل: يو اطناب يعنې تطويل بلا فائدې راغی **(مع وجوب الخ)** بل وجوب د تقدير د هغه شئ چې متن کې مذکور نه دی چې هغه موصوف د آتٍ دی **(ولو سقط)** خو که لفظ د على ساقط کړي يعنې ذکر نه شي نو بيا آتٍ عطف کيږي په ماضٍ باندې نو په ديکې بيا دوه فائدې دي: **(ففيه ايجاز)** يو په ديکې ايجاز دی، ايجاز دېته وايي چې مقصودي کلام په مختصر ډول اداء شي، **(بلا احتياج)** بله فائده پکې داده چې تقدير د غير ملفوظ شئ ته پکې ضرورت نشته **(فان قلت الخ)** شارح وايي که ته وايي لکه څرنګه چې قسم په ماضي او استقبال دواړو باندې راځي نو دارنګې قسم په حال هم راتللی شي **(فلم لم يذکره)** نو يوه خبره داده چې ولې حلف على الحال ذکر نه کړو **(و هو من اي)** او بل دا چې دا په اقسامو د حلف کې د کوم قسم څخه دی **(قلت)** شارح وايي حلف على الماضي يې د يوې باريکې نقطې د وجې ذکر نه کړو هغه داسې چې کلام په دوه قسمه دی: ۱- کلام نفسي، ۲- کلام لفظي، کلام نفسي دېته وايي چې کلام اولاً قبل التکلم په نفس کې حاصل شي بيا چې کله ژبه د دېنه تعبير وکړي يعنې تکلم ورباندې وکړي نو دېته بيا کلام لفظي وايي نو کلام لفظي دلالت په کلام نفسي کوي.

(فان الاخبار) نو کوم خبر چې تعلق د زمان د حال پورې لري نو کله چې په نفس کې حاصل شي نو تعبير د هغې څخه په ژبې سره کولی شي، نو کله چې د ژبې تعبير تمام شي د تماموالي د کلام څخه وروسته متصل يمين منعقد کيږي نو زمانه د حال ماضي وګرځيده په نسبت سره انعقاد د يمين ته، مثلاً ته ووايي کتبتُ ما ليکل کړي دي نو د ابتداء د تکلم نه مخکې کتابت ضروري دی څکه ماضي دلالت په همدې کوي خو که ته ووايي چې **(سوف اکتب)** زر دی چې زه به ليکل وکړم نو په دې صورت کې د تکلم د فراغت څخه وروسته کتابت ضروري دی، اوس يوه زمانه پاتې شوه چې هغه د ابتداء د تکلم نه تر آخر د تکلم پورې ده او دا زمانه د حال ده په اعتبار د عرف سره. **(و هو ماضٍ)** خو دغه زمانه په نسبت سره وخت د فراغت ته د کلام نه ماضي ده **(و هو آن الانعقاد)** او همدغه وخت د فراغت وخت د انعقاد د يمين دی **(فيکون الحلف)** نو قسم په حال باندې قسم په

ماضي دى او په مخکني صورت کې داخل شو نو حکم د دې به حکم د ماضي وي همدا وجه وه چې مصنف رحمه الله ځانته ذکر نه کړو، والله اعلم.

(وكفر فيه فقط ان حنث انما قال فقط احترازًا عن مذهب الشافعي رحمه الله من الكفارة في الغموس).

توضيح: او کفاره به ورکړي صرف په يمين منعقده کې که حانث شو يعني په خپل قسم کې بري نه شو (**انما قال فقط**) شارح وايي چې مصنف ځکه فقط لفظ وويله چې د امام شافعي د مذهب ځخه احتراز راشي ځکه د هغه په نزد په يمين غموس کې هم کفاره شته ځکه يمين منعقده او يمين غموس دواړه په کذب عمدي کې سره شريک دي خو زمونږ د احنافو په نزد کفاره صرف په يمين منعقده کې شته او په يمين غموس او منعقده کې نشته، والله الموفق للسداد.

(ولو سهوًا اوكرهًا حلف اوحنثَ يعني تجب الكفارة وان كان الحلف بطريق السهو اوبالاكراه خلافًا للشافعي وقال في الهداية القاصد في اليمين والمكره والناسي سواء والمراد بالناسي الساهي وهو الذي حلف من غير قصد كما يقال الا تأتينا فقال بلى والله من غير قصد اليمين وكذا ان كان الحنث بطريق السهو والاكراه تجب الكفارة لان الفعل الحقيقي لا يُعدمه السهو والاكراه وكذا الاغماء والجنون فتجب الكفارة بالحنث كيفما كان)

تشريح: (**ولو سهوًا الخ**) يعني په يمين منعقده کې کفاره واجب ده اګر که حلف په طريقه د سهوي يا اکراه سره وي (**خلافًا للشافعي**) خلاف دى امام شافعي لره دده په نزد په ناسي او مکره باندې په حلف او حنث دواړو کې کفاره واجب نه ده يو دليل يې دا حديث دى چې (**انما الاعمالُ بالنيات**) او د ناسي نيت نه وي، او بل دليل يې دا حديث دى چې (**ليسَ على مقهور يمين**) په مکره باندې قسم نشته، احناف د دېنه داسې جواب کوي چې حديث د مقهور ضعيف دى په دې دليل نشي نيولى، او حديث د انما الاعمال بالنيات محمول دى په دې باندې چې ثواب د اعمالو د نيت پورې موقوف دى (**و قالَ في الهداية**) شارح رحمه الله د مصنف رحمه الله د خبرې د تاکيد لپاره د هدايې عبارت راوړى چې په وجوب د کفاره کې عامد او مکره او ناسي يو شان دي (**والمراد بالناسي الخ**) خو مراد د ناسي ځخه ساهي دى دلته درې الفاظ دي: ۱۔خطا ۲۔سهو ۳۔نسيان، خطا دېته وايي چې دده په ژبه باندې قسم جاري شي بلا قصده مثلا ستا زره وو چې زه سبحان الله ووايم او په خوله دې راغله چې والله که مونځ وکړم، نو دا خطا ده، او سهو او نسيان په اعتباره د لغت سره يو دي خو اصطلاحًا فرق لري هغه داسې چې سهوه دېته وايي چې صورت د شي د مدرکې ځخه لرې شي خو

په خزانه کې پاتې وي، د معمولي تنبيه او خبرداري سره ساهي ته وريادېږي او نسيان دېته وايي چې صورت د شئ د مدرکې او خزانې دواړو څخه لرې شي نو بيا د دې د حصول لپاره سبب جديد ته ضرورت وي، خو شارح رحمه الله وايي چې مراد د ناسي څخه ساهي دی او شارح رحمه الله بيا د ساهي تفسير داسې کوي چې بغير د قصد څخه قسم وخوري، مثلا يو کس ورته ووايي چې الا تاتينا ايا ته نه راځې مونږ ته؟ هغه ورته ووايي چې بلی والله هو قسم په الله خو اراده د قسم يې نه وه، بعضې علماو د ناسي تفسير په خاطي سره کړی دی نو دغه تعريف ته چې وګوري چې (هو الذي حلف من غير قصد) دی نو بيا تفسير د ناسي په خاطي سره غوره دی همدا وجه ده چې په بعضې نسخو د هدايه کې د ناسي په ځای خاطي ذکر دی.

(و كذا ان كان) لکه څرنګه چې کفاره په حلف کې په طريقې د سهو او اکراه سره واجبېږي، نو همدارنګه که حنث يعني په قسم کې نه برې کيدل په طريقې د سهوي او اکراه سره وو نو هم به کفاره واجبه وي (لان الفعل) ځکه وجوب د کفارې شرعًا دده د فعل پورې په حنث باندې مرتبه ده يعني چې دا په خپل فعل کې حانث شو نو کفاره به وربانديې مرتبه وي او فعل حقيقي نه ختميږي په سهوي سره او په اکراه سره، همدارنګه په بېهوشۍ سره او ليونتوب سره نه ختميږي نو هر کله چې وجود د حنث د فعل پورې راځي نو کفاره به موجوديږي اګر چې په بعضې صورتونو کې ګناه هم وربانديې نشته.

(والقسمُ بِالله او باسم الله من اسمائهِ كالرحمن والرحيم والحق او بصفة يحلف بها من صفاته كعزة الله وجلاله وكبريائهِ وعظمته وقدرتهِ لا بغير الله كالنبي والقرآن والكعبة ولا بصفة لا يُحلف بها من صفاته عرفا كرحمته وعلمه ورضائهِ وغضبهِ وسخطهِ وعذابهِ وقوله لعمر الله وايمُ الله وعهد اللهِ وميثاقه و أُقسم واحلف واشهد وان لم يقل بالله وعلىَّ نذر او يمين او عهد وان لم يضف الى الله وان فعل كذا فهو كافر وان لم يكفر علقه بماضٍ او آتٍ وسوګند ميخورم بخداى قسم).

اصابة الغرض الاهم في بيان المحلوف به والمقسم: (والقسم بالله الخ) حاصل د ټول کلام دا دی چې قسم په اسماو د الله سره بلا شبه يمين دی او په صفاتو د الله تعالی باندې په قسم خوړلو کې عرف ته اعتبار دی او په غير الله باندې قسم خوړل مطلق يمين نه دی، عرف کې وي او که نه وي، نو قسم په اسم ذات د الله تعالی چې لفظ د الله دی يا په بل نوم د الله تعالی سره د نهه نوي ۹۹ نومونو څخه لکه الرحمن الرحيم قسم دی.

(والحق) حق كه معرف باللام وو برابره خبره ده كه په باء سره وي لكه بالحق يا په واو سره وي لكه والحق بالاتفاق يمين دی او كه نكره وو نو بيا بدون د واو او باء څخه د اكثرو علماو په نزد يمين نه دی او كه واو يا باء ورسره وه او نيت د قسم يې وو نو بيا يمين دی او حق كه مضاف وو لكه حق الله نو كه باء ورسره وه يعني بحق الله نو بيا بالاتفاق يمين دی او كه د اضافت په حالت كې واو ورسره وو نو د صاحبينو په نزد يمين نه دی او د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد يمين دی ځكه عرف كې داسې استعمالولی شي.

(او بصفة يحلف الخ) مراد د اسم نه په دې مقام كې هغه لفظ دی چې دلالت په ذات موصوفه كوي لكه الرحمن او الرحيم او مراد د صفت څخه هغه مصادر دي چې د وصف د الله تعالى څخه حاصليږي لكه د الرحمن او الرحيم څخه الرحمة دی او د العليم څخه العلم دی او د العزيز څخه العزة دی نو معنى دا شوه چې قسم په هغه صفت د الله تعالى سره چې په عام عرف كې د الله تعالى د صفاتو څخه په هغې قسم خوړلی شي دا هم قسم دی (كعزة الله) لكه په عزت او غلبې د الله تعالى سره (و جلاله) په لوی والي د الله تعالى سره (و كبريائه) په لويوالي د الله تعالى سره دا او جلال په يوه معنى سره دی همدارنګه د عظمت معنى هم لوی والی دی (و قدرته) په قدرت د الله تعالى سره (لا بغير الله) او قسم صحيح نه دی په غير الله سره بلكې حرام دی (كالنبي) لكه په پيغمبر باندې قسم خوړل حرام دي (والقرآن) مصنف رحمه الله وايي چې قرآن هم غير الله كې داخل دی او قسم خوړل وربانديې جائز نه دي خو ځان پوهه كړه چې اوس زمانه كې په قرآن قسم خوړل متعارف دی نو قسم هم راځي دليل دا دی چې قرآن د الله تعالى د صفاتو څخه يو كلام دی، نو لكه څرنګه چې د الله تعالى په صفاتو كې عرف ته اعتبار وي نو په دېكې به هم عرف ته اعتبار وي او عرف كې په قرآن قسم خوړلی شي، او څوك چې قرآن د غير الله سره مشابه كوي د هغه مراد نفس مصحف دی ځكه نفس مصحف د صفاتو د الله تعالى څخه نه دی او قرآن چې كلام نفسي د الله تعالى څخه دی او يا حروف او الفاظ دي دا د صفاتو د الله تعالى څخه دی [فتح القدير ۲۴۱۵] همدا وجه ده چې صاحب عنايه وايي چې قرآن كلام د الله تعالى دی او غير مخلوق دی او غير الله نه دی دا د صفاتو ازليو د الله تعالى څخه دی، همدا وجه ده چې صاحب هدايه د نبي او كعبې سره ذكر نه كړو او مستقل يې ذكر كړو او علت يې ورته دا بيان كړو چې دا غير متعارف دی [عنايه ۲۴۱۵] (والكعبة) او په كعبې سره هم قسم خوړل جائز نه دي (و لا بصفة) او قسم خوړل جائز نه دي په هغه صفت د الله تعالى سره چې عام عرف كې په

هغې قسم نشي خوړلی لکه رحمت د الله علم د الله تعالی رضاء د الله تعالی او غضب د الله تعالی غوسه د الله تعالی عذاب د الله تعالی (**و قوله لعمر الله**) او دا قول د حالف چې لعمر الله قسم دی ترکیب کې قوله لعمر الله سره د معطوفاتو څخه مبتدا ده او قسم لفظ ورته خبر دی عَمر بقاء او حیات ته وایي لعمر الله اي بقاء الله نو تقدیر د عبارت داسې راځي چې لعمر الله قسمي او قرآنکریم کې هم د دې استعمال راغلی [العمرکَ انهم لفي سکرتهم یعمهونَ] (**وایمُ الله**) او ایم الله هم قسم دی په دیکې د کوفیانو او بصریانو اختلاف دی، کوفیان وایي چې ایم جمع د یمین ده نون لپاره د خفت د وجې د کثرت استعمال نه حذف شو تقدیري داسې راځي ایمن الله یمیني معنی قسم په الله دې زما قسم وي، خو بصریان وایي چې ایم الله د حروفو د قسم څخه دی لکه واو چې د حروفو د قسم څخه دی نو معنی د ایم الله والله ده واو لپاره د قسم دی او ایم مستقله کلمه ده چې د قسم لپاره وضع شوې ده (**و عهدُ الله و میثاقه**) او قسم په عهد د الله تعالی او په میثاق د الله تعالی قسم دی عهد الله او میثاقه ځکه دواړه مجرور دي چې واو قسمیه پرې داخل شوي او دلیل د دې پر قسم دا ایت کریمه دی چې (**و اوفوا بعهد الله اذا عاهدتم و لا تنقضوا الایمان بعد توکیدها**).

(**و أُقسم و احلف و اشهد**) دا درېواړه الفاظ په اعتبار د لغت او عرف سره د قسم لپاره استعمالولی شي اګر چې د بالله لفظ ورسره ونه ویل شي (**و علي نذر او یمین او عهد**) دا درېواړه الفاظ اګر چې د دې نسبت الله تعالی ته ونه کړي چې ووایي علي نذر لله نو بیا هم دا قسم دی (**و ان فعل کذا**) که یو کس داسې ووایي چې که ما دا کار وکړو نو زه به کافر یم نو دا هم قسم دی (**و ان لم یکفر**) اګر چې د دغه کار په کولو سره دا نه کافر کیږي ځکه دغه کس کفر معلق کړو د فعل مذکوره پورې نو دا په سبب د تعلیق باندې قسم شو، اوس پکار دا وو چې دا کس په وجود د معلق علیه سره کافر شوی وی خو سره د دې علماء وایي چې دا کس نه کافر کیږي، دا دلیل د دې دی چې دغه تعلیق صحیح نه دی او چې تعلیق صحیح نه شو نو قسم هم نه صحیح کیږي نو د دفع د دغه وهم لپاره مصنف رحمه الله دا وویل چې دا قسم دی اګر چې دغه کس ورباندې نه کافر کیږي.

اوس سوال دا دی چې تعلیق صحیح نه شو نو بیا ولې قسم شو؟ نو شارح وروسته په انما یکون سره جواب کوي چې دا ځکه قسم شو چې هرکله دغه کس کفر د دغه فعله پورې معلق کړو نو ده دا فعل په ځان حرام کړو او تحریم د حلالو قسم دی لکه سورة التحریم کې چې الله تعالی پیغمبر علیه السلام ته خطاب کوي [یا ایها النبي لم تحرمُ ما احل اللهُ لک] الآیة.

(علقه بماضٍ او آتٍ) يعني دغه کس په دغه تعليق نه کافر کيږي برابره خبره ده چې تعليق د کفريې د فعل ماضي پورې کړی وي او که د مستقبل پورې، او بعضې علماء بيا وايي چې که تعليق د کفريې د فعل ماضي پورې کړی وو نو کافر کيږي ځکه تعليق د داسې فعل پورې چې هغه ده ته معلوم وي چې واقع شوی دا خو تنجيز دی يعنې دا به داسې وي لکه ده چې اوس کفر اختيار کړه د ځان لپاره، خو صحيح خبره داده چې په داسې تعليق سره نه کافر کيږي برابره خبره ده چې تعليق يې د ماضي پورې کړي او که د مستقبل پورې خو په دې شرط چې دا په دې پوهيده چې دا تعليق د فعل د کفر پورې قسم دی او که دده عقيده دا وه چې په داسې قسم سره انسان کافر کيږي نو بيا په دې سره په يمين غموس او منعقده دواړو کې کافر کيږي (و سوګند ميخورم بخدای) او زه قسم خورم په خدای دا هم قسم دی ځکه دا د حال لپاره دی ځکه د دې معنی داده چې زه اوس په الله قسم خورم [فتح القدير ۲۹۱۵].

(وحقاً وحق الله وحرمته وسوګند خورم بخدای يا بطلاق زن وان فعله فعليه غضبه او سخطه او لعنته او انا زانٍ او سارق او شارب خمر او آكل ربوا لا).

توضيح: په پورته مذکوره ټولو الفاظو سره قسم نه واقع کيږي (**حقًا**) نکره يمين نه دی ځکه دا د اسماء الله څخه نه دی او د منکر څخه مراد تحقيق د وعدې دی (**و حق الله**) په ديکې مخکې تفصيل ذکر شوی دی (**و حرمته**) دا د احترام څخه دی او حرمت د الله هغه دی چې د هغې بې حرمتي جائز نه وي نو دا په حقيقت کې قسم په غير الله سره دی او قسم په غير الله جائز نه دی (وسوګند خورم بخدای) دا هم قسم نه دی ځکه دا د استقبال لپاره راځي په فارسي کې فرق دا دی چې مي خورم د حال لپاره راځي او خورم د استقبال لپاره راځي [فتح القدير ۵۲۹] (يا بطلاق زن) زه قسم خورم په طلاق د ښځې سره دا هم قسم نه دی ځکه دا حلف په غير الله سره دی او غير متعارف دی (**و ان فعله فعليه غضبه الخ**) که دا کار مې وکړو په ما دې غضب د الله تعالى وي يا لعنت د الله دې وي يا به زه زناکار يم يا به زه غل يم يا به شراب خور يم يا به سود خور يم دا ټول صورتونه قسم نه دی ځکه دا خپل ځانته ښيرا کول دي او د شرط پورې تعلق نه لري او غير متعارف هم دی نو دا يمين هم نه شو. (هدايه)

(وحروف القسم الواو والباء والتاء وتُضمر كالله افعله وكفارته عتق رقبة او اطعام عشرة مساكين كما مرفي الظهار او كسوتهم لكل ثوب يستر عامة بدنه فلم يجز السراويل فان عجز عنها وقت الاداء اي عجز عن الاشياء الثلاثة وقت ارادة الاداء صام ثلاثة اياماً ولاءً).

بیان حروف القسم و کفارته: مشهور حروف د قسم درې دي: ۱۔واو چې دا نه داخلیږي مګر په مظهر باندې، ۲۔باء دا په مظهر او مضمر دواړو داخلیږي، ۳۔تاء دا نه داخلیږي مګر په لفظ د الله باندې **(و تضمر)** کله حروف د قسم د تخفیف لپاره حذف کولی شي لکه اللهِ افعله **(و کفارته)** او کفاره د حنث د یمین **(عتق رقبة)** ازادول د غلام دي **(او اطعام عشرة)** یا لس مسکینانو ته طعام ورکول دي لکه په کفاره د ظهار کې چې تیر شو **(او کسوتهم)** یا لسو کسانو ته جامې ورکول دي **(لکلٍ ثوب)** هر مسکین ته به دومره جامه ورکوي چې اکثره بدن یې پټ کړي **(فلم یجز)** نو یواځې پرتوګ جائز نه دی ځکه پرتوګ سره اکثر بدن نه پټیږي **(فان عجز عنها)** که د دغه درې شیانو ځخه په وخت د ارادې د اداء کې عاجز شو **(صامَ)** نو درې ورځې پرله پسې روژه به ونیسي خو که یوه ښځه د دې روژو په مینځ کې حائضه شوه نو تتابع باطل شو بیا به له سره د طهارت ځخه وروسته درې روژې پرله پسې ونیسي .... ۱۳۰.

(ولم تجُز بلا حنث التکفیر قبل الحنث لایجوز عندنا حتی لوکفر قبل الحنث ثم حنث تجب الکفارة خلافًا للشافعي فعنده الیمین سبب للکفارة والحنث شرط وجوب الاداء فیجوز التقدیم علیه وعندنا الحنث سبب لان الیمین انعقدت للبر والکفارة علی تقدیر الحنث فلایکون الیمین سببًا لها فالحنث سببًا والیمینُ شرط فلا تقدم علی الحنث وخلاف الشافعي رحمه الله في الکفارة المالیة فانه یمکن ان یثبت نفس الوجوب لا وجوب الاداء کما في الثمن فنفس وجوبه یتعلق بالمال ووجوب الاداء بالفعل، قلنا المال غیر مقصود في حقوق الله تعالی فالکفارة المالیة وغیر المالیة علی السواء علی ان نفس الوجوب ینفك عن وجوب الاداء في العبادات البدنیة فنفس الوجوب یتعلق بالهیئة الحاصلة للعبادة، ووجوب الاداء یتعلق بایقاع تلك الهیئة علی ما حققناه في شرح التنقیح).

حکم عدم التکفیر قبل الحنث: (و لم تجز) او کفاره مخکې د حنث ځخه جائز نه ده د احنافو په نزد باندې تر دې که د یمین ځخه وروسته او د حنث ځخه مخکې یې کفاره ورکړه او بیا حانث شو نو بیا وربانډې کفاره واجب ده او مخکنی کفاره نه کافي کیږي.

(خلافًا للشافعي الخ) خو د امام شافعي رحمه الله په نزد باندې کفاره قبل الحنث هم جائز ده، ځکه دده په نزد یمین سبب د وجوب د کفارې دی ځکه د کفارې نسبت یمین ته شوی [ذلکَ کفارةُ ایمانکم] او دا علامه د سببیت ده ځکه د واجباتو نسبت حقیقةً اسبابو ته کیږي لکه کفارة الظهار

کفارة القتل او حنث شرط د وجوب د اداء دی نو تقدیم د کفاري په حنث باندې جائز دی نه په یمین باندې ځکه وروسته د وجوب د سبب نه تقدیم د شئ په وجوب اداء باندې جائز دی بالاتفاق لکه د زکات لپاره چې ملک د نصاب سبب دی او حولان الحول ورته وجوب اداء دی نو د ملک د نصاب څخه وروسته د حولان حول څخه مخکې زکات ورکول جائز دي.

(و عندنا) خو زمونږ د احنافو په نزد حنث سبب د کفاري دی نه یمین ځکه سبب هغه دی چې مفضي وي شئ ته او یمین کفاري ته مفضي نه دی، ځکه یمین د بري کیدو لپاره دی نو کفاره هم وروسته د نقض د یمین نه په حنث سره واجبيږي او په ایت کریمه کې چې د کفاري نسبت یمین ته شوی په دې وجه چې کفاره په حنث سره وروسته د یمین څخه واجبيږي لکه د کفاري نسبت چې صوم ته شوی دی نو حنث سبب د کفاري شو او یمین ورته شرط شو نو کفاره به په حنث نه شي مقدم کولی (و خلاف الشافعي رحمه الله) خو دغه اختلاف د امام شافعي رحمه الله په کفاره مالیه کې دی نه په کفاره بدنیه کې ځکه (فانه یمکن) ځکه ممکن ده چې نفس وجوب ثابت شي او وجوب الاداء ثابت نه شي لکه په ثمن دمبیعه کی ځکه وجوب ددی په نفس بیع سره راځي او وجوب الاداء په مطالبې سره راځي (فنفس وجوبه) شارح رحمه الله د نفس وجوب او وجوب الاداء تر مینځ فرق بیانوي چې نفس وجوب تعلق د مال پورې لري او وجوب اداء تعلق د فعل یعنې اداء کولو پورې لري (قلنا) مونږ د دې نه جواب کوو چې نفس مال په حقوق الله کې غیر مقصود دی بلکې مقصود پکې اداء کول د مال دي لکه څرنګه چې مقصود په عبادات بدنیه کې اداء د فعل ده نو کفاره مالیه او غیر مالیه یو برابر دي نو لکه څرنګه چې تقدیم د کفارې بدنیه په حنث جائز نه ده، نو دارنګې تقدیم د کفارې مالیه په حنث جائز نه ده ځکه نفس وجوب په کفاره مالیه کې د وجوب اداء څخه نه جدا کیږي (على ان نفس الوجوب) علاوه لادا چې نفس وجوب کله کله د وجوب اداء څخه په عبادات بدنیه کې جدا کیږي مثلا یو مریض یا مسافر باندې نفس وجوب شته خو وجوب اداء نشته نو چې سره د دې چې په عبادات بدنیه کې، نفس وجوب د وجوب اداء څه کله جدا کیږي نو بیا هم تقدیم د کفاري په حنث جائز نه دی او په کفاره مالیه کې خو نفس وجوب د وجوب اداء څخه نه جدا کیږي نو دلته خو په طریقه اولی سره تقدیم د کفاري په حنث جائز نه دی.

(فنفس الوجوب الخ) نو نفس وجوب تعلق د هغه خاص هیئت سره لري چې حاصل دی د عبادت لپاره چې هغه مونځ دی یعنې چې کله وخت حاضر شي نو لازم دی چې په دې وخت کې هغه خاص هیئت چې د الله تعالی د عبادت لپاره وضع شوي موجود شي چې هغه مونځ دی نو ددغه هیئت د

وجود لزوم وروسته د سبب نه نفس وجوب دی بیا وجوب الاداء د دغه خاص هیئت واقع کولو ته وايي يعني چې دغه هیئت چې مونځ دی چې اداء شي چې عبارت دی د رکوع سجدې او نورو ارکانو او شرائطو څخه، والله الموفق للسداد.

(ومن حلفَ على معصيةٍ كعدمِ الكلام مع ابويهِ حنث وكفر ولا كفارةَ في حلف كافر وان حنث مسلمًا ومن حرم ملكه لا يُحرم وان استباحهُ كفر اي وان عامل به معاملة المباحِ كفر لان تحريم الحلال يمين لقوله تعالى [قد فرضَ اللهُ تحلةَ ايمانكم] على ان اليمين ان كان على فعلٍ وجودي فهو ايجاب المباح وان كان على عدمي فهو تحريم الحلال).

القول المرضية في بيان الحلف على المعصية: **(و من حلف الخ)** که چا د ګناه په يو کار قسم وخوړ مثلا داسې قسم يې وخوړ چې زه به د مور او پلار سره خبرې نه کوم يا به مسجد ته نه ځم **(حنث)** ځان به حانث کړي يعني مور او پلار سره به خبرې وکړي **(و كفر)** او کفاره به ورکړي اصل قانون او قاعده يکې داده چې [من ابتلي ببليتين يختار اهونهما] يعنې څوک چې په دوو امتحانونو کې راګير شو نو اسانه دي يکې غوره کړي، ځکه دلته دوه امتحانات دي چې يو حنث دی او بل بري کيدل دي که حنث غوره کړي نو تفويت د بِر راځي خو جبيره يې شته چې کفاره ده، او که په يمين کې بري والی غوره کړي مثلا د مور او پلار سره خبرې ونه کړي نو ارتکاب د ګناه راځي او جبيره يې هم نشته نو په دې صورت کې حنث واجب دی ځکه ارتکاب د ګناه حرام دی او که غير محلوف عليه اولی ؤ نو بيا حنث مستحب دی او که محلوف عليه اولی وو د غير نه مثلا والله چې زه به نن د څاښت مونځ کوم او يا به زه پياز نه خورم، نو په دې صورت کې بري والی غوره دی بلکې واجب دی او که محلوف عليه او غير محلوف عليه سره مساوي وو نو بيا هم بري والی غوره دي په ديکې اصل دا حديث دی چې [من حلفَ على يمينٍ فرأ غيرها خيراً منهَا فليأتِ الذي هو وليكفر عني يمينه۔رواه مسلم، فتح القدير ۱۲۱۵].

(و لا كفارة الخ) که کافر د کفر په حالت کې قسم وخوري په يو فعل چې دا کار به کوم يا به ترک د فعل چې دا کار به نه کوم بيا په حالت د کفر کې حانث شي او يا اسلام راوړي او بيا حانث شي نو په دواړو صورتونو کې ورباندې کفاره نشته ځکه کفاره من وجه عبادت دی او کافر اهل د عبادت نه دي، او همدارنګه کافر اهل د يمين هم نه دي ځکه يمين د تعظيم د الله تعالى لپاره کولی شي لکه څرنګه چې الله تعالى وايي [ائمة الكفر انهم لا ايمان لهم ـ الآية] **(و من حرمه)** که چا په ځان باندې خپل ملک حرام کړو مثلاً ووايي چې په ما خپله ښځه حرامه ده و غيره نو دا نه حراميږي خو

دا يمين شو (و ان استباحه كفر) او كه د دې سره يې معامله د اباحت او رواوالي وكړه نو كفاره به وركړي ځكه تحريم د حلالو يمين دی (لقوله تعالى) د وجې د دې ايت كريمه څخه چې (قد فرض الله) چې الله تعالى روا كړی ستاسو لپاره خلاصول او ختمول د قسم ستاسو په كفارې سره دا حكم نبي عليه السلام ته وو چې نبي عليه السلام د بي بي عائشې يا حفصې د خوشحالولو لپاره په ځان شهد يا وينزه حرامه كړې وه نو الله تعالى ورته حكم وكړو چې قسم دې مات كړه كفاره وركړه او شهد او وينزې ته بيرته رجوع وكړه.

(على ان اليمين) علاوه لا دا چې كه قسم په فعل وجودي باندې وو مثلاً ووايي چې زه به نن خامخا صدقه وركوم نو دا ايجاب د مباحو دي يعني صدقه وركول مخكې ده ته مباح ؤ اوس يې په ځان واجب كړه او دغه ايجاب د مباحو هم متضمن دی تحريم د حلالو ته ځكه مخكې صدقه نه وركول ورته حلال وو اوس يې نه وركول په ځان حرام كړه او وركول يې په ځان واجب كړه (و ان كان على عدمي) او كه قسم په فعل عدمي باندې وو مثلاً فلاني ځای ته به نه ځم نو دا بيا تحريم د حلالو دی ځكه ده ته تګ حلال وو په ځان يې حرام كړو.

> (ومن نذرَ مطلقًا اي غير معلق بشرط نحو لله علىّ صوم هذا اليوم او معلقًا بشرط يريده كإن قدم غائبِي فوُجدَ وفَى وبما لم يُرِدهُ كإن زنيتُ وفَى اوكفر هو الصحيح، انما قال هذا احترازًا عن القول الآخر هو وجوب الوفاء سواء علقه بشرط يريده اولا يريده، وانما كان صحيحًا لانه اذا علقه بشرط لايريده ففيه معنى اليمين وهو المنع لكنه بظاهره نذر فيتخير، اقول: ان كان الشرط امرًا حرامًا كإن زنيتُ مثلاً ينبغى ان لايتخير لان التخير تخفيف والحرام لايوجب التخفيف ومن وصل ان شاء الله تعالى بحلفه بطل).

توضيح: هركله چې نذر مشابه وي د يمين سره په دېكې چې هر يو سره ايجاب د مباح او تحريم د حلالوالي راځي نو نذريې په باب د يمين كې ذكر كړو (ومن نذرَ) كه چا نذر مطلق ومنه يعني چې د شرط پورې معلق نه وو مثلاً داسې ووايي چې د الله لپاره په ما باندې روژه د دې ورځې لازم ده (او معلقًا) يا يې نذر معلق ومنه (بشرط يريده) معلق د داسې شرط پورې چې دده مراد او مقصد وو مثلا [اِن قدمَ غائبِي فعليَ صوم هذا اليوم]. كه زما غائب راغی نو زه به د دې ورځې روژه نيسم (فوُجدَ) دا شرط موجود شو يعني غائب راغی (وفَى) نو پوره والي به وكړي په نذر باندې يعني روژه به ونيسي (وبما لم يُرِدهُ) او كه نذريې د هغه شرط پورې معلق كړی وو چې دده مقصد او مراد نه

وو لکه ان زنيت فعلي حجة که ما زنا وکړه نو په ما دې حج وي نو دده په دې کلام کې معنی د نذر او يمين دواړو شته معنی د نذر خو ځکه پکې شته چې صيغه د التزام پکې شته چې علی دی او معنی د يمين ځکه پکې شته چې دده مقصد ځان منع کول دي د دغه شرط د موجود کيدو ځکه ګويا چې دده مقصد دا دی چې زه به زنا نه کوم، او که ما وکړه نو په ما دې حج لازم وي نو ده ته اختيار دی چې نذر خواته ميلان کوی (وفی) نو په نذر دې پوره والی وکړي يعني حج دې اداء کړي مثلاً (او کفر) او که ميلان طرف د يمين ته کوی نو کفاره دې ورکړي (هو الصحيح) دا تفصيل صحيح دی.

(و انما قال هذا) دا صحيح لفظ يې ځکه وويلو چې د يو بل قول ځخه يې احتراز وکړو هغه قول داسې وو چې اختيار ورته نشته د وفی بالنذر او کفاري تر مينځ بلکې وفاء بالنذر واجب ده، برابره خبره ده نذريې معلق کړی وي د داسې شرط پورې چې دده مراد وي او يا يې مراد نه وي (و انما کان) او د اختيار خبره ځکه صحيح ده که چيرته نذر د داسې شرط پورې معلق کړي چې دده مقصد نه وي بلکه مقصديې د نذر نه نور هم ځان ساتل وي د دغه کار نه، نو په ديکې معنی د يمين ده چې هغه منع او ځان ساتل دي لکن په اعتبار د ظاهر سره دغه لفظ نذر دی نو ده ته به اختيار وي.

(اقول) شارح رحمه الله وايي چې که شرط يو حرام کار وو مثلاً که ما زنا وکړه نو مناسب ده چې اختيار بين الوفاء بالنذر و بين الکفارة ور نه کړی شي ځکه اختيار د تخفيف لپاره راځي او ارتکاب د امر ممنوع تخفيف نه واجبوي (و من وصل) که يو کس د خپل قسم سره ان شاء الله پويسته کړي (بطل) نو قسم دده باطل شو نو ورباندې بري کيده واجب دي او نه کفاره په حنث سره، ځکه ده يقيناً دا قسم نه دی خوړلی بلکې د الله تعالی د رضاء پورې معلق کړی دی او د الله تعالی رضاء غير معلومه ده.

باب الحلف بالفعل

دا باب دی په بيان د قسم کې په فعل باندې لکه دخول او خروج اکل او شرب

(من حلفَ لا يدخل بيتًا يحنثُ بدخول صفة لا الکعبة او مسجد او بيعة او کنيسة او دهليزٍ او ظلة باب دارٍ لان البيتَ موضع أُعد للبيتوتة فالصفة بيت لا هذه المواضع کما فی لا يدخل دارًا فدخل دارًا خربة حيث لا يحنثُ).

توضيح: (من حلفَ الخ) که چا قسم وخوړ چې زه به کوټې ته نه داخليږم نو که صفې ته داخل شو حانثيږي (بيت) هغې ته ويلی شي چې په هغې کې شپه تيرولی شي د بيتوتت څخه دی (صفة) هغې چوترې ته وايي چې د اوړي په موسم کې خلک پکې شپه تيروي (بيعة) د نصاراو عبادتخانې ته وايي (كنيسة) د يهودو عبادت خانې ته وايي (دهليز) د کور او دروازې ترمينځ مسطح ځای ته وايي (ظلة) السترة التي فوق الباب، هغه سترې او سائبان ته وايي چې د دروازې په سر جوړ شوی وي.

اصل په دې باب کې دا ده چې مبني د أيمانو زمونږ په نزد په عرف باندې ده خو تر څو چې د لفظ محتمل نيت يې نه وي کړی، د امام شافعي رحمه الله په نزد مبني د ايمانو په حقيقت لغويه باندې ده، د امام مالک رحمه الله په نزد مبنی د أيمانو په استعمال قرآني باندې ده نو که حالف صفې ته داخل شو نو حانثيږي ځکه په بعضې اوقاتو کې په ديکې شپه کولی شي لکه د اوړي موسم کې (لا الكعبة) نه حانثيږي په دخول د کعبې سره اګر چې د بيت اطلاق په کعبه هم شوی لکه الله تعالی فرمايي [جعلَ اللّٰهُ الكعبةَ البيتَ الحرامَ. في بيوتٍ اذنَ اللّٰهُ ان ترفعَ] دا ځکه چې بيت په عرف کې دېته وايي چې د شپې د تيرولو او د خوب د ارام کولو لپاره تيار شوي وي نو ذهن د بيت څخه کعبې او مسجد ته سبقت نه کوي ځکه مبنی د أيمانو په عرف باندې ده نه په الفاظو د قرآن باندې ځکه الله تعالی د عنکبوت [غنې] کور ته هم بيت ويلی دی او مطلق اسم د بيت په يمين کې هغې ته نه شامليږي [کفايه ۹۱۱۵].

همدارنګه په بيعه کنيسه باندې اطلاق د بيت په عرف کې نه کيږي (او دهليز) همدارنګه نه حانث کيږي په داخليدو سره دهليز ته ځکه چې په دې باندې هم اطلاق د بيت نه کيږي لکن که دهليز لوی وو په داسې طريقه چې شپه پکې کولی شي نو بيا دېته په دخول سره حانثيږي، ځکه په ډيرو کلو او ښارونو کې اوس وخت کې دهليزونه د شپې تيرولو لپاره جوړ شوي وي نو داسې دهليز ته په داخليدو سره حانث کيږي (او ظلة بابِ دارٍ) همدارنګه سايه بان د دروازې د کور ته هم په داخليدو سره نه حانثيږي لکن که دغه سايه بان د دروازې داخل خواته وو نو بيا دېته په دخول سره حانثيږي ځکه په ديکې هم بيا شپه تيرولی شي خو ياد وساته داخل خواته سايه بان بيا اکثره داسې وي چې د دهليز په شان وي چې اوس زمانه کې خلک د موټر د اودرولو و غيره کار ترې اخلي.

(لان البيت) شارح وايي چې بيت هغه ځای ته وايي چې د شپې تيرولو لپاره تيار شوی وي او صفه بيت دی نه دغه مذکوره ځايونه چې کعبه شريفه او مابعد د دېنه (كما في لا يدخل) دا تشبيه په

عدم حنث كې ده لكه يو كس ووايي چې زه به كور ته نه داخليږم (**فدخل**) نو هغه داخل شو (**دارًا خربة**) شاړ كور ته يعنې چې ابادي پكې نه وي نو په دې كې نه حانثيږي، ځكه دار دلته نكره دى او غائب پيژندلى شي په وصف سره مراد د غائب ځخه دا دى چې معين نه وي او وصف په دار كې بناء او ابادي ده، ځكه د كور قوام او مضبوطوالى په ابادۍ سره وي او وصف په منكر كې د تعريف لپاره وي او دلته نشته نو ګويا چې ده داسې وويل چې زه به نه داخليږم هغه كور ته چې موصوفه ده په ابادۍ سره نو چې شاړ كور ته داخل شو نو نه حانثيږي، ځكه وصف د بناء په حنث كې معتبر دى او په معرف كې بيا تعريف ته ضرورت نشته نو په معرف كې به وصف لغوه وي يعنې اعتبار به ورته نه وي لكه راروان صورت كې.

(**و في هذه الدار يحنث ان دخلها منهدمة صحراء**) او كه داسې يې وويل چې زه به دې كور ته نه داخليږم نو كه دا كور ته په داسې حال كې ورداخل شو چې وراَن شوى وو، ديوالونه د دې او صحراء ګرځيدلې وه نو بيا به هم حانثيږي ځكه د ابادۍ د ورانيدو ځخه وروسته هم نوم د كور باقي دى ځكه دار په لغت كې د كور انګړ ته وايي، او يمين چې تعلق د يو اسم پورې ولري نو د اسم د بقاء د وجې يمين پاتې كيږي او د اسم د زوال د وجې يمين ختميږي (**او بعد ما بُنيت اخرى**) يعنې قسم يې وخوړ چې زه به دغه كور ته نه داخليږم دغه كور وران شو بيا پكې بل كور جوړ شو نو كه دغه بل كور ته ورته داخل شو نو حانثيږي ځكه د كور د ورانيدو ځخه وروسته بيا هم اسم د دار پاتې دى خو صرف وصف بدل شوى يعنې كور همغه دى خو صرف ابادي پكې بدله شوې ده.

(**او وقف على سطحها و قيل في عرفنا لا يحنث به اي بالوقوف على السطح**) كه يو كس وويل چې زه به كور ته نه داخليږم نو بيا د بهر طرف ځخه چت ته راوختلو او هلته ودريدو نو حانث شو دا د متقدمينو علماو قول دى، ځكه دار عبارت دى د هغه مقام نه چې د كور دائره ترې تاو وي او د كور چت او لاندې حصه دواړه په دائره كې داخل دي، خو متاخرين علماء چې مصنف رحمه الله ورته په قيل سره اشاره كړې ده وايي چې چت ته په ختلو سره نه حانثيږي ځكه چت اګر چې د كور د اجزاو ځخه دى خو بيا په عرف كې په چت ولاړ كس ته داخل نه شي ويلى.

د متقدمينو علماو خبره په دې بناء ده چې د چت ځخه د پردې ديوال تاو وي، او د متاخرينو خبره په دې بناء ده چې د چت ځخه د پردې ديوال تاو نه وي، نو خبره د دواړو يوه ده كه د چت ځخه د پردې ديوال تاو وو نو بالاتفاق داخل دى او حانث دى او كه د چت ځخه د پردې ديوال تاو نه وو نو بالاتفاق داخل نه دى او حانث هم نه دى [فتح القدير ۹۲۱۵].

(كما لوجعلت مسجدًا او حمامًا او بستانًا او بيتًا او دخلها بعد هدم الحمام حيث لا يحنث لانها لم تبق دارًا اصلًا).

يعني يو كس قسم وخوړ چې زه به دې كور ته نه داخليږم دا كور وران شو او د دې په ځاى باندې يا مسجد جوړ شو يا باغ جوړ شو يا حمام جوړ شو او يا پكې كوټه جوړه شوه او بيا حالف ورداخل شو او يا د حمام د ورانيدو څخه وروسته بيا ورداخل شو نو په دې ټولو صورتونو كې حالف نه حانثيږي ځكه دا اوس دار پاتې نه شو، فرق په مابين د بيت، دار، منزل كې دا دى چې بيت ديته وايي چې ديوالونه ترې تاو وي چت ولري او حويلى ونه لري چې عرف كې ورته كوټه ويلى شي كه د دې كوټې سره حويلى وه نو ديته منزل وايي، او كه د دې سره غوجل وغيره ټول وو نو ديته دار وايي.

(و كهذا البيت و دخله منهدمًا صحراء او بعد ما بُنِيَ بيتًا آخر) او كه داسې قسم يې وخوړ چې زه به دې كوټې ته نه داخليږم خو په داسې حال كې ورداخل شو چې ورانه وه او صحراء وه او يا وربانديې بله كوټه جوړه شوې وي نو حالف نه حانثيږي ځكه د كوټې نوم ختم شوى يا په بالكليه طور سره او يا په نوې ابادى سره، په دار كې په معرفه او نكره كې فرق شته په معرفه كې وصف لغوه دى او په نكره كې وصف ضروري دى يعني كه قسم وخوري چې دې كور ته به نه داخليږي، نو د ورانيدو څخه وروسته كه ورداخل شي نو د معرفې په صورت كې حانثيږي خو د نكرې په صورت كې نه حانثيږي اما بيت چې دي د دې په معرفه او نكره كې فرق نشته نو كه د كوټې د ورانيدو څخه وروسته ور داخل شى نو بيا هم نه حانثيږى ځكه دابادى په ختميدو سره ددى نوم هم ختميږى

(و اعلم انهم قالوا الخ) غرض د شارح رحمه الله د دېنه ځلور اعتراضه كول دى چې اول واعلم انهم قالوا سره بيانوى دويم اعتراض په ثم فرقهم سره بيانوى دريم اعتراض ته اشاره په ثم هذا المعنى الخ سره كوى ځلورم اعتراض ته اشاره په ثم قالوا سره كوى. په فقهاو چې فقهاو د دار معرفه او دار نكرې تر مينځ فرق كړې دى چې حالف د حلف څخه وروسته دار منهدمه ته داخل شي نو دا حانثيږي ځكه د دار اطلاق په وران كور هم كيږي او د نكرې په صورت كې نه حانثيږي نو دغه علت چې كوم فقهاء وايي چې د دار اطلاق په وران او شاړ كور كيږي لكه څرنګه چې حنث په صورت دار معرفه كې واجبوي نو په صورت دار نكره كې هم واجبوي نو پكار ده چې د نكرې په صورت كې هم حانث شي (ثم فرقهم) د دويم اعتراض خلاصه بيانوى بيا چې فقهاو د معرفې او نكرې ترمينځ دا فرق كوي چې وصف په حاضر كې لغوه دى دا كمزورى فرق دى، ځكه د دې معنى او مقصد خو دا دى چې كله مشار اليه په يو صفت باندې موصوف وي لكه دا قول چې [لا يكلم هذا الشاب] او بيا د همدې كس سره په بوډاوالي كې خبرې وكړي دا به حانثيږي ځكه وصف په

شباب سره لغوه شو او مطلق مشار اليه مراد شو نو بيا په لايدخل هذه الدار او لا يدخل داراً كښ وصف چيرته شو چې په معرفه كښ لغوه شي او په نكره كښ غير لغوه شي.

(ثم هذا المعنى) دى سره دريم اعتراض ته اشاره كوى بيا دغه فرق چې دوى كوي چې وصف معتبر دى يا نه دى پكار ده چې په لايدخل هذا البيت كښ معتبر نه شي او حالف حانث شي او په لايدخل بيتًا كښ معتبر شي او حالف حانث نه شي، په هغه صورت كښ چې بيتوتت يو وصف دى نو په مشار اليه كښ لغوه كيږي نو پكار ده چې د بيت د ورانيدو سره ختميدل د نوم د بيت په مشار اليه كښ معتبر نه شي، معنى دا چې بايد حانث شي د معرفې په صورت كښ حاصل د كلام دادى چې كله تاسى وصف په حاضر لغوه كړو او په غائب كى مو معتبره كړو نو پكار ده چې په بيت معرف كى هم حانث او په منكر كى حانث نشى ځكه بيتوتت وصف دى نو په حاضر كى به لغوه وى او په غائب كى به معتبر وى نو دا فرق ددوي نه صحيح كيږى چې په دار معرفه كى د ورانيدو ځخه وروسته ورداخل شى نو حانث دى او په بيت معرف كى دورانيدو ځخه وروسته كه ورداخل شى نو نه حانثيږى. **(ثم قالوا)** دى سره ځلورم اعتراض ته اشاره كوى بيا چې لافقهاء دا هم وايي چې لايدخل هذه الدار په صورت كښ كه دار وران شو او حمام ورباندې جوړ شو او بيا ورداخل شو نو نه حانثيږي ځكه دا دار پاتې نه شو نو دوى خو وايي چې وصف په حاضر كښ لغوه وي دي نو پكار ده چې په دې صورت كښ حانث شي؟ **(اقول)** هركله چې هغه وجوه چې فقهاو ذكر كړى وو دده په نزد مخدوش وو نو اوس غوارى چې تعليل د مسائلو په صحيح طريقې وكړي هغه داسې چې لفظ د دار په دار معموره يعنې چې وران شوي نه وي غالب الاستعمال دي خو كله كله د دار اطلاق په دار منهدمه باندې هم كيږي نو كله چې حالف ووېل چې لاادخلُ داراً نو غوره دا ده چې دار معموره مراد شي نو رجع يې فرد كامل ته كيږي او فرد كامل دار معموره دى، نو كه په دې صورت كښ دار منهدمه ته داخل شي نو حالف نه حانثيږي او كه داسې ووايي چې لاادخلُ هذه الدار دلته مشار اليه معرفه ده او اشاره ذات ته كيږي قطع لحاظ د اوصافو ځخه نو دا به حمل وي په دار مطلقه باندې معموره وي او كه منهدمه وي، ځكه اطلاق د دار په دار منهدمه باندې بلا شبه صحيح دى اگر چې د دې استعمال په نسبت سره استعمال ته په معموره كښ كم دى خو په سبب د شارې سره منهدمه ته ترجيح ورکړى شوه نو كه دار منهدمه ته داخل شي نو بيا به هم حانث وو **(و ان بُنِيَت الخ)** او كه دغه اول كور د ورانيدو ځخه وروسته ورباندې بل كور جوړ شو نو بيا به هم په دخول سره حانثيږي په سبب د دغې اشارې سره **(ما لو جُعلت)** كه د دار منهدمه ځخه عام يا باغ جوړ كړى

شي نو بيا دېته په دخول سره نه حانثيږي ځکه د دې څخه نوم د دار بالکليه ختم شو ځکه عرف کې دېته بيا کور نه شي ويلی (و اما البيت الخ) هر چې بيت دی د دې اطلاق نه کيږي مګر په هغه ځای چې د شپې تيرولو لپاره تيار شوی وي (فاذا خرب) نو هرکله چې وران شي نو د بيت اطلاق بيا په دې نه کيږي نه غالبًا او نه قليلاً بلکې د بيت اطلاق په ذات البناء پورې خاص دی، اما د دار اطلاق په دار منهدم باندې هم کيږي.

(و لا يقال الخ) غرض د شارح د دې څخه اعتراض دی چې د بيت په صورت کې که حالف د دې د ورانيدو څخه وروسته ورداخل شي نو نه حانثيږي نو تاسو خو ويلي وو چې وصف په حاضر کې لغوه وي يعني دلته به حکم د نفس ذات د حاضر پورې معلق وي قطع لحاظ د وصف څخه او دا خو ښکاره معلومه ده چې په بيت کې بيتوتت وصف دی نو پکار ده چې په معرف کې وصف لغوه شي او د يمين تعلق د نفس ذات پورې شي نو حنث به په دخول سره بيت منهدم ته هم لازم شي (لأن البيت الخ) غرض د شارح د دېنه جواب دی د مذکوره اعتراض څخه، هغه داسې چې بيت اګر چې مشتق دی د بيتوتت څخه خو بيا هم اسم جنس دی او اسم صفت نه دی لکه شاب شيخ وغيره، نو اسم اشاره چې کله په صفت داخله شي نو وصف پکې لغوه کيږي او نفس مشار اليه پکې معتبره وي لکه لا يُکلمُ هذا الشاب، بيايې د هغه سره په بوډاوالي کې خبرې وکړي نو دا حانثيږي، او که اسم شاره په اسم جنس داخله شي اګر چې مشتقي وي لکه [والله لا يشرب هذا الخمر] نو خمر اسم جنس دی اګر چې د مخامري څخه مشتق دی (فلا بد) نو بيا هم د خمر د حقيقت بقاء ضروري ده تر دې پورې که دغه شراب سرکه وګرځيده بيايې وڅښله نو نه حانثيږي ځکه حقيقت د شرابو پاتې نه دی، او که داسې قسم يې وخوړ چې دغه خواږه شراب به نه خوري نو د تريخوالي څخه وروسته يې وخواړه نو دا حانثيږي ځکه حقيقت يې پاتې دي اګر چې وصف يې بدل شو چې هغه خوږوالی دی، شارح وايي چې دا بحث ياد کړه ځکه دلته ....١٤٥.

(اوهذهِ الدارَ فوقفَ فی طاقٍ بابٍ لو أُغلقَ کان خارجًا اولا يسکنها وهو ساکنها اولا يلبسه وهو لابسه اولا يرکبه وهو راکبه، فاخذ فی النُّقلة ونزع بلا مکثٍ ای اذا حلفَ لا يسکنُ هذهِ الدارَ وهو ساکنُها فلا بد من ان يأخذ فی النقل بلا مکثٍ حتی لو مکثَ ساعة يحنث وهذا عندنا واما عند زفر يحنث لوجود السکنی و ان قل، قلنا اليمين شُرعت للبر فزمان تحصيل البر يکون مستثنًی وکذا فی لا يلبسه وهو لابسه ولا يرکبه وهو راکب اولا يدخل فقعد فيها فانه لا يحنثُ به فان الدخول هو الانتقال من الخارج الی الداخل فلا

يحنث بالمكث بخلاف السكنى واللبس والركوب فانه في حال المكث ساكن ولابس وراكب فمن قولنا وقيل في عرفنا لا يحنث الى ههنا الحكم عدم الحنث).

تشريح: كه يو كس داسې قسم وخوري چې نه به داخليږي هذه الدار يعنى دغه كورته **(فوقف)** نو دغه كس ودريدو **(في طاق باب)** په درشاي د دروازه كې داسې درشاى كه دروازه بنده كړى شي نو درشاى بهر پاتې كيږي نو په دې سره هم حالف نه حانثيږي ځكه دغه كس ته عرف كې داخل نه شي ويلي او كه د دروازې د بنديدلو سره درشاى داخل ته پاتې كيده نو بيا دغه حالف حانث دى **(لولا يسكنها)** ياپې داسې قسم وخوړ چې زه به دې كور كې نه وسيږم او حال دا چې دغه حالف پكې اوسيده ياپې داسې وويل چې زه به دغه جامه نه اغوندم او حال دا چې ده اغوستې وه ياپې داسې قسم وخوړ چې زه به په څاروي نه سوريږم او حال دا چې دا سور وو **(فأخذ في النقلة)** نو سمدست يې شروع وكړه په نقل كولو د سامان كې د دغه كور څخه وروسته د قسم نه چې زه به په دې كور كې نه اوسيږم **(و نزع)** او جامې يې سمدست ويستې وروسته د قسم نه چې زه به دا جامې نه اغوندم **(و نزل)** او سمدست خكته شو د څاروي څخه وروسته د دې قسم نه چې زه به په دې څاروي نه سوريږم **(بلا مكث)** بې له ځنډ تيرولو څخه تر دې كه لږ ځنډ يې تير كړو نو حانثيږي **(وهذا عندنا)** دا عدم حنث په هغه صورت كې چې ځنډ تير نه كړي زمونږ په نزد باندې **(و اما عند زفر)** خو د امام زفر رحمه الله په نزد په دريواړو صورتونو كې حانث دى ځكه سكنى، ركوب، لبس هر يو په كمه اندازه خو موجود شوى دى [فتح القدير ۹۹/۵].

(قلنا) مونږ د امام زفر رحمه الله په جواب كې وايو چې يمين د بريوالي لپاره منعقد شوى او روا شوى د دې لپاره چې محلوف عليه باندې راتګ وكړي نو اوس د دې لپاره د دومره زمانې ضرورت شته چې دا حالف پكې په بريوالي قادره شي نو دغه زمانه تري مستثنى ده ولې كه دغه زمانه مستثنى نه شي او حنث په ديكې هم لازم شي نو تكليف د ما لا يطاق به راشي **(او لا يدخل)** ياپې داسې قسم وخوړ چې زه به دې كور ته نه داخليږم **(فقعد فيها)** نو په دې كور كې كيناست يعني دا حالف د قسم په وخت كې په همدې محلوف عليها كور كې وو خو د قسم څخه وروسته كيناسته نو په دې نه حانثيږي ځكه دخول دېته وايي چې انتقال د خارج نه داخل ته نو په دې كور كې په وخت تيرولو سره كه په ناسته وي يا ولاړه يا په اړخ وي نه حانثيږي.

(بخلافِ السكنَی) خو په سکنی رکوب لبس کې په وخت تيرولو سره حانثيده ځکه چې دغه حالف په حالت د ملک او وخت تيرولو کې ساکن راکب او لابس حسابيده (فمن قولنا) شارح وايي چې د مصنف د دې قول څخه چې (و قيل في عرفنا لايحنث) تر دې ځای پورې حکم په مذکوره ټولو مسائلو کې عدم حنث دی.

(الا ان يخرج ثم يدخل هذا الاستثناء مفرغ من قبيل الظرف فان قوله الا ان يخرج معناه الا الخروج ثم المصدر يقع حينا نحو آتيكَ خفوق النجم اي وقت خفوقه فتقدير الكلام في قوله لايدخل فقعد لايحنث في وقت الا وقت خروجه ثم دخوله).

توضيح: (الا ان يخرج) دا استثناء مفرغه ده استثناء مفرغه دېته وايي چې مستثنی منه د دې حذف شوي وي د قبيلې د ظرف څخه ده ځکه چې آن مصدريه فعل په تاويل د مصدر ګرځوي نو د ان يخرج معنی الا الخروج شوه بيا دغه مصدر کله حين او ظرف واقع کيږي لکه دا مثال چې (آتيک الخ) زه راغلم تاته په ډوبيدو د ستورو کې يعني په وخت د ډوبيدو د ستورو کې نو خلاصه دا شوه چې که يو کس قسم وخوري چې زه به دې کور ته نه داخليږم او دا په دې کور کې وو نو کيناسته نو په دې نه حانثيږي مګر که بهر ووځي او بيا راداخل شي نو بيا حانثيږي ځکه بيا دخول موجود شو، والله الموفق للسداد.

(وفي لايسكن هذه الدار لا بد من خروجه بأهله ومتاعِهِ اجمع حتى يحنث بوتدٍ بقيَ هذا عندَ ابی حنيفةَ، واما عند ابی يوسف فيعتبر نقل الاكثر واما عند محمدٍ فيعتبر ما يقومُ به كدُ خدائيته قالوا هذا احسن وارفق بالناس بخلاف المصر والقرية فانه لايشترط نقل الاهل والمتاع).

تشريح: که يو کس داسې قسم وخوري چې زه به په دې کور کې يا دې محله کې نه اوسيږم (لا بد من خروجه) نو ضرور ده چې پخپله حالف او ښځه او بچي او د کور ټول سامان به د کور څخه وباسي تر دې چې يو ميخ په کور کې پاتې وو نو هم به حانث کيږي، دا د امام ابوحنيفه رحمه الله قول دی (و اما عند يوسف رحمه الله) امام ابو يوسف وايي چې د کور ټول سامان نقل کول کله ګران وي نو اعتبار اکثره لره ده او اکثر لره حکم د کل وي (و اما عند محمد رحمه الله) د امام محمد رحمه الله په نزد اعتبار په سکنی او عدم سکنی کې هغه شی دی چې سکنی وربانديې قائميږي (كدخدائيته) سکنی د کور اچراغ هدايت صـ ۴۸۱ فتح القدير ۱۰۰۰۵ غياث اللغات صـ ۵۲۱) او

د دېنه ما سوا په پاتې کيدلو کې څه ضرر نشته (**قالوا**) خو فقهاء وايي چې ښکلي او خلکو ته اسانه قول د امام محمد رحمه الله دى خو احتياطي خبره د امام ابو حنيفه رحمه الله ده (**بخلاف المصر**) په خلاف د ښار سره يعني که يو کس داسې قسم وخوري چې زه به په دې ښار يا قريه کې نه اوسيږم، نو دده د بريوالي لپاره يواځې دا کافي ده چې صرف حالف د ښار يا قريې څخه ووځي او د کور سامان يا د اولاد ويستلو ته ورته ضرورت نشته خو شرط د بريوالي لپاره داده چې دده نيت به دا وي چې زه به بيرته نه راځم.

(**وحنث في لا يخرجُ لو حُمِلَ وأُخرجَ بأمره لا ان أُخرج بلا امره مكرهًا او راضيًا ومثله لا يدخل اقسامًا وحكمًا فالاقسام ان يُخرَج بأمره وان يخرج بلا امره اما مكرهًا او راضيًا والحكم الحنث في الاول وعدمه في الأخرين ولا في لا يخرج الا الى جنازة ان خرج اليها ثم الى امر آخر فانه لا يحنث لان خروجه لم يكن الا الى الجنازة**).

تشريح: (**و حنث الخ**) که يو کس ووېل چې زه به د دې کور څخه نه اوځم مثلاً، نو بل کس بار کړ يعنې اوچت يې کړ او د حالف په امريې د کور څخه بهر ويسته نو حالف په دې قسم کې حانث شو ځکه د مامور د فعل اضافت او نسبت آمر ته کيږي نو د آمر څخه خروج ثابت شو (**لا ان اخرج**) خو په دې نه حانثيږي چې دده د امر څخه بغير ويستلي شي (**مكرها**) ناخوښه وي په دې کار (**او راضيا**) که خوشحاله وي (**و مثله لا يدخل الخ**) او د لايخرج په شان لايدخل دى يعنې چې يو کس قسم وخوري چې زه به دې کور ته نه داخليږم (**اقسامًا الخ**) په اعتبار د اقسامو او حکم سره يعني لايخرج دوه قسمه وو: ۱۔دا چې د حالف په امر سره ويستلى شي نو حالف حانث کيده، دارنګې که د حالف په امر سره حالف کور ته داخل کړى شي نو هم به حانث وي، ۲۔دا چې د حالف د امر نه بغير وي نو که حالف دغه محلوف عليه کور ته بغير د امر د حالف نه داخل کړى شو حالف خوښ وو که ناخوښ وو نو حالف نه حانث کيږي (**و لا في لا يخرج**) او همدارنګه نه حانثيږي په دې قول سره چې زه به نه وځم مګر جنازې ته (**ان خرجَ اليهَا**) که چيرته اول په نيت د جنازې ووځي (**ثم الى امرٍ آخر**) بيا د جنازې څخه وروسته بل کار پسې لاړ شي ځکه اول خروج د حالف د کور څخه چې د مستثنى کړي وو هغه د جنازې لپاره وو او هغه ثابت شو.

(وحنثَ فى لايخرجُ الى مكةَ فخرجَ يريدها ورجعَ لان الخروج الى مكةَ قد تحقق لافى لايأتيها حتى يدخلها اى لوحلفَ ان لا يأتى مكة لايحنث حتى يدخلها وذهابه كخروجه فى الاصح اى لوحلفَ لايذهب الى مكة فالاصح انه مثل لايخرج الى مكةَ، وعندَ البعض هومثل لايأتى مكة والاول اصح لقوله تعالى [اني ذاهب الى ربي] اى متوجه اليه واما الوصول فليس في وسعه).

التوضيح: كه يو كس قسم وخوري چې زه به نه وځم مكي مكرمې ته نو د خپل كور څخه راووته چې اراده يې د مكې درلوده (و رجع) بيا د لارې د نيمايي څخه بيرته واپس شو نو حانث شو ځكه خروج مكي ته ثابت شو او شرط په خروج كې نيت عند الانفصال دي نه وصل (لا فـي لا يأتيها) كه يو كس قسم وخوري چې نه به راځې مكي ته نو تر هغې نه حانثيږي چې وردا خل شي ځكه شرط په ا تيان كې وصل دی (و ذهابه الخ) كه يو كس قسم وخوري چې دا به نه ځي مكي ته نو زياته صحيح خبره دا ده چې دا په مثل د (لا يخرجُ الى مكة) ده يعني صرف په راوتلو څخه د كور نه په قصد د مكي سره حانثيږي ځكه ذهاب عبارت دی د مجرد زوال او انتقال څخه او وصول پكې شرط نه دی لكه دا قول د الله تعالى چې حكايت كوي د ابراهيم عليه السلام څخه [اني ذاهب الى ربي] يعني زه متوجه كيدونكى يم الله تعالى ته او باقي وصول د ابراهيم عليه السلام په وسعه كې نه وو، خو بعضې علماء بيا وايي چې لايذهب الى مكة په شان د لاياتي الى مكة ده يعني هلته به حانثيږي چې مكه كې داخل شي خو اول قول صحيح دی كما مر، والله الموفق للسداد.

(وفى ليأتيَن مكةَ ولم يأتِهَا لا يحنثُ الا فى آخر حياتهِ لانه حينئذٍ يتحقق عدم الاتيان وحنثَ فى ليأتينهُ غدًا ان استطاعَ ان لم يأتِهِ بلا مانعٍ كمرضٍ اوسلطانٍ ودُين بنية الحقيقةِ اى ان قال عنيت الاستطاعة الحقيقة وهى القدرة التامة التى يجب عندها صدور الفعل فهى لا تكونُ الا مقارنة للفعل يُصدق ديانةً لا قضاءً لانها تطلق فى العرفِ على سلامةِ الاسبابِ و الآلاتِ فالمعنَى الآخر خلاف الظاهرِ فلايصدق قضاءً).

توضيح: او كه داسې قسم يې وخوړ چې خامخا به مكي ته راځې خو رانغی نو دا حالف به نه حانثيږي مگر په آخر د ژوند خپل كې ځكه په دغه وخت كې نه راتگ ثابتيږي او د دېنه مخكې خو اميد د بري كيدو شته (وحنث) او كه داسې قسم يې وخوړ چې فلاني ته به صبا خامخا ورځې كه طاقت يې وو نو كه څه مانع حسي يا معنوي لكه مرض ليوتتوب د دشمن ويره وغيره نه وو او ورنغی نو حانث شو ځكه استطاعت دلته محمول دی په سلامتيا د اسبابو او رفع د موانعو سره.

د قدرت اطلاق په دوه معانو سره کیږي: ١۔ قدرت حقیقیه دېته وایي چې صدور د فعل د دې سره مقارن وي دا قدرت به د فعل نه بالذات مقدم وي خو بالزمان به مقدم نه وي، ٢۔ قدرت ممکنه دا عبارت دی د صحت د آلاتو او سلامتیا د اسبابو څخه سره د رفع د موانعو دا قدرت هغه دی چې الله تعالی خپل بنده ګمان په دې سره مکلف کړی دی ځکه دا د فعل څخه مقدم وي او قدرت حقیقیه مدار د تکلیف د عبادو نه دی ځکه هغه د فعل نه زمانا مقدم نه وي (و دُیِن) خو که دغه حالف نیت د قدرت حقیقیه کړي وو نو دیانة به دده تصدیق کولی شي خو قضاءً به نه شي کولی ځکه عام عرف کې د استطاعت اطلاق په قدرت ممکنه باندې کیږي، یعنې په سلامتیا د اسبابو او په صحت د الاتو جوارحو او اندامونو کې او دغه بله معنی چې استطاعت حقیقي وي خلاف الظاهر دی نو قضاءً به دده یعنی تصدیق نه شي کولی ځکه قاضي په ظاهر فیصله کوي، والله الموفق للسداد.

(وشُرِطَ البرفی لاتخرج الاباذنه لکل خروجٍ اذن لان تقدیره لاتخرج الاخروجًا ملصقًا باذنهِ فالمستثنٰی هوالخروج الملصق بالاذنِ فماسواه بقیَ فی صدورالکلام لافی الاان آذن ای ان قال لایخرج الاأن آذن لایشترط لکل خروج اذن لان الاأن للغایة مثل الی ان فاذا اذن مرة انتهی الحرمة، ویمکنُ ان یراد الاوقت اذنی بأن یجعل المصدر حینًا فیجب لکل خروج اذن والجواب انه اذا اذنَ مرةً فخرجَ ثم خرجَ مرةً اخرٰی بلااذن فعلَی التاویل الاولِ لایحنثُ وعلی الثانی یحنثُ فلایحنث بالشکِ).

توضیح: (و شرط) که یو کس قسم وخوړ چې دده ښځه به نه وځي مګر دده په اجازې سره نو دده د بري کیدلو لپاره د هر خروج لپاره اذن او اجازه شرط ده (لان تقدیره) ځکه تقدیر د عبارت داسې راځي چې لاتحرج الآخر خروجًا ملصقًا باذنهِ نو مستثنی هغه خروج دی چې ملصق د اجازې پورې وي او ماسوا د دېنه په صدر د کلام یعنې مستثنی منه پاتې دي نو که یو ځل دده د اجازې څخه بغیر ووځي نو حالف به حانث وي (لا في الا ان) خو د هر خروج لپاره اذن شرط نه دی (الا ان آذن) کې یعنې که حالف داسې قسم وکړو چې فلانې به نه وځي مګر که زه اجازه ورکړم نو په دې صورت کې د هر خروج لپاره اذن شرط نه دی ځکه الاان د غایه راځي پشان د الی ان (فاذا اذن) نو کله چې یې یو ځل اجازه ورکړه نو حریت ختم شو بیا بلا اجازې وتلی شي (ویمکنُ ان یراد) غرض د شارح رحمه الله د دېنه یو اعتراض دی چې تاسو وایې چې الاان پشان د الی ان دي دا خو احتمال د دې هم لري چې (ان آذن) په تاویل د مصدر سره ظرف وګرځي او مستثنی د مفرغ وګرځي نو بیا به

مستثنی منه نکره لاندې داخل د نفي څخه وګرځي نو تقدير د عبارت به داسې وګرځي چې لاتحرج وقتا الاوقت اذني نو مستثنی هغه خروج شو چې وقت الاذن وي، او ماسوا به لاندې د مستثنی منه څخه پاتې شي نو د هر خروج لپاره به اذن شرط شي؟ (والجواب) جواب دا دی چې که يو ځل په اجازي سره ووځي بيا دويم کرتې بلا اجازي ووځي نو په تقدير د الی ان سره نه حانثيږي او په تقدير د دې چې مضارع ظرف شي حانثيږي نو په اشتراط د اذن کې وروسته د اول کرت څخه شک ولويده او په شک نه حانثيږي.

(وللحنث في ان خرجت وان ضربتِ لمُريدةِ خروجٍ اوضرب عبدٍ فعلُهما فوراً اي شرط للحنث في ان خرجت وان ضربت فعلهما فوراً وفي ان تغديتُ بعدان يقال تعال تغد معي تغديه معه اي شرط للحنث في ان تغديت تغديه معه وكفى مطلق التغدي ان ضُم اليوم اي كفى للحنث مطلق التغدي ان قال ان تغديت اليوم فانه لو كانَ جواباً يكفي قولُه ان تغديت فلما زادَ اليوم عُلِمَ انه كلام مبتدا فيحنث بمطلق التغدي في هذا اليوم ولا يشترط للحنث التغدي معه).

توضيح: (و للحنث الخ) دا عطف دی په للبر باندې اي و شرط للحنث او فعلهما نائب فاعل دی د شرط لپاره نو خلاصه دا شوه چې يوه ښځه اراده د وتلو وکړي د کور څخه نو خاوند يې ورته ووايي چې ان خرجت فانت طالق يا يوه ښځه اراده د وهلو د خپل غلام لري نو خاونديې ورته ووېل چې ان ضربت عبدک فانت طالق نو په دې دوارو صورتونو کې د حنث لپاره او لپاره د ترتب د جزاء په شرط باندې شرط دی (فعلهما) فعل د دواړو يعنې د دغه دوارو محلوف عليه (فوراً) سمدستې څکه که د خاوند د دې خبرې څخه يې وروسته لږ ځنډ وکړو او بيايې غلام وواهه يا د کوره ووتل نو نه طلاقيږي، او دېته يمين فور وايي (و في ان تغديتُ) د دې اصل عبارت داسې دی و شرط الحنث في ان تغديت الخ تغديه معه، نو تغديه معه نائب فاعل د شرط لپاره دي.

خلاصه دا چې يو کس بل ته ووېل چې تعال تغد معي راشه ماسره صبا ناری وکړه نو دغه بلل شوي کس ورته ووېل چې ان تغديت فعبدي حر که ما صبا ناری وکړو نو زما غلام دې ازاد وي نو د حنث لپاره يعنې د غلام ازاديدو لپاره شرط تغديه معه، د داعي سره د مدعو صبا ناری کول دي که د داعي سره يې صبا ناری ونه کړو نو نه حانثيږي.

(و کفی مطلق الخ) خو که مدعو کس داسې په جواب کې ورته ووېل چې ان تغديت اليوم فعبدي حر نو د حنث لپاره دلته مطلق تغدي کافي ده يعنې چې هر چيرته صبا ناری وکړي نو حانثيږي (فانهُ

لو كانَ) نو كه د مدعو قول جواب واى نو بيا دغه قول كافي وو چې ان تغديت خو چې اليوم يې ورسره زيات كړو نو معلومه شوه چې دا يو مستقل كلام دى چې اراده د ابتداء په دې سره لري نو په دغه ورځ به په مطلق صبانارې سره حانثيږي، او د حنث لپاره د داعي صبانارى شرط نه دى.

(ومركب المأذون ليس لمولاه فى حق الحلف الا اذا لم يكن عليه دين مستغرق ونواه اي ان حلف لا يركب دابة زيد فركب دابة عبده المأذون فان كان عليه دين مستغرق لرقبته وكسبه لا يحنث لان هذه الدابة ليست لزيدٍ، وان لم يكن عليه دين مستغرق فان نوى بدابة زيدٍ دابته الخاصة لايحنث و ان نوى دابة هى ملك زيد اعم من ان يكون تكون خاصة له او تكون دابة عبده المأذون فحينئذٍ يحنث وقال ابويوسف يحنث في الوجوه كلها اذانواه، وقال رحمه الله يحنث وان لم ينو).

تشريح: او مركب او سورولي د ماذون غلام يعنې چې د بادار لخوا ورته په تجارت كې اجازه شوي وي په حق د قسم كې د مولى نده، يعنې يو كس قسم وخوري چې زه به د زيد په سورلى لكه موټر، اس و غيره باندې مثلاً نه سوريږم خو بيا د زيد د عبد ماذون په سورلى سور شو نو حالف نه حانثيږي (الا اذا لم يكن) مگر په دوه شرطونو سره به حانثيږي: ۱.چې د زيد په عبد ماذون باندې دين مستغرق نه وي، دين مستغرق دېته وايي چې په غلام باندې دومره قرض وي چې د غلام د قيمت سره برابر وي، ۲.دا چې حالف نيت د زيد د غلام وكړي (اي ان حالف الخ) كه يو كس قسم وخوري چې زه به د زيد په سورلى نه سوريږم نو د زيد د عبد ماذون په سورلى سور شو.

(فان كان الخ) نو كه د زيد په غلام باندې دومره قرض وو چې د ده رقبه يعنې ذات او قيمت او كسب يعنې گټه ئى توله وخوړله نو حالف حانث نه دى ځكه دغه دابه او سورلي د زيد نه ده (و ان لم يكن) او كه په غلام قرض مستغرق نه وو نو كه د حالف د سورلى د زيد څخه د زيد خاصه سورلي مراد وه نو نه حانثيږي او كه حالف نيت د هغې سورلى كړى وو چې ملكيت د زيد وه برابره خبره ده چې خاص ملكيت د زيد وه او كه سورلي د غلام ماذون وه نو په دې صورت كې حالف حانثيږي، ځكه ملک د غلام غير مديون په دين مستغرق سره ملک د مولى وي خو نسبت يې عرف او شرعاً غلام ته كيږي (و قال ابو يوسف) او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې په ټولو وجوهو كې يعنې چې قرض وربانديې نه وي يا وربانديې قرض وي مستغرق وي او كه غير مستغرق وي حالف حانثيږي خو چې نيت د سورلى د غلام وكړي. (و قال محمد) او امام محمد رحمه الله وايي چې په ټولو وجوهو كې حانثيږي اگر چې نيت د سورلى د غلام ونه كړي ځكه سورلي د غلام د بادار ملكيت دى نو نيت ته پكې ضرورت نشته

(ويتقيدُ الاكل من هذهِ النخلة بثمرها لان المعنى الحقيقي مهجور حسًا وهذا البُر بأكله قضمًا هـذا عندَ ابي حنيفةَ خلافًا لهما بناء على ان اللفظ ان كان له معنى حقيقي مستعمل ومعنى مجازي متعارف فـابو حنيفة يرجح المعنى الحقيقي وهما يرجحان المعنى المجازي فالمراد عندهما اكل باطنه مجازًا فيحنثُ بأكله سواء كان بالقضم اوغيره فيعملان بعموم المجاز).

القول المفصل في بيان الحقيقة المهجورة والمستعمل: **(قوله و يتقيد)** که يو کس قسم وخوري چې زه به خوراک نه کوم د دې خرما څخه نو دغه خوراک به مقيد وي د ميوي د خرما پورې يعني که د خرما د ونې ميوه ئې وخوړه نو حانث به وي او که دعين ونې د خرما څخه ئې خوراک وکړو نو بيا نه حانثيږی ځکه معنی حقيقي د دې چې هغه د خرما د يمين ونې څخه خوراک دي حسًا مهجور او متروک دی نو معنی مجازي باندې به حمل وي چې د ونې ميوه ده **(و هذا البُر)** که يو کس داسې قسم وخوري چې زه به د دې غنمو څخه خوراک نه کوم نو د امام ابو حنيفه په نزد به مقيد وي د خوراک د غنمو پورې په چيچلو سره يعنې که د غنمو داني يې وچيچلي نو حانث به وي، قضم معنی چيچل، خو د صاحبينو په نزد به مقيد وي تر باطن د غنمو پورې دغه اختلاف د دوی مبني دی په يو بل اختلاف باندې هغه داسې که د يو لفظ لپاره معنی حقيقي مستعمله هم وه او معنی مجازي متعارفه هم وه نو امام ابو حنيفه رحمه الله معنی حقيقي مستعملي ته ترجيح ورکوي لکه د غنمو معنی حقيقي هم مستعمله ده چې د غنمو داني وخوټولي شي چې کله اوبه وچې کړي نو بيا هغه خوړلی شي چې زمونږ په اصطلاح کی ورته د غنمو کوچه وايي، او صاحبين ترجيح معنی مجازي متعارفي ته ورکوي چې هغه د غنمو باطن وي په طريقه د عموم مجاز سره او د غنمو باطن د غنمو دانو ته هم شامل دي او د غنمو وړو ته هم شامل دی نو حالف که د غنمو دانې وچيچلي او که د غنمو ډوډۍ يې وخوړه په دواړو صورتونو کې حانث دی.

(وهذا الدقيق بأكل خبزهِ فلا يحنثُ لو استفهُ كما هوَاي يحنثُ بـأكل مـا يتخـذُ منـه كالخبزِ ونحوه لان المعنَى الحقيقي مهجور فيراد المجازي واكل الشواء باللحم لا الباذنجان والجزر والطبيخ بما طـبخ من اللحم والراس براس يُكبس في التنانير ويباع في مصره عملاً بالعرف فان الايمان مبنية عليه والشحم بشحم البطن هذا عندَ ابي حنيفة وعندهما يتناول شحم الظهرِ ايضًا والخبز بخبز البُر والشعيرِ لاخـبز الأرز ببلدة لا يعتاد فيه والفاكهة بالتفاح والمشمش والبطيخ لا العنب والرمان والرطب والقثاء والخيار هـذا عند ابي حنيفة، وعندهما العنب والرمان والرطب فاكهة).

توضيح: (**و هذا الدقيق الخ**) يو كس قسم وخوړ چې زه د دې اوړو څخه خوراک نه کوم نو دغه قسم ده به مقيد وي تر خوراک د هغه څه پورې چې د دې اوړو څخه جوړولی شي لکه ډوډۍ حلوی و غيره، که دا شيان يې وخوړه نو حانثيږي (**فلا يحنث لو استفه**) خو نه حانثيږي که د سفوفو په شان کې يې وخوړه (**كما هو**) لکه څرنګه چې وو يعني بې د دېنه چې يو شئ ترې جوړ کړي، سفوف يو قسم حکيمي دوا ده چې خوړلی شي، خو دلته دا سفوف مراد نه دي بلکي دلته مراد دا دي چې اوړه د سفوفو په طريقه وخوري يعني بې له ژولو څخه يې وخوري [كفايه۱۱۷/۵].

څکه معنی حقيقي د دې په عام عادت کې متروک ده څکه خلک عمومًا اوړه د سفوفو په طريقه نه خوري بلکي يو شئ ترې جوړوي لکه ډوډۍ وغيره بيايې خوري نو معنی مجازي مراد شوه (**واكل الشوى الخ**) که يو كس قسم وخوري چې ز ه به وريته شوی نه خورم نو دا به حمل وي په وريته شوي غوښه باندې نه په وريت شوي بانجانو او ګازرو باندې څکه عام عرف کې د وريت شوي نه مراد غوښه وي نه بانجان او ګازري، د بانجانو څخه مراد تور بانجان دي نه سره روميان چې بعضې خلک د كابل دېته هم بانجان وايي.

(**والطبيخ الخ**) که قسم وخوري چې پوخ کړی شوی به نه خوري نو دا به حمل وي په پوخ کړی شوي غوښه باندې که غوښه کې اوبه وي نو دېته طبيخ وايي او که بغير د اوبو پخه کړی شي نو دېته شواء وايي (**والراس**) که قسم وخوري چې زه به سر نه خورم نو دا به حمل وي په هغه سر باندې (**يكبس**) چې تور کړی شي په تنور کې كبس لغوي معنی سرچپه زوړندول خو دلته زمونږ په عرف کې ورته تورول وايي چې هغه د پسه يا غوايي سر دی چې په ښارونو کې خرڅولی شي عام عرف همداسې دی، او قسمونه هم په عرف بناء دي نو که د چنچنې سريې وخوړ نو په هغې نه حانثيږي څکه عرف کې د سر اطلاق په دې نه کيږي (**والشحم**) او که قسم يې وخوړ چې زه به وازده نه خورم نو دا به حمل وي د ګېډې په وازده باندې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې، او صاحبين وايي چې د شا وازدې ته هم شامل دی (**والخبز**) که قسم يې وخوړ چې زه به ډوډۍ نه خورم نو دا به حمل وي په ډوډۍ د غنمو او وربشو (**لا خبز الارز**) خو د وريژو ډوډۍ باندې به حمل نه وي په هغه ښار کې چې هلته د وريژو ډوډۍ عادت نه وي که عادت وو نو بيا پرې حانثيږي خلاصه دا چې په کوم ښار کې کومه ډوډۍ رواج وه نو په همغې به حانثيږي [فتح القدير۱۱۸/۵].

(**والفاكهة**) او که قسم وخوري چې زه به ميوه نه خورم نو دا به حمل وي (**بالتفاح**) په منو باندې

(والمشمش) په زردالو باندې [غياث اللغات صـ۲۳۹ منتخب اللغات صـ۲۲۳] **(والبطيخ)** خربوزه او خټکي باندې يعنې که دايې وخوارۀ نو حانثيږي **(لا العنب)** او فاکهه به حمل نه وي په انګورو **(والرمأن)** په انارو **(والرطب)** او تازه خرما **(والقثاء)** او تره **(والخيار)** بادرنګ باندې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې ځکه فاکهه دېته وايي چې د ډوډۍ څخه مخکې يا وروسته وربانډې تفکه او لذت حاصلولی شي او دغه معنى د تفکه په منو زردالو او خټکي کې موجوده ده نو که دا درې شيانو کې يو وخوړ نو حانثيږي خو تره او بادرنګ د فواکهو څخه نه دی ځکه دا د ترکاري جاتو څخه دی نو که تره او بادرنګ وخوري نو نه حانثيږي، خو صاحبين وايي چې په انګورو او انارو او تازه خرما کې معنى د تفکه موجوده ده بلکې په ميوو کې دا اوچته ميوه ده او تلذذ په دې باندې د نورو څخه زيات وي.

خو امام صاحب ابوحنيفه رحمه الله وايي چې انګور انار تازه خرما د غذا او دواء په ځاى استعمالولی شي نو د دې په تفکه کې قصور راغی که دا وخوري نو نه حانثيږي خو دغه اختلاف د ائمو اختلاف د زمانې دی يعنې د امام ابو حنيفه رحمة الله په زمانه کې انګور انار تازه خرما د غزا او دواء په طريقه استعماليدل نو د همدې مطابق يې فتوی ورکړه او د صاحبينو په زمانه کې د تفکه په طريقه استعماليدل نو دوی د همدې مطابق فتوی ورکړه [فتح القدير ۱۲۰/۵].

لکه اوس زمونږ په زمانه کې چې د تفکه په طريقه استعمالولی شي نو په کوم ځاى کې چې د تفکه لپاره استعمالولی شي نو هلته به حالف وربانډې حانثيږي او که د تفکه لپاره نه استعماليدي نو هلته به حالف وربانډې نه حانثيږي اعتبار عرف ته دی.

(والشرب من نهر بالكرع منه فلا يحنث لو شرب منهُ بأناء هذا عند ابى حنيفة فان من عندهٗ لابتداء الغاية وعندهما للتبعيض اى لايشرب من مائهِ بخلافِ الحلف من مائه وتحليف الوالى رجلا ليُعلمه بكل داعر آتى بحال ولايته اى يقيد بتحليف الوالى رجلا ليُعلمه بكل مفسد اتى البلد بحال ولايته والضرب والكسوة والكلام والدخول عليه بالحياة لا الغُسل اى ان حلف ليضربن زيدًا يقيد بحال حياته ولوحلف لاَغسلن زيدًا لايتقيد بحال حياته).

توضيح: که يو کس قسم وخوړ چې لايشرب من هذا النهر د دې نهر څخه به اوبه نه څکي نو دا به مقيد وی په کرع باندې د نهر څخه کرع دېته وايي چې په اوبو ورځملي او په خوله د نهر څخه اوبه وڅکي نو که د دې نهر څخه يې په لوښي اوبه وڅکلي نو نه حانثيږي دا د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې ځکه دده په نزد من هذا النهر کې من د ابتداء د غايې لپاره دی نو معنى دا شوه چې

كون الشرب مبتدا من ماء النهر يعني د څكلو شروع به د اوبو د نهر څخه وي او دا نه راځي مګر په كرعي سره، او صاحبين وايي چې مِن د تبعيض لپاره دی نو معنی دا شوه چې (**لا يشربُ بعض ماء النهر**) نوهغه په كرع سره وي او كه بغير د كرع څخه (**بخلاف**) خو كه داسې قسم يې خوړ چې زه به نه څكم اوبه د دې نهر نو دا بيا تفاقا د كرع پورې مقيد نه دی بلكې كه په لوښي وڅكي نو هم حانثيږي، ځكه د لوښي د اوبو نسبت هم نهر ته كيږي (**وتحليف الوالي**) كه والي يعني حاكم بادشاه قاضي و غيره يو كس ته قسم وركړو چې (**ليعلمه**) چې خبر به والی ته وركوي (**بكل داعرٍ**) په هر مفسد باندې (**اي**) چې ښار ته داخل شي نو دغه قسم به مقيد (**بحال ولايته**) د حال ولايت دده پورې يعنې ترڅو چې دا والي وي نو دا قسم به وي يعني كه مفسد ښار ته راغی نو دا به ضرور خبر وركوي او كه خبرېې ورنه كړو نو دا حانث شو خو كه د والي ولايت ختم شو مثلا مړ شو يا د ولايت څخه لرې شو نو بيا خبر نه وركولو سره نه حانثيږي (**والضرب**) كه يو كس قسم وخوړ چې زه به فلانی نه وهم مثلا.

(**والكسوة**) فلاني ته به جامې نه اغوندم (**والكلام**) فلانی سره به خبرې نه كوم (**والدخول عليه**) فلاني باندې به نه ورداخليږم نو دا افعال به مقيد وي تر ژونده پورې يعنې هر هغه فعل چې خاص وي تر ژونده پورې نو د هغې قسم به هم تر ژونده پورې خاص وي مثلاً كه دغه افعال يې په ژوند كې وكړل نو حانث به وي او د ژوند څخه وروسته نه حانثيږي (**لا الغُسل**) خو غسل به تر ژوند پورې مقيد نه وي يعني كه داسې قسم يې وخوړ چې زه به زيد ته غسل وركوم نو دا به تر حالت د ژونده پورې مقيد نه وي بلكې كه د مرګ څخه وروسته يې غسل وركړه نو هم حانث دی.

(**والقريب بما دون الشهر اي يقيد القريب بما دون الشهر في ليقضيَن دينه الى قريب والشهر بعيد وما اصطبغ به فهو ادام وكذا الملح لا الشواء في المغرب قال ابن الانباري الادام ما يُطيب الخبز ويُصلحهُ و يتلذذ به الاكل وهو يعم المائع وغير المائع واما الصبغ فمختص بالمائع وهو ما يُغمس فيه الخبز ويُلون به**).

توضيح: كه قسم وخوري چې زه به مثلا د فلاني قرض پوره كوم تر نژدې وخت پورې نو كه نيت يې د معلومې نيتې كړي وو نو په همغه به حمل وي او كه نيت يې نه وو نو دا به حمل وي په مياشتې څخه په كم باندې (**والشهر بعيد**) او مياشت لرې ده يعنې د بعيد لفظ به مقيد وي په مياشت او د مياشتې څخه په زياتي باندې (**وما اُصطُبغ**) او هغه څه چې ډوډۍ پكې رنګولی شي يعني پكې

ککړولی شي (**فهو ادام**) نو هغه کتغ دی يعنې که يو کس قسم وخوړ چې زه به کتغ نه خورم نو هر هغه شئ چې ډوډۍ پکې خکته کولی شي نو هغه کتغ دی او وريت شوی کتغ نه دی او مالگه هم کتغ دی (**في المغرب**) په مُغرب کتاب کې راغلي چې ابن الانباري ويلي دي چې کتغ هغه دی (**يطيب الخبز**) چې د ډوډۍ خوند ښائسته کوي (**ويصلحه**) او جوړوي (**و يتلذذ بـه الاکل**) او خوړونکی په دي سره خوند حاصلوي (**وهو**) خو دغه کتغ مائع او غير مائع دواړو تـه شامل دی (**و اما الصبغ**) او صبغ خاص دی د مائع پورې (**و هو**) او صبغ دېتـه وايي چې ډوډۍ پکې غوپـه کولی شي او پـه دې کې رنګولی شي، صاحبين وايي چې هر هغه شئ چې د ډوډۍ سره غالبًا خوړلی شي نو هغه ادام يعنې کتغ دی.

(**ولا يحنثُ في لا ياکلُ من هذا البُسر فأکل رطبه اومن هذا الرطب او اللبن فأکل تمرًا او شيرازًا او بسرًا فاکلَ رطبًا اى لا يحنثُ في لا ياکلُ بُسرًا فأکل رطبًا، واعلم انه لا فرقَ بين قولنا لا ياکلُ من هـذا البسرِ فأکلهُ رطبًا وبينَ قولِنا لا ياکلُ بسرًا فأکلَ رطبًا بناء على ان البُسرَ والرطب من اسماء الاجناسِ فاذا صارَ رطبًا صار ماهيةً اخرَى کما بينا في لا يدخلُ بيتًا اولحمًا فـاکلَ سمـکًا اى لا يحنثُ في لا ياکلُ لحمًا فـاکل سمکًا اولحمًا او شحمًا فاکلَ اليةً ولا في لا يشترى رطبًا فاشترَى کباسة بُسرٍ فيها رطب**).

تشريح: (**و لا يحنث الخ**) د خرما شپږ اقسام دي: ۱. طلع ۲. خلال ۳. بلح ۴. بسر چې غوره خرما تـه وايي ۵. رطب ۶. تمر.

نو که قسم يې وخوړه چې زه به خوراک نه کوم د دې بُسر نـه نو رطب يعنې تازه خرما يې وخوړه يا يې قسم وکړو چې زه به خوراک نه کوم د دې رطب نه نو تمر يعنې وچه خرمايې وخوړه يـا يې قسم وکړو چې زه به شودې نه خورم (**فاکلَ شيرازًا**) نو خيدک يې وخوړ نو پـه دې درېواړو صورتونو کې نه حانثيږي، ځکه بُسر او رطب دا اسماء اجنـاس دي نو بُسر يـو ماهيت دی خـو کله چې رطب وګرځي بل ماهيت وګرځي (**کما بينا**) لکه مونږ چې په لا يدخل بيتًا کې دا خبره ذکر کړه چې د کوټې ځخه مسجد جوړ شي نو نه حانثيږي ځکه بيت يـو ماهيت دی او مسجد بـل ماهيت دی (**او لحمًا**) قسم يې وخوړ چې زه به غوښه نه خورم خو د ماهي غوښـه يې وخوړه نو نه حانثيږي ځکه د ماهي غوښه اګر چې قرآنکريم کې ورته غوښه ويل شوي ده خو عرفًا غوښه نه ده ځکه غوښه د وينې ځخه جوړيږي او ماهي کې وينه نه وي ځکه اوبو کې ژوند کوي.

(اولحمًا او شحمًا) یایې قسم وخوړه چې زه به غوښه نه خورم خو **(الية)** یعنې لم یې وخوړه یایې قسم وخوړه چې زه به وازده نه خورم خو الیه یعنې لم یې وخوړو نو دواړو صورتونو کې نه حانثیږي. ځکه لم نه غوښه ده او نه وازده بلکې دا دریم قسم د غوښې او وازدې دی ځکه د وازدې اطلاق عرف کې د کولمو په وازده کیږي **(و لا في لایشتري)** که یو کس قسم وخوړ چې زه به رطب نه اخلم خو د بسر وښکې او غونچه یې واخسته چې په دیکې رطب هم وو نو په دې نه حانثیږي ځکه اخستل د ټولې غونچې راځي خو مغلوب بیا تابع وي نو چې د بسر غونچه یې واخسته نو اخستونکي د رطب نه راځي ځکه رطب مغلوب دی.

(و حنث لو حلف لا یأکل رطبًا او بسرًا او و لا بسرًا فأکل مذنبًا الخ)

البحث العجیب في البسر والرطب المذنب: **(و حنث)** که یو کس قسم وخوړ چې زه به رطب نه خورم نو مذنب یې وخوړه **(او بسرا)** یایې قسم وخوړه چې زه به بسر نه خورم نو مذنب یې وخوړه **(او ولا بسرًا)** یایې قسم وخوړو چې زه به رطب او بسر دواړه نه خورم نو مذنب یې وخوړه نو په دې ټولو صورتونو کې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد حانثیږي **(لان المذنب)** دا دلیل د امام ابو حنیفه رحمه الله بیانوي د مذنب بعضې رطب وي او بعضې بسر وي نو چا چې مذنب وخوړه نو ده بسر او رطب دواړه وخوړل **(و قال في الهداية)** او صاحب هدایه په هدایه کې ویلي دي چې د صاحبینو په نزد که قسم وخوري چې رطب به نه خوري نو په بسر مذنب سره نه حانثیږي او که قسم وخوري چې بسر به نه خوري نو په رطب مذنب سره نه حانثیږي **(و قد قالَ في المُغرب)** خو په مغرب کتاب کې د بسر مذنب معنی داسې کړي ده چې دا ذُنب یذنب تذنیب باب تفعیل ځخه دی **(اذا بدأ الارطاب)** چې کله یې رطب راځکاره شي **(من قِبَلِ ذنبهِ)** د لکۍ یعنې آخر لخوا ځخه **(و هو ما)** او دا اخر د دې هغه دی چې خکته وي **(من جانب القمع)** لکه طرفه د پوخ د خرما نه **(والعلاقة)** او د لرګي او د غونچې ځخه **(و لاشک)** او شک نشته چې رطب والی نه وي مګر د یو طرف ځخه **(و هو الذي)** او دا هغه دی چې په هغې پوخ او ډکی نه وي نو همدغه لکۍ او آخر د خرما ده.

(اذا عرفتَ هذا) غرض د شارح د دېنه یو اعتراض دې په صاحب د هدایه باندې په توجیه د قول د امام ابو حنیفه رحمه الله کې یعنې د صاحب هدایه توجیه د صاحب مُغرب د توجیه ځخه مخالف ده هغه داسې چې صاحب هدایه وایې چې رطب مذنب هغې ته وایې چې په اخر کې لږ بسر وي، او

صاحب مغرب وايي چې رطب مذنب د ښته وايي چې رطب والي د اخر څخه راښکاره شي، نو مخالفت راغی، بيا صاحب هدايه وايي چې بسر مذنب د ښته وايي چې په اخر کې رطب وي نو اخر خو هغه دی چې نه وربانديږ ډکی يعنې لرګی او نه وربانديږ پوښ وي نو دا خو نه عقلاً ثابتـه ده او نه نقلاً چې بسورت يعنې بسروالی دی د دې خوا څخه ښکاره شي، يعنې د هغې خوانه چې نه پوښ لري او نه لرګی څکه بسر د خرما څلورم نمبر دی او رطب يې پنځم نو د بسر پسې به رطب راځي خو دا نه شي کيدی چې د رطب پسې بسر راشي څکه د رطب پسې وروسته تمر وي، او بل دا چې حرارت هم اول اثر په هغه طرف کې کوي چې لرګي او پوښ نه لري نو د بسر څخه وروسته رطب راځي نه عکس.

(فاقول) غرض د شارح د دېنه توجيه او تصحيح د کلام د صاحب هدايـه کـوي **(اضاف التمر الخ)** چې د خرما اقسام کوم چې مونږ په خرماو د بغداد فارس کرمان کې ليدلي دي **(يبدأ)** د هغې رطبوالی د هغه طرف څخه ښکاره کيږي چې په هغې بانديږ پوښ نه وي **(ففي الخ)** نو د دې ښارونو څخه ماسوا په نورو ښارونو کې که ابتداء د رطب د پوښ لخوا وي خو بيا د صا حب هدايه خبره صحيح ده چې **(الرطب المذنب ما يكون في ذنبه قليل بسر والبسر المذنب على عكسه)** او که رطبوالی د پوښ له خوا نه وي نو بيا وجه د صحت د هدايه دا ده چې رطب مذنب هغه ده چې اکثره يې رطب وي او بسر مذنب هغه دي چې اکثره يې بسر وي.

(ثم لما كان) نو هرکله چې بُسر د پوښ له خوا وي نو سرد بسر هغه دی چې پوښ ته نژدې وي او اخرې هغه بل طرف شو او هرکله چې رطب هغه بـل طرف شو **(فـرأس)** نو سر د رطب هغـه طرف شو چې خکته وي او اخر به يې طرف د پوښ شي يعنې عکس د بسر نو دا وجه د صحت د هدايه راتللی شي.

(ولا ياكل لحمًا فاكل كبدًا اوكرشًا اولحم خنزير اوانسان قيل لا يحنث باكل الكبد والكرش في عرفنا لانهما في عرفنا لم يُعد لحمًا، واما لحم الخنزير والانسان فهما لحم حقيقة فيحنث بهما والغداء الاكل من طلوع الفجر الى الظهر والعشاء منه الى نصف الليل والسحور منه الى الفجر).

توضيح: که يو کس قسم وخوري چې زه به غوښه نه خورم **(فاكل كبدًا)** نو جګرې يې وخورو **(او كرشًا)** يا يې لرې وخورو يا يې غوښه د انسان يا غوښه د خنزير وخوره نو حانث دی اګر چې د خنزير او انسان غوښه حرامه ده، څکه دا تولې حقيقةً غوښې دي څکه د وينې څخه جوړيږي **(و قيل لا يحنث)** خو بعضې علماء بيا وايي چې د جګر او لړي په خوراک نه حانثيږي زمونږ په عرف کې نو د هرې منطقې

عرف ته اعتبار دى زمونږ د افغانستان په عرف کې په ځګر او لري سره حانثيږي بلکې دا اوس خلک ښه ګڼي اکثره مالداره خلک يې خوري او د خنزير او د انسان غوښه عرفًا غوښه ده نو د دې په خوراک سره حانثيږي اګر چې خوراک يې حرام دى (والغداء) او غداء يعني صباناري هغه خوراک ته وايي چې د صبح صادق څخه وي تر ماسپخين پورې يعني زوال ختميدو پورې (والعَشاء) په فتحې د عين مهمله سره هغه خوراک ته وايي چې د ماسپخين څخه تر نيمي شپې پورې وي او عِشاء په کسرې د عين مهمله سره د ماخوستن مانځه ته وايي (والسحور) هغه خوراک ته وايي چې د نيمې شپې څخه تر صبح صادق پورې وي چې عرف کې ورته پيشمنى وايي.

(وفي ان لبستُ او اكلتُ او شربتُ ونوَى عينًا لم يُصدق اصلاً اى نوَى ثوبًا معينًا اوطعامًا معينًا اوشرابًا معينًا لم يصدق قضاءً ولا ديانةً لان المنفي ماهية اللبس ولا دلالة لهُ على الثوب الا اقتضاءً والمقتضَى لا عموم له فلا يصح فيه نية التخصيص ولوضم ثوبًا اوطعامًا اوشرابًا دُين اى صُدق ديانةً لا قضاءً لان اللفظ عام فنية التخصيص خلاف الظاهر فلا يُصدق في القضاءِ).

تشريح: که يو کس داسې وويل چې ان لبستُ فامراتي طالق که ما اغوستل وکړل نو زما ښځه دې طلاقه وي مثلا (او اكلت) او يا که ما خوراک وکړو (او شربت) او يا که ما څکل وکړل نو زما ښځه دې طلاقه وي (و نوى معينًا) او نيت يې د يو معين کړى وو يعنې معينه جامه مثلا پاکستانى جامه يا معين خوراک مثلا بازاري کباب يا معين د څکلو شئ مثلا پيپسي و غيره ، نو دده تصديق به نه قضاءً کيږي او نه ديانةً (لان المنفي) ځکه کوم شئ چې نفي کړى شوى دى هغه ماهيت د لبس دى چې اغوستل دي او دغه ماهيت د لبس دلالت په ثوب نه کوي مګر په طريقه د اقتضاء سره ځکه د تصحيح د منطوق لپاره اقتضاء ته ضرورت شته ځکه لبس بغير د ملبوس څخه نه کيږي او اکل بدون د ماکول څخه نه کيږي او شرب بغير د مشروب څخه نه کيږي او مقتضى لره عموم نه وي نو نيت د تخصيص هم پکې صحيح نه شو ځکه تخصيص په عموم کې راځي او دلته عموم نشته.

(ولو ضم ثوبًا) خو که د دې سره يې د ثوبًا يا طعامًا يا شرابًا لفظ يو ځاى کړو مثلاً داسې وويل چې ان لبستُ ثوبًا الخ او ان اكلتُ طعامًا او ان شربتُ شرابًا (دُين) نو ديانةً به دده تصديق کولى شي لا قضاءً ځکه لفظ د ثوب عام دى نو نيت د تخصيص په ديکې خلاف الظاهر دى نو دده تصديق به په قضاء کې نه شي کولى.

(و تصور البر شرط صحة الحلف خلافاً لابی یوسف فمن حلف لاشربن ماء هذا الکوز الیوم ولا ماءَ فیهِ او کان فصُب فی یومهِ لا یحنث، اعلم ان امکان البر شرط صحة الحلف عند ابی حنیفة و محمد سواء کان الحلف بالله تعالی او بالطلاق او العتاق، وعند ابی یوسف لیس بشرط فان حلف والله لاَشربن الماء الذی فی هذا الکوز الیوم والماء فیه، اوحلفَ ان لم اشرب الماء الذی فی هذا الکوز الیوم فامرَاتهُ طالق ولا ماء فیه لا یحنثُ عندهما، وعند ابی یوسف یحنث وان حلفَ وکان فیهِ ماءٌ فاریق فی الیوم فالحکم علی ما ذکر).

تشريح: (و تصوير البر) د حلف د صحيح والي لپاره شرط تصور يعني امكان د بر دى چې دا امكان وي چې زه به په دې حلف كې بري شم دا مذهب د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله دى برابره خبره ده چې قسم په الله تعالى وي او كه په طلاقو يا عتاق سره وي (**خلافاً لابي يوسف**) خو امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې امكان د بر شرط نه دى د حلف لپاره (**فمن حلف**) دا تفريع ده په مخكنى مقدمه باندې، نو كه قسم يې وكړو چې زه به نن ورځ خامخا هغه اوبه څكم چې په دې كوزه كې دي (**و لا ماء فيه**) خو په كوزه كې اوبه نه وي (**او كان**) يا په كوزه كې اوبه وي (**فصب في يومه**) خو په همدغه ورځ واړولى شوې نو د طرفينو په نزد حالف نه حانثيږي ځكه په كوزه كې اوبه نشته نو څه به وڅكي دده په نزد امكان د بر شرط د حلف نه دى نو نتيجه يې په كفاره كې راوځي هغه داسې چې د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد كفارهورباندې واجب ده ځكه امكان د بر شرط نه دى او د طرفينو په نزد قسم بالكل منعقد نه شو نو كفاره هم نشته ځكه امكان د بر شرط د ابتداء د يمين لپاره دى او د بقاء د يمين لپاره دى.

(و ان طلق فكذا في الاول دون الثاني)

وضاحت: (**و ان طلق**) او كه مطلق يې ذكر كړو يعني د اليوم لفظ يې ورسره ونه ويلو بلكې داسې يې وويل چې لاشربن ماء هذا الكوز نو په ديكې اولني صورت كې يعني چې كوزه كې اوبه نه وي د طرفينو په نزد بيا هم نه حانثيږي خو د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد حانثيږي، او په دويم صورت كې يعني چې اوبه په كوزه كې وي خو تويې يې كړي بالاتفاق حانثيږي (**و ذلك لانه اذا لم يكن الخ**) دا دلائل د طرفينو بيانوي چې كله په كوزه كې اوبه نه وي نو بر غير ممكن دى برابره خبره ده چې اليوم ورسره ذكر كړي او كه ذكر يې نه كړي ځكه كوزه كې اوبه نشته نو يمين منعقد نه شو

نو حنث هم نه موجود یږي کوم چې موجب د کفاري دی (وان کانَ فیه ماء) او که په کوزه کې اوبه وي نو که یوم یې ورسره ذکر کړو نو بر په حالف باندې د یوم په جزء اخیر کې واجبیږي نو کله چې یې اوبه وارولې نو بر متصور او ممکن نه شو نو حنث چې موجب د کفاري دي هغه هم موجود نه شو (وان لم یذکر الیوم) او که د یوم لفظ یې ورسره ذکر نه کړو نو بر په حالف هلته واجبیږي چې حالف د تکلم نه یعنی د کلام د حلف نه فارغ شي لکن موسع وي یعنې دا ضروري نه ده چې في الحال د بري شي خو په دې شرط چې په موده د عمر کې تري فوت نه شي (والبر متصور) او بر متصور او ممکن دی په وخت د فراغت د تکلم نه، ځکه اوبه په کوزه کې موجودي وي په دغه وخت کې نو یمین منعقد شو او چې یمین منعقد شو نو حنث چې موجب د کفاري دی هم موجود شو (و عندَ ابي یوسف رحمه الله) خو د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد په څلورواړو ټولو صورتونو کې چې الیوم ورسره ذکر وي او که ذکر نه وي، اوبه په کوزه کې وي او که نه وي حالف حانثیږي (ففي الموقت) نو په موقت کې یعنې چې الیوم ورسره ذکر وي د وخت د تیریدو څخه وروسته حانثیږي. او په غیر موقت یعنې چې الیوم ورسره ذکر نه وي في الحال چې د تکلم څخه فارغ شي حانثیږي

(وفي لیَصعدَن السماءَ اولیُقلبَن هذَا الحجرَ ذهبًا اولیقتلَن فلانًا عالمًا بموتهِ وانعقدَ الیمینُ لتصویر البر حنث للعجزِوان لم یعلم فلا).

توضیح: که یو کس قسم وخوري چې اسمان ته به خیژي او یا به ګرځوي دا تیږه په سرو زرو سره، او یا به فلانی کس قتلوي خو په داسې حال کې چې حالف پوهه وو چې فلانی کس زما د قسم څخه مخکې مړ وو نو په ټولو صورتونو کې یمین منعقد شو ځکه امکان د بري کیدو شته خو د في الحال عاجزوالي د وجې حانث شو (وان لم یعلم فلا) او که حالف ته دا پته نه وه چې فلانی کس زما د قسم څخه مخکې مړ دی نو یمین نه منعقد کیږي او کفاره هم نشته (وفیه خلاف زفر) د امام زفر رحمه الله په نزد په دې صورتونو کې یمین نه منعقد کیږي ځکه بریوالی دلته عادةً محال دی او کوم شئ چې عادةً محال وي دا داسې ده لکه چې حقیقةً محال وي، (قلنا) مونږ د امام زفر رحمه الله څخه جواب کوو چې دغه امور مذکوره ممکن ذاتًا دي او د انعقاد د یمین لپاره امکان ذاتي کافي دی نه امکان عادتي. لکه فرشتي روزانه اسمان ته خیژي عیسی علیه السلام ادریس علیه السلام اسمان ته ختلي دي نو که امکان ذاتي نه وي نو دوی نه شو ختلی، همدارنګي د تیږي بدلیدل په سرو زرو باندې هم ممکن دي دارنګي قتل د مړي هم ممکن دی چې الله تعالی یې راژوندي کړي او بیا یې حالف قتل کړي.

(و يحنث في الحال) خو في الحال حانثيږي يعنې بې لـه توقف نه تر زمانې د مرګ پورې ځکه عام عادت کې عاجز دی (و انما قلنا) شارح وايي چې په مسئله د قتل کې مونږ دا خبره وکړه چې حالف به د محلوف عليه په مرګ خبر وي دا ځکه چې کله حالف تـه د محلوف عليـه د مرګ پتـه وي نو پـه دې وخت کې بيا د ده مقصد دا دی چې دا مړی به الله تعالی ژوندی کړي او بيا بـه يې زه قتـل کړم، او دا ممکن دی نو يمين منعقد شو او في الحال حانث شو (اما اذا لم يكن عالمًا) خو كه د هغه په مرګ خبر نه وي نو بيا د حالف مقصد قتل متعارف دی او دا قتل په حياة متعارف کې کيږي نه په هغه حيات کې چې د مرګ څخه وروسته وي نو هر کله چې دغه کس مړ وو نو قتل متعارف ممتنع شو نو حالف پکې نه حانث کيږي ځکه امکان د بر نشته لکه مسئله د کوزې کې چې نه حانث کيږي.

(ومد شعرها وخنقها وعضها كضربها وقطن ملكه بعد ان لبست من غزلكِ فهدى فغزلته ونسج ولبس هدى قطن مبتدا وهدى خبره ومعنى الهدى ما يهدى الى مكة ليتصدق وعندهما ان كان القطن ملكه يوم الحلف فغزلته ونسج ولبس يجب ان يهدى الى مكة وان لم يكن القطن ملكه يوم الحلف لا).

تشريح: كه يو كس قسم وخوړه چې زه به خپله ښځه نه وهم نو كه ويختـه يې تـرې كش كړه يـا يې زندۍ كړه يا يې په غاښونو سره وچيچله نو دا داسې ده لكه چې ويې وهي نو پـه دې سره حانثيږي ځكه ضرب وهلو او دردولو ته وايي او په ويختو كش كولو يـا زندۍ كولو يـا خولـه لګولو سره هم درديږي خو كه د مستۍ او لوبو په وخت كې دا افعال تر سره شي نو بيا نه حانثيږي، ځكه بيا دېته ضرب نه وايي بلكې مستي او ټوقي وايي (و قطن ملكه) او پنبـه او مـالوچ چې زوج يې مالـک شي وروسته د قول د خاوند څخه ان لبست الخ نو دا به هدي وي يعنې كه يو جولا خپلې ښځې تـه ووايي كه ما ستا د وريښل شوو تارونو څخه جامې واغوستلې نو دا د هـدي وي (فغزلته) نـو ښځې دغـه پنبه وريشله (و نسج) او ويې پيلله (و لبس) او خاوند واغوستله نو دا بـه هـدي وي د هـدي معنى داده چې مكې معظمې ته د دې لپاره ليږلی شي چې صدقه كړی شي (و عندهما) او صـاحبين وايي چې كه پنبه د خاوند د قسم په ورځ د خاوند په ملكيت كې وه (فغزلته) نو ښځې وريشـله (و نسج) ويې پيلله (و لبس) او وايي غوستله نو واجب ده چې مكې ته يې وليږي او كـه پنبـه د قسم په ورځ د خاوند په ملكيت كې نه وه نو بيا واجب نه دی چې مكې ته يې وليږي ځكه نذر هلتـه صحيح كيږي چې په ملک كې وي يا يې نسبت ملک ته وشي او دلته ملک موجود شوی نه دی.

(وخاتم ذهب حلی لا خاتم فضةٍ وعندهما عِقد لؤلؤ لم یرصع حلی وبه یُفتیٰ ومن حلف لا ینامُ علی هذا الفراش فنامَ علی قرامٍ فوقه حنث لا من جعل فوقه فراشًا آخر لان القرام تبع للفراش لا الفراش الآخر اوحلف لا یجلس علی الارض فجلس علی بساطٍ او حصیرٍ فوقه حیث لا یحنث لانه لم یجلس علی الارضِ ولو حالَ بینه وبینهَا لباسه حنث لانه جلسَ علی الارضَ ولباسه تبع له کمن حلفَ لا یجلس علی هذا السریر فجلسَ علی بساط فوقه لا ن الجلوس علی السریر لا یعتاد بدون ان یُجعل علیه بساط فالجلوس علی البساط جلوس علی السریر بخلاف جلوسه علی سریر آخر فوقه فان الجلوس علی السریر الآخر لا یکون جلوسًا علی ذلكَ السریرِ).

تشریح: که یو کس قسم وخوري چې زه به زیورات نه اغوندم نو که د سپینو زرو ګوته یې واغوسته نه حانثیږي او که د سرو زرو ګوته یې واغوستله نو حانثیږي ځکه عرف او شریعت کې د سرو زرو ګوتې ته زیورات ویلي شي خو د سپینو زرو ګوتې ته نشي ویلی، همدا وجه ده چې د سپینو زرو ګوته نارینه ته استعمال جائز دی خو د سرو زرو جائز نه ده، خو که د سپینو زرو څخه د ښځو ګانو پشان زیورات جوړ شوي وو مثلا بنګړي غاړه کۍ و غیره نو بیا حانثیږي.

(**وعندهما**) که یو کس قسم وخوړ چې زه به زیورات نه اغوندم (**عِقد لؤلؤ**) او ده غاړکۍ د داسې مرغلرو واچوله چې پیلل شوي نه وي د سرو زرو یا سپینو زرو سره نو د صاحبینو په نزد حانثیږی ځکه دا زیورات دي حقیقة لکه قرآن کریم کې د جنتیانو په صفت کې الله تعالی فرمایي [یحلونَ من اساورَ من ذهبٍ و لؤلؤ] خو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد نه حانثیږي ځکه دا عرفًا زیورات نه دي او مبنی د ایمانو په عرف ده (**وبه یُفتیٰ**) او د صاحبینو په قول فتوی ده (**ومن حلف**) که څوک قسم وخوري چې زه به نه اوده کیږم په دې فرش باندې (**فنامَ علی قرامٍ**) نو اوده شو په هغه پرده باندې چې د فرش دپاسه وه نو حانث شو (**لا مَن جعل**) خو که د دې فرش دپاسه بل فرش واچوو او بیا کیناسته نو نه حانثیږي (**لان القرام**) ځکه پرده تابع د فرش وي خو فرش تابع دبل فرش نه وي ځکه شئ تابع د مثل نه وي (**او حلف**) یا یو کس قسم وخوړو چې زه به په ځمکه نه کینم خو د ځمکې دپاسه په فرش یا پوزی کیناسته نو نه حانثیږي ځکه حالف په ځمکه نه ده ناست ځکه په ځمکه ناسته دیته وایي چې بې له حائله په ځمکه کیني.

(**ولو حال**) خو که د حالف او ځمکې تر مینځ د حالف لباس وو نو بیا حانثیږي ځکه حالف په ځمکه

ناست دي او لباس تابع د حالف دی (**کمن حلف**) لکه يو کس چې قسم وخوري چې زه به په دې تخت يا کټ باندې نه کينم (**فجلس**) خو د کټ يا تخت دپاسه په فرش کيناستـه نو حانث دی ځکه په تخت باندې بې لـه فرش نـه کيناستل عادتًا نشته نو په فرش کيناستل په تخت کيناستل دي (**بخلاف**) خو که د تخت دپاسه يې بل تخت واچوه او بيا حالف ورباندې کيناسته نو نه حانثيږي ځکه په بل تخت کيناستل په دې تخت ناسته نه ده.

> (ولايفعله يقعُ على الابد ويفعله على مرةٍ اعلم ان قوله لايفعل هذا في العرف سلب لقوله يفعله وقوله يفعله واقع على مرة فقوله لايفعله يكون للابد وبعلي المشي الى بيت الله تعالى اوالى الكعبة يجب حج او عمرة مشيًا ودم ان ركب ولاشيء بعلي الخروج والذهاب الى بيت الله تعالى او المشي الى الحرم هذا عندَ ابي حنيفة رحمه الله واما عندَ ابي يوسف ومحمد فيلزمه حج او عمرة مشيًا او المسجد الحرام او الصفا او المروة).

توضيح: او لا يفعل به په ابد واقع وي يعني که يو کس قسم وخوري چې زه به دا کار نه کوم نو دا به په ابد يعني په دوام استقبالي باندې به حمل وي معنى دا چې هر وقت کې يې دا کار وکړو نو دا به حانث وي ځکه دلته نفي د فعل مطلق ده نو عموم پيدا کوي (**و يفعله**) او يفعل بـه حمل وي په يو ځل باندې يعني که يو کس داسې قسم وخوړو چې دا کار به کوي نو دا به حمل وي په يو ځل باندې يعنې چې يو ځل يې وکړو نو قسم کې بري شو.

(**اعلم**) شارح وايي چې لا يفعل په ابد دلالت کوي ځکه چې يفعل په يو ځل حمل دی او لا يفعل سلب دی د يفعل لپاره نو سلب د مرت حمل دی په ابد باندې نو لا يفعل هم د ابد لپاره راځي (**و بعلي المشي**) که يو کس داسې ووايي چې په ما باندې پياده تګ لازم دی بيت الله يا کعبې ته نو ده باندې يو حج يا عمره پياده واجب ده دا مسئله اګر چې د نذر د مسئلې ځخه ده ځکه صيغه د التزام پکې ده خو هرکله چې نذر احتمال د يمين هم لري نو په مسائلو د يمين کې يې ذکر کړه او حج او عمره ځکه واجب دي چې په دې الفاظو سره عرف کې ايجاب د حج يا د عمرې وي نو دا يو قسم مجاز لغوي او حقيقت عرفي شو.

(**و دم ان رکب**) خو که په ټول مزل کې يا په اکثر مزل کې په سورلۍ سور شو نو دم ورباندې واجب دی ځکه يمين کې نقصان داخل شو او د نقصان جبيره دم دی (**و لا شيءَ الخ**) خو که داسې يې ووېل چې عليّ الخروجُ الخ په ما باندې لازم دي وتل يا تلل بيت الله ته يا پياده تګ حرم ته نو په دې صورت کې نه حج واجب دی او نه عمره دا د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې ځکه چې التزام

د احرام په دې الفاظو سره غير متعارف دی اما د امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد په حالف باندې حج يا عمره پياده لازم ده په صورت د علي المشي الى الحرم کې اما په نورو کې اختلاف نشته (او المسجد الحرام الخ) همدارنګې په صورت د عليَ المشي الى المسجد الحرام کې يا الى الصفا يا الى المروة کې اتفاقا نه حج واجب دی او نه عمره.

(ولا يعتق عبد قيل له ان لم احج العام فانت حر فشهد بنحره بكوفة هذا عند ابی حنيفة وابی يوسف، و عند محمد يعتق لانه قامت شهادتهما على امرٍ معلوم وهو التضحية بكوفة ومن ضرورته عدم الحج وهو شرط العتق وقالا هذه شهادة على النفی فنقول النفی الذی يحيط به علم الشاهد هو مثل الاثبات على ما بين فی اصول الفقه فی الترجيح.

وضاحت: **(و لا يعتق الخ)** نه ازادېږي هغه غلام چې ورته وويل شي چې ما په دې کال کې حج ونه کړو نو ته دې ازادېږې نو دوه ګواهانو ګواهي وکړه په قربانی د بادار باندې په کوفه، يعني که بادار وويل چې که ما سږکال حج ونه کړو نو ته دې ازادېږې بيا بادار دعوه وکړه چې ما سږکال حج کړی دی خو غلام انکار وکړو خو بادار دوه ګواهان راوستل چې داسې ګواهي ورکړه چې ده حلاله کړې ده خپله قرباني د اختر په ورځ په کوفه کې، نو د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله تعالى په نزد نه دغه ګواهي قبلېږي او نه غلام ازادېږي خو امام محمد رحمه الله وايي چې دغه غلام ازادېږي ځکه د دغه دوه ګواهانو ګواهي قائمه شوه په يوه معلوم کار باندې چې قرباني ده په کوفه کې او په کوفه کې قرباني کول دليل د نه حج کولو دی ځکه دا نشي کېدلی چې په يو کال کې دې په کوفه کې قرباني وکړي او هم دې حج وکړي او همدغه عدم حج شرط د عتق دی **(و قالا هذه الخ)** خو شيخين وايي چې شهادت د اثبات د شئ لپاره وي او دلته د نفي د حج لپاره وه او شهادت على النفي غير مقبول وي **(فنقول)** شارح رحمه الله په دې سره رد کوي په دليل د شيخينو او ترجيح ورکوي مذهب د امام محمد رحمه الله ته په داسې طريقه چې شهادت على النفي مطلقاً نه قبلول خو غير صحيح دی بلکې هغه نفي چې په هغې باندې علم د شاهد احاطه کړي په منزله د اثبات ده نو شهادت پدی باندی قبلولی شي..

(وحنث بصوم ساعة بنية فی لا يصوم لا لوضم يومًا او صومًا حتی يتم يومًا فان قلتَ الصوم الشرعی هو صوم اليوم واللفظ اذا كان له معنًى لغوی و معنًى شرعي يحمل على المعنَى الشرعی قلت الشرع قد اطلقه على ما دون اليوم فی قوله تعالی [ثم اتموا الصيام الی الليل] فالصوم التام صوم يوم فاذا قال لا

اصوم يومًا اولا اصوم صومًا يراد به الصوم التام).

توضيح: كه يو كس ووايي چې زه به روژه نه نيسم بې له ذكر د يوم څخه نو كه يو ساعت روژه ونيسي په نيت د روژې سره نو حانثيږي نو كه روژه پوره كړي او كه ماته يې كړي ځكه شرط موجود شو چې هغه شرعي روژه ده چې هغه امساک دی د مفطراتو ثلاثو څخه په نيت د ثواب او دا ټول موجود شوي (لا لو ضم) خو كه د لا يصوم سره يې يومًا لفظ يا صومًا يو ځاى كړو نو بيا د يو ساعت روژې په نيولو سره نه حانثيږي تر دې پورې چې يوه ورځ روژه پوره كړي ځكه دا مطلق دی او د مطلق رجع فرد كامل ته كيږي چې پوره روژه ده (فان قلتَ) غرض د شارح د دېنه يو اعتراض دی په دې چې په لايصوم كې د يو ساعت روژې په نيولو حانث كيږي.

حاصل دا چې حقيقت شرعي مقدم وي په حقيقت لغوي باندې او دا معلومه خبره ده چې شرعي روژه پوره روژې ته وايي اگر چې اطلاق يې په يو ساعت هم كيږي نو پكار دا ده چې په يو ساعت روژې سره حانث نه شي ترڅو چې پوره روژه ونه نيسي د دې لپاره چې په معنی شرعي باندې حمل شي (قلت) جواب دا دی چې شريعت د يوې ورځې څخه په كم باندې هم د روژې اطلاق كړی دی لكه دې ايت كريمه كې [ثم اتموا الصيام الى الليل] ځكه دلته د صيام څخه د پوره ورځې روژه مراد نه ده، ولې كه د پوره ورځې روژه مراد شي نو بيا د الى الليل څه مقصد شو بلكه مطلقې روژه مراد ده نو صوم تام د يوې ورځې روژه ده نو كله چې داسې ووايي چې (اصومُ يومًا) يا (اصومُ صومًا) نو مراد به په دې سره پوره روژه وي ځكه دا مطلق ده او مطلق په فرد كامل باندې حمل وي.

(وبركعةٍ في لايصلي لا بما دونها ولو ضم صلاة فبشفعٍ لا بأقله وبولدٍ ميتٍ في ان ولدت فانتِ كذا او عتق الحي في ان ولدتِ فهو حر ان ولدَت ميتًا ثم حيًا هذا عندَ ابي حنيفة، واما عندَهما فلا يعتق لان اليمين انحلت بولادة الميت، قلنا لم ينحل لان قوله ان ولدتِ المراد به الحي بقرينة قوله فهو حر فان الميت لا يمكن حريته).

توضيح: كه يو كس ووايي چې زه به مونځ نه كوم كه يو ركعت يې وكړو نو حانث شو (لا بما دونها) خو د يو ركعت څخه په كم باندې نه حانثيږي ځكه دا عرفًا او شرعًا مونځ نه دی (ولو ضم) خو كه د لايصلي سره صلاة لفظ يو ځاى كړي نو بيا يوې شفع يعنې دوه ركعاتو باندې حانثيږي نه په كم باندې، ځكه د صلاةً سره په كامل باندې حمل وي او كامل مونځ دوه ركعاته دی او د دوو څخه كم ته حديث كې بتيراء ويلی شي (وبولدٍ ميتٍ) كه يو كس خپلې ښځې ته وويل چې كه تا بچی راوړو

نو ته دې طلاقه یې نو که مړ بچی یې وزیږو نو هم حانثیږي، یعنې ښځه طلاقیږي ځکه مطلق ولادت موجود شو ځکه مړ بچی هم شرعًا او عرفًا ولادت دی (و عتق الحي) او ژوندی بچی ازادیږي په دې قول کې ان ولدتِ فهوَ حر نو که ښځې مړ بچی وزیږوه بیا ژوندی، یعنې که یو بادار خپلې وینځې ته ووایي که تا بچی راوړو نو دغه دې ازاد وي دغې وینځې اول مړ بچی وزیږوه بیا ژوندی نو دغه ژوندی به ازادیږي او د مړ بچي په پیدا کیدو سره قسم نه ختمیږي ځکه دا قول د مولی چې فهو حر قرینه ده په ولادت د ژوندي باندې ځکه د مړ بچي د حریت امکان نشته، دا د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد، اما د صاحبینو په نزد ژوندی بچی نه ازادیږي ځکه قسم د مړ بچي په پیدا کیدو سره ختم شو (قلنا) مونږ وایو چې د مړ بچي په پیدا کیدو سره قسم نه دی ختم شوی ځکه د مولی دا قول چې ان ولدتِ دی د دې ځخه مراد ژوندی بچی دی، قرینه فهو حر دی ځکه د مړ بچي حریت ممکن نه دی، والله الموفق للسداد.

(وفي ليقضيَن دينه اليوم وقضاهُ زيوفًا اوبنهرجة اومستحقة اوباعهُ به شيئًا وقبضهُ بر، ولو كان مستوقة اورصاصا اووهبه له لا سيجيء في مسائل شتى من كتاب القضاء ان الزيف ما يرده بيت المال والبنهرجة ما يرده التجار والسوقة ما غلب غشه، فالزيف والبنهرجة ما يكون الفضة غالبًا على الغش حتى يكون من جنس الدراهم لكن يُرد للغش وفي المُغرب قيل الزيف دون البنهرجة في الرداءة لانه يرده بيت المال والبنهرجة ما يرده التجار).

بيان الزيف والبنهرجة والستوقة: (و في ليقضين الخ) که قسم وخوري چې زه به د فلاني قرض نن ورځ اداء کوم (و قضاهُ زيوفًا) او زیوف یې اداء کړه، زیوف جمع د زیف ده دېته وایي چې هغه مغشوشه یعنې چې په سپینو زرو کې غش یعنې خلط وي چې تجاران یې اخلي خو بیت المال یې ردوي ځکه بیت المال جدی شئ اخلي (او بنهرجة) یا بنهرجه اداء کړي بنهرجه هغه مغشوشه ده چې بیت المال یې اخلي خو تجاران یې ردوي نو زیف او بنهرجه هغه دي چې سپین زر په غش باندې غالب وي تر دې چې د جنس د دراهمو ځخه دي لکن د غش د وجې رد کولی شي او په مغرب کې کتاب کې راغلي چې بعضې علماء وایي چې زیف په رداءت یعنې کمزوروالي کې د بنهرجه ځخه کم دي ځکه زیف د وجې د نه جودت او کره والي ځخه بیت المال رد کوي او بنهرجه هغه دي چې د وجې د زیات نقصان ځخه تجاران یې رد کوي (او مُستحَقةً) یا حالف هغه شئ اداء کړو چې استحقاق کې ورلی شوی وو یعني یو کس وربانډې دعوه کړي وه چې دا زما ملکیت دی

(او یا ... به شیئًا) او یا دغه مدیون حالف خرڅ کړ په دائن باندې په دغه قرض کې یو شئ (و قبضه)
او بیا ... دغه شی په عوض د قرض کې قبض کړو (بر) نو په دغه ټولو مذکوره صورتونو کې حالف
بري ... حانث نه دی، ځکه زیو او بنهرجه د جنس د دراهمو څخه دي ځکه سپین زر په غشو
... دی او ... غالبو لره دی او د استحقاق صورت کې ځکه چې استحقاق قرض د اداء کول نه
منع کوي ځکه دا تر اجازې د مستحِق پورې موقوف دی که مستحق اجازه وکړي نو قرض ورباندې
اداء کیږي او د بیع په صورت کې ځکه چې قرضونه په همدې شکل اداء کیږي، ځکه اداء د مبیعي
د قرض په عوض کې د قرض اداء کول دي.

(و لو کان) که حالف داین ته ستوقه ورکړه، ستوقه دېته وایي چې په سپینو زرو غش یعنې خلط
غالب وي (او رصاصًا) یا ورته قلعي ورکړي (او وهبه) یا دائن دغه قرض مدیون ته وبښي نو په دې
ټولو صورتونو کې حالف نه بري کیږي بلکې حانثیږي، ځکه د قرض اداء کول رانغلل ځکه
مستوقه او رصاص د جنس د دراهمو څخه نه دي او هبه سره قرض نه اداء کیږي ځکه هبه اسقاط د
قرض دی نه مقاصات نو د قرض اداء کول رانغلل.

(وفی لا یقبض دینه درهمًا دون درهمٍ حنث بقبض کله متفرقًا لا ببعضهِ دون باقیهِ او کله بوزنینِ لم یتخللهما الا عملُ الوزن ولا فی ان کان لی الا مائةٌ فکذا، ولا یملك الا خمسینَ هذا بناء علی ان الاستثناء عندنا تکلم بالباقی بعد الثنیا ولیس الاستثناء من النفی اثباتًا فان قوله ان کان لی الا مائة فکذا معناه لیس لی الا مائة فهو لنفی ما فوق المائة، واما اثبات المائة فغیر لازم عندنا ولا فی لا یشم ریحانًا ان شم وردًا او یاسمینًا لان الریحانَ ما لا ساقَ له والورد والیاسمین لهما ساقا والبنفسج والورد علی الورق ای ورق الورد دون اعجاز الورد التي علیها الورق).

بیان ما لو حلف لا یشم ریحانا: (و في لا یقبض) که قسم وخوري چې زه به خپل قرض نه اخلم (درهمًا دون درهمٍ) یوه یوه روپۍ یعنې جدا جدا (حنث) که ټول قرض یې واخسته جدا جدا نو حانث شو (لا ببعضه دون باقیه) نه حانثیږي په صرف اخستلو د بعضې قرض سره بلکې هلته به حانثیږي چې هغه باقي قرض واخلي خو کله چې یې باقي قرض واخستلو نو حانثیږي (او کله الخ) او همدارنګې نه حانثیږي په دې چې ټول قرض په دوه وزنو واخلي چې د دواړو موزونینو تر مینځ صرف وزن یعنې تلل واقع شي ځکه دا هم تفرقه ده خو ضروري تفرقه ده چې عرف کې دېته تفرقه نه وایي (و لا

(في ان كان) همدارنګه نه حانثیږي په دې صورت کې چې ووایي چې که زما سره وي مګر سل نو زما غلام دې ازاد وي او حال دا دی چې له ده سره نوي مګر پنځوس څکه د قائل مقصد دا دی چې د سلو څخه زیاتي نشته یعني نفي د زیادت کوي او نفي د قلت نه کوي، نو که د سلو یا د سلو څخه د کم مالک وو نو نه حانثیږي اوکه د سلو څخه د زیاتو مالک وو نو حانثیږي دا د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دی، دا ځکه چې استثناء زمونږ په نزد تکلم دی په باقي باندې پس د مستثنی څخه **(ولیس)** او استثناء د نفي څخه اثبات نه دی څکه د دې قول چې ان کانَ لي الامائة فکذا معنی داده چې ماسره نشته مګر سل نو دا نفي د ما فوق المائة شوه څکه مستثنی منه مال دی او دا سلو او زیاتو ته شاملیږي خو استثناء دلالت په نفي د ماسوا د مستثنی څخه کوي ګویا داسې یې وویل چې زه د سلو نه پورته روپیو مالک نه یم که مالک یې یم نو زما غلام دې ازاد وي او اثبات د سلو غیر لازم دی په سلو نه حانثیږي نو په کمو خو په طریقه اولی سره نه حانثیږي **(ولا في لایشم الخ)** که قسم وخوري چې زه به ریحان یعني کشمالي نه بوی کوم نو که ګلاب او یاسمین چې زیړ خوشبوی داره ګل دی بوی کړي نه حانثیږي څکه ریحان کشمالو ده او تنه نه لري او ګلاب او یاسمین تنه لري، خو زمونږ په ساحو کې ریحان هم تنه لري خو البته د هرې ساحې خپل عرف دی **(والبنفسج)** او بنفسه **(والورد)** او ګلاب به حمل وي **(علی الورق)** په پاڼو د ګلابو باندې **(دون اعجاز الورد)** نه په تنه او شاخوا د ګلابو هغه چې په هغې پاڼي وي یعنې که یو کس قسم وخوري چې زه به بنفشه او ګلاب نه اخلم نو که پاڼي د دوی واخستي نو حانثیږي او که ډنډران یعني لختي یې واخستي نو نه حانثیږي، والله الموفق للسداد.

باب الحلف بالقول

باب دی په بیان د قسم کې په هغه څه چې تعلق د تکلم پورې لري

(وحنث فی حلف لایکلمه ان کلمه نائمًا بشرط ایقاظه وفی الا باذنه ای حنث فی حلف لایکلمه الا باذنه ان اذن ولم یعلم به فکلمه لان الاذن اعلام فان اذن ولم یعلم فهذا لایکون اذنًا وعند ابی یوسف لایحنث لان الاذن هو الاطلاق وفی لایکلم صاحب هذا الثوب فباعه فکلمه وفی لایکلم هذا الشاب فکلمه شیخا لان الوصف المذکور لایصلح مانعًا من التکلم فیراد الذات).

وضاحت: که یو کس قسم وخوري چې زه به د فلاني سره خبرې نه کوم نو که د هغه سره یې په داسې حال کې وکړي چې هغه فلاني کس اوده وو او راویښ کړ نو حانث شو او که راویښ یې نه کړو نو نه

حانثيږي (و في الا بأذنه) كه قسم يې وكړو چې زه به دده سره خبرې نه كوم مگر په اجازه دده سره نو كه محلوف عليه اجازه وكړه خوحالف په دې اجازه پوهه نه شو بيا يې ورسره خبرې وكړې نو حالف حانث شو ځكه اذن او اجازه خبرداري دى نو كه اجازه يې وكړه او حالف په هغې پوهه نه شو نو دا اجازه نه شوه كه خبرې ورسره وكړې نو بلا اجازې خبرې راغلې او بلا اجازې خبرې سره حانثيږي ....

خو امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې نه حانثيږي ځكه اذن اطلاق او اباحت دى چې اباحت په اذن سره تماميږي (و في لا يكلم) كه ووايي چې زه به خبرې نه كوم خاوند د دې جامو سره نو هغه كس خپلې جامې په حالف خرڅې كړې بيا حالف ورسره خبرې وكړې نو حانث شو ځكه اضافت د تعريف لپاره وي او وصف لغوه وي نو دده قسم د هغه د ذات پورې تعلق پيدا كړو (و في لا يكلم هذا الشاب) كه قسم يې وكړو چې زه به د دې ځوان سره خبرې نه كوم بيا يې دده سره په داسې حال كې خبرې وكړې چې مشار اليه بوډا وو نو حالف حانث شو، ځكه دغه اوصاف چې صاحب هذا الثوب يا هذا الشاب وي صلاحيت د دې نه لري چې د تكلم څخه مانع شي نو مراد به ذات وي يعنې كه وصف باعث په يمين وو نو وصف به معتبر وي او كه باعث په يمين نه وو نو معتبر به نه وي.

(وفى هذا حران بعته اواشتريته ان عقد بالخيارِ اى قالَ ان بعتهُ فهو حر فباعهُ على انهُ بالخيارِ يعتقُ لانه لم يخرج عن ملكه وقد وجد الشرط وهو البيع ولو قالَ ان اشتريته فهو حر فشراه على انهُ بالخيار اعتق اما على اصلهما فلاَنه دخل فى ملك المشترِى واما على اصل ابى حنيفة فلاَنه علق العتق بالشراءِ فكاَنه قال بعدَ الشراءِ بالخيارِ فهو حر فيعتق).

وضاحت: كه ويې ويل چې كه ما دا غلام خرڅ كړو نو دا دې ازاد وي نو كه خرڅ يې كړو په دې شرط چې بائع ته به خيار وي نو غلام ازاد شو ځكه دا غلام نه دى وتلى د ملك د مولى څخه ځكه خيار د بائع منع كوي وتل د غلام د ملك د مولى نه او شرط موجود شو چې بيع ده او كه داسې يې وويل چې كه ما دا غلام واخستو نو دا دې ازاد وي نو دا غلام يې واخستو په دې شرط چې ماله به خيار وي نو غلام ازاد شو، د صاحبينو په دليل خو ځكه چې دا غلام په ملك د مشتري كې داخل شو او په اصل د امام ابو حنيفه رحمه الله ځكه چې دغه كس عتق معلق كړي تر شراء پورې يعنې كه ما دا غلام واخستو نو ازاد دې وي (فكاَنَهُ) نو گويا دا داسې شو لكه د شراء بالخيارِ څخه وروسته چې ده وويل هو حر نو ازاد شو.

(وفي ان لم ابعه فكذا فاعتق اودبر اي قالَ ان لم ابعه فكذا اي امرأته طالق فاعتق اودبره طلقت امراته لان الشرط و هو عدم البيع قد تحقق و بفعل وكيله في حلف النكاح والطلاق والخلع والعتق والكتابة والصلح عن دم عمد والهبة والصدقة والقرض والاستقراض والايداع والاستيداع والاعارة والاستعارة والذبح وضرب العبد وقضاء الدين وقبضه والبناء والخياطة والكسوة والحمل فان الوكيل في هذه العقود سفير محضٍ حتى ان الحقوق ترجع الى الامر فكأن الآمرَ فعلَ بنفسه).

توضيح: كه يو كس ووايي چې كه ما دا غلام خرڅ نه كړو نو زما ښځه دې طلاقه وي نو دغه حالف دغه غلام ازاد كړو ياي مدبر كړو نو ښځه يې طلاقه شوه ځكه شرط چې هغه عدم بيع ده موجود شو

(و بفعل وكيله) او په فعل د وكيل سره حانثيږي په حلف د نكاح و غيره كې يعنې كه قسم يې وكړو چې زه به نكاح نه كوم اووكيل يې ورته وكړه نو حانث شو، همدارنګې زه به ښځه نه طلاقوم وكيل يې طلاقه كړه زه به خلع نه كوم وكيل يې وكړه زه به غلام نه ازاد وم وكيل يې ازاد كړو زه به عقد كتابت نه كوم وكيل يې وكړو زه به صلح د دم عمد ځخه نه كوم وكيل يې وكړه زه به بلا عوضه هبه نه كوم وكيل يې وكړه زه به صدقه نه وركوم وكيل يې وركړه زه به قرض نه وركوم وكيل يې وركړه زه به قرض نه اخلم وكيل يې واخستو **(والايداع)** زه به امانت نه وركوم چاته وكيل يې وركړو.

(والاستيداع) زه به امانت مال له چا ځخه نه اخلم وكيل يې واخستو **(والاعارة)** زه به سوالي شئ نه وركوم چاته وكيل يې وركړو **(والاستعارة)** زه به سواكلي شئ له چا ځخه نه اخلم وكيل يې واخستو **(والذبح)** زه به حيوان نه حلالوم خو وكيل يې حلال كړو **(و ضرب العبد)** زه به غلام نه وهم خو وكيل يې ووهه **(و قضاء الدين)** زه به قرض نه اداء كوم خو وكيل يې اداء كړو **(و قبضه)** زه به قرض نه قبضوم خو وكيل يې قبض كړو **(والبناء)** زه به ابادي نه كوم خو وكيل يې وكړه **(والخياطة)** زه به جامې نه ګندم خو وكيل يې وګندلې **(والكسوة)** زه به جامې نه اغوندم خو وكيل يې ورواغوندلې **(والحمل)** زه به بار نه وړم خو وكيل په دې عقودو كې سفير محض وي ترې تر دې چې حقوق آمر ته راجع كيږي لكه مثلا مهر وركول نفقه وركول په نكاح كې و غيره نو ګويا چې آمر پخپله دغه كارونه كړي دي.

(لافي حلفِ البيعِ والشراءِ والاجارةِ والاستيجارِ والصلحِ عن مالِ الخصومةِ والقسمةِ وضرب الولد لان العقدَ صدر من الوكيلِ حتى ان الحقوق ترجع اليه ولم يصدر من المؤكل فلا يحنث والفرق بين ضرب

العبد وضرب الولد ان الضرب فعل حسي لاينتقل من احدٍ الى آخر الا اذا صح التوكيل وصحت التوكيل يكون في الاموال فيصح في العبدِ دون الولد).

وضاحت: (لا في حلف) نه حانثيږي په فعل د وكيل سره په دې شيانو كې ځكه دا پخپله كولى شي او وكيل يې نسبت خان ته كوي نو د وكيل فعل د آمر فعل نه دى مثلا قسم وخوري چې زه به بيع نه كوم وكيل يې وكړي (والشراء) زه به اخستل نه كوم وكيل يې وكړي (والاجارة) زه به په اجاره دا شئ نه وركوم (والاستيجار) زه به په اجاره شئ نه اخلم وكيل يې واخلي (والصلح على مالٍ) زه به صلح د مال څخه نه كوم وكيل يې وكړي (والخصومة) زه به خصومت نه كوم له چاسره وكيل يې وكړي (والقسمة) زه به تقسيم نه كوم خو وكيل يې وكړو (و ضرب الولد) زه به بچى نه وهم نو حالف نه حانثيږي ځكه عقد د وكيل څخه صادر شوى تر دي چې حقوق لكه تسليم د ثمن د مبيعې په بيع كې وغيره وكيل ته راجع كيږي او د موكل څخه نه دى صادر شوى (والفرق) او فرق په مابين د وهلو د غلام كې او د وهلو د بچي كې چې اول كې موكل حانثيږي په فعل د وكيل سره په دويم كې نه هغه دا چې ضرب فعل حسي دى يعنې په حس سره د دې ادراک كولى شي (لا ينتقل) نه منتقل كيږي د يو كس څخه بل ته بلكه نسبت يې مباشر ته كيږي مگر هلته منتقل كيږي چې توكيل صحيح شي او صحت د توكيل په اموالو كې راځي نو په عبد كې هم توكيل د ضرب صحيح كيږي نه په ولد كې ځكه عبد مال دى نه ولد.

(ولا في لايتكلم فقرأ القرآنَ اوسبح اوهلل اوكبر في الصلاة اوخارجها هذا عندنا فانهُ لايسمى متكلمًا عرفًا وشرعًا وعند الشافعي رحمه الله يحنث وهو القياس لانه كلام حقيقة ويوم أكلمه على الملوين قال لامرأته انت طالق يوم اكلم فلانًا فهو علَى الليلِ والنهارِ لما مر في باب ايقاع الطلاق ان اليوم اذا قرن بفعل غير ممتدٍ يراد به مطلق الوقت وصح نية النهارِ لانه مستعمل فيه ايضًا، وعند ابي يوسف يصدق ديانة لاقضاء لانه خلاف المتعارف وليلة اكلمه على الليل).

توضيح: كه قسم وخوري چې زه به خبرې نه كوم (فقرأ القرآن) نو قرآنكريم يې ولوست (او سبح) يايې سبحان الله ووېل (او هلل) يايې لااله الاالله ووېله (او كبر) يايې الله اكبر ووېل په مانځه كې يا خارج د مانځه څخه نو نه حانثيږي زمونږ په مذهب باندې ځكه دا اذكار اگر چې لغةً كلام دى خو عرفًا او شرعًا كلام نه دى (و عندَ الشافعي) او امام شافعي رحمه الله وايي چې په دې الفاظو

سره حانثيږي او قياس هم دا تقاضا کوي چې حانث دې شي ځکه دا حقيقةً کلام د ی **(و يوم اکلمه)** که ښځې ته ووايي چې ته دې طلاقه يې په کومه ورځ چې زه د فلاني سره خبرې کوم **(علی الملوين)** نو دا به حمل وي په شپه او ورځ باندې لکه په باب د ايقاع الطلاق کې تير شوی چې يوم کله د فعل غير ممتد سره يو ځای شي نو مراد په يوم سره مطلق وخت به وي **(و صح نية النهار)** خو که د ورځې نيت يې کړی وو بيا هم صحيح ده ځکه يوم په نهار کې هم استعمال شوی دی.

(و عند ابي يوسف) د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد به دده تصديق کولی شي ديانةً لا قضاءً يعنې مفتی به اعتبار ورکوي نه قاضي ځکه د يوم استعمال په نهار کې چې کله د فعل غير ممتد سره مقترن وي غير متعارف وي **(و ليلة اکلمه)** که داسې ووايي چې که ما د شپې د فلاني سره خبرې وکړې نو زما غلام دې ازاد وي نو دا به حمل وي په شپه باندې نو که د ورځې يې ورسره خبرې وکړې نو نه حانثيږي ځکه ليل په نهار کې نه ا ستعماليږي.

(والا ان للغاية کحتّٰی ففی ان کلمته الا ان يقدم زيدًا وحتی حنث ان کلمه قبل قدومه وفی لا يکلم عبده او صديقه او امراته او لا يدخل داره ان زالت اضافته و کلمه لا يحنث فی العبد اشار اليه بهذا اولا وفي غيره ان اشار بهذا يحنث والا فلا).

بيان حتی و الا ان: او الا ان د غايه لپاره راځي لکه حتی چې د غايه لپاره راځي **(ففي ان)** نو په دې صورت کې چې ان کلمت بکراً الا ان يقدم زيد او ان کلمت بکراً حتی يقدم زيد فعبدي حر کې که د زيد د قدوم او راتک څخه مخکې خبرې وکړي نو حانثيږي **(و في لا يکلم عبده)** که قسم وخوري چې زه به د فلاني د غلام سره خبرې نه کوم يا د دوست د هغه سره يا د ښځې د هغه سره يا به نه داخليږم کور د فلاني ته **(ان زالت اضافته)** که نسبت د غلام يا دوست يا ښځې د کور د فلاني څخه ختم شو مثلا غلام يې ازاد کړو بيا خو يې نسبت ده ته کيږي يا يې ښځه طلاقه کړه نو بيا خوئي ده ته نسبت نه کيږي چې د فلاني ښځه يا يې دوست سره دشمني شروع کړه نو بيا خو داسې نه شي ويلی چې د فلاني دوست يا يې کور خرڅ کړو نو بيا خويې ده ته نسبت نه کيږي **(و کلمه)** او خبرې يې ورسره وکړي نو په غلام کې نه حانثيږي په هذا سره يې ورته اشاره کړي وي او که نه، يعنې داسې ووايي چې لا يکلم عبدَ فلانٍ يا لا يکلمُ عبد فلانٍ هذا، نو په دواړو صورتونو کې چې اضافت يې ختم شو **(اي لم يبقَ عبدًا له)** يعنې دده غلام پاتې نه شو **(اما اذا لم يشر)** په هغه صورت کې چې اشاره يې ورته کړې نه وي ځکه نه حانثيږي

چې دده غلام پاتې نه دی او حالف ويلي وو چې زه به د فلاني د غلام سره خبرې نه کوم (و ان اشار) او د اشارې په صورت کې ځکه حانث نه دی چې د غلام د کمې مرتبې په وجه د غلام د ذات سره څوک دشمني نه کوي بلکې د يوې معنی د وجې نه چې په مضاف اليه کې وي چې هغه د غلام بادار دی (فالاضافة) نو نسبت به معتبر وي خو کله چې دغه نسبت ختم شي نو نه حانثيږي (و ان حلف لا يكلم صديق فلان) او که قسم يې وخوړ چې زه د فلاني د دوست سره خبرې نه کوم يا لا يكلمُ صديق فلانٍ هذا ، يا قسم وکړو چې لايدخلُ دار فلانٍ يا دار فلانٍ هذا (فلم يبقَ) د فلاني د خپل دغه دوست سره دوستي ختمه شوه او کورېې خرڅ کړو بيايې د فلاني سره خبرې وکړې او کور ته داخل شو نو عدم اشارې په صورت کې نه حانثيږي ځکه نسبت معتبر وو نو کله چې نسبت ختم شو نو نه حانثيږي او د اشارې په صورت کې حانثيږي ځکه دغه شيان چې دار او صديق دي ممکن ده چې لذاتها پرېخودلی شي، يعني قطع لحاظ د دې څخه چې د فلاني دوست دی يا د فلاني کور دی نو کله چې ذات معتبر شو نو وصف چې هغه نسبت کيدل دي فلاني ته په حاضر کې لغوه دی.

(وحينَ وزمان بلا نية نصف سنة نكر اوعرف لقوله تعالى [تؤتي أُكُلَها كل حينٍ بأذن ربها] ومعها ما نوى، والدهر لم يُدر منكرًا قال ابو حنيفة لا ادری ما الدهر، وعندهما نصف سنة مثل لا اكلم حينًا و للابد معرفا واياما منكرة ثلاثة واياما كثيرة والايام والشهور والسنون عشرة).

بيان الحين والزمان والدهر: او حين او زمان بلا نيته به په نيم کال حمل وي نکره وي که معرفه وي يعني که قسم يې وخوړ چې زه به د فلاني سره خبرې نه کوم حين يا زمان **(لا اكلمهُ الحينَ او الزمانَ)** يا **(لا اكلمه حينًا او زمانًا)** او د يو مقدار معين نيت يې نه وو نو دا حين او زمان معرفه وي که نکره وي حمل به وي په شپږ مياشتو، ځکه عبد الله بن عباس د دې ايت تفسير [تؤتِي اكلَها كل حينٍ باذنِ ربها] په شپږو مياشتو کړی دی **(و معها ما نوى)** او که د يو مقدار معلوم نيت يې کړی وو نو نيت يې صحيح دی او په همغې به حمل وي **(والدهر لم يُدر)** او د دهر لفظ چې نکره ذکر کړی شي يعني داسې ووايي چې **(ان صمتُ دهرًا)** او هيڅ نيت يې نه وو نو د صاحبينو په نزد دا به د حين په شان په شپږو مياشتو حمل وي يعني که شپږ مياشتې روژه يې ونيوله پرله پسې وي که جدا نو دا به حانث وي خو امام ابو حنيفه په دهر کې چې نکره وي توقف اختيار کړی ده او ده ويلي چې زه نه پوهيږم چې دهر څه شئ دی.

(وللابدِ معرفًا) خو که دهر معرفه ذکر شوی وو لکه ان صمت الدهرَ نو بيا په ابد حمل دی او ايام

چې نکره ذکر شي مثلا (ان صمت ایاما) نو دا به په درې ورځو حمل وي، او ایام کثیرة یا الایام یا الشهور یا السنون دا به حمل وي په لسو باندې یعنې هر صنف به په لسو حمل وي یعنې لس ورځې لس میاشتې لس کاله.

(وفی اول عبد اشتریه حر ان اشتری عبدًا اعتق ای لایحتاج لاولیته الی شراء عبد آخر وان اشتری عبدین ثم آخر فلا اصلًا لان الاول فرد لایکون غیره من جنسه سابقًا علیه ولا مقارنًا له ولم یوجد فان ضم وحده عتق الثالث ای قال اول عبدٍ اشتریته وحده حر فاشتری عبدین ثم آخر عتق الثالث لانه اول عبدٍ شراه وحده).

توضیح: که ووایي چې که اول غلام چې ما واخسته نو هغه دې ازاد وي که غلام یې واخسته نو هغه ازادیږي ځکه اول نوم د فرد سابق دی او هغه موجود شوی او د دې د اولیت لپاره د بل غلام اخستلو ته ضرورت نشته (و ان اشتری) او که دوه غلامان یې واخستل بیا بل نو یو هم نه ازادیږي ځکه اول هغه فرد ته وایي چې هغه غیر چې د جنس ددهٔ څخه وي نه مقدم وي په ده او نه ورسره مقارن وي او اول په دې معنی دلته موجود نه شو (فان ضم وحده) او که د دې سره یې وحده لفظ یو ځای کړو یعنې داسې وویل چې (اولُ عبدٍ اشتریته وحده فهو حر) نو بیا یې دوه غلامان واخستل بیا دریم نو دریم ازاد شو (لانه) ځکه دا دریم اول هغه غلام دی چې ځانته ئې واخستو.

(وفی آخرِ عبدٍ ان اشتری عبدًا فماتَ لم یعتق قال آخر عبد اشتریته حر فاشتری عبدًا فماتَ المشتری لایعتق هذا ولا یتوهم انه اذا مات یکون ذلکَ العبد آخرًا لان الآخر لا بد له من اول ولم یوجد فان اشتری عبدًا ثم آخر ثم مات عتق الآخر یومَ شری من کل ماله وعندهما یوم مات من ثلثه لان الاُخریة تحققت بالموت فیعتق عند الموت من ثلث ماله وله ان بالموت تبین انه کان اخر عند الشراء فیعتق فی ذلک الوقت).

توضیح: (و في آخر) په مدد همزې سره او په کسرې د خاء معجمه سره فرد لاحق ته وایي او آخر په فتح د خاء معجمې سره په سابق او لاحق هر یو باندې اطلاق کیږي، یعنې یو کس وویل چې که آخر غلام ما واخستو نو هغه دې ازاد وي نو یو غلام یې واخستو بیا حالف مړ شو نو دغه غلام نه ازادیږي (و لا یتوهم) دا دفع د یو اعتراض ده چې حالف کله غلام واخستو او بیا مړ شو نو دا غلام خو آخر غلام دی نو پکار ده چې ازاد شي (لان الآخر) دا جواب دی چې ځکه نه ازادیږي چې د آخر

لپاره اول ضروري دی او دلته نشته **(فان اشترٰی)** خو که يو غلام يې واخستو بيا يې بل واخستو بيا حالف مړ شو نو دغه وروستنی ازاد شو **(يوم شرٰی)** يعنې د اخرني غلام د عتق حکم به د حالف د مرګ څخه وروسته په ورځ د اخستلو به کيږي خو چونکې چې ورځ د اخستلو زمانه د صحت وه نو دا غلام به د ټول مال څخه ازاديږي اګر که قيمت د غلام د ثلث څخه زيات وي ځکه د عتق اقتصار په ثلث مال باندې په هغه عتق کې کيږي چې عند الموت وي نه مخکې.

(و عندهما) او صاحبين وايي چې دده د عتق حکم به په هغه ورځ کيږي چې حالف مړ شو او د ثلث مال څخه به وي ځکه آخريت په مرګ سره ثابت شو نو عند الموت به د ثلث مال څخه ازاديږي **(وله ان بالموت)** خو امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې په مرګ سره صرف ښکاره دا شو چې دا اخرنی دی په وخت د شراء کې نو په وقت د شراء کې ازاد شو.

(ولا يصير الزوج فارًّا لو علق الثلث به خلافًا لهما والضمير فی به يرجع الی الآخر، وصورة المسئلة رجل قال آخرُ امرأةٍ اتزوجُها طالق ثلاثًا فتزوج امرأة ثم اخرٰی ثم ماتَ طلقت عند ابی حنيفة عند التزوج فلا يصيرُ فارًّا فلا ترثُ عندهُ وعندهما تطلق عندَ الموتِ فيصيرُ فارًّا فترثُ).

وضاحت: که خاوند چيرته درې طلاقه معلق کړل تر آخر پورې يعنې داسې ووايي چې آخر امراة اتزوجها طالق ثلاثا، يعنې اخرنی ښځه چې زه يې په نکاح کوم هغه دې په درې طلاقو طلاقه وي نو يوه ښځه يې وکړه بيايې بله وکړه بيا دغه خاوند مړ شو نو دغه دويمه ښځه بالاتفاق طلاقه شوه، ځکه د خاوند په مرګ سره په ديکې صفت د آخريت موجود شو، خو اختلاف په ديکې دی دلته چې ايا طلاق په دې ښځه د خاوند د مرګ سره واقع کيږي او که په وخت د نکاح کولو کې ورباندې حکم کيږي، نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دې باندې حکم د طلاقو په وخت د نکاح کولو کې کيږي نو خاوند په دې سره فار بالطلاق نه ګرځي.

فار بالطلاق دېته وايي چې خاوند په طلاقو سره ښځه د ميراث څخه محرومه کوي نو چې کله خاوند فار بالطلاق ونه ګرځيده نو ښځه ميراث هم نه شي وړلی، او صاحبين وايي چې د خاوند د مرګ سره طلاقيږي نو خاوند فار بالطلاق وګرځيده نو دغه ښځه دده د ترکې څخه ميراث وړلی شي.

(وبکل عبدٍ بشرنی بکذا فهو حر عتق اول ثلاثةٍ بشروه متفرقين والکل ان بشروه معًا وسقط بشراء ابيه لکفارته هی ای الکفارة هذا عندنا، واما عند زفر والشافعی لا تسقط فالحاصل ان النية لا بد ان تکون مقارنة لعلة العتق فهما جعلا القرابة علة العتق والملک شرطًا ونحنُ جعلنَا علی العکسِ لان الشرع جعل

شراء القريب اعتاقًا فاذا اشترى اباه بنية الكفارة كانت النية مقارنة لعلة العتق وعندهما لا حيث جعلا القرابة علة).

تشريح: (**و بكل عبدٍ**) كه يو كس ووايي چې هر غلام چې ماته د خوى مثلا زيرى راكړو نو دغه غلام دې ازاد وي (**عتق اول الخ**) كه درې كسانو هر يو جدا جدا زيرى وركړو نو اول د دې دريو ځخه ازاد شو (**والكل**) او كه درېواړو يو ځاى زيرى وركړو نو ټول ازاد شول (**و سقط**) سقط فعل دى (**و هي**) يې فاعل دى يعنې كه يو كس خپل پلار د كفارې د اداء كولو لپاره واخلي نو زمونږ په مذهب كفاره ترې ساقطيږي خو امام زفر او امام شافعي رحمهما الله وايي چې د ذي محرم په اخستلو كفاره نه ساقطيږي (**فالحاصل**) حاصل دا چې نيت د عتق د كفارې ځخه ضروري دى چې د علت د عتق سره پيوسته وي (**فهما**) نو امام زفر او امام شافعي رحمهما الله قرابت او خپلولي علت د عتق ګرځولى او ملك يې شرط ګرځولى، ځكه شراء سره اثبات د ملك راځي او اعتاق سره ازاله د ملك راځي او د دواړو تر مينځ منافات دى نو شراء علت د عتق نه كيږي بلكه علت د عتق قرابت محرميه دى او شراء ورته شرط وى نو كله چې يې يو خپلوان په نيت د كفارې واخستو نو دا د كفارې ځخه نه صحيح كيږي ځكه دلته نيت د علت د عتق سره پيوسته نه شو بلكې د شرط سره پيوسته شو (**و نحنُ جعلنا**) خو مونږ احنافو د دوى په عكس ګرځولى يعنې زمونږ په نزد شراء د قريب علت د عتق دى او قرابت ورته شرط دى (**لان الشرع**) ځكه شريعت شراء د قريب اعتاق ګرځولى لكه دې حديث شريف كې ورته اشاره شوې [لن يجزي ولد والده الاان يجده مملوكًا فيشتريهِ فيعتقه ـ اخرجه مسلم] نو كله چې يې خپل پلار په نيت د كفارې واخستو نو نيت مقارن شو د علت د عتق سره چې هغه شراء ده، نو كفاره ساقط شوه او پلار يې ازاد شو (**و عندهما**) خو امام زفر او امام شافعي رحمهما الله وايي چې كفاره نه ساقطيږي ځكه دوى قرابت علت د عتق ګرځولى او دلته نيت مقارن د شرط سره شو نه د علت سره.

(لا بشراء عبدٍ حلف بعتقهِ اي قال ان اشتريتُ هذا العبد فهو حر فشراهُ بنية الكفارة لا تسقط الكفارة لان علة العتق اليمين والشراءُ شرط له فلا تكون النية مقارنة للعلة يرد عليه انه قد ذكر في اصول الفقه ان التعليق عندنا يمنع العلية فاذا وجد الشرط يصير المعلق علةً حينئذٍ فتكون النية مقارنة لعلة العتق).

توضيح: (لا بشراءٍ) کفاره نه ساقطيږي په اخستلو د هغه غلام سره چې د هغه په عتق باندې يې قسم خوړلی وي يعنې يو کس ووايي که ما دغه غلام واخستلو نو دا دې ازاد وي نو دغه غلام يې په نيت د کفارې واخستلو نو کفاره نه ساقطيږي ځکه دلته علت د عتق يمين يعنې تعليق دی او شراء ورته شرط دی نو نيت مقارن د علت سره نه شو بلکې مقارن د شرط سره شو چې هغه شراء ده **(يرد عليه)** غرض د شارح د دېنه يو اعتراض دی هغه داسې چې تعليق زمونږ په نزد علت منع کوي يعنې جزاء د دې ځخه منع کوي چې علت شي د حکم لپاره، مثلا **(ان دخلتِ الدار فانت طالق)** نو انت طالق علت دی د وقوع د طلاقو لپاره نو که تعليق يعنې ان دخلت الدار نه واى نو انت طالق به في الحال علت وو د وقوع د طلاقو لپاره خو دا تعليق مانع شو د علتيت ځخه خو کله چې شرط موجود شو نو جزاء علت ګرځي د حکم لپاره نو په دې ځای کې چې کله ووېل **(ان اشتريت هذا العبد فهو حر)** نو عتق يې معلق کړو تر شراء پورې نو يمين علت نه شو د حکم لپاره بلکې هو حر يې منع کړو د دې ځخه چې علت شي د عتق لپاره او هلته به هو حر علت جوړيږي چې شرط موجود شي چې هغه شراء ده او نيت د کفارې مقارن شو د شراء سره نو دا مقارن شو د علت د سره او نيت چې مقارن د علت شي نو پکار ده چې کفاره ساقط کړي.

(ومستولدةٍ بنكاحٍ علق عتقها عن كفارته بشرائها قوله ومستولدة بالجر عطف على عبدٍ اى ولابشراء مستولدةٍ وصورتها ان يقول لامةٍ استولدها بالنكاح ان اشتريتك فانت حرة عن كفارة يمينى فاشتراها تعتق لوجود الشرط ولا يجزيه عن الكفارة لان حريتها مستحقة بالاستيلاد).

وضاحت: **(و مستولدةٍ الخ)** او کفاره نه ساقطيږي په اخستلو د مستولدې سره چې مستولده په نکاح وي داسې مستولده چې معلق کړي وي عتق د دې د کفارې ځخه په اخستلو د دې پورې، مستولده د استيلاد ځخه ده يعنې هغه وينزه چې په نکاح سره ام ولده ګرځول شوي وي هغه داسې چې د بل کس وينزه په نکاح کړي او د هغې ځخه يې بچی پيدا شي نو دا ام ولده په نکاح سره وګرځيده نو که دغې وينزې ته يې ووېل که ته ما واخستې نو ته د ې ازاده يې زما د قسم د کفارې ځخه يا د کفارې د ظهار ځخه مثلا، نو بيا ئې دغه وينزه واخستله نو دا ازاده شوه د وجې د وجود د شرط ځخه چې شراء ده خو کفاره ترې نه ساقطيږي ځکه د دې په رق کې نقصان دی **(لان حرمتها)** ځکه دغه وينزه مستحقه د عتق ګرځيدلې ده په استيلاد سره يعنې په استيلاد سره ام ولده د بادار د مرګ ځخه وروسته ازاديږي نو د کفارې ځخه نه ازاديږي او د کفارې لپاره رق کامل ته ضرورت دی او په ام ولده کې رق ناقص وي.

(وتعتق بأن تسريت امةً فهي حرة مَن تسراها وهي ملكه يوم حلف لا من شراها فتسراها لان هذه الامة لم تكن في ملكه زمان الحلف ولم يضف عتقها الى الملك اوسببه وفيه خلاف زفر رحمه الله وبكل مملوكٍ لِي حر امهات اولادهِ ومدبروه وعبيده لا مكاتبه الا بنيتهم لانه لا يملكهم يدًا وبهذا حر اوهذا وهذه لعبيده عتق ثالثهم وخير في الاولين كالطلاق كأنه قال احدهما حر وهذا، فان قلت بل هو كقوله هذا حر اوهذا ن قلت قد اجبتُ عنه في شرح التنقيح بجوابين فان شئتَ فطالعهُ).

وضاحت: **(تعتق)** فعل دی **(من تسراها)** فاعل د عتق، تسري باب تفعل دی او خاصيت يې اتخاذ دی د سرية څخه دی او سريه يا د سرور څخه دی ځکه وينزه په دې حالت خوشحاليږي او مولی هم په دې خوشحاليږي، او يا د سِر څخه دی نو سر بيا په دوه معانو راځي: ۱.جماع ځکه د دې سره هم پټ والی لازم وي، ۲.ضد د جهر نو دا وينزه هم کله د نورو اصيلو ښځو څخه پټه وي او معنی د تسري د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد دا وه چې وينزه د ځان سره وساتي او د جماع کار تې اخلي باقي مني پکې غورځوي او که عزل کوي، او د امام ابو يوسف او امام شافعي رحمهما الله قول دا دی چې د دې سره به وطی کوی خو عزل به تري نه کوي [فتح القدير ۱۵۷ـ۱۵۶/۵].

نو خلاصه دا ده چې که داسې وويل چې که ما وينزه سريه کړه نو هغه دې ازاده وي نو هغه وينزه ازاديږي چې بادار سريه ګرځولې وي **(و هي ملکه)** خو په داسې حال کې چې د قسم په ورځ دده په ملکيت کې وي **(لا من سراها)** خو هغه وينزه نه ازاديږي چې وای اخلي او بيا يې سريه ورګرځوي ځکه دغه وينزه د قسم په وخت کې دده په ملکيت نه وه او نه حالف د دې د عتق نسبت ملک ته يا سبب د ملک ته کړی دی **(و فيه خلاف زفر)** امام زفر وايي چې تسري نه صحيح کيږي مګر په ملک کې نو ذکر د تسري ذکر د ملک دی ګويا چې ده ملک ذکر کړی دی خومونږ دده په جواب کې وايو چې د صحت د تسري لپاره شرط دا دی چې ملک به صراحةً مذکور وي او د ملک په نشتوالي سره تسري هم نه صحيح کيږي **(و بکل مملوکٍ)** که داسې ووايي چې هر مملوک چې زما وي نو هغه د ازادوي نو په دې سره ازاديږي ام ولدې دده او مدبرين دده او نور غلامان او وينزې دده، خو مکاتبين پکې نه داخليږي، ځکه ملک په ام ولده مدبر او وينزو او غلامانو کې کامل دی اګر چې رق په ام ولده او مدبر کې ناقص دی ځکه دوی دواړه مستحق د عتق ګرځيدلي دي پخلاف د مکاتب سره چې ملک په مکاتب کې ناقص دی ځکه مکاتب رقبةً مملوک وي خو يداً

مملوک نه وي ځکه په تصرف کې مستقل وي نو په مملوک کې نه داخلیږي مګر که نیت د مکاتب وکړي نو بیا پکې داخلیږي

(و بهذا) که داسې ووایي چې هذا حر او هذا حر و هذه لعبیده نو دا دریم به ازاد وي او په دوه اولینو کې اختیارمند دی لکه د طلاقو په شان چې ښځې ته ووایي هذه طالق او هذه و هذه نو دریمه طلاقیږي او په اولینو دواړو کې اختیارمند دی (کأنه) ګویا چې داسې یې وویل چې احدهما حر و هذا (فان قلت) که ته داسې ووایي چې داسې دې شي لکه هذا حر او هذان نو بیا به اختیار لازم شي په مابین د اول او دوه وروستنیو کې (قلت) شارح وایي چې ما د دې ځخه په شرح د تنقیح کې یعني توضیح کې دوه جوابه کړي وو: چې حمل د دې الفاظو په دې قول باندې چې احدهما حر و هذا په دوه وجهو اولی دی: ۱۔ دا چې د دې تقدیر داسې راځي چې احدهما حر و هذا حر نو لفظ د حر په معطوف علیه کې ذکر دی نو په معطوف کې به مضمر شي او داسې به وویل شي چې هذا حر و وهذا، ۲۔ دا چې دا قول چې او هذا مغیر دی د معنی د دې قول لپاره چې هذا حر دی بیا وروسته دا قول چې و هذا غیر مغیر دی د ماقبل لپاره ځکه واو د تشریک لپاره دی نو اول به موجود شي او موقوف به شي تر مغیره پورې نو اختیار به ثابت شي په مابین د اول او ثاني کې بې له توقف ځخه تر ثالثه پورې، نو معنی دا شوه چې احدهما حر بیا دا قول چې هذا دی دا عطف دی په احدهما باندې، والله الموفق للسداد.

(ولام دخل علی فعل یقع من غیره کبیع وشراء واجارة وخیاطة وصیاغة وبناء یقتضی امره لیخصه به فلم یحنث فی ان بعت لك ثوبا فعبده حر ان باعه بلا امره ملکه اولا، اراد بدخوله علی فعل تعلقه به ففی قوله ان بعت لك ثوبا فعبده حر فاللام متعلق بالبیع فیقتضی اختصاص البیع بالمخاطب والفعل لا یختص بغیر الفاعل الا بالامر ای التوکیل فلهذا اقتضی الامر).

بیان دخول اللام علی فعل: (و لام) دا مبتدا ده یقتضي امره یې خبر دی او مراد دخول د لام ځخه دا دی چې د فعل او مفعول تر مینځ واقع شي یعني تعلق د فعل پورې لري نو هغه لام چې داخل شي په هغه فعل باندې چې واقع کیږي د غیر ځخه یعني چې نیابت پکې صحیح کیږي لکه خرڅول اخستل اجاره خیاطي یعني ګنډل (صیاغة) زرګري (و بناء) اباديي جوړول نو دا لام تقاضا د امر د غیر کوي (لیخصه) د دې لپاره چې فائده کړي دغه لام اختصاص د دغه فعل (به) د دغه غیر پورې (فلم یحنث) نو اوس که یو کس زید ته مثلا ووایي چې که ما تالره جامه خرڅه کړه نو زما غلام دې ازاد وي نو که دغه کس د

زيد جامه بغير د امر د زيد څخه خرڅه کړه (ملکه او لا) زيد د دې جامې مالک وي او که نه، نو دغه حالف نه حانثيږي، يعني دده غلام نه ازاديږي (فاللام) نو لام متعلق دی د بيع پورې نو دا تقاضا د اختصاص د بيع کوي د مخاطب پورې چې زيد دی او فعل نه خاص کيږي د غير فاعل پورې مګر په امر يعني توکيل يعنې په وکالت ورکولو سره، نو همدا وجه ده چې تقاضا د امر کوي.

(وان دخل على عينٍ اوفعلٍ لايقعُ عن غيره كأكل وشربٍ ودخولٍ وضرب الولد اقتضى ملكه فحنث ان بعت ثوبًا لك ان باعَ ثوبه بلا امره هذا نظير الدخول على العين وهو الثوب اما نظير دخوله على فعل لا يقع عن غيره فقوله ان اكلت لك طعامًا او شربت لك شرابًا اقتضى ان يكون الطعام والشرابُ ملك المخاطب كما في قوله ان اكلت طعامًا لك فانه وان كان متعلقًا بالاكل صورةً فهو في المعنى متعلق بالطعام واما ضرب الولد نحو ان ضربت لك الولد فعبده حر فاقتضاء الملك فيه غير ممكن الا ان يراد بالملك الاختصاص).

حكم دخول اللام على عين او فعل: مخکې د هغه فعل بيان وو چې نيابت پکې د غير څخه صحيح کيده او تقاضا د اختصاص د فعل کوله د مخاطب پورې اوس د هغه فعل بيان دی چې نيابت پکې نه صحيح کيږي نو که لام داخل شي په عين باندې يعنې ذات باندې لکه ان بعت ثوبا لک يا په هغه فعل باندې چې نيابت پکې نه صحيح کيږي لکه ان اکلت لک طعامًا او شربت لکه شرابًا يا دخلت لک بيتًا يا ضربت لک ولداً (اقتضى) دا تقاضا د دې کوي چې دغه عين ملک د مخاطب دی نو د دې په فعل به حانث کيږي برابره خبره ده چې د مخاطب په امر سره وي او که بلا امره وي، نو که اوس يې ويلي وو چې ان بعت ثوبًا لک نو که د مخاطب جامه يې بلا امره خرڅه کړه نو هم حانثيږي (هذا) دغه مثال چې ان بعتُ ثوبًا لک دا د عين مثال دی چې ثوب دی او د هغه فعل مثال چې نيابت پکې نه صحيح کيږي دا دی ان اکلتُ لک طعامًا او شربتُ لک شرابًا نو دغه لام تقاضا د ملک د مخاطب کوي نو په ان اکلتُ طعامًا لکَ کې دغه لام اګر چې په اعتبار د ظاهر سره د اکل پورې تعلق لري خو په اعتبار د معنى سره د طعام پورې تعلق لري نو معنى به داسې شي چې ان اکلت طعامًا موصوفًا بکونه لکَ اي مملوكًا (و اما ضرب الولد) شارح وايي چې په ان ضربت لک الولد فعبده حر کې اقتضاء د ملک غير ممکن ده ځکه په ضرب د ولد کې توکيل راتللی شي (الا ان يراد) مګر هلته تقاضا د ملک کوي چې د ملک څخه مراد اختصاص شي نو بيا پکې توکيل نه صحيح کيږي.

(وفی کل عرسٍ لی فکذا بعد قول عِرسه نکحتَ علی طُلقت هی وصح نیة غیرها دیانةً فانه قال هذا الکلام ارضاءً لها فیکونُ المراد غیرها لا هیَ لکن هذا خلاف الظاهر لان کلا کلمة العموم فلا یصدق قضاء).

تتمة البیان فی کتاب الایمان: (و فی کل عرسٍ) عرس ښځې ته وایي که یوه ښځه خپل خاوند ته ووایي چې تا خو ما باندې بله ښځه کړې ده او خاوند جواب کې ورته ووایي چې (کل عرسٍ) هره ښځه چې زما وي نو هغه دې طلاقه وي نو همدغه ښځه یعنې کومه ښځه چې باعث د قسم شوه هغه هم طلاقه شوه خو که خاوند ووېل چې زما نیت د بلې ښځې وو یعنې د دې ښځې ځخه ماسوا که ما بله کړې وي نو هغه دې طلاقه وي، نو دا نیت یې هم دیانةً صحیح دی (فانه قال) ځکه نو د کل عرس ځخه مراد به بله ښځه وي نو دا موجوده ښځه خو لکن دا خبره خلاف الظاهر ده یعنې د زړه خبره ده ځکه کلمه د کل د عموم لپاره راځي نو قضاء به دده تصدیق په بله ښځه کې نه شي کولی.

کتاب الحدود

(الحدُ عقوبة مقدرة یجبُ حقًا اللهِ تعالی)

دا کتاب دی په بیان د حدوداتو کې، مصنف رحمه الله چې هرکله د بیان د قسمونو او د کفارې د دې ځخه فارغ شو نو شروع یې وکړه په جزاګانو د عقوبات محضو کې، نو حدود جمع د حد ده، حد په لغت کې منع کولو ته وایي، او په شریعت کې (هو العقوبة المقدرة حقًا لله تعالی) عقوبت د ګناه د جزاء نوم ته وایي، نو حد هغه عقوبت مقدره دی یعنې دې لره یوه خاصه اندازه شته چې واجب دی لپاره د حق د الله تعالی (فلا تعزیر الخ) نو تعزیر او قصاص حد نه دی ځکه چې تعزیر کې اندازه معلومه نشته او قصاص ځکه نه دی چې دا حق د ولي د قصاص دی چې هغه وارث د مقتول دی د تعزیر بیان وروسته به ان شاء الله په کتاب التعزیر کې مکمل راشي.

(والزنا وطی فی قُبُلٍ خالٍ عن ملكٍ وشبهتهِ کمعتدة البائنِ او الثلاثِ ویثبتُ بشهادةِ اربعةٍ بالزنا لا بوطیٍ او جماعٍ فیسألهم الامام عنه ما هوَ وکیف هو واینَ زنَی ومتَی زنا وبمن زنی، اما السؤال عن الماهیة فلان بعض الناس یطلقونه علی کل وطیٍ حرامٍ، وایضًا قد اطلقه الشارعُ علی غیر هذا الفعل نحو: العینان تزنیان، واما عن الکیفیة فلانّه قد یقعُ الوطیُ من غیر التقاء الختانین، واما عن این فلان الزنا فی دار الحرب لا یوجب الحد، واما عن متی فلان التقادم لا یوجب الحد، واما عن المزنیة فلانّه قد یکونُ فی وطیها شبهة).

الوضاحة الحسنى في بيان الزنا: (**والزنا**) مصنف رحمه الله د زنا وضاحت اولاً کوي چې وروسته حکم ورباندې مرتب شي، نو زنا وطي کولو ته وايي په هغه قُبُل يعنې د ښځې په مخکنې اندام کې وي چې خالي وي د ملک يميني او ملک نکاحي څخه ځکه د وينزې او د منکوحې سره وطي کول زنا نه ده (**و شبهته**) او چې خالي وي د شبهې د ملک څخه لکه معتده د بائن يا د د رې طلاقو يعنې چې يو کس خپلې ښځې ته طلاق بائن يا درې طلاقه ورکړي او د عدت حالت کې وي نو د دې سره وطي کولو باندې حد نشته ځکه دا شرعي زنا نه ده ځکه شبهه د ملک پکې ده ځکه چې دا ښځه لا دده په عدت کې ده (**و يثبت**) او زنا به د قاضي په حضور کې په شهادت د څلورو نارينو سره ثابتيږي او د ښځو په شهادت سره حدود نه قائميږي (**بالزنا**) په لفظ د زنا سره (**لا بوطي**) د وطي په الفاظو يا د جماع په الفاظو سره نه ثابتيږي يعنې که ګواهانو ګواهي وکړه چې فلاني وطي کړې په وطي حرامي سره يا په جماع حرامي سره نو زنا نه ثابتيږي (**فيسألهم الامام**) نو پاچا يا قاضي به پوښتنه وکړي د شهودو څخه (**عنه**) په باره د زنا کې (**ما هو**) چې زنا څه ته وايي (**و کيف هوَ**) او زنا څرنګه کړې وه (**و اين زنا**) او چيرته يې زنا کړې ده (**و متیٰ زنیٰ**) او په کوم وخت کې زنا کړې ده (**و بمن زنیٰ**) او د چاسره يې زنا کړې ده.

(**اما السؤال**) د زنا د ماهيت او حقيقت څخه پوښتنه ځکه ضرور ده چې بعضې خلک د زنا اطلاق په وطي حرامي سره کوي لکه وطي په حالت د حيض کې حرامه ده خو زنا نه ده (**و ايضاً**) دا دويمه وجه بيانوي چې شريعت د زنا اطلاق د دې فعل نه يعنې د وطي في قبل الخ نه ماسوا په بل فعل هم کړې چې (**العينان تزنيان**) چې سترګې هم زنا کوي نو د ګواهانو څخه د زنا د ماهيت پوښتنه ضرور ده تر څو معلومه شي چې د دوی د زنا څخه هغه مراد نه ده چې موجب د حد نه وي (**و اما عن الکيفية**) او د کيفيت څخه سوال ځکه ضروري دی چې کله وطي بې د يو ځای کيدو د فرج او ذکر څخه راځي هغه داسې چې صرف ذکر او فرج سره ومښي خو ذکر پکې داخل نه کړي نو په صرف مښلو سره حد نه راځي (**و اما عن اين**) او د زنا د مکان پوښتنه ځکه ضروري ده چې په دا ر الحرب کې زنا حد نه واجبوي ځکه دار الحرب دار د اقامت د حدودو نه دی نو هلته زنا سره هم حد نه واجبيږي (**و اما عن متیٰ**) او د وخت د زنا څخه ځکه پوښتنه ضروري ده چې په تقادم يعنې طول د زمانې سره حد نه واجبيږي (**و اما عن المزنية**) او د مزنيې يعنې کومې ښځې سره چې زنا شوې ده

د دې پوښتنه ځکه ضروري ده چې کله په وطي د دې کې شبهه وي يعنې شبهه د ملک يميني يا ملک نکاحي يا شبهه د عدت و غيره وي.

(فان بينوهُ وقالوا رأيناهُ وطيهَا في فرجها كالميلِ في المكحلةِ وعُدلوا سرًّا وعلانيةً حكمَ به)

وضاحت: که ګواهانو مذکوره وجه بيان کړي او بيايې دا هم وويل چې مونږ فلانی وليده چې فلانی وطي کړه په فرج کې لکه سلايي په رنجومه کې (**و عدلوا**) او د ګواهانو تعديل دې وکړای شي يعنې د دوی عدالت او غير عدالت دې معلوم کړی شي په پټه او په ښکاره ځکه شهادت د مستور الحال مقبول نه وي په سراً تعديل داسې چې قاضي به معدل ته په يو خط کې د دوی نومونه نسبونه د محلي او د ښار نومونه به وليکي چې دغه کسان عادلان دي که غير عادلان معلومات راکړه نو معدل به د عادل سره عادل جائز الشهادة وليکي او د غير عادل سره به يو شئ هم نه ليکي، يا دې ورسره وليکي چې الله اعلم، او علانية تعديل داسې دی چې قاضي به معدل او شاهد يو ځای کړي او معدل به بيا ووايي چې دا کس عادل دی يا غير عادل دی نو کله چې تعديل هم پوره شو نو بيا به قاضي فيصله په ثبوت د زنا سره وکړي په داسې طريقه چې وجوب حد ورباندې مرتب شي.

(ثم عطف على قوله بشهادة اربعة قوله وباقراره اربعًا اى اربع مراتٍ فى اربعة مجالس ردّه كل مرة ثم سأله كما مر، اعلم ان فى قوله ردّه كل مرة تسامحًا لانهُ يدل على ان الامام يردّه اربع مرات وليس كذلكَ بل الامام يردّه ثلاث مرات فاذا اقر مرةً رابعةً لا يردّه بل يقبله فيسأله كما مر من قبل، الا فى السؤال عن امتى لانه انما يسأله عنه احترازًا عن التقادم وهو يمنعُ الشهادةَ لا الاقرار، وقيلَ يسأل عن متَى ايضًا لاحتماله فى زمان الصبا، فان بين حُبب تلقينه برجوعه بلعلكَ لمستَ او قبلتَ او وطيتَ بشبهةٍ فان رجعَ قبل حده اوفى وسطهِ خُليَ والاحد).

تلقين الحاكم للزاني المجرم: (**ثم عطف**) شارح رحمه الله وايي چې و باقراره عطف دی په بشهادة اربعة باندې نو معنی دا شوه چې ثابتيږي حد د زنا په اقرار د زاني سره خو په دې شرط چې عاقل بالغ وي ځکه د ماشوم او ليوني اقرار ته اعتبار نشته (**اربعًا**) چې څلور کرتې اقرار وکړي خو په څلورو مجلسونو (**ردّه**) حاکم يا قاضي به دده اقرار په هر وار رد کوي يعنې نه به يې قبلوي (**ثم سأله كما مر**) خو بيا به ترې په هغه طريقه پوښتنه وکړي لکه مخکې چې بيان شو چې اول سوال د ماهيت څخه بيا و غيره و غيره (**اعلم**) شارح رحمه الله وايي چې د مصنف په دې قول کې تسامح او چشم پوښی ده ځکه دده د خبرې څخه خو دا معلوميږي چې قاضي به څلور کرتې دده خبره رد

کوي او نه به يې قبلوي او خبره داسې نه ده ځکه په څلورم کرت اقرار سره حد واجبېږي بلکې صحيح خبر داده چې قاضي د زاني اقرار درې وارې رد کوي خو کله چې يې څلورم کرت اقرار وکړو نو بيا به يې نه رد کوي بلکې قبلوي به يې، او پوښتنې به ترې شروع کړي چې زنا څه ته وايي او څنګه دې وکړه وغيره، خو بعضې علماء وايي چې د اقرار په صورت کې به د متى څخه پوښتنه نه کوي ځکه د متى څخه د پوښتنې فائده دفع د ظهور د تقادم وه او دا په شهادت کې راځي نه په اقرار کې.

(وقيل) خو بعضې علماء بيا وايي چې د متى په باره کې به هم پوښتنه کوي ځکه احتمال لري چې د ماشوموالي په حالت کې زنا کړې وي او د ماشوموالي په حالت کې زنا سره حد نه واجبېږي نو د دفع د دې احتمال لپاره د متى څخه سوال ضروري دی **(فان بين)** نو که مقر د قاضي د پوښتنو مکمل بيان وکړو يعنې د ماهيت کيفيت زمان مکان او تعين د مزنيه يې وکړو **(ندب)** نو قاضي ته مستحب ده چې **(تلقينه)** تعليم ورکول مقر ته په داسې الفاظو سره چې د خپل اقرار څخه رجوع وکړي، ځکه حدود به حتى الوسع دفع کولی شي **(بلعلك الخ)** تلقين به په دې الفاظو سره ورکوي چې کيدی شي تالاس وروړی وي يا دې ترې مچه اخستې وي يا دې په شبهې سره وطي کړې وي **(فان رجع)** نو که مقر د خپل اقرار څخه رجوع وکړه قولاً يا فعلاً مخکې د حد څخه يا په مينځ د حد قائمولو کې **(خلي)** خوشې به کړی شي **(والا حد)** او که رجوع يې د خپل اقرار څخه ونه کړه نو حد به ورباندې جاري کړی شي.

> (وهو للمحصن اى لحر مكلفٍ مسلمٍ وطى بنكاحٍ صحيحٍ وهما بصفةِ الاحسان اى وطى حال كونهما بصفة الاحسان اى الامور التى يثبت بها الاحسان ماعدا الوطى كانت حاصلة قبيل هذا الوطى فاذا وُجد الوطى تَم جميع ما يثبت بها الاحسان فقوله وهو للمحصن مبتدا وخبره قوله رجمه فى فضاء حتى يموت يبدأُ به شهوده فان ابوا وغابوا اوماتوا سقط ثم الامام ثم الناس وفى المقر يبدأُ الامام ثم الناس وغُسلَ وكفنَ وصُلىَ عليه).

تعليم المتعلم في بيان شرائط المحصن: **(وهو للمحصن)** دا مبتدا ده او رجمه يې خبر دی، احصان په لغت کې د عفت او د حفاظت د نفس د وقوع نه په حرامو کې عبارت دی په معنى د نکاح سره په معنى د حريت سره هم راځي او احصان عبارت دی د اوو شيانو څخه: ۱ـ بلوغ ۲ـ عقل ۳ـ حريت ۴ـ نکاح صحيح ۵ـ دخول ۶ـ چې هر يو د واطي او موطوءې څخه په صفت د احصان کې يو شان وي ۷ـ

اسلام دی. لکه شارح رحمه الله دغه اوو شيانو ته اشاره کړي ده چې حريت په لحر سره او بلوغ او عقل ته په مکلف سره او اسلام ته په مسلم سره او دخول ته په وطي سره او نکاح صحيح ته په نکاح صحيح سره او اوم شرط ته په و هما بصفة الاحسان سره اشاره کړی ده.

(و هوَ) د واحد د زنا د محصن لپاره يعنې د هغه کس لپاره چې حر وي مکلف وي مسلمان وي او وطي يې د خپلې منکوحې سره په نکاح صحيح سره کړي وي او دواړه واطي او موطوءه په صفت د احصان کې وي (اي الامور) دا دفع د يو وهم ده چې احصان خو موقوف وي د وطي په نکاح صحيح پورې نو احصان د وطي څخه وروسته موجوديږي ځکه موقوف عليه مقدم وی د موقوف څخه نو څرنګه متصور کيږي چې په حالت د وطي کې د دواړه محصنين وي؟ نو شارح جواب وکړو چې د دې معنی داده چې هغه امور چې په هغې سره احصان ثابتيږي ماسوا د وطي څخه هغه به حاصل وي مخکې د وطي څخه نو کله چې وطي موجود شوه نو ټول هغه څۀ چې احصان وربانديې ثابتيږي پوره شو نو که د دې څخه وروسته زنا وکړي نو رجم کولی به شي (رجمه) حد د زنا د محصن لپاره رجم دی (في فضاء) په يوه لويه دشته کې تر دې چې مړ شي (يبدأ به) اول به په دې سره شروع د زنا ګواهان کوي ځکه بعضې وخت ګواهان خو په ګواهي زړور وي خو دعملي کار نه ډډه کوي نو رجوع کوي نو ديکې هم د حدد دفع کيدو يو چانس شته (فأن ابوا) نو که شهودو انکار وکړو يا د دې بنار څخه غائب شو او يا مړه شول (سقط) نو حد ساقط شو ځکه شرط د حد موجود نه شو چې هغه اول شروع کول د شهودو دي او په غائب والي سره احتمال د رجوع لري د شهادت څخه او د مرګ په صورت کې شهادت ختم شو (ثم الامام) بيا به د شهودو څخه وروسته شروع په رجم سره پاچا يا قاضي کوي بيا عام خلق (و في المقر) او د اقرار په صورت کې به اول شروع پاچا يا قاضي کوي بيا عام خلق بيا به د عامو مړو په شان غسل ورکړی شي بيا به وربانديې د جنازې مونځ اداء کړی شي........

(ولغير المحصن جَلده مائة وسطًا بسوط لا ثمرةَ له في المغرب الثمرة العذبة وهي ذنبه، وقيل العقدة قال والاول اصح، وفي الصحاح ثمرة السياط عُقَد اطرافها يُنزع ثيابه الا الازار ويفرق على بدنه الا راسه ووجهه وفرجه قائمًا في كل حدٍ بلا مدٍ اي من غير ان يلقى على الارض ويُمد رجلاهُ، وقيل ان يُمد الضارب يده فوق راسه وقيل ان يُمد السوط على العضو بعد الضرب).

بيان الجلد لغير المحصن: (و لغير المحصن) د غير محصن لپاره سل دري ورکول دي (وسطًا)

درمیانه یعنې چې ویې دردوي خو زخمي یې نه کړي (**بسوط لا ثمرة له**) په هغه دره چې ثمره ونه وي، ثمره څه ته وایي په مُغرب کتاب کې راغلي چې ثمره عذبه ته وايي (**و هيَ ذنبه**) چې هغه د درې لکۍ ده (**و قيلَ**) او بعضې علماء وایي چې غوټه مراد ده یعنې چې د درې په آخر کې به غوټه نه وي ځکه دا زخم جوړوي، صاحب د مغرب وايي چې اول صحیح دی یعنې د ثمرې ځخه مراد لکۍ د درې ده، او په صحاح کې رَاغلي دي چې د ثمري ځخه مراد د درې په اطرافو کې غوټې دي

خلاصه دا چې د کوړي یعنې درې په اخر کې به غوټه او لکۍ نه وي (**يُنزع**) د مرجوم ځخه به د څک او پرتوګ ځخه ماسوا نورې جامې ویستلی شي (**و يفرق**) او درې به په ټول بدن باندې جدا جدا ورکولی شي مګر د سر مخ او عورت ځخه به یې ساتي په داسې حال کې چې محدود به ولاړ وي که سړی وو (**في كل حدٍ**) په هر حد کې یعنې حد د زنا وي که حد شرب یا حد قذف وي (**بلا مدٍ**) د دې درې معاني دي: اول محدود به په ځمکه نه غورځوي چې پښې یې اوږدې وغزوي، دویمه معنی دا چې وهونکی به لاس د سر ځخه پورته نه اوږدوي، دریمه معنی دا چې د وهلو ځخه وروسته به دره د محدود په اندام نه را کاږي ځکه دې سره هغه دردیږي.

(**وللعبدِ نصفُها ولا يحدّه سيده بلا اذن الامام هذا عندنا خلافًا للشافعي رحمه الله ولا ينزعُ ثيابَها الا الفروُ والحشوُ وتُحد جالسة وجاز الحفرُ لها لا له ولا جمع بين جلد ورجم، ولا بين جلد ونفي الا سياسة هذا عندنا، وعند الشافعي يجمع في البكرِ بين الجلد والنفي وهو تغريب عامٍ، ويُرجم مريض زنَى ولا يُجلد حتى يبرأ وحامل زنَت تُرجم حين وضعت وتجلد بعد النفاس**).

توضیح: (**و للعبد**) که غلام زنا وکړي نو دده حد نیم د سلو درو دی چې هغه پنځوس دي، او رجم وریاندې نشته ځکه رجم نشي نیمایي کولی، دلیل دا ایت کریمه دی چې [فعليها نصفُ ما على المحصنات من العذابِ] د وینزو په باره کې نازل شوی دی خو غلامان هم پکې داخل دي، د وینزو ذکر ځکه وشو چې اسباب د زنا په دوی کې زیات دي او شهوت هم د دوی ډیر دي، او د احصان قید [فاذا أحصن] قید اتفاقي دی یعنې غلام او وینزه محصن وي که غیر محصن وي چې زنا وکړي نو پنځوس درې حد به ورکولی شي او رجم وریاندې نشته، ځکه رجم نه نیمایي کیږي [فتح القدير ۵/۲۲۰، کفایه ۵/۲۲۱].

(**ولا يحدّه**) او غلام ته به حد دده بادار نشي ورکولی بې له اجازې د پاچا یا قاضي ځخه خو امام شافعي رحمه الله وایي چې غلام او وینزې ته بادار د امام د اجازې ځخه بغیر هم حد ورکولی شي،

ځکه د بادار لپاره په غلام او وینزه باندې ولایت کامله شته لکه څرنګه چې تعزیر ورکولی شي نو حد هم پرې قائمولی شي، خو مونږ دا جواب کوو چې حد حق د الله تعالی دی او د بنده په ساقطولو سره نه ساقطیږي، نو هغه څوک به حد قائموي چې هغه د شریعت څخه نائب وي چې هغه امام دی یا د هغه نائب او تعزیر خو حق د بنده دی حسن بصري رحمه الله وایي چې څلور شیان د پاچا حق دی ۱. مونځ ۲. زکات ۳. حدود ۴. قصاص.

(و لا ینزع) د ښځې څخه به جامې نشي ویستلی ځکه دې سره د ښځې عورت لوڅیږي **(الا الفرو)** مګر پوستین **(والحشو)** او چپن دواړه به تري ویستلی شي ځکه دې سره د ښځې بدن ته درد نه رسیږي **(و تحد جالسة)** او ښځې ته به حد ورکولی شي په داسې حال کې چې ښځه ناسته وي ځکه په دیکې ستر راځي **(و جاز الحفر لها)** او د ښځې لپاره کنده ویستل جائز دي چې ښه ستر راشي **(لا له)** خو د سړي لپاره ځمکه کې کنده ویستل ضرور نه دی ځکه ضرورت ورته نشته **(و لا جمع)** خو د زنا محض لپاره به درې او رجم دواړه نه یو ځای کوي بلکې صرف رجم به ورکوي **(و لا بین جلد الخ)** همدارنګه د دُرو او نفي تر مینځ به زاني غیر محصن لپاره هم نه یو ځای کوي ځکه حد د زاني غیر محصن په ایت کې ذکر شوی دی نفي د هغې نه دی ځکه حد د زاني غیر محصن په ایت کې ذکر شوی دی نفي دهته وایي چې د دې ښار څخه بل ښار ته د یو کال لپاره وشړلي شي **(الا سیاسة)** مګر که سیاسة یې وکړي هغه داسې چې حاکم په دیکې څه مصلحت او خیرخواهي ګوري خو امام شافعي رحمه الله وایي چې د زاني غیر محصن لپاره د درو سره نفي هم وي دلیل یې هغه حدیث د عبادة بن الصامت دی چې **(البکرُ بالبکر جلدُ مائة و نفي سنة. الحدیث)** جمهور علماء دده نه جواب کوي چې حدیث د عبادة بن الصامت منسوخ دی او د دې احادیثو څخه دا معلومیږي چې نفي په حد واجبه کې داخله نه ده او د نبي علیه السلام فعل هم زجرًا او سیاسةً وو، اوحضرت علی ﷺ وائی چی کفی بالنفی فتنة (اخرجه عبد الرزاق) یعني دې نفي سره یې لوی فتنې ته واچوو، د عمر رضي الله عنه په زمانه کې ربیعه بن امیه بن خلف شراب څکلي وو نو عمر رضي الله عنه هغه د دې ښار څخه ویستلو د یو کال لپاره نو هغه د هرقل خواته ورغی او نصراني شو، حضرت عمر رضي الله عنه وویل چې زه به د دې څخه وروسته مسلمان ته د خپل ښار څخه د شړلو سزا ورنه کړم **(و یرجم)** که مریض محصن زنا وکړي نو رجم به ورکولی شي ځکه مقصود د رجم څخه دده هلاکت دی نو رجم کې له ده سره نور هم کومک دی **(و لا یجلد)** خو

که غير محصن زنا وکړي او مريض وي نو دړې به نه شي ورکولی تر دې پورې چې جوړ شي څکه مقصود په درو سره دده دردول او زجر دی نه هلاکت او د مرض په حالت کې درو سره احتمال د هلاکت شته

(و حامل) او که حامله ښځه زنا وکړي نو کله چې يې بچی وزيږوه نو بيا به رجم يعني سنګسارولی شي **(و تجلد بعد النفاس)** خو که يوه غير محصنه يعني پيغله ښځه زنا وکړي او د زنا ځخه حامله شي نو د نفاس يعني د بچي پيدا کيدو څخه وروسته درې ورکولی شي د دې لپاره چې بچی يې هلاک نه شي، ځکه دا ولد نفس محترمه دی او غير مجرم دی په بعد النفاس کې اشاره دېته ده چې کله يې د نفاس وينه ختمه شي ځکه نفاس هم يو قسم مرض دی او د مرض په حالت کې به ښځې ته سزا نه شي ورکولی، بيا که د ماشوم کفيل وو نو حد به ورکړی شي او که کفيل يې نه وو نو مهلت به ورکړی شي تر دې چې پخپله خوراک شروع کړي.

باب الوطي الذي يوجب الحد اولا

دا باب دی په بيان د هغه وطي کې چې حد واجبوي يا يې نه واجبوي

(الشبهةُ دارئة للحد، اعلَم ان الشبهة ضربان فی الفعل وفی المحل فشرعَ فی الضربِ الاولِ بقوله وهی فی الفعلِ يثبت بظن غير الدليل دليلاً فلا يحد الجانی ان ظن انها تحل لـهُ فـی وطـی امـةِ احـد ابويـهِ و عِرسه وسيده والمرتهن المرهونة فی الاصح والمعتدة بثلاثٍ وبطلاقٍ علی مالٍ وباعتاقِ امولده).

حکم الشبهة في الفعل: شبهه ختمونکې او دفع کونکې د حد ده، شبهه دېته وايي چې د ثابت سره مشابه وي خو په نفس الامر کې ثابت نه وي، حديث شريف کې راځي چې ترڅو مو وسعه کيږي نو د مسلمانانو څخه حدود دفع کړئ، الحديث.

شبهه بيا په دوه قسمه ده: ۱. شبه في الفعل ۲. شبهه في المحل، شبه في المحل دېته وايي چې په محل د وطي کې چې موطوءه ده شبهه وي دېته شبهه حکميه او شبهه في الملک هم وايي، هغه داسې چې هلته يو داسې دليل موجود وي چې نافي د حرمت وي، يعني دلالت په حل د مزنيه باندې کوي، په همدې وجه دېته شبهه حکميه وايي چې ثابته ده په حکم د شريعت باندې نو که دا شبهه موجوده شي نو زاني به بري نه شي حد کولی نور تفصيل په خپل ځای کې راروان دی.

شبهه في الفعل دېته وايي چې د واطي لپاره اشتباه په حرمت د فعل کې واقع شي يعني په نفس وطي کې يعني چې حل او حرمت دواړهورباندې مشتبه وي خو داسې دليل په سمع کې نه وي چې حل فائده کړي بلکې ګمان د غير دليل دليل وکړي يعني ګمان د هغه شئ وکړي چې هغه دليل

نوی په حلالوالي د دليل والي (**فلا يحدّ الجاني في وطي امة**) متعلق دی تر لايحد پورې، نو معنی دا شوه که يو سړې د خپلې ښځې وينزه يا د مور او پلار وينزه يا د خپل بادار وينزه په دې نيت وطي کړي چې دا ماته حلاله ده نو دغه زاني به نه شي په حد کولی، ځکه ده غير دليل د ځان لپاره دليل ګرځولی هغه داسې چې وطي خو استخدام دی او استخدام د وينزې څخه جائز دی خو دغه شبهه د هغه چا لپاره ثابتيږي چې د هغه په حق کې حل او حرمت مشتبه وي خو که د چا په حق کې چې دا شبهه نه وي نو هغه به په حد کولی شي او حد په دوارو شبهو کې ساقطيږي.

(**والمرتهن**) همدارنګه په نه حد کيږي مرتهن په وطي د وينزې مرهوني سره ځکه دلته شبهه د تصرف ملکي ده (**في الاصح**) په صحيح قول کې په ديکې اشاره ده اختلاف ته لکه وروسته به راشي

(**والمعتدة**) همدارنګه په نه حد کيږي زاني په وطي د هغه معتدي سره چې معتده په درې طلاقو سره وي يا معتده په هغو طلاقو سره چې په مال سره وي يا هغه معتده چې په اعتاق د ام ولدي سره وي ځکه دلته بقاء د اثر د نکاح ده چې هغه عدت دی او دا سبب د شبهه حل کيدلی شي.

(**اعلم**) شارح رحمه الله د مذکوره مسائلو وجوهات بيانوي (**ان اتصال الاملاک**) دا وجه د سقوط د حد ده په وطي د وينزې د يو د مور او پلار سره، خلاصه دا چې املاک په مابين د اصولو کې لکه مور او پلار او د فروعو کې لکه ځامن او د دوی ځامن پيوسته دي تر دې چې اصول فروعو لره د تصرف څخه په خپل ملک کې نه منع کوي او نه فروع اصولو لره منع کوي دغه اتصال سبب د اشتباه دی چې ځوی دا ګمان وکړي چې زما لپاره د پلار د وينزې د وطي کولو واک شته لکه څرنګه چې پلار لره د ځوی د وينزې واک شته نو په دې ګمان باندې حد ساقطيږي (**و غنى الزوج**) دا وجه د سقوط د حد ده په وطي کولو د وينزې د ښځې سره.

خلاصه دا چې د ښځې د مالدارۍ نسبت خاوند ته کيږي او د ښځې په مال باندې خاوند غني او مالداره ګڼلی شي لکه د دې ايات کريمه نه چې مستفاد دی (**و وجدک**) او وموندو الله تعالی تالره (**عائلا**) فقير (**فأغنى**) نو غني يې کړې تالره په مال د خديجې سره نو د ښځې او خاوند تر مينځ د زيات انبساط او فراخۍ په وجه دا شبهه پيدا کيږي چې د ښځې وينزه به هم خاوند ته جائز وي

(**واحتياج العبيد**) دا وجه د سقوط د حد ده په وطي د وينزې د بادار سره، احتياج مبتدا ده او مظنة يې خبر دی، خلاصه دا چې غلامان د خپل مولی مال ته محتاج وي ځکه دوی خپل مال نه لري ځکه د غلام ټول مال د مولی وي او د غلامانو او د مولی تر مينځ انبساط او ازادي وي او سره

د دې نه چې غلامان د وجې د نه فارغيدو نه تحصيل د مسائلو ته په جهل معذوره وي نو دغه احتياج خاى د وقوع د دې عقيدې كيدى شي چې د دوى لپاره د بادارانو وينزې وطي كول حلال وي، نو د دغې شبهې د وجې د غلام څخه حد ساقطيږي.

(**و مالكية**) دا وجه د سقوط د حد ده په وطي د مرهونې سره كه مرتهن ووايي چې زما دا ګمان وو چې دا وينزه ماته حلاله ده نو په روايت د كتاب الحدود باندې حد ورباندې نشته، او په روايت د كتاب الرهن سره حد ورباندې واجب نه دى، برابره خبره ده چې دا دعوه وكړي چې دا زما لپاره حلاله ده او كه دعوه ونه كړي ځكه مرتهن هغه وينزه وطي كړي چې دده لپاره په هغې كې سبب د ملک منعقد شوى خلاصه دا چې كه ګمان د حلالوالي وو نو په اتفاق د روايتينو سره حد ورباندې نشته خو اختلاف په هغه صورت كې دى چې مرتهن په حرمت پوهه وي نو بيا صحيح خبره داده چې حد ورباندې واجب دى.
نو د مرتهن څخه ځكه حد ساقط دى چې مرتهن په مرهونه باندې ملک تصرف لري چې دې سره وهم د حلالوالي د مرهوني راځي (**و بقاء**) دا وجه د سقوط د حد ده په وطي د معتداتو مذكورو سره، خلاصه دا چې په معتده كې اثر د نكاح پاتې وي چې هغه عدت دى او يا وينزه كې اثر د ام ولديت د اعتاق څخه وروسته هم پاتې وي نو دغه منشا د ګمان د حلالوالي د وطي دى نو حد ورباندې نشته خو كه د حرمت معلومات ورته وو نو بيا حد ورباندې شته.

(**ثم شرع في الضربِ الثاني من الشبهةِ بقوله وفي المحل بقيامِ دليلٍ نافٍ للحرمةِ ذاتاً فلم يحد وان اقر بحرمتها عليه في وطي امة ابنه ومعتدة الكنايات والبائع المبيعة والزوج الممهورة قبل تسليمها والمشتركة الدليل للحرمة قوله عليه السلام انت ومالكَ لابيك الخ**).

التحرير المدلل في بيان الشبهة في المحل: مصنف رحمه الله اوس شروع وكړه په قسم ثاني د شبهې سره چې هغه شبهه في المحل ده يعني چې شبهې في المحل كې قيام د داسې دليل وي چې منافي د حرمت سره وي يعني چې دلالت په حلالوالي د مزنيه سره كوي، نو كه دا شبهه موجوده وه نو زاني به نه په حد كيږي اګر چې اقرار په حرمت وكړي يعني چې ووايي چې ماته پته وه چې دا په ما حرامه ده، ځكه دلته شبهه موجوده ده قطع لحاظ دده د ګمان څخه (**في وطي امة ابنه**) دا متعلق دى تر فلم يحد پورې، يعني كه د ځوى وينزه وطي كړي نو پلار نه په حد كيږي ځكه دلته هغه دليل موجود دى چې منافي د حرمت سره دى چې هغه دا قول د نبي عليه السلام دى چې ته او ستا مال ستا د پلار دى، نو دا حديث په اعتبار د ظاهر سره دلالت په دې كوي چې د ځوى ملک د پلار ملک دى،

او پلار ته په ديکې تصرف جائز دی او نيکه په حکم د پلار کې دی نو د دغه شبهې د وجې چې پلار ته د خوی په مال کې تصرف جائز دی نو د نيکه نه حد ساقط شو.

(**و معتدة الكنايات**) همدارنګه حد نشته په وطي دهغې معتدې سره چې مطلقه په کنایاتو سره وي اګر چې اقرار د حرمت وکړي يعني چې ماته دا پته وه چې دا په ما حرامه ده ځکه دلته هغه دليل چې منافي د حرمت دی موجود دی چې هغه قول د بعضو صحابو دی چې کنايات رواجع دي نو هرکله چې داسې آثار او اخبار راغلل چې هغه دلالت په دې کوي چې په کنايه الفاظو سره طلاق رجعي واقع کيږي نو دې سره په حل د موطوءه کې شبهه پيدا شوه اګر چې دغه آثار معمول بها زمونږ په نزد نه دي نو په وطي د دې معتدې سره به واطي نه شي په حد کولی.

(**والبائع المبيعة**) همدارنګه به بائع ته حد نه شي ورکولی په وطي د مبيعې سره مخکې د سپارلو ځخه مشتري ته ځکه مبيعه مخکې د سپارلو ځخه مشتري ته د بائع په لاس کې وه تر دې که دغه مبيعه په دې وخت کې هلاکه شي نو بيع فسخ کيږي. نو دا دليل د دې وي چې د بائع په ملکيت ده نو دې سره په حل د محل کې شبهه پيدا شوه نو واطي ته به حد نه شي ورکولی.

(**والزوج الممهورة**) همدارنګه په هغه زوج حد نشته چې ممهوره وينزه وطي کړي، ممهوره دېته وايي چې خاوند د خپلې ښځې په مهر کې ورکړي وي، نو دغه وينزه ښځې ته د سپارلو ځخه مخکې که زوج وطي کړي نو حد ورباندې نشته ځکه چې مهر صله ده يعني مقابل د مال کې نه ده بلکې مقابل د منافعو د بضع کې ده او بضع مال نه دی نو دا دليل د عدم زوال د ملک دی يعني چې د خاوند ملک ترې نه دی زائله شوی نو دې سره شبهه په حل د محل کې مخکې د تسليم ځخه پيدا شوه ځکه تبرعات مخکې د قبض ځخه ملک نه فائده کوي.

(**والمشتركة**) همدارنګه که يوه وينزه د ډيرو کسانو تر مينځ شريکه وه او يو شريک وطي کړه نو دا واطي نه شي په حد کولی ځکه ملک په شريکه وينزه کې دليل د حلال والي د وطي دی نو دې سره په محل کې شبهه پيدا شوه نو حد ساقط دی (**فمعنى قوله نافٍ للحرمة ذاتًا**) شارح رحمه الله وايي چې د دې مقصد دا دی چې د ثبوت د شبهې حکميه يا شبهه في المحل لپاره صرف د داسې دليل قائميدل کافي دي چې دلالت په حلالوالي نه وي او حرمت ختم کړي قطع نظر د موانعو ځخه چې هغه منافي د حرمت وي يعني که نور دلائل وي او که نه، د شبهې د اثبات لپاره دا هم کافي دی.

(فان ادعى النسب يثبت في هذه لا في الاولى اى في شبهة المحل لا في شبهة الفعل).

وضاحت: كه چیرته واطي زاني دعوه د نسب وكړي چې دغه مولود زما ځخه دى نو په شبهة المحل كې به نسبت د واطي ځخه ثابت وي ځكه دا محل محل د اشتباه دى ځكه دلته هغه دليل قائم دى چې منافي د حرمت سره دى نو لازم ده چې نسب یې ثابت شي، خو نسب په شبهة الفعل كې نه ثابتيږي ځكه فعل په دې ځاى كې محض زنا ده ځكه په محل كې دوه حقه نشته ځكه داسې دليل نشته چې دلالت په حل د محل وكړي او ثبوت د نسب فرع د ثبوت د ملك ده په محل كې نو چې ملك په محل كې ثابت نه شو نو نسب هم نه ثابتيږي.

(وحد بوطي امة اخيه وعمه واجنبية وجدها على فراشه وان هو اعمى وذمية زنى بها حربي وذمي زنى بحربية لا الحربي والحربية يعني الداخلين دارنا بامان وذلك لانه ان كان هذا في دار الحرب لا يجب الحد وعند ابي يوسف يحد جميعا، وعند محمد ان زنى الحربي لا يحد، وقوله وذمية عطف على الضمير المستتر في حد وهذا جائز لوجود الفاصلة).

توضيح: **(و حد)** او زاني به په حد كولى شي په وطي كولو د وينځې د ورور سره او په وينځې د تره سره همدارنګه وينزه د نورو محارمو د اصولو او فروعو نه ماسوا ځكه دلته داسې دليل نشته چې هغه دلالت په حل د محل وكړي نو شبهه في المحل موجوده نه شوه او د اصولو او فروعو نه ماسوا د نورو محارمو سره پوره ازادي هم نه وي چې شبهه في الفعل پيدا كړي نو كه دا دعوى وكړي چې زما ګمان دا وو چې دا وينزه ماته حلاله ده نو دې ګمان ته اعتبار نشته **(و اجنبية)** همدارنګه كه چا په خپله بستره ښځه وموندله او وطي يې كړه نو زاني به په حد كولى شي ځكه د اوږد صحبت ځخه وروسته اشتباه نه وي نو دده ګمان هم بلا دليله دى اګر چې زاني ړوند وي ځكه په پوښتنې وغيره سره فرق كولى شي **(و ذمية)** همدارنګې كه د يوې ذمي ښځې سره حربي مستامن زنا وكړي نو مزنيه به په حد كولى شي **(و ذمي)** او كه يو ذمي زنا وكړه د حربيه مستامنې سره نو ذمي به په حد كولى شي **(لا الحربي والحربية الخ)** خو په مخكني صورت كې يعنې چې د ذميه سره حربي مستامن زنا وكړه حربي مستامن ته به حد نه شي وركولى او په دويم صورت كې يعنې چې د حربيه مستامنې سره ذمي زنا وكړي نو حربيه مستامنې ته به حد نه شي وركولى، د مستامن معنى دا چې دار الاسلام ته په امان داخل شي.

(و ذلك) دا ځكه نه شي وركولى چې كه دغه زنا د حربي د ذميه سره يا د ذمي د حربيه سره په دار

الحرب کې وي نو حد نه شي ورکولی ځکه په دار الحرب کې حد نه واجبيږي نو دار الاسلام کې به هم حد نه شي ورکولی (**و عند ابي يوسف**) خو امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې ټولو ته يعنې حربي حربيه ذمي او ذميه ټولو ته به حد ورکولی شي، ځکه حربي او حربيه مستامنين په موده د اقامت خپل کې په دار الاسلام کې په ځان باندې زمونږ احکام لازم کړي دي لکه څرنګه چې ذمي په موده د عمر کې په ځان باندې زمونږ احکام لازم کړي دي نو لکه څرنګه چې ذمي او ذميه ته حد ورکولی شي نو حربي او حربيه ته به هم ورکولی شي، خو امام ابو حنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله وايي چې حربي او حربيه دار الاسلام ته د اوسيدو لپاره نه دي راغلي بلکې د يو ضرورت لپاره لکه تجارت و غيره نو دا د دارالاسلام اهل نه ګرځي.

(**و عند محمد**) امام محمد رحمه الله وايي که حربي د ذميه سره زنا وکړه نو حد به نشي ورکولی نه زاني ته او نه مزنيه ته او که ذمي د حربيه سره زنا وکړه نو ذمي ته به حد ورکولی شي (**و قوله و ذمية**) شارح وايي چې ذمية عطف دی په هغه ضمير چې په حد کې مستتر دی (**وهذا**) دا دفع د يو اعتراض ده چې د نحاتو په نزد په ضمير مرفوع متصل عطف جائز نه دی نو مصنف څنګه دا کار وکړو؟ شارح جواب وکړو چې عطف په ضمير مرفوع متصل هله جائز نه دی چې د معطوف او معطوف عليه په مينځ کې فاصله نه وي او کله چې فاصله وي نو بيا جائز دی او دلته هم فاصله موجوده ده.

(**ولامن وطی اجنبیۃ زُفت الیه وقلنَ هی عرسك وعلیه مهرها و محرمةً نکحها عطف علی قوله اجنبیة و هذا عندَ ابي حنيفة فانه جعل النكاح شبهة في درء الحد**).

القول الجازم بسقوط الحد بنكاح المحارم: (**و لا من وطي**) او حد نشته په هغه کس باندې چې اجنبيه يعنې پردۍ ښځه وطي کړي داسې ښځه چې راواده شي ده ته او ښځې ورته ووايي چې دا ستا ښځه ده ځکه ده اعتماد په دليل کړی دی چې هغه اخبار په ځای د اشتباه کې دی ځکه د ښځو قول هم دليل لري او روا کونکی دی ځکه قول د يو کس هم په معاملاتو کې مقبول دی، ځکه انسان په اول وهلت کې د خپلې ښځې او د پردۍ تر مينځ فرق نه شي کولی نو دا داسې شو لکه دوکه شوی [فتح القدير ۵\۲۴۵ هدايه].

(**و عليه مهرها**) نو هرکله چې د شبهې د وجې د واطي څخه حد ساقط شو خو مهر وربانديې لازم دی (**و محرمة نكحها**) دا عطف دی په اجنبية باندې، يعنې که يو کس يوه محرمه ښځه د خپلو محارمو

ځخه په نکاح کړي لکه مور ترور خور و غیره او بیا وطي ورسره وکړي نو ده ته به هم حد نه شي ورکولی د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد ځکه امام صاحب دغه نکاح شبهه ګرځولې ده په دفع کولو د حد کې

یو حد دی او بل تعزیر دی په حد کې د شریعت محمدي له طرفه اندازه مقرره ده خو په تعزیر کې د شریعت لخوا مقرره اندازه نشته بلکي د پاچا رای ته به پریخودلی شي، نو امام صاحب وایي چې حد ترې ساقط دی ځکه شبهه د نکاح موجوده ده خو تعزیر به ورکولی شي.

بعضې شیعو او اتباع د محمد بن عبد الوهاب النجدي (چې اهل الحدیث دي) په دې مسئله کې په امام ابو حنیفه رحمه الله څلور طعنونه یعني عیبونه لګوي خو دا څه لرې خبره ځکه نه ده چې دوی د امام ابو حنیفه رحمه الله ځخه په اوچتو خلقو عیبونه لګوي لکه صحابه رضوان الله تعالی علیهم اجمعین.

اول طعن دا دی چې د محارمو سره د نکاح ځخه وروسته په وطي سره حد ساقطول دلیل د دې دی چې دا فعل جائز دی خو دا طعن یې بې ځایه دی، ځکه حد ساقطول یوه خبره ده او د فعل رواوالی بله خبره ده، او د سقوط د حد ځخه په وطي کې حل د فعل نه راځي حدود په شبهاتو سره ساقطیږي.

دویم دا چې هرکله په وطي د محارمو سره حد واجب نه شو نو دا دلالت په دې کوي چې په دیکې یوه سزا هم نشته، خو دا خبره هم د دوی غلطه ده ځکه چې حد عبارت د دې ځخه نه دی چې هره سزا دې عقوبت وي، بلکي حد عبارت دی د هغه عقوبت مقدره ځخه چې خاص د الله تعالی د حق لپاره واجب وي، نو د امام صاحب د خبرې مطلب دا راووت چې واجب نه دی په دغه واطي باندې هغه سزا چې د زاني لپاره مقرر ده چې هغه رجم یا جلد دی ځکه دلته داسې شبهه راغلې چې حد یې ساقط کړی خو دا مطلب یې نه دی چې مطلق سزا ورباندې نشته، بلکي تعزیر ورباندې شته مثلاً دوینی ځکل او دخنزیر خوراک وغیره حرام دی چی ددی حرمت د زنا ځخه هم زیات دی خو سره ددینه حد پکی نشته او تعزیر پکی واجب دی.

دریم عیب داسې لګوي چې امام صاحب د کتاب الله ځخه مخالفت کړی دی ځکه کتاب الله د محارمو سره نکاح حرام کړي ده او د زاني لپاره یې حد واجب کړی دی خو دا عیب یې هم بې ځایه دی ځکه امام صاحب دا نه دي ویلي چې د محارمو سره وطي حلاله ده یا د محارمو سره نکاح حلاله ده یا په زاني حد نشته چې مخالفت د کتاب الله سره راشي بلکي امام صاحب ویلي دي چې که یو کس د مور سره نکاح وکړه او د نکاح ځخه وروسته ورسره وطي وکړي نو په دغه زاني حد نشته

خكه دغې نكاح سره شبهه په حلت كې راغله او حدود په شبهه ساقطيږي خو دايې ويلي دي چې په داسې خبيث سخت تعزير پكار دى

څلورم عيب يې دا دى چې په دې مسئله كې امام صاحب د حديثو څخه مخالفت كړى دى، حديث شريف كې راځي چې چا د محارمو سره زنا وكړه نو قتل يې كړئ، بل حديث كې راځي چې براء رضي الله عنه وايي چې زه د خپل ماما سره مخامخ شوم او بيرغ ورسره وو نو ما ورته وويل چې چيرته ځي هغه راته وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راليږلى يم چې يو سړي د پلار د مرګ څخه وروسته د پلار د ښځې يعنې د ميرې سره نكاح كړي نو ماته يې امر كړى چې څټ يې ووهم، او مال هم راوړم، نو د دې څخه جواب دا دى چې قتل يا څټ وهل يا مال راوړل چې كوم په دې احاديثو كې ذكر دي دا خو د زاني حد نه دى ځكه د حديث څخه دا معلوميږي چې هر چا د محارمو سره زنا وكړه نو قتل يې كړئ او سره د دې نه چې رجم خو د محصن پورې بالاتفاق خاص دى بلكې بعضې احاديثو كې دا راغلي دي چې چا د محارمو سره نكاح وكړه نو قتل يې كړئ، نو نكاح خو زنا نه ده همدارنګه د مال اخستل هم د ټولو ائمو په اتفاق سره حد د زاني نه دى حد د زاني خومعلوم دى چې هغه رجم دى يا درې دي او قتل او څټ وهل خو نه رجم دى او نه درې دي نو معلومه شوه چې نبي عليه السلام امر د قتل يا د څټ وهلو يا د مال راوړلو كړى دى نو دا تعزيراً او سياسةً دى او امام صاحب خو هم د همدې قائل دى چې حد وربانديې نشته خو تعزير وربانديې شته، والله الموفق للسداد.

(او بهيمة او اتى في دبرها الخ)

توضيح: كه چا د چارپايي لكه خر غوايه و غيره سره وطي وكړه نو په واطي باندې حد نشته لكه دا نه لغةً زنا ده او نه شرعًا زنا ده خو په امام لازم دي چې تعزير وركړي لكه حديث شريف كې راځي چې **(من اتى البهيمةَ فاقتلوه واقتلوا البهيمةَ معه)** او د چارپايي په وژلو كې حكمت دا دى چې د خلقو خبرې وركې شي چې دا هغه څاروي دى چې فلاني وطي كړي **(او اتى في دبر)** همدارنګه كه چا په دبره كې وطي وكړه يعني لواطت يې وكړو، نو د امام صاحب په نزد په دغه واطي حد نشته **(و اما عندهما و عند الشافعي)** خو د صاحبينو په نزد او د امام شافعي رحمه الله په نزد به دغه لوطي ته حد د زنا وركولى شي **(لانه)** ځكه لواطت په معنى د زنا كې دى ځكه لواطت هم د شهوت پوره كول دي په هغه محل كې چې مشتها وي. په پوره طريقه سره **(على وجه)** او شهوت پوره كول په داسې طريقه دى چې خالص حرام دى لكه حديث مبارك كې راځي چې چا د قوم لوط عمل وكړو نو فاعل

او مفعول به دواړه قتل کړئ خو د صاحبينو په نزد دغه حد هلته دی چې د پرديو خلقو سره لواطت وکړي، اما که د خپل غلام سره يا د خپلي وينزې سره يا د خپلې ښځې سره لواطت وکړي نو بيا دغه حدود ور باندې نشته اګر چې حرام دی او په دې سره په زياداتو کې تصريح شوې ده ځکه بعضې خلق د خپلې ښځې سره لواطت حلال ګڼې دليل کې دا ايت کريمه نيسي چې [الا علی ازواجهم او ما ملکت ايمانهم] من غير فصل بين محل و بين محل [کفايه۵\۲۴۹]

خو امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې دغه احاديث چې کوم د لواطت په باره کې راغلي دا په سياست باندې حمل وي وجه داده چې په ديکې د محصن او غير محصن تر مينځ فرق نه دی شوی، او په حد د زنا کې فرق شته **(فان الصحابة)** ځکه صحابه د لواطت په موجب يعنې جزا کې اختلاف کړی، بعضې وايي چې لوطي د په اور وسوځولی شي بعضې وايي چې ديوال دې پرې راوغورځولی شي **(والتنکيس)** بعضې وايي چې راسرچپه دې کړی شي د اوچت ځای ځخه **(باتباع الاحجار)** سره د تيږو وريسې کولو ځکه قوم لوط باندې هم د تيږو باران شوی وو نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به دغه سزاګانو سره تعزير ورکولی شي.

(اوزنا فی دار حرب او بغی هذا عندنا خلافا للشافعی رحمه الله ولا بزنا غير مکلف بمکلفة اصلا لا علی هذا ولا علی هذه وعند زفر والشافعی تحد هی، وفی عکسه حد هو فقط ولا ان اقر واحد به والآخر بنکاح و فی قتل امة بزنا يجب الحد والقيمة والخليفة لا يحد لانه صاحب الحق نيابة عن الله تعالی ويقتص و يؤخذ بالمال لان من له الحق هو الوارث والمالک).

وضاحت: که يو کس په دار الحرب کې يا په دار البغي کې زنا وکړي او بيا دار الاسلام ته راشي او اقرار وکړي چې ما په دار الحرب يا دار البغي کې زنا کړي ده نو زمونږ په نزد به ده ته حد نه شي ورکولی خو امام شافعي رحمه الله وايي چې حد به ورکولی شي ځکه دغه کس په اسلام راوړلو سره په ځان تړول احکام منلي دي، مونږ احناف ورته وايو چې مقصود د حد ځخه خلک د ګناهونو ځخه منع کول دي او ولايت د امام په دار الحرب او دار البغي کې نشته نو د حد وجوب څه فائده نشته **(ولا بزنا)** همدارنګه حد نشته په زنا د غير مکلف يعني د ليوني او ماشوم د مکلفي سره يعنې د عاقلي بالغي سره يعني نه په غير مکلف باندې حد شته او نه په مکلف باندې او امام زفر او امام شافعي رحمهما الله وايي چې په مکلفي باندې حد شته ځکه عذر د غير مکلف له خوا د مکلفي ځخه حد نه ساقطوي لکه څرنګه چې عذر د غير مکلفي له خوا د مکلف ځخه حد نه ساقطوي، ځکه فعل د زنا د سړي له خوا ثابتيږي او ښځه خو محل د فعل ده نو ښځه باندې هلته حد

واجبیږي چې د هغه کس فعل ته غاړه کیږدي چې هغه کس مخاطب په دي وي چې د زنا څخه منع شه او فعل د ماشوم او لیوني خو په دې صفت نه دی یعنې ماشوم او لیوني مخاطب نه دی د الله تعالی له طرفه چې [و لاتقربُوا الزنا] نو د دوی فعل به هم زنا نه وي نو چې د دوی فعل زنا نه شوه نو ښځې هم زنا ته غاړه نه ده ایښي نو حد هم ورباندې نشته [هدایه، فتح القدیر ۵/۲۵۸].

(و في عكسه حد هو فقط) خو که مکلف د غیر مکلفې سره زنا وکړه نو حد به صرف مکلف ته ورکولی شي بالاجماع ځکه فعل د زنا د داسې کس څخه صادر شوی دی چې هغه مخاطب دی په منع سره د زنا څخه (و لا ان اقر) که زاني یا زانیه اقرار د زنا وکړو او بل کس یعنې مزنیه یا زاني وویل چې دغه وطي په نکاح سره یعنې مونږ نکاح کړي نو حد د زنا ترې ساقط شو ځکه خبر د نکاح احتمال د صدق لرې نو دې سره شبهه پیدا شوه خو مهر وربانديې واجب دی د وجې د تعظیم د بضع نه (و في قتل امة) که یو زاني د بل کس وینزه په زنا سره مړه کړه یعنې د زنا په کولو سره نو ده دوه جنایته وکړه چې یو زنا ده او بل قتل دی نو حد او د وینزې قیمت دواړه وربانديې واجب دي، خو که حره یعنې اصیله ښځه په زنا کرلو سره مړه کړي نو حد او دیت دواړه وربانديې واجب دي [عنایه ۵/۲۷۲].

(والخليفة) او په خلیفه یعنې هغه بادشاه یا امیر المؤمنین چې د هغه په سر بل بادشاه نه وي په هغه به حد د زنا وغیره نه شي قائمولی ځکه حدود حق د الله تعالی دی او الله تعالی خلیفه د خپل ځان څخه په حدودو قائمولو کې نائب مقرر کړی دی نو دا ممکن نه ده چې په خپل ځان حدود قائم کړي (و يقتص) خو که خلیفه یا بادشاه څوک ووژني نو قصاص به ترې اخستلی شي ځکه قصاص د حقوق العبادو څخه دی ځکه حقدار د قصاص وارث دی (و يؤخذ) همدارنګه که خلیفه د چا مال تلف کړي نو مال به ترې اخستلی شي ځکه دا هم حقوق العباد دي ځکه د دې حق دار مادار مالک دی.

باب شهادة الزنا والرجوع عنها

دا باب دی په بیان د شهادت د زنا کې او په رجوع کې د دې شهادت څخه

(من شهد بحدٍ متقادمٍ قريبًا من امامه لم تقبل الافي قذفٍ فان حد القذفِ فيه حق العبدِ وهو لايسقط بالتقادمِ وضمن السرقةَ اي ان شهدوا بالسرقةِ المتقادمة يثبت الضمانُ لانه حق العبد وهو لايسقط بالتقادم وعند الشافعي رحمه الله تقبل وان اقر به حُد اي ان اقر بالحد المتقادم حُد الافي الشربِ على ما ياتي لان المانع من قبول الشهادة انه قد هيجته على الشهادة عداوة حادثة وهذا المعنى لايوجد في الاقرار).

توضيح: (من شهد) چا چې ګواهي وکړه (بحدٍ) يعني په سبب د يو حد سره لکه د زنا و غيره (متقادم) داسې سبب چې وخت يې تير شوی وو (قريبًا من امامه) په داسې حال کې چې دغه ګواه نژدې وو پاچا يا هغه قاضي ته چې د هغه په حضور ګواهي وايي يعنې د شاهد او د قاضي تر مينځ مانع نه وو لکه مرض يا د مسافت لريوالي يا د لارې خطر و غيره چې في الحال ګواهي منع کوي (لم تقبل) نو دغه ګواهي به قبوله نه وي ځکه حدود خالص حق د الله تعالى دی چې په طول د زمانې سره باطليږي (الا في قذفٍ) مګر که چا ګواهي ورکړه په هغه قذف او تهمت سره چې وخت يې ډير تير شوی وو نو بيا هم دغه ګواهي قبليږي ځکه په قذف کې حق د بنده دی او هغه په طول د زمانې سره نه ساقطيږي (و ضمنَ السرقةَ) که ګواهانو ګواهي ورکړه په سرقه متقادمه باندې يعنې چې فلاني په تير وخت کې د فلاني څخه مثلاً د زيد څخه غلا وکړه نو غله باندې حد نشته لکن غله باندې د دغه غلا شوي مال تاوان شته چې مالک ته به يې ورکوي ځکه غلا حق د بنده دی نو په طول د وخت سره نه ساقطيږي.

(و عند الشافعي تقبل) او د امام شافعي رحمه الله په نزد شهادت په حد متقادم سره هم قبول دی، ځکه امام شافعي رحمه الله يې قياس کوي په حقوق العبادو باندې (و ان اقر) که يو کس اقرار وکړو په حد متقادم باندې يعنې په سبب د حد متقادم باندې چې هغه زنا يا غلا ده يعنې چې ما تير وخت کې زنا يا غلا وکړه نو حد ورکولی شي مګر په شرابو څکلو کې به حد نه شي ورکولی لکه په باب الشرب کې به راشي (لان المانع) په حد متقادم کې شهادت نه شي قبلولی او اقرار قبلولی شي ځکه چې مانع د شهادت څخه دا دی چې کله په شهادت باندې باعث تازه دشمني وي او د اقرار په صورت کې نه وي ځکه هيڅوک د ځان سره دشمني نه کوي.

(و تقادم الشرب بزوال الريح ولغيره بمضي شهرٍ فان شهدوا بزنًا وهي غائبة حُد وبسرقةٍ من غائبٍ لا لشرطية الدعوى في السرقةِ دون الزنا على ما يأتي الفرق في كتاب السرقة ان شاء الله تعالى، و لو اختلف اربعة في زاويتي بيتٍ اواقر بزنًا وجهلها حُد اذا التوفيق ممكن بأن يكون ابتداء الفعل في زاوية و انتهاءه في اخرى وجهلَ المقر لا يضره اذ لو كانت امراة او امولده لا يخفى عليه).

تنقيح: (و تقادم الخ) او د نشه يې توکو د څکلو طول د زمانې په ختميدلو د بوی سره راځي نو که ګواهانو وروسته د هغې ګواهي ورکړه چې د شارب د خولې څخه د شرابو و غيره بوی ختم شوی وو

نو دغه ګواهي منظوره نه ده **(و لغیره)** خو د شرابو څخه ماسوا لکه زنا غلا و غیره د دې تقادم او طول د زمانې په یوه میاشت تیریدلو سره راځي **(فان شهدوا)** که ګواهانو ګواهي ورکړه چې زید د فلانۍ سره زنا وکړه او حال دا چې مزنیه غائبه وه نو زاني ته به حد ورکولی شي **(و بسرقة)** او که ګواهانو ګواهي ورکړه چې زید د فلاني څخه غلا وکړه خو هغه فلاني مسروق عنه غائب وو نو دغه ګواهي قبوله نه ده، وجه یې داده چې په غلا کې دعوه کول شرط دی او دلته دعوه نشته ځکه مالک د مال غائب دی خو په زنا کې دعوه شرط نه ده.

(و لو اختلف) څلورو کسانو ګواهي ورکړه په زنا باندې خو ګواهان په دوه کونجو د کوټه کې سره مختلف وو یعنې دوو ګواهانو د کوټې یو کونج ښوده او دوو نورو د کوټې بل کونج ښوده نو دغه ګواهي به قبلولی شي او په زاني به حد قائمولی شي ځکه توفیق د دواړو ګواهیو ممکن دی هغه داسې چې ابتداء د فعل یعنې د زنا په یو کونج کې وي او انتهاء یې په بل کونج کې وي **(او اقر)** یا زاني په زنا باندې اقرار وکړي چې زنا مې کړې ده **(و جهلها)** خو مزنیه ورته معلومه نه وي یعنې وایي چې ماته مزنیه معلومه نه ده نو په دې صورت کې به زاني ته حد ورکولی شي ځکه چې جهالت د اقرار کونکی چې ماته مزنیه معلومه نه ده ضرر نه کوي، ځکه که دغه موطوءه دده ښځه یا وینزه وای نو په ده به پټه نه وه.

> **(فان شهدوا كذلك واختلفوا في طوعها او بلد زناه او اتفق حجتاه في وقته واختلفا في بلده او شهدوا بزنا وهي بكر او فسقة او هم شهود على شهود لم يحد احد وان شهد الاصول ايضًا بعدهم).**

تشریح: (فان شهدوا الخ) که ګواهانو داسې ګواهي ورکړه چې فلاني زنا کړې ده خو مزنیه مونږ ته معلومه نه ده چې څوک ده **(او اختلفوا في طوعها)** یا ګواهان مختلف وو په رضا د مزنیه کې، یعنې بعضو وویل چې د مزنیې ورسره رضا وه او بعضو وویل چې د مزنیې ورسره رضا نه وه **(او بلد زناه)** او یا ګواهان مختلف وو په ښار د زنا کې بعضو وویل چې فلانی ښار وو او بعضو وویل چې فلانی ښار وو **(او اتفق)** یا شهود متفق وو په وخت د زنا کې چې فلاني وخت کې وو خو مختلف وو په ښار کې یعنې په وخت کې سره څلورواړه متفق وو خو په ښار کې سره د شهودو اختلاف وو **(او شهدوا)** یا ګواهانو په زنا سره ګواهي ورکړه خو حال دا چې هغه ښځه باکره وه یعنې د پیغلتوب پرده موجوده وه **(او هم فسقة)** یا ګواهان فاسقان وو یعنې غیر مقبول الشهادة وو **(او هم شهود**

(الخ) يا دوى ګواهان وو په نورو ګواهانو يعنې چې مونږ ګواهي وركوو په څلورو نورو ګواهانو چې **هغوى** فلانى وليده چې د فلانۍ سره يې زنا وكړه **(لم يُحد احد)** نو په دې مذكوره ټولو صورتونو كې به هيچا ته حد نه شي وركولى نه زاني او مزنيه ته او نه ګواهانو ته د تهمت په وجه **(وان شهدوا)** اګر چې د فروعو د شهادت څخه وروسته اصول هم ګواهي وركړي.

(واعلم) شارح د مصنف د تير مذكور درس وضاحت كوي او وجه يې بيانوي **(فقوله فان شهدوا كذلك)** يعنې ګواهانو هم داسې ګواهي وركړه چې فلاني زنا وكړه خو مزنيه ورته معلومه نه وه چې څوك ده نو په دې صورت كې په زاني حد نشته ځكه احتمال لري چې موطوءه دده ښځه يا وينزه وي او په ګواهانو هم حد نشته ځكه نصاب د شهادت معلوم دى چې څلور دى.

(وان شهد اربعة) او كه څلورو كسانو ګواهي وركړه خو دوو داسې ګواهي وويله چې دغه مزنيه په رضا وه او دوو داسې ګواهي وويله چې د مزنيه سره په زوره يې زنا وكړه نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په زاني او مزنيه دواړو حد نشته، خو صاحبين وايي چې زاني ته به حد وركولى شي ځكه څلورواړه ګواهان دده په زنا متفق دي خو ښځې ته به حد نه شي وركولى ځكه ګواهان د دې په رضا كې سره اختلاف كې دي او د حد لپاره د ښځې رضا شرط ده **(وله ان الفعل)** الامام الهمام بيا دا دليل وايي چې ګواهان خو مختلف شو نو فعل مشهود به يعنې زنا كه يوه شي يعنې په رضاء يا كرهي سره نو بعضې ګواهان دروغجن شو ځكه يو فعل نه متصف كيږي په دوو صفتونو متضادينو سره چې هغه رضاء او كرهه ده، او كه فعل مشهود په يو نشى بلكې په رضاء او كرهي دواړو سره شي نو نصاب د شهادت د هر يو لپاره نه برابريږي ځكه دوه د رضاء شو او دوه د كرهي لپاره شو، او شرعًا ګواهان څلور دي نو زاني او مزنيه دواړو ته به حد نه شي وركولى **(ولا يُحد الشهود)** خو په ګواهانو به هم حد قذف نه شي قائمولى ځكه نصاب د شهادت پوره دى چې څلور دى اګر چې د وجې د اختلاف نه د دوى ګواهي قبوله نه ده او حد قذف هلته قائميږي چې نصاب د شهادت پوره نه وي

(وان شهدَ اربعة بزناه الخ) كه څلورو كسانو ګواهي وركړه چې فلاني زنا كړي ده خو په ښار د زنا كې سره مختلف وو نو په واطئ او موطوءه دواړو باندې حد نشته، ځكه كه فعل د زنا يو شي نو په دوه ځايونو كې بيا څنګه موجوده شو، نو بعضې ګواهان دروغجن شو او كه فعل د زنا يو نه شي نو بيا خو نصاب د شهادت برابر نه شو او په ګواهانو هم حد نشته ځكه عدد پوره دى.

خو امام زفر رحمه الله وايي چې په ګواهانو حد قذف واجب دى ځكه هر كله چې د وجې د نقصان د

عدد نه د دوی شهادت قبول نه شو نو د دوی کلام قذف وګرځيده خو مونږ جواب کوو چې څلورو کسانو په يو کس د زنا ګواهي کړې ده چې اتحاد زاني او مزنيه دواړو پکې دي خو اختلاف صرف په مکان کې دی نو د وجې د شبهې د اتحاد د مشهود عليه چې زاني او زانيه ده حد قذف د شهودو څخه ساقط شو.

(**و ان شهد اربعة الخ**) که څلورو کسانو د يو کس په زنا سره ګواهي ورکړه په يو وخت معين کې مثلا نمر ختلو کې په يو ښار معين کې مثلا کوفه کې او څلورو نورو کسانو ګواهي ورکړه په زنا د همدغه کس سره په همدغه معين وخت کې چې نمر ختل دي خو په بل ښار کې مثلاً بصره کې نو حد په زاني او مزنيه نشته. (**لان شهادة**) ځکه شهادت د يوې ډلې مردوده وه ځکه دروغ يې يقيني دي ځکه دا امکان نه لري چې د يو کس څخه دې فعل صادر شي په يو وخت کې په دوه لرې ښارونو کې او يوه ډله په بله ترجيح هم نه لري نو دواړه ډلې مردودې وي (**و لا على الشهود الخ**) او په ګواهانو هم حد نشته يعنې اته واړو باندې ځکه احتمال لري چې يوه ډله رشتيا وايي (**يرد عليه**) په دې يو اعتراض راځي چې ته وايې چې په شهودو حد ځکه نشته چې احتمال د دې شته چې يو فريق پکې رشتيا وايي نو زه وايم چې دا احتمال لري چې هره ډله‌دې دروغ وايي او ظاهر هم همدا معلوميږي لکه مخکې چې تير شو چې د يوې ډلې کذب يقيني دي او يو په بل ترجيح هم نه لري نو صدق د احدهما محتمل شو په احتمال بعيد سره بيا په دې احتمال کې احتمال شته چې دغه يوه معلومه ډله دې صادقه وي، يا دې هغه بله نو په صدق د هر فريق کې احتمال راغی او دا شبهة الشبهه ده او شبهة الشبهه ته اعتبار نه وي؟ (**فأقول**) نو مونږ جواب کوو چې ګواهانو باندې ځکه حد نشته چې څلور ګواهان موجود دي نو شهادت د هرې ډلې که په مشهود عليه يعني زاني او مزنيه باندې حد جاري نه کړي نو اقلاً خو دومره تهمت پيدا کوي چې د هغې بلې ډلې څخه حد ساقط کړي.

(**و ان نظرت**) څلور کسانو ګواهي وکړې چې فلاني د فلانۍ سره زنا کړې ده يوې ښځې دغه مزنيه وکتله چې ګوري باکره ده يعنې د پيغلتوب پرده يې جوړه ده نو د زاني او مزنيه څخه حد ساقط شو ځکه زنا او بکارت دواړه نه جمع کيږي، او په ګواهانو باندې حد قذف هم نه جاري کيږي ځکه په ثبوت د حد قذف کې شهادت د سړيو شرط وي او دلته بکارت د ښځو په قول ثابت شوی (**و اذا کانوا**) او که ګواهان فاسقان مردود الشهادة وو نو زاني او مزنيه څخه حد ساقطيږي او د ګواهانو څخه هم حد ساقط دی ځکه چې فاسقان اهل د شهادت دي نو شهادت د څلورو وجود شو نو ثبوت

د حد قذف لپاره پیدا نه شو (وإن كانُوا شهودًا الخ) او كه دغه ګواهان شهود على الشهود وو يعني دوی وويلي چې مونږ فلاني فلاني شاهدان ګرځولي يو چې تاسو شاهدان اوسئ زمونږ په شهادت چې مونږ فلاني وليده چې د فلانی سره يې زنا وکړه نو په دې شهادت سره به سړي او ښځې ته حد نه شي ورکولی، ځکه د دوی په شهادت کې زيادت دی چې هغه شبهه ده (لان الكلام) ځکه خبره چې کله ډيرو ژبو ته ولوېږي (يتطرق اليه) نو داخلیږي د ہته زياتوالي او نقصان (ثم ان جاء الاصول) بيا که اصول يعني شهود راشي او د فروعو يعني شهود على الشهود د شهادت ځخه وروسته په همدې زنا ګواهي ورکړي نو بيا به هم سړي او ښځې ته حد نه شي ورکولی، ځکه دا صولو شهادت رد شوی من وجه چې هغه په رد د فروعو سره وو او شهادت چې کله په يوه حادثه کې رد شي نو بيا په همدې حادثه کې د تل لپاره نه قبليږي (و هذا ضعيف) دا يو اعتراض دی چې تاسو د فروعو د شهادت په رد کيدو د اصولو شهادت رد کوئ نو دا خو غلطه ده ځکه د فروعو د شهادت رد کيدل خو د يوې معنی د وجې وو چې د فروعو پورې خاص وو چې هغه د شبهې پيدا کيدل دي په دې چې دا خبره په ډيرو ژبو وګرځيده (لا يسري الى الاصول) نو د دې وجې خو د اصولو شهادت نه رد کيږي ځکه د کومې معنی د وجې چې د فروعو شهادت رد شوی دغه معنی خو په شهادت د اصولو کې نشته.

(ويُمكنُ) نو شارح د دې اعتراض جواب کوي چې د اصولو شهادت ځکه قبول نه دی چې اصولو په اثبات د زنا کې په يو امر غير مشروع سره سعي او کوشش کړی وي نو د دوی شهادت د الله تعالى د رضا لپاره نه شو بلکې د دوی سعي صرف د اشاعت د زنا لپاره وو چې دا به هم يا د دشمنۍ د وجې وو يا د بلې وجې نو د دغې تهمت د وجې د دوی شهادت رد کړی شو.

> **(وان شهدُوا عمياناًاو محدودين في قذفٍ اوثلاثة اواحدهم محدوداوعبداووجد كذابعدالحد حُدّوا لعدم اهلية الشهادة اوعدم النصاب فيجبُ الحدلقوله تعالى [والذين يرمونَ المحصناتِ ثم لم يأتوا بأربعة شهداءفاجلدُوهم ثمانينَ جلدة] الآية).**

بيان حكم شهادة من ليس باهلها: که په زنا سره ګواهي هغه کسانو وکړه چې اهل د شهادت نه وو لکه ړانده يا محدودين في القذف يعني چې يو ځل مخکې په تهمت کې حدود ور باندې جاري شوي وي يا د نصاب ځخه کم وي مثلاً درې يا دوه وي يا په دې ځلورو کې په يوه حد جاري شوی وي، يا پکې يو غلام وي (او وجد كذا) يا د حد ځخه وروسته دارنګې ومودلی شي، يعنې د ځلورو.

ګواهانو په ګواهي سره يو کس باندې حد جاري شو د دېنه وروسته په ګواهانو کې يو کس غلام موجود شو يا محدود في قذف يا و غيره (حدوا) نو په دې ټولو صورتونو کې به ګواهانو ته حد قذف ورکولی شي، ځکه په بعضې صورتونو کې اهليت د شهادت پکې نشته او په بعضې صورتونو کې نصاب د شهادت کم دی، نو حد قذف د دې ايت کريمه د وجې وربانديې لازم دی چې [والذين يرمون الخ] چې کوم کسان په پاکدامنو ښځو تهمت ولګوي او بيا څلور ګواهان حاضر نه کړي نو اتيا درې سزا ورکړئ.

(وارشُ جرحٍ جلدهٖ هدرٌ وديةُ رجمهٖ في بيتِ المالِ)

توضيح: (و ارش الخ) او تاوان د زخم د دروو هدر دی يعنې ګواهانو ګواهي ورکړه چې فلاني زنا وکړه خو هغه زاني غير محصن وو نو د دوی په شهادت سره زاني ته درې ورکړی شي خو درو سره زاني زخمي شو بيا په شهودو کې يو شاهد غلام معلوم شو يا محدود في القذف، نو د درو زخم هدر دی يعنې په هيڅ يې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد تاوان نشته، خو صاحبين وايي چې د زخم تاوان به د بيت المال څخه ورکولی شي ځکه دغه زخم د درو د وجې راغلی او دره اګر چې فعل د جلاد دی خو نسبت يې قاضي ته کيږي ځکه د قاضي په امر دغه کار شوی دی او قاضي عامل د مسلمانانو لپاره دی نو تاوان به هم په مال د مسلمانانو کې وي چې بيت المال دی.

(و له ان الفعل) امام صاحب وايي چې کوم فعل يعنې درو سره زخم راغلی دی د دې نسبت قاضي ته نه کيږي، ځکه قاضي خو امر په زخم سره نه دی کړی بلکي په داسې وهلو سره کړی دی چې ودرديږي خو زخمي نه شي نو دا به صرف تر جلاده پورې منحصر وي ځکه جلاد بې باکي کړې ده (ثم هو) دا دفع د اعتراض ده چې کله فعل د جلاد يعنې درې وهونکي پورې منحصر شو نو پکار ده چې بيا د جلاد څخه تاوان واخستلی شي نه د بيت المال څخه نو شارح رحمه الله جواب وکړو چې د جلاد څخه به هم تاوان نه شي اخستلی د دې لپاره چې خلک د اقامت د حدودو څخه منع نه شي د وجې د ويرې د تاوان څخه (و ان شهدوا) او که شهودو ګواهي په زنا وکړه خو زاني محصن وو او رجم کړی شو (ثم ظهر) بيا معلومه شوه چې په شهودو کې يو غلام وو يا محدود في القذف وو وغيره نو ديت د رجم به د بيت المال څخه وي ځکه رجم د دوی په شهادت سره ثابت شو نو که دوی د شهادت څخه رجوع وکړي نو تاوان به ترې اخستلی شي او که رجوع ونه کړي نو ديت به د بيت المال څخه وي، ځکه د رجم نسبت قاضي ته کيږي او قاضي عامل د مسلمانانو دی نو تاوان به هم د مسلمانانو په مال کې وي چې بيت المال دی.

(واى رجعَ من الاربعةِ بعد رجمٍ حُد)

وضاحت: او په ګواهانو کې چې هر يو د رجم څخه وروسته د خپل شهادت څه رجوع وکړي چې ما دروغ ويلي دي نو صرف همدغه رجوع کونکی به په حد کولی شي. خو امام زفر رحمه الله وايي چې په رجوع کونکي باندې هم حد قذف نشته ځکه دغه راجع به يا تهمت لګونکی په ژوندي وي او يا په مړي که په ژوندي تهمت لګونکی وي نو ژوندی خو مړ شو يعنې رجم شو او دده په مرګ سره حد قذف هم ساقط شو. او که تهمت لګونکی په مړي وي نو هغه خو د قاضي په امر رجم شوی دی **(قلنا)** نو مونږ د امام زفر رحمه الله په جواب کې وايو چې دده تهمت په مړي لګولی دی ځکه په رجوع سره دده شهادت تهمت وګرځيده نو رجوع کونکی داسې شو لکه چې د مرګ څخه وروسته چې يې تهمت لګولی وي او دغه مشهود عليه اوس مرجوم په حکم د قاضي پاتې نه شو ځکه د قاضي حکم موقوف په دليل وو چې شهادت دی او چې کله شهادت باطل شو نو د قاضي حکم هم باطل شو.

(وغرمَ ربع الدية)

وضاحت: او په دغه رجوع کونکي به تاوان څلورمه حصه د ديت وي، نو که څلورواړو رجوع وکړه نو بيا پوره ديت واجب وي، دا د احنافو مذهب دی، خو د امام شافعي رحمه الله په نزد به دغه رجوع کونکی قصاصًا وژلی شي، دا مسئله بناء ده په اصل د امام شافعي باندې په شهودو د قصاص کې يعنې په شهودو د قصاص کې چې قتل قصاصًا دی نو دلته به هم وي، هغه داسې چې مثلاً دوه کسانو ګواهي ورکړه چې زيد عمرو لره قتل کړو نو د دوی په شهادت سره د زيد څخه قصاص واخستلی شو بيا بيرته ګواهانو رجوع وکړه چې مونږ دروغ ويلي وو نو زمونږ په نزد ديت په ګواهانو واجب دی، او د امام شافعي رحمه الله په نزد قصاص واجب دی نو په دې مسئله د متن کې هم د امام شافعي په نزد قصاص دی. لکه امام شافعي رحمه الله دغه جزئيه په بحث د دياتو کې ذکر کړې ده.

(وقبله حُدافقط)

وضاحت: او که د رجم څخه مخکې هر يو ګواه رجوع وکړه يو وي که دوه وي که دري وي نو حد قذف به ټولو ګواهانو ته ورکولی شي او مشهود عليه يعنې زاني او مزنيه هر يو به په حد کولی نشي **(فأن كان الرجوع)** او که هر يو د شهودو څخه د قاضي د فيصلې څخه وروسته د رجم څخه مخکې رجوع وکړي نو د امام محمد رحمه الله په نزد به صرف رجوع کونکي ته حد قذف ورکولی شي او نورو ته به نه شي ورکولی، ځکه د باقي شهودو شهادت د قاضي په فيصلې سره مضبوط

شوی دی نو د قاضي فيصله به نه فسخ کيږي مګر صرف د رجوع کونکي په حق کې (**قلنا الفسخ**) مونږ د امام محمد رحمه الله په جواب کې وايو چې د ګواه په رجوع سره د قاضي فيصله فسخ شوه نو ټولو ګواهانو ته به حد ورکولی شي (**و ان کان الرجوع قبل الحکم الخ**) او که د ګواه رجوع د قاضي د فيصلې څخه مخکې وه نو د امام زفر رحمه الله په نزد به صرف رجوع کونکي ته حد ورکولی شي ځکه په رجوع سره دا قاذف وګرځيده او نورو رجوع نه ده کړي نو قاذفين هم ونه ګرځيدل، نو حد به هم نورو ته نه شي ورکولی، نو مونږ د ده نه جواب کوو چې د دوی يعنې د ګواهانو خبره په پخپله اصل کې يو تهمت دی خو چې د قاضي فيصله ورسره يو ځای شي نو شهادت ګرځي، او کله چې د قاضي فيصله ورسره يو ځای نه شي نو دا قذف پاتې شوه نو ټولو ته به حد ورکولی شي.

(ولا شيءَ على خامسٍ رجعَ فان رجعَ آخر حُدا وغرما ربع ديته).

توضيح: که پنځه کسانو ګواهي وکړه چې فلاني زنا کړې ده بيا د رجم څخه وروسته يو رجوع وکړه چې ما دروغ ويلي دي نو په دې رجوع کونکي نه ديت شته او نه حد، همدارنګه په پاتې څلورو باندې نه ديت شته او نه حد ځکه نصاب د شهادت بيرته پاتې دی چې څلور دي (**فان رجعَ آخر**) خو که د پنځم سره بل کس هم رجوع وکړه نو بيا به د دواړو رجوع کونکو ته حد قذف ورکولی شي ځکه هغه نصاب د شهادت پاتې نه شو چې حجت وربانديې پوره کيده او د رجوع کونکو دواړو په حق کې شهادت ختم شو نو دواړو ته به حد ورکولی شي (**و غرما**) او دواړو رجوع کونکو باندې ربع د ديت تاوان واجب دی، ځکه د دوی نه وروسته هغه څوک پاتې دي چې درې حصې حق ورباندې ثابتيږي چې هغه درې ګواهان دي، اصل دا ده چې معتبر په باب د شهادت او رجوع کې هغه څوک دی چې پاتې دي نه هغه څوک چې رجوع يې کړې ده او دلته پاتې درې ربع د نصاب دي نو په دواړو رجوع کونکو يوه ربع د ديت تاوان دی.

(وضمنَ الديةَ من قتلَ المامورَ برجمهِ اى أُمر بالرجمِ فقتله بطريقٍ آخرَ اوزكى شهودَ الزنا فرجم فظهروا عبيداً اوكفاراً فيهما اى فى مسئلةِ القتلِ والتزكيةِ والضمانُ على المزكينَ فى قولِ ابى حنيفةَ وعندهما لا ضمانَ عليهم بل فى بيت المال).

تشريح: (**و ضمن**) او تاوان د ديت به هغه کس ورکوي چې ووژني هغه کس چې د هغه په رجم د قاضي له خوا امر شوی وو يعنې يو کس باندې د قاضي له خوا د رجم امر شوی وو نو بل کس دغه مامور د رجم نه بغير په بله طريقه ووژه نو په دغه قاتل ديت واجب دی (**او زکی**) يا څلور کسانو د يو

کس په زنا باندې ګواهي ورکړه خو يو بل کس د دغه ګواهانو تزکيه وکړه بيا قاضي د زاني په رجم حکم ورکړو خو يو بل کس د دغه ګواهانو تزکيه وکړه بيا قاضي د زاني په رجم حکم وکړو او رجم کړې شو (فظهروا) بيا دغه ګواهان غلامان يا کافر ښکاره شو نو تزکيه کونکي باندې هم ديت واجب دی (فيهما) دا متعلق دی تر ضمن پورې يعني په مسئله د قتل کې په قاتل او په مسئله د تزکيه کې په مزکي باندې تاوان واجب دی، خو په مزکينو باندې تاوان د امام صاحب مذهب دی، او د صاحبينو په نزد په مزکينو تاوان نشته بلکې د بيت المال څخه به وي، ځکه مزکينو خو صرف د شهودو صفت کړې دی او په صفت سره خو زنا نه ثابتيږي بلکې زنا د شهودو په قول ثابتيږي نو که مزکي د خپل صفت څخه رجوع وکړي نو هيڅ شئ ورباندې نشته.

(وبيت المال ان لم يُزك فرُجم اي ضمن بيت المال اذا شهدَ الشهودُ بالرجمِ فلم يزكوا فرجم فظهروا عبيدًا اونحوَ ذلك فان شهدُوا بزنًا واقروا بنظرهم عمدًا قُبلت اي شهادتهم لانه يباح لهم النظرُ لتحملِ الشهادةِ).

وضاحت: او بيت المال به تاوان د ديت ورکوي که د شهودو تزکيه ونه شوه او بيا زاني رجم شو د رجم څخه وروسته معلومه شوه چې شهود غلامان دي يا کفار دي و غيره ځکه رجم د قاضي په امر وشو نو نسبت قاضي ته کيږي او قاضي د مسلمانانو لپاره عامل دی نو د مسلمانانو د مال څخه چې بيت المال دی تاوان به ورکولی شي (فان شهدوا بزنًا) که ګواهانو ګواهي وکړه په زنا د يو کس سره (واقروا) او د قاضي په مخکې يې دا اقرار وکړو چې مونږ د زنا کارو عورت ته قصدًا وکتل نو دغه شهادت به قبلولی شي ځکه دوی ته کتل جائز دي د دې لپاره چې شهادت اداء کړي او حاکم ته يې ورسوي نو د دوی ګواهي به نشي فسخ کولی.

(وزانٍ انكروطي عِرسه وقدولدت منه او شهدَ باحصانه رجل وامرأتانِ رُجم).

توضيح: څلور ګواهانو ګواهي وکړه چې فلاني زنا کړې ده خو زاني د احصان څخه منکر شو يعني چې ما خپلې ښځې سره کوروالی نه دی کړی حال دا چې دده ښځې د ده د زنا څخه مخکې بچې راوړی وو او يا د زاني په احصان باندې يو سړي او دوه ښځو ګواهي وکړه نو په دواړو صورتونو کې به زاني زمونږ په نزد رجم کولی شي (خلافًا لزفر والشافعي) خو د دوی دواړو په نزد به نه شي رجم کولی، ځکه د امام شافعي رحمه الله په نزد د ښځو ګواهي په غير اموالو کې نه شي قبلولی، او امام زفر رحمه الله احصان شرط په معنی د علت کې ګرځولی دی نو په ديکې د ښځو شهادت نه شي قبلولی.

باب حد الشرب

دا باب دی په بيان د حد د څکلو د نشه يې شيانو کې

(هو كحد القذفِ ثمانونَ سوطًا للحر ونصفها للعبدِ بشربِ الخمرِ ولو قطرةً، فمن أُخذَ بريحها وان زالت لبُعدِ الطريقِ اوسكران زائل العقل بنبيذِ التمرِ واقر به مرةً اى بشربِ الخمرِ اوبالسكرِ بالنبيذِ او شهدَ به رجلانِ وعُلمَ شربه طوعًا يُحد صاحيًا).

تشريح: (هو) دا حد شرب په شان د حد قذف دی، مصنف رحمه الله حد شرب تشبيه کړو د حد قذف سره ځکه چې حد قذف په قرآنکريم سره ثابت دی او حد شرب په احاديثو مرفوعو سره ثابت دی.
خو اندازه د حد شرب په اتفاق د صحابو سره ثابت ده هغه داسې چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې عمر رضي الله عنه د شرابو په باره کې د صحابو څخه پوښتنه وکړه چې د دې حد به څومره وي نو حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل چې اتيا ۸۰ درې به ورکړي ځکه چې شراب وڅکي نو نشه شي او چې نشه شي نو عبثيات وايي او چې عبثيات وايي نو تهمت لګوي او په تهمت لګونکي باندې ۸۰ اتيا درې دي، نو عمر رضي الله عنه اتيا درې ورکړي، نو د اصيل لپاره به اتيا درې وي او د غلام لپاره به نصف د دې چې ځلوېښت راخي وي (بشرب الخمر) د شرابو په څکلو سره اګر که يو ځاڅکی وي (فمن أُخذ) نو که څوک ونيول شو (بريحها) سره د بوی نه يعنې د شرابو بوی ترې تللو (و ان زالت) اګر چې قاضي ته د رسيدو پورې ترې بوی ختم شي د لارې لريوالي د وجې نه (او سكران) يايې ونيوو څکونکي په داسې حال کې چې نشه وو عقل يې ختم شوی وو (لنبيذ التمر) په څکلو د نبيذ التمر سره نبيذ التمر د هته وايي چې خرما په اوبو کې واچوي تر دې چې خوندېې اوخي او سختې شي (و اقر به مرة) او اقرار يې وکړو د شرابو په څکلو سره يو ځل يايې په نبيذو سره په نشه اقرار وکړو (او شهد) يا په دې باندې دوه ګواهانو ګواهي ورکړه (و عُلمَ) او دا معلومه شوه چې په پخپله رضاء سره يې څکلي دي نو دغه کس ته به حد ورکولی شي (صاحيًا) په حالت د صحت کې نه په حالت د نشه کې ځکه حد د منع لپاره ۲۴۵
او په حالت د نشه کې فائده نه کوي.

(فأن اقربه او شهدا عليهِ بعد زوال الريح او تقيأَهَا او وجد ريحها منه اى عُلمَ الشرب بأن تقيأَها او وُجِدَ ريح الخمر منهُ بلا اقرارٍ او شهادة او رجعَ عن اقرار شرب الخمر او السكر او اقر السكران لا).

توضيح: (فأن اقر) كه په شرابو څكلو باندې اقرار وكړو يا دوه كسانو گواهي ورباندې وكړه خو دغه اقرار او گواهي وروسته د بوى ختميدلو څخه وه نو حد به نه شي وركولى ځكه تقادم سره اقرار او شهادت دواړه نه قبليږي (او تقيأَهَا) ياېي شراب و غيره قئ كړو خو نه يې اقرار كړى او نه ورباندې چا گواهي كړي ده نو بيا به هم حد نه شي وركولى، ځكه احتمال لرې چې په زوره چا ورباندې څكلي وي، يا د شرابو په شكل پاندې د شرابو په شكل بل شئ گرځيدلى وي (او وجد ريحها منه) يا د شرابو بوى دده د خولې څخه راشي خو نه يې اقرار كړى وي او نه گواهان وي نو بيا به هم حد نه شي وركولى، ځكه كيدى شي چې د بل شيئ بوى د شرابو په شان بوى ولرې نو د حد لپاره يواځې بوى موندل كافي نه دي (او رجع) يا بيرته رجوع وكړي د اقرار د څكلو د شرابو څخه يا د څكلو د نشه يې شيانو څخه، يعني يو ځل اقرار وكړي خو بيرته رجوع وكړي نو حد ترې ساقط شو ځكه شبهه پيدا شوه (او اقر) يا د نشې په حالت كې اقرار وكړي نو بيا هم حد نشته ځكه په دې وخت كې دده څخه عقل ختميږي نو په ديكې شبهه پيدا شوه او په شبهه سره حد ختميږي

(اعلم ان في الاقرار الخ) شارح وايي چې د بوى د ختميدو څخه وروسته د اقرار په صورت كې د شيخينو په نزد حد نه شي وركولى خو د امام محمد رحمه الله په نزد حد وركولى شي حكه انسان په ځان اقرر نه كوي او نه د ځان سره دشمني كوي، ځكه تقادم د امام محمد رحمه الله په نزد اقرار نه منع كوي لكه په نورو حدوداتو كې چې نه منع كوي (و انما لا يحد) خو د شيخينو په نزد ځكه حد نه شي وركولى چې اندازه د حد الشرب په اجماع د صحابو سره ثابتيږي او بدون د راى د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه اجماع نه تماميږي، او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې كه تاسو د شرابو بوى وموندہ نو دري وركړئ، او بدون د بوى څخه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په نزد حد نه شي وركولى نو اجماع پاتې نه شوه، نو اجماع خو دليل دى نو دليل پاتې نه شو په وجوب د حد باندې.

(واعلم) غرض د شارح رحمه الله په دې سره بيان د مراتبو د نشې دى چې د نشې اندازه د حد د واجبيدو په اندازه كې د امام صاحب په نزد داده چې يو شئ هم ونه پيژني تر دې چې د اسمان فرق د ځمكې څخه ونه كړى او د ښځې د نر څخه او د شرابو د حرمت په حق كې داده چې عبثې خبرې

شروع کړي. او د صاحبينو په نزد په حق د وجوب د حد کې او په حق د حرمت کې يعنې دواړو کې د نشې اندازه دا ده چې عبثيات وايي.

(و عندَ الشافعي) او د امام شافعي رحمه الله په نزد اندازه د نشې دا ده چې دده په تګ کې په حرکاتو او په اطرافو کې يعنې اندامونو کې اثر د نشې ښکاره شي يعنې ګډ وډ وي.

(ولوارتدهولاتحرم عليه عِرسه الخ)

تشريح: که نشه کس د نشې په حالت کې مرتد شو يعنې کلمه د کفرېې وويله نو دده په ارتداد به حکم نه شي کولی، يعنې ښځه يې ورباندې نه حرامېږي او نه يې قتل واجب دی ځکه کفر يا په عقيدې سره راځي يا په توهين سره او د سکران نه عقيده د کفر وي او نه توهين ځکه دا دواړه په قوت مدرکه سره کولی شي او د سکران قوت مدرکه د نشې په حالت کې نه وي.

(اعلم ان الاحکام) شارح رحمه الله وايي چې په سکران باندې احکام شرعيه زجراً جاري کيږي لکه صحت د اقرار او طلاق او عتاق يعنې که په دغه حالت کې اقرار د يو شئ وکړي نو ورباندې لازميږي يا ښځې ته طلاق ورکړي نو طلاقيږي يا غلام ازاد کړي نو ازاديږي، لکن ارتداد يې نه ثابتيږي ځکه ارتداد يو امر حقيقي اعتقادي دی يعنې په اعتبار د عقيدې سره په نفس الامر کې ثابت دی، خو حکمي نه دی چې د حاکم په حکم به ثابتيږي نو کله چې د نشې په حالت کې دده عقل نه وو نو عقيده د کفر نه ثابتيږي نو هرکله چې ارتداد صحيح نه شو نو د دې توابع يعنې هغه احکام چې په دې مرتب کيږي نه ثابتيږي لکه د نکاح فسخه کول و غيره (و لزعَ ثوبه) او جامې به ترې وباسي (و فرق جلده) او جدا جدا به ورکړی درې په اندامونو دده په يو ځای به يې نه ورکوي هسې نه چې هلاک شي لکه په حد د زنا کې چې ورکولی شي.

باب حد القذف

دا باب دی په بيان د حد د تهمت کې

قذف په لغت کې رمي يعنې ويشتلو ته وايي، او شرعًا په يوه پاکه ښځه د زنا تهمت لګولو ته وايي

(من قذفَ محصنًا اى حرًّا مكلفًا مسلمًا عفيفًا عن الزنا بصريحهِ اوبزنأتِ فى الجبل).

توضيح: که چا په يو محصن کس تهمت ولګولو د محصن نه مراد دا دی چې اصيل مکلف مسلمان او د زنا څخه پاک وي (بصريحه) په ښکاره الفاظو د زنا سره مثلا تا زنا کړي ده يا ته زناکارې (او بزنأت في الجبل) يا په دې لفظ سره چې تا زنا کړي ده په غره کې (فانه کما جاء) ځکه

د زنا لفظ لکه څرنګه چې ناقص يائي راځي نو دارنګې مهموز هم راځي لکه زنأ (**و عند محمد**) خو د امام محمد رحمه الله په نزد به تهمت لګونکی په دې لفظ سره چې زنات في الجبل دی نه شي په حد کولی ځکه مهموز يعنې د زنأ لفظ چې په همزې سره راشي لکه زنأ نو دا په لغت کې په معنی د ختلو سره راځي په يو شئ باندې (**او مشترک**) او بعضې علماء بيا وايي چې د زنأ لفظ مشترک دی په مابين د پورته ختلو کې او په مابين د زنا متعارف کې نو صريحي لفظ نه شو او شبهه پکې پيدا شوه او شبهې سره حد ختميږي.

(**قلنا**) د امام محمد د قول نه مونږ د شيخينو له خوا جواب کوو چې صحيح ده چې زنأ په همزې سره په معنی د ختلو سره هم راځي خو د غوسې حالت کې ترجيح مشهورې او متعارفې زنا ته ورکولی شي.

(اولستَ لابيكَ اولستَ بأبن فلانٍ ابيه في غضبٍ).

وضاحت: يا داسې ورته ووايي چې ته د خپل پلار څخه نه يې (**او لستَ بأبن فلانٍ**) يا داسې ورته ووايي چې ته د فلاني ځوی نه يې مثلاً زيد ځوی نه يې (**ابيه**) خو زيد پلار د دغه مقذوف يعنې چې تهمت ورباندې لګول شوی دی وي يعنې پلار معلوم وي چې زيد دی خو قاذف يې ترې نفي کړي (**في غضبٍ**) دا تعلق د درېواړو الفاظو سره لري د زنات في الجبل لست لابيک او لست بابن فلانٍ سره، يعنې چې دغه الفاظ ورته د غوسې په حالت کې ووايي ځکه د غوسې په حالت کی د دېنه مراد کنځل وي، اما د غير غوسې په حالت کې بيا د ملامتيا په معنی سره راځي لکه لست لابيک معنی داده چې ته پلار ته شوی نه يې، يعنې د پلار په طريقه روان نه يې (**اي قال**) شارح په دې سره د لست بابن فلان وضاحت کوي او د أبيه لفظ د مصنف لفظ دی نه د قاذف چې معنی کې خطا نه شي.

(اوابن الزانية لمن امه ميت محصنة حد ان طلب هو).

توضيح: يا داسې الفاظ ووايي چې اې د زناکارې ځويه! هغه چاته چې مورېې مړه شوې وي او محصنه يعنې پاکدامنه وي نو تهمت لګونکي ته به حد ورکولی شي خو که مخاطب مقذوف يا بل کس د دې طلب وکړي، خو شارح رحمه الله وايي چې يواځې د مقذوف طلب ضروري نه دی تر دې که د ښځې پلار هم طلب د حد وکړي نو حد به ورکولی شي.

(لا بلستَ بأبن فلانٍ جده وبنسبتهِ اليه اوالى خالِهِ او عمهِ اورابه).

تشريح: حد به نه شي وركولى كه داسې ووايي چې ته د فلاني يعنې عمرو ځوى نه يي او عمرو دده نيكه وي ځكه دا خبره صحيح ده ځكه دا مقذوف خو د نيكه د اوبو څخه پيدا شوى نه دى (**و بنسبته اليه**) همدارنګه كه نسبت يې نيكه ته وكړي چې ته د عمرو ځوى يې نو هم حد نه شي وركولى. ځكه نيكه هم مجازاً پلار دى لكه قرآنكريم كې نيكه ته پلار ويل شوي دي [نعبدُ الهكَ و الهَ آبائكَ ابراهيمَ و اسماعيلَ و اسحاق] نو د يعقوب عليه السلام پلار اسحاق عليه السلام ؤ او اسماعيل عليه السلام ئې تره او ابراهيم عليه السلام ئې نيكه دى خو د پلار لقب وركړل شو. همدارنګه كه نسبت يې ماما ته وكړي نو په دې سره هم به قاذف ته حد نه شي وركولى، ځكه د پلار اطلاق په ماما هم كيږي لكه حديث شريف كې راځي چې [الخالُ والد من لا والدَ لهُ] نو دې سره تهمت نه راځي همدارنګه كه نسبت يې تره ته وكړى شي نو هم تهمت نه راځي ځكه تره ته هم مجازاً پلار ويلي شي لكه پورته ذكر شوي ايت كريمه كې چې اسماعيل د يعقوب عليه السلام تره دى خو د پلار لقب وركړل شوى دى، نو په دې سره به حد نه شي وركولى.

(**او رابه**) يا دده نسبت دده تربيت كونكي ته وكړي راب صيغه د اسم فاعل ده په لغت كې د مور ميړه ته وايي، يعنې چې موريې كونډه شي او بيا بل ميړه وكړي نو دغه دويم ميړه ته راب وايي چې عرف كې ورته پلندر وائى خو اطلاق يې په هر تربيت كونكي كيږي چې د دغه ماشوم تربيت كوي نو په دې سره حد نه شي وركولى، ځكه د مور ميړه هم په منزله د پلار وي (**و قوله يا ابن ماء السماء و يا النبطي العربي**) همدارنګه په دې الفاظو سره هم حد نه شي وركولى چې اې د اسمان د اوبو ځويه، ځكه دلته مراد تشبيه ده په سخا كې ځكه ابن ماء السماء لقب د عامر بن حارثه دى چې په قطحى كې خلقو سره سخا كوله نو هغوى دا لقب وركړو (**و يا نبطي**) او يا يو عربي كس ته ووايي چې اى نبطي نو دې سره به هم حد نه شي وركولى، ځكه نبطي سره تشبيه ده په اخلاقو او عدم فصاحت كې يعنې ته په اخلاقو او فصاحت كې د نبطي په شان يې او نبطيان څه خلق وو چې د عراق په اطرافو كې اوسيدل، او فقيه ابو الليث وايي چې نبطي يو غير عربي كس وو [فتح القدير ۳۱۴/۵].

(والطلب بقذف الميت للوالدِ والولدِ وولدهِ ولو محرومًا).

توضيح: (**والطلب الخ**) او كه يو كس په مړي تهمت ولګوي نو د دې طلب د مړي پلار لره دى او د مړي اولاد لره ځوى وي او كه لور وي او د بچي بچي لره دى اګر كه دغه طلب كونكى د ميراث څخه

محروم وي دا زمونږ د حد نو مذهب دی (و اما عند الشافعي) خو امام شافعي رحمه الله وایي چې حق د طلب د هر وارث ثبت ره شسه، ځکه حد قذف د امام شافعي رحمه الله په نزد په میراث کې وړلی شي، یعني د مورث نه وارث نه انتقالیږي په طریقه د میراث سره (و عندنا لا) خو زمونږ په نزد حد قذف په میراث کې وړلی نه شي (بل یثبت) بلکي حق د طلب د هغه چا لپاره ثابتیږي چې د هغه پورې شرم او عیب پیوسته کیږي په نفي د نسب سره چې فلانی د فلاني خوی نه دی (و قوله وولده) زمونږ په نزد دا د لور اولادي ته هم شاملیږي خوی وي او که لور وي، خو د امام محمد رحمه الله په نزد د لور اولاد ته نه شاملیږي، ځکه د لور د اولاد نسبت خپل پلار ته کیږي نه مور ته نو که د مور پلار زنا وکړي نو د لور اولادي ته شرم نه پیوسته کیږي، امام صاحب د دې ځخه دا جواب کوي چې دا صحیح ده چې نسب پلار ته وي خو د مور د پلار په شرافت سره بچی هم اصیل او غوره وي، خو که موریې غیر شریفه وي نو کرامت او عزت بیا ختمیږي نو د لور اولادي ته هم شرم پیوسته کیږي، (و قوله و لو محرومًا) یعني زمونږ په نزد حق د طلب وارث ته شته اګر چې یا د میراث ځخه محجوب یعني ممنوع وي لکه د خوی ځوی د ځوی په وجود کې یا نیکه د پلار په وجود کې او یا د میراث ځخه بالکل محروم وي لکه کافر چې په کفر سره محروم دي او غلام په رق سره محروم وي ځکه حق د طلب د شرم پیوسته کیدو د وجې ده او دا د میراث نه په محرومه کیدو سره نه ساقطیږي.

(خلافًا لزفر) خو امام زفر رحمه الله وایي چې ولد کافر یا غلام ته حق د طلب نشته ځکه تهمت د ته معنًی شاملیږي ځکه عار او شرم ده ته راجع کیږي، خو طریقه د دې میراث نه ده نو که صورتًا د معنی دواړه قذف ابن کافر یا غلام ته راجع شي یعني چې مقصود په تهمت سره همدا شي ... د حق نه لري ځکه چې مقذوف محض نه دی نو همدارنګه چې معنًی ورته قذف راجع شي نو ... هم نشته خو زمونږ د امام زفر ځخه دا جواب کوو چې تهمت لګونکي ده ته شرم په تهمت د محصن سره واړولو چې هغه د ده مور یا پلار ده نو دا ابن کافر یا ابن عبد کولی شي چې ... وکړي [فتح القدیر ۵/۱۰۰۳۱]. (و کالقاتل) همدارنګه چې ابن د میراث ځخه محروم وي ... دا هم مطالبه د حد کولی شي.

(ولایطالب احد سیده واباه بقذف امه ولیس فیه ارث وعقوبة واعتیاض عنه)

وضاحت: (و لا یطالب الخ) او که بادار د خپل غلام په اصیله مور تهمت ولګوي یا پلار د خپل ځوی

په اصیله مور تهمت ولګوي نو دوی نه شي کولی چې د بادار یا پلار څخه مطالبه د حد وکړي ځکه په دیکې د دوی اهانت دی (**و لیسَ فیه**) او په حد قذف کې میراث نه جاري کیږي، ځکه میراث په حقوق العبادو کې جاري کیږي نه په حقوق الله کې (**و عفو**) او نه پکې عفوه او معافي جاري کیږي ځکه کله چې د حاکم په نزد قذف او احصان ثابت شو نو که مقذوف یې د قاذف څخه معاف کړي نو هم دغه معافي نه صحیح کیږي او حد به ورکولی شي (**و اعتیاض عنه**) همدارنګه د حد قذف څخه عوض ورکول هم نه صحیح کیږي چې د دې په عوض کې مال و غیره ورکړل شي خو تداخل پکې جاري کیږي هغه داسې چې په یو کس څو ځله تهمت ولګوي یا په ډیرو کسانو تهمت ولګوي نو یو حد ورباندې قائمولی شي، دا زمونږ مذهب دی، اما د امام شافعي رحمه الله په نزد په حد قذف کې میراث عفوه او عوض ورکول درېواړه جاري کیږي ځکه د امام شافعي رحمه الله په نزد په دیکې حق د بنده غالب دی ځکه قانون دا دی چې کله د بنده حق او د الله تعالی حق سره یو ځای شي نو د بنده حق ته به ترجیح ورکولی شي ځکه بنده محتاج دی او الله تعالی مستغني دی (**و نحنُ مُغلب**) خو مونږ په حد قذف کې حق د الله تعالی ته غلبه ورکوو ځکه حق د بنده د شرم دفع کول دي او هغه هم الله تعالی ته راجع ده ځکه نسبت کول زنا ته سبب د شرم او پیغور دی او الله تعالی هغه حرام کړي دي.

(**فان قالَ یازاني فردہ بلابل انتَ حدا ولو قال لعرسه یازانیة فردت به حُدت ولا لعانَ لانّها قذفت الزوج فتحد الخ**).

تشریح: که یو کس بل ته ووایي چې ای زناکاره هغه ورته په جواب کې ووایي لا بل انتَ نه ته زناکاري (**حدا**) نو دواړو باندې حد واجب دی (**و لو قالَ لعِرسه**) او که یو کس خپلې ښځې ته ووایي چې ای زناکارې (**فردت به**) نو هغې جواب په همدې سره ورکړو چې نه بلکې ته زناکاری نو په ښځې به حد قائمولی شي او لعان نشته (**لانها**) ځکه ښځې په خاوند تهمت لګولی نو حد به ورکولی شي (**و قذفه ایاها**) او د خاوند تهمت لګول په ښځه باندې حد نه واجبوي بلکې لعان واجبوي خو لعان هم نه واجبیږي ځکه ښځه په حد قذف سره اهل د لعان پاتې نه شوه (**ثم للابد**) دا دفع د یو اعتراض ده چې د ښځې حد ولې مقدم کولی شي چې لعان ورباندې ساقط شي نو که لعان مقدم کړی شي نو حد قذف د ښځې ځکه نه ساقطیږي ځکه حد قذف په ملاعني هم شته، نو شارح رحمه الله جواب ورکړو چې لعان هم په معنی د حد کې ده او دوه حدوده چې کله سره یو ځای شي او د یوه په مقدم کولو سره

بل ساقطېږي نو د دې مقدم کول پکار دي، د دې لپاره چې د هغه بل حد د دفع کولو لپاره يوه حيله جوړه شي نو دلته به حد مقدم کولی شي په لعان باندې ځکه حد قوي دی ځکه که حد مقدم کړی شي نو لعان ساقطوي ځکه ښځه محل د لعان نه پاتې کيږي، او که لعان مقدم کړی شي په حد باندې نو حد نه ساقطوي نو حد به مقدم کړی شي او لعان به ساقط کړي.

(وبزنيتُ بكَ هدرًا)

تشريح: د ښځې دا قول چې له تاسره مې زنا کړې هدر دی يعنې يو سړې خپلې ښځې ته وويل چې ای زناکارې خو ښځې بيرته جواب ورکړو چې له تاسره مې زنا کړې ده نو د دواړو خبرې هدر او باطلې دي (لان قول المرءة الخ) ځکه د ښځې خبره دوه احتماله لري: يو دا چې د خاوند د خبرې تصديق يې کړی وي يعنې چې ماله تاسره د نکاح ځخه مخکې زنا کړې ده، دويم دا چې د خاوند د خبرې جواب وي يعنې که ما زنا کړې وي نو هغه خو دا ده چې ته مې په ځان قادره کړی يې ځکه ماله تا ځخه بل څوک په ځان قادره کړی نه دی او ستا قادره کول په ما باندې زنا نه ده (فلا يكونُ لها الخ) نو ښځه دعوه د لعان نه شي کولی ځکه احتمال د اولې معنی شته چې زنيت بک قبل النکاح او په ښځه حد قذف او حد د زنا هم نشته ځکه احتمال د دويمې معنی شته.

(ولا بمن ان اقر بولدٍ فنفى وحُدان عكس الخ)

تشريح: که يو کس اقرار په بچي سره وکړي د خپلې ښځې ځخه چې دا بچی له ما ځخه دی بيا يې بيرته نفي کړي د خپل ځان ځخه چې دا له ما ځخه نه دی، نو لعان ورباندې واجب دی (و حد) او که د دې عکس يې وکړو چې اول يې بچي نفي کړو چې دا له ما ځخه نه دی او بيا يې بيرته اقرار وکړو چې دا له ما ځخه دی نو خاوند ته به حد قذف ورکولی شي (لان النسب) ځکه نسب دده په اقرار سره ثابتيږي خو بيا په نفي سره خاوند تهمت لګونکی ګرځي او د تهمت د لګولو په صورت کې په خاوند لعان واجبيږي (اما ان نفاه) اما که چيرته يې اول نفي کړي او بيا اقرار وکړي نو خاوند په دې صورت کې د خپل ځان تکذيب وکړو نو حد قذف ورباندې واجب دی (والولدان له) او په دواړو صورتونو کې به بچي د خاوند وي يعنې هغه بچي چې اول پرې اقرار وکړي په دواړو صورتونو کې به يې نسب د خاوند ثابت وي ځکه په دواړو صورتونو کې خاوند اقرار کړی قبل النفي يا بعد النفي.

(ولا شئ بليسَ بأبني ولا بأبنك الخ)

توضيح که يو کس خپلې ښځې ته خطاب وکړي چې دغه بچی نه زما ځوی دی او نه ستا ځوی دی نو په دې سره نه لعان شته او نه حد شته ځکه خاوند خو تهمت د زنا په ښځه لګولی نه دی بلکې ولادت يې نفي کړی دی او په نفي د ولادت سره نه حد شته نه لعان.

(ولا حد بقذف من لها ولد لا اب له اولاعنت بولد الخ)

تشريح: او حد نشته د هغې سره چې هغې لره بچی وي خو پلاريې نه وي، يعنې پلاريې معلوم نه وي يعنې که يوه ښځه وي او د هغې داسې يو بچی وي چې پلاريې دلته معلوم نه وي او يو کس ورباندې تهمت ولګولو نو دغه تهمت لګونکي ته حد قذف نشته ځکه وجود د بچي بغير د پلار څخه دليل د زنا دی نو په دې سره د ښځې احصان ختم شو او د حد لپاره احصان د ښځې شرط دی

(او لاعنت بولد) دا عطف دی په لها ولد باندې يعنې حد قذف نشته په تهمت د هغې ښځې سره چې هغې لعان کړی وي په ولد سره، يعنې يوې ښځې ته خاوند وويل چې ستا دغه بچی له ما څخه نه دی او بيا ښځې ورسره لعان وکړو د خاوند د لعان څخه وروسته په دې ښځه بل کس د زنا تهمت ولګولو نو په دغه تهمت لګونکي حد قذف نشته ځکه علامه د زنا موجوده ده چې هغه ولد منفي دی خو که تهمت يې په هغه ښځه ولګوه چې د خاوند سره يې لعان بې د ولد څخه کړی وو يعنې خاوند ورته ويلي وو چې تا زنا کړي ده خو نفي د ولديې نه وه کړي نو په دې صورت کې په تهمت لګونکي باندې حد واجب دی ځکه چې علامه د زنا موجوده نه ده نو د ښځې عفت چې موجب د حد دی فوت نه شو نو حد هم واجب شو.

(ولا بقذفِ من وطی حرامًا لعينه کوطيٍ في غير ملك من کل وجهٍ اومن وجه کأمةٍ مشترکةٍ اووطی مملوکةٍ حرمت ابدًا کأمته التي هي اخته رضاعًا ولا بقذف من زنت في کفرها ومکاتب مات عن وفاءٍ).

بيان من لا يحد قاذفه: (ولا بقذف الخ) همدارنګه حد نشته په تهمت لګولو د هغه کس سره چې وطي حرامه لعينه وکړي يعنې چې يو کس وطي حرامه لعينه وکړي او په دغه واطي باندې بل کس تهمت د زنا ولګوي نو په دغه تهمت لګونکي باندې حد نشته.

(کوطي في غير ملک الخ) دې سره د وطي حرامې لعينه مثال ذکر کوي چې لکه وطي په غير ملک کې او دا غير ملک يا من کل وجه غير ملک وي لکه د ځوی وينزه يا اجنبيه وينزه يا من وجه غير ملک وي لکه مشترکه وينزه چې د واطي او د بل کس تر مينځ مشترکه وي **(او وطي)** يا هغه

مملوکه وینزه وطي کړي چې په واطي د همیشه لپاره حرامه وي لکه د بادار هغه وینزه چې د بادار رضاعي خور وي، په دې دریواړو صورتونو کې ځکه حد قذف په قاذف نشته چې زنا پخپله وطي حرامه لعینه ده، همدارنګه وطي په غیر ملک کې چې من کل وجه وي او که من وجه وي حرامه لعینه ده نو په داسې کس تهمت لګول تهمت نه دی **(و لا یقذف من زلت الخ)** همدارنګه حد نشته په قاذف په تهمت د هغه کس سره چې په کفر حالت کې زنا وکړي، ځکه شرعًا زنا دده څخه ثابته ده **(و مکاتب)** او حد نشته په قاذف باندې په تهمت لګولو د هغه مکاتب سره چې مړ شي د وفاء نه د وفاء معنی مال ده یعنې چې مړ شي دومره مال پرېږدي چې پوره والی کوي په بدل کتابت باندې یعنې د بادار بدل کتابت پوره کوي **(لان الحد)** ځکه حد قذف په قذف د حر سره واجبیږي او په حریت د دې مکاتب کې د صحابوو اختلاف دی، بعضې وایي چې د ژوند په اخرنی حصه کې دا ازاد دی او بعضې وایي چې دا غلام دی نو دې سره شبهه پیدا شوه او شبهې سره حد ساقطیږي.

(وحد بقذف من وطی حرامًا لغیره کوطی عرسه حائضًا اووطی مملوکةً حرمت موقتة کأَمةٍ مجوسیةٍ او مکاتبة).

توضیح: **(و حد الخ)** او قاذف ته به حد ورکولی شي په تهمت د هغه کس سره چې وطي حرامه لغیره یې کړې وي لکه وطي د خپلې ښځې سره په حالت د حیض کې ځکه وطي په حالت د حیض کې د وجې د اذي یعنې ګندګۍ حرامه ده نه د دې وجې چې ملک کې نقصان دی یا ملک فوت شوی دی **(او وطي مملوکة الخ)** او یا هغه مملوکه وطي کړي چې په واطي موقته حرامه وي لکه وینزه مجوسیه یا مکاتبه ځکه حرمت د مجوسیه موقت دی تر اسلام راوړلو پورې، او حرمت د مکاتبې موقت دی تر زمان د عجز پورې، یعنې تر دې پورې چې د عقد کتابت څخه عاجزه شوه نو د مخکې په شان وګرځیده او وطي یې جائز شوه **(و عند ابي یوسف رحمه الله)** خو امام ابو یوسف رحمه الله وایي چې د مکاتبې وطي کولو سره احصان ساقطیږي یعنې د حد لپاره شرط احصان دی خو کله چې یې مکاتبه وطي کړه نو احصان یې ساقط شو چې احصان یې ساقط شو نو دده قاذف نه حد هم ساقط شو.

(کمجوسي نکح امهُ في کفرهٖ فأسلمَ ومستامن من قذف مسلمًا هنا).

تشریح: **(کمجوسي الخ)** حد قذف به ورکولی شي لکه حد قذف چې ورکولی شي په تهمت لګولو د هغه مجوسي سره چې د کفر په حالت کې د خپلې مور یا بلې محرمې سره نکاح کړې وي یعنې یو مجوسي د کفر په حالت کې د خپلې مور یا بلې محرمې سره نکاح کړې وه، ځکه د دوی په نزد د

محارمو سره نکاح جائز ده بیایې اسلام راوړو بیا ورباندې یو کس تهمت د زنا ولګولو نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به ددې مجوسي قاذف ته ضرور حد ورکولی شي ځکه نکاح د محارمو سره د مجوسیانو د امام صاحب په نزد صحیح ده ځکه د مجوسو عقیده همداسې ده، خو د صاحبینو په نزد د مجوسو نکاح د خپلو محارمو سره صحیح نه ده نو په مجوسي باندې په قذف سره حد نشته (**و مستامن الخ**) همدارنګه به هغه مستامن ته هم حد ورکولی شي چې په مسلمان تهمت ولګوي په دار الاسلام کې مستامن هغه حربي کافر ته وایي چې دار الاسلام ته په امان یعنې ویزه راشي، دغه مستامن کافر ته ځکه حد ورکولی شي چې ده په امان سره په ځان دا لازم کړي چې حقوق العباد به پوره کوي او حد قذف کې هم حق العبد شته.

(**وكفى حد لجنايات اتحد جنسها فان اختلف لا هذا عندنا وعند الشافعي**).

تشریح: (**و كفى الخ**) او کافي دی یو حد د ډیرو جنایتونو لپاره چې جنس یې یو وي. او که جنس یې مختلف وي نو بیا یو حد کافي نه دی، خلاصه دا چې که یو کس ډیر جنایات وکړي چې موجب د حد وي نو که جنس مختلف وو مثلا زنا او غلایې وکړه شراب یې وڅکل وغیره نو د هر جنایت لپاره به ځانته حد پرې قائمولی شي او یو حد نه کافي کیږي ځکه د هر حد مقصود جدا جدا دی، او که جنس یې یو وي مثلا څو ځله تهمت ولګوي مقذوف یو وي او که ډیر وي نو یو حد کافي دی دا زمونږ مذهب دی (**و عند الشافعي**) امام شافعي رحمه الله وایي که مقذوف جدا جدا وو مثلا په زید او عمرو باندې تهمت ولګولو یا مقذوف به یعنې هغه فعل چې په هغې سره تهمت لګول شوی چې هغه زنا ده جدا جدا وو مثلا په زید یې د یوې زنا تهمت ولګولو بیایې په زید د بلې زنا تهمت ولګولو نو په دواړو صورتونو کې به تداخل نه شي کیدلی، یعنې جدا جدا حد به ورکولی شي او یو حد نه کافي کیږي، او که په زید باندې د یوې زنا تهمت ولګولو او دغه تهمت یې تکرار کړو یعنې دغه یو تهمت یې په زید څو ځلې تکرار کړو نو بیا به پکې تداخل کولی شي یعنې د ټولو لپاره یو حد کافي دی ځکه چې حق د بنده په حد قذف کې غالب وي د امام شافعي رحمه الله په نزد (**اما عندنا**) خو زمونږ په نزد په حد قذف کې حق د الله تعالی غالب دی نو تداخل به کولی شي ځکه مقصود د حد قائمولو څخه انزجار یعنې خلق منع کول دي، اما چې جنایات مختلف وي نو بیا د هر حد مقصد جدا وي د حد زنا مقصد د نسبونو حفاظت دی د حد سرقه مقصد د مال حفاظت دی او د حد قذف مقصد د ناموس او عزتونو حفاظت دی او د حد الشرب مقصد د عقلونو حفاظت دی نو د دې وجې به تداخل کولی نه شي یعنې د هر یو لپاره به جدا جدا حد وي.

فصل التعزير

مصنف رحمه الله چې کله هغه عقوبات او سزاګانې ذکر کړې چې اندازه يې ذکر شوي وه نو شروع وکړه په هغه عقوباتو کې چې اندازه پکې معلومه نه ده.

تعزير د عزر څخه دی په معنی د رد او ردع يعنې د منع کولو سره او تاديب سره او په شريعت کې تاديب د جزاء د هغه فعل دی چې شرعًا منع شوی وي، تعزير د کتاب الله او احاديثو څخه ثابت دی [فعظوهن واهجروهن في المضاجع واضربوهن] نو د ښځو وهل تاديبًا دی، همدارنګه حديث مبارک کې راځي چې [لاترفع عصاک عن اهلک] د خپل کور والاو او بچو څخه د ادب امسا پورته نه کړې.

د تعزير څلور مراتب دي: اول تعزير د اشرف الاشرافو خلقو چې علماء دي په صرف خبرداري سره دی هغه داسې چې قاضي ورته ووايي چې ماته دا رسيدلي چې ته فلانی فلانی کار کوي نو هغه په دې سره منع کيږي، دويم تعزير د اشرافو چې امراء دی چې دوی ته په خبرداری او د قاضي دروازې ته په راوستلو سره دی، دريم تعزير د اوساطو چې په راکش کولو او بندي کولو سره دی، څلورم تعزير د رذيلو چې خلقو په راکش کولو په وهلو په بندي کولو سره دی [فتح القدير ۵\۳۳۰].

د خلاصة الفتاوی د دويم جلد په اخير کې په مسائلو متفرقو کې ص۱۸۵ کې راغلي دي چې قاضي که په تعزير بالمال کې مصلحت وګوري نو جائز دی او په درې ځايونو کې تعزير بالمال لازم دی: اول چې مسجد ته جمع ته نه حاضريږي. دويم چې د وپالي يعنې عام لختي په ويستلو کې حاضر نه شي. دريم چې د مجاهدينو په صف کې شکست اچوي.

د تعزير او حد تر مينځ لس فرقونه فقهاو ذکر کړي دي:

اول دا چې حد کې د شريعت لخوا معلومه اندازه ده او د تعزير د حاکم راي ته پريخودلی شي.

دويم چې حد په شبهې سره هم ختميږي خو تعزير د شبهې سره هم واجبيږي.

دريم حد په ماشوم واجب نه دی خو تعزير ورکولی شي.

څلورم چې حد ذمي ته هم ورکولی شي او د حد اطلاق وربانديې کولی شي خو ذمي ته تاديب ورکولو ته تعزير نه شي ويلی بلکې عقوبت به ورته ويلی شي.

پنځم حد خاص دی تر حاکم پورې او تعزير خاوند يعنې ميړه بادار هم ورکولی شي.

شپږم چې رجوع په حد کې عمل کوي خو په تعزير کې نه کوي.

اوم چې په حد کې به مشهود عليه تر هغې بندي کولی شي چې د ګواهانو پوښتنه وشي خو په تعزير کې نشته.

اتم چې په حد کې سفارش جائز نه دی خو په تعزير کې جائز دی.
نهم چې حد په طول د زماني سره ساقطيږي خو تعزير نه ساقطيږي.
لسم چې حاکم ته جائز نه دي چې حد پريږدي خو تعزير پريښودلی شي [تاتارخانيه].

(هو تأديب الخ) دا تعزير ادب ورکول دي خو د حد د اندازې څخه به کم وي (واصله) د تعزير اصل د عزر څخه دی په معنی د رد او ردع يعنې منع کولو سره (اکثره) غرض د مصنف د دې څخه بيان د قلت او د کثرت کوي په تعزير بالضرب کې چې زياته اندازه د تعزير نهه ديرش ۳۹ دُرې ده، او کمه د دې دُرې درې دي، ځکه دا ضروري ده چې تعزير د حد اندازې ته ونه رسيږي، او کمه اندازه د حد څلويښت دُرې ده چې هغه په قذف او شرب کې حد د غلامانو دی، خو امام ابو يوسف رحمه الله د اصيلو خلقو حد ته اعتبار ورکړی دی يعنې چې د اصيل کس حد په قذف او شرب کې اتيا دُرې دی نو تعزير به د دې څخه يوه دره کم وي په يو روايت کې او پنځه به کم وي په بل روايت کې.

(وصح حبسهُ مع ضربه وضربه اشد ثم للزنا ثم للشرب ثم للقذف).

توضيح: (و صح الخ) او په تعزير کې صحيح ده بندي کول د جاني سره د وهلو نه يعنې که حاکم ته دا مصلحت ښکاره شي چې د وهلو سره دې بندي کړي نو بندي دې کړي ځکه بندي کول ځانته يو قسم تعزير دی او د دوه قسمه تعزيرونو جمع کول څه پروا نه لري (و ضربهُ اشد) او د تعزير وهل به د حد څخه سخت وي د دې لپاره چې په تعزير سره انزجار يعنې منع راشي ځکه تعزير د حد څخه په اعتبار د عدد سره کم دی نو که په اعتبار د وصف سره کم شي نو انزجار به رانشي (ثم للزنا) بيا د زنا وهل د نورو څخه سخت دي بيا د نشه يې توکو بيا د قذف يعنې د زنا وهل به د نشه يې مشروباتو د څکلو څخه زيات وي او د نشه يي مشروباتو وهل به د تهمت د وهلو څخه زيات وي، دا ځکه چې حد د زنا په نص سره ثابت دی چې [الزانية والزاني] الاية، دی او حد الشرب په اجماع د صحابو سره ثابت دی.

(و سببه) بيا سبب د شرب د مسکراتو متيقن دی ځکه په سترګو ليدلی شي او سبب د حد قذف محتمل دی ځکه احتمال د دې شته چې قاذف رشتيا وايي، نو کوم چې ثابت په نص د کتاب الله سره وي د هغې وهل به سخت وي د هغې نه چې ثابت په اجماع د صحابو سره وي، او د کوم چې سبب متيقن وي د هغې به وهل سخت وي د هغې څخه چې سبب يې محتمل وي.

(اقول) غرض د شارح د دې څخه يو اعتراض دی په هغه علتونو باندې چې کوم د ترتيب لپاره

فقهاو ذکر کړي دي هغه داسې چې حد قذف ثابت دی په نص د کتاب الله سره او حد الشرب ثابت نه دی په نص د کتاب الله سره. نو پکار ده چې د حد قذف وهل سخت شي په تعزیر کې د حد الشرب څخه. دویم دا چې حد الشرب قیاس شوی په حد القذف باندې او مقیس علیه ارجح او اقوی وي د مقیس څخه نو پکار ده چې په تعزیر کې د حد قذف وهل سخت شي د حد الشرب څخه؟ د دې څخه څلور جوابونه دادي:

اول چې حد الشرب هم په نص سره ثابت دی چې (من شربَ الخمرَ فاجلدُوهُ).

دویم چې حد الشرب په قیاس سره ثابت نه دی بلکې په اجماع سره ثابت دی.

دریم صحیح ده دا به درسره ومنو چې حد الشرب په قیاس سره ثابت دی خو د حد الشرب لپاره په حد قذف باندې ترجیحات شته: اول دا چې سبب د حد الشرب متیقن دی او سبب د حد قذف محتمل دی، دویم دا چې اکثر اوقاتو کې د مسکراتو څکونکي تهمت لګوي نو دوه ګناهونه کوي چې یو شرب د مسکراتو دی او بل تهمت دی او قذف خو صرف یوه ګناه کوي چې تهمت دی، دریم دا چې حد الشرب په اجماع او قیاس دواړه سره ثابت دی او حد قذف د قیاس مخالف دی نو د دې ترجیحاتو په وجه به د حد الشرب وهل د حد قذف څخه زیات وي.

څلورم چې قذف پخپله د وهلو څخه ماسوا یو بل عقوبت او سزا هم ده چې د همیشه لپاره د تهمت لګونکي ګواهي بیا نه قبلیږي نو پکار دا ده چې د قذف وهل د شرب څخه کم وي.

(وعزر بقذف مملوكٍ اوكافر بزنا ومسلمٍ بيا فاسق يا كافر يا خبيث يا سارق الخ).

بیان الفاظ یعزر قائلها: (و یعزر الخ) او قاذف ته به تعزیر ورکولی شي په تهمت د مملوک سره یعنې چې مملوک باندې تهمت ولګوي د زنا یا په کافر د زنا د تهمت ولګوي (و مسلمٍ) همدارنګه به قاذف ته تعزیر ورکولی شي چې کنځل وکړي مسلمان ته په دې الفاظو سره چې (یا فاسق) ای فاسقه (یا کافر) ای کافره (یا خبیث) ای پلیته (یا سارق) ای غله (یا فاجر) ای بدکاره (یا مخنث) ای پلیته د مخنث یوه معنی دا ده چې د ښځو په شان حرکات او سکنات کوي بله معنی یې دا ده چې د لوطیانو په شان لواطت کوي (یا خائن) ای خیانت کونکیه (یا لوطي) ای لواطت کونکی (یا زنديق) ای بې دینه (یا لص) ای غله (یا دیوث) ای دووثه، دیوث دېته وایي چې د خپلې ښځې یا د بلې محرمې سره اجنبي خلق پریږدي (یا قرطبان) هغه دیوث ته وایي چې په ښځو روبی اخلي (یا شارب الخمر) ای شراب خوره (یا آکل الربوا) ای سودخوره (یا ابن القحبة) ای د بدکارۍ او فاحشې خویه

(**یا ابن الفاجرة**) اي د بدکارې ځویه (**انت تأوي اللصوص**) ته غلو نه ځای ورکوي یعنې د غلو ملګری یي (**انت تأوي الزواني**) ته زناکارو ته ځای ورکوي (**یا مَن یلعبُ بالصبیانِ**) ای ماشومانو سره لوبې کونکیه یعني بد فعل کونکیه (یا حرام زاده) ای حرامونیه نو په دې مذکوره ټولو الفاظو سره به تعزیر ورکولی شي (**لا بیا حمار**) خو تعزیر به نه شي ورکولی په دې سره چې یو مسلمان ته ووایي چې ای خره (**یا خنزیر**) ای خنزیره (**یا کلب**) ای سپیه (**یا تیس**) ای سرلکیه [چیلی] (**یا قرد**) ای شادي [بیزو] (**یا حجام**) ای نایي (**یا ابنه و ابوه لیس کذلک**) ای د نایي ځویه خو چې پلار یې نایي نه وي (**یا مواجر**) مواجر دېته وایي چې خپله ښځه یا بله محرمه باندې په زنا سره روبې اخلي خو تعزیر ځکهورباندې نشته چې معنی حقیقي د دې ځخه زنا نه معلومیږي (**یا بغا**) ای مخنثه [غیاث اللغات ص۱۱۵].

(**یا ناکس**) ای نا انسانه، ناکس فارسي لفظ دی چې مرکب دی د نا ځخه او د کس ځخه کس انسان ته وایي نو معنی دا چې نا انسانه (**یا ضحکة**) اي د خلکو د خندا شئ او یا دا چې ای د خلقو خندونکیه (**یا سخرة**) اي د خلقو د مسخري شئ یا خلقو پورې مسخري کونکیه، ځکه په دې الفاظو سره معنی حقیقي مراد نه وي بلکې معنی مجازي مراد وي چې د خره ځخه مراد کم عقل دی او د سپي ځخه مراد بد اخلاقه او د شادي ځخه مراد بد شکله وي همداسې نور هم قیاس کړه کما سیاتي ان شاء الله.

(ومن حد او عُزر فماتَ هدر دمه ولو عزر زوج عِرسه لا).

توضیح: که چاته د حاکم له طرفه حد یا تعزیر ورکړل شو او د حد یا تعزیر د وجې مړ شو نو وینه یې هدر ده یعني نه په حاکم څه واجب دي او نه په جلاد او نه په بل کس، او که خاوند خپلې ښځې ته تعزیر ورکړي او ښځه مړه شي نو د دې وینه هدر نه ده، ځکه تادیب د ښځې جائز دی خو په شرط د سلامتیا سره، خاوند خپلې ښځې ته په پنځو خبرو تعزیر ورکولی شي: اول چې مشروع زینت نه کوي، دویم چې د جنابت غسل نه کوي، دریم چې د کور ځخه بې له اجازې وځي، ۴۔ چې همبستري لپاره خاوند ته نه راځي، پنځم چې مونځ نه کوي (**قیل القحبة الخ**) بعضې علماء وایي چې قحبه هغه چاته وایي چې دده قصد او توجه زنا طرف ته وي او قصد زنا ته یو امر دی چې غیر دی د فعل د زنا ځخه نو د قحبې اطلاق په قذف بالزنا باندې نه کیږي نو حد به هم نه شي ورکولی.

(اقول القحبة في العرف افحش من الزانية الخ).

غرض د شارح د دېنه يو اعتراض دی چې تاسو وايي چې په يا زاني سره حد واجب دی او كه قحبه يا ابن القحبه سره يې ورته كنځلي وكړي نو دې سره حد واجب نه دی او حال دا چې قحبه د زنا ښځه ډير بد دی ځكه زانيه ديته وايي چې په پټه سره زنا كوي، او قحبه ديته وائی چې په ښكاره زنا كوی او يا ورباندی مزدوری اخلی نو پكار ده چی په قحبه ويلو سره هم حد واجب شي؟ جواب دا دی چې هركله قحبه په ښكاره زنا كوي لو اجرت اخلې نو د دې ښځه د امام صاحب په نزد حد ساقط وي ځكه شبهه د عقد موجوده ده.

(والفاجرة) شارح بيان د دې كوي چې فاجري سره په كنځلو كولو سره ولې حد ساقط دی، ځكه چې فجور په معنی د فسق سره دی او فجور په هرې ګناه سره كيږي يواځې د زنا پورې خاص نه دی نو په فجور سره كنځل كول قذف بالزنا نه راځي نو حد هم ورځخه ساقط دی **(ولفظ حرام زاده)** د دې معنی دا دی چې د حرامې وطي ځخه پيدا شوي وي خو وطي حرامه عام ده د زنا ځخه او زنا خاص ده ځكه وطي حرامه وطي حالت د حيض ته هم شامله ده **(لكن العرف الخ)** لكن په عرف كې وطي په حالت د حيض كی ترې مراد نه دی بلكې مراد ترې ولد الزنا يعنې حرمونی دی، نو په دې سره كنځل كولو سره بايد حد واجب شي **(وكثيرًا ما يراد به)** خو ډير كرتې د حرام زاده ځخه مراد جُرُبز وي د جربز معنی خِب دی او د خب معنی دوكه كونكی رذيل ده، نو همدا وجه ده چې دې سره حد نه واجبيږی **(والمواجر)** او د مواجر استعمال په هغه كس راځي چې خپله ښځه او محارم د زنا لپاره په اجرت وركوي لكن د معنی حقيقي متعارفې ځخه زنا نه معلوميږي ځكه عام طور ويلې شي چې **(آجرتُ الاجيرَ مواجرةً)** چې كله ته ورته په كار باندې اجرت يعنې مزدوري مقرر كړې نو چې معنی حقيقي متعارفه د دې ځخه زنا نه معلوميږي نو حد هم نشته **(ولفظ بغا)** او د بغا لفظ د عوامو كنځل ده **(يتفوهون به)** چې دوی تكلم كوي په دې باندې **(ولا يعرفون ما يقولون)** خو دوی په دې نه پوهيږي چې دا څه وايي **(والضحكة)** په وزن د خفرة يعنې په ضمې د ضاد سره هغ چاته وايي چې خلق وربورې خاندي **(وبوزن الهمزة)** او په وزن د همزي سره هغه چاته وايي چې د خلقو پورې خندا كوي **(وكذا السخرة)** همدا رنګې سخره كه په ضمې د سين سره شي نو هغه چاته وايي چې خلق ده پورې مسخري كوي، او كه په فتحې د سين سره شي نو هغه چاته وايي چې دا خلقو پورې توقې او مسخري كوي.

(اعلم ان الالفاظ الدالة علی القبائح لا تُعد و لا تحصیٰ) شارح رحمه الله وایي چې هغه الفاظ چې دلالت په قبائحو او په بدو کوي د شمار څخه وتلي دي نو د دې لپاره داسې یوه قاعده ضروري ده چې په هغې سره د ټولو احکام معلوم شي (فاقول) شارح وایي چې تاته معلومه شوه چې نسبت کول د محصن زنا ته حد قذف واجبوي نو نسبت د غیر محصن چې هغه غلام یا کافر دی زنا ته حد نه واجبوي (لانحطاط درجتهما) څکه درجه د غیر محصن چې غلام او کافر دي خکته ده د درجې د محصن څخه (بل توجب) بلکې نسبت د غیر محصن تعزیر واجبوي د وجې د بې حیایي خوریدو نه (و نسبة المحصن) او نسبت د محصن غیر د زنا ته حد قذف نه واجبوي خو ایا تعزیر واجبوي او که نه؟ (فان نسبه الی فعل اختیاري الخ) نو جواب دا دی که نسبت یې دده وکړو فعل اختیاري ته یعني هغه فعل ته چې دده څخه په اختیار سره صادریږي او داسې فعل اختیاري چې شریعت کې حرام وي او په عرف کې عار او شرم ګڼلی شي نو بیا تعزیر واجب دی (و الا لا الخ) او که فعل اختیاري نه وو او نه شریعت کې حرام وو او نه عرف کې عار ګڼلی شو نو بیا تعزیر واجب نه دی (الا ان یکونَ) مګر که په دیکې د شریفو خلقو لپاره توهین وو نو بیا تعزیر واجب دی اګر چې دا دریواړه اوصاف پکې نه وي.

(و انما قلنا) شارح دې سره د دریواړو قیوداتو فائده بیانوي چې فعل اختیاري سره د امور خلقیه څخه احتراز راغی، امور خلقیه دېته وایي چې د انسان په خلقت کې الله تعالی اچولي وي نو که یو کس بل ته ووایي چې ای خره نو دیکې تعزیر نشته څکه معنی حقیقي د دې مراد نه ده، بلکې معنی مجازي مراد ده چې بلادت یعني کم عقلتوب ده، او بلادت یو امر خلقي دی چې انسان په اختیار کې نه دی (و کذا القرد) همدارنګې د شادو څخه مراد قبیح الصورة مراد دی (والکلب) او د سپي څخه مراد بد اخلاقه دی (الا ان یقال) مګر که دغه امور خلقي یو شریف النفس ته لکه عالم، سید، یا یو بل نیک انسان ته وویل شي نو بیا تعزیر ورکول پکار دی څکه د دوی توهین یې وکړو، او د داسې خلقو توهین پکار نه دی بلکې اکرام او عزت یې پکار دی (بخلاف الارذال) لیکن که رذالو ته دا الفاظ وویل شي نو تعزیر به نه شي ورکولی څکه دوی په داسې الفاظو سره پخپله خلقو ته تلفظ کوي او که بل څوک دوی ته داسې الفاظ ووایي نو بیایي هم پروا نه کوي (و انما قلنا یحرم) دې سره د دویم قید بیان کوي چې په شریعت کې حرام وي دې سره د هغه افعالو

اختياريو څخه احتراز راغی چې شريعت کې حرام نه وي، خو سره د دې په عرف کې عار او شرم ګڼلی شي لکه حجام يعنې نايي حائک يعني جولا و غيره چې د دې څخه مراد دنيء الهمة يعنې کم همته او کم عقلتوب مراد وي.

(وكذلک يقال بالفارسية يا ناكس) همدارنګه په فارسي کې يا ناکس يعنې ای نا انسانه ويلی شي نو که داسې الفاظ اشرافو ته وويلی شي نو پکار ده چې تعزير ورکړل شي ځکه داسې الفاظو سره شريف خلک عيبجن کيږي ، او که غير شريفو ته وويل شي نو بيا تعزير پکار نه دی **(الا ترى)** ايا ته نه ګوري چې بازاري خلق په هغه الفاظو سره چې په هغې کې خسيس والی او رذيل والی وي هيڅ پروا او باک نه کوي.

(وانما قلنا يعد عارًا في العرف) دې سره د دريم قيد فائده بيانوي چې عرف کې عار ګڼلی شي په دې سره احتراز راغی د هغه افعال اختيارو څخه چې شرعًا حرام وي خو په عرف کې عار نه شي ګڼلی **(كلعب النرد)** لکه د لډو لوبه **(والغناء)** او سندري **(واعمال الديوان)** او لکه په اوس زنانه کې په دفتر کې کارونه کول چې شرعًا حرام دي ځکه د فساد او ظلم څخه ډک دي اما خو عرف کې عار نه شي ګڼلی، نو داسې الفاظ چې عرف کې عار نشي ګڼلی اګر چې شرعًا حرام دي نو که يو کس په دې الفاظو سره چاته کنځل وکړي نو کنځل کونکي ته به تعزير نه شي ورکولی، ځکه په دې الفاظو سره څه عيب نه پيوسته کيږي.

(ثم كيفية التعزير وكميته يفوضان الى راي الامام فيراعى عِظَم الجناية وصغرها وحال القائل والمقول فيه).

اجمل التحرير في بيان كيفية وكمية التعزير: غرض د شارح د دېنه بيان د کيفيت د تعزير دی او کميت د تعزير دی.

کيفيت د تعزير ديته وائي لکه وهل، بندي کول، وژل و غيره دي، او د کميت څخه مراد دا دی چې درې درې يا زياتې، يوه ورځ بنديخانه يا مياشت يا زياته وغيره نو د تعزير کيفيت او کميت دواړه به راي د امام او قاضي ته سپارلی شي يعنې حاکم او قاضي چې څومره مناسب ګڼي نو د جنايت لوی والي او وړوکوالي ته به ګوري، همدارنګې به حال د ويونکي ته ګوري چې شريف دی چې په معمولي تنبيه سره اګاه کيږي او که رذيل دی عادتي دی که غير عادتي، همدارنګې به حال د مقول فيه يعنې د چا په باره کې چې خبره شوي ده، دده حال ته به ګوري چې شريف دی په داسې خبرو خفه کيږي او که رذيل دی چې د داسې خبرو پروا نه کوي نو دې ټولو حالاتو کتلو سره به مناسب تعزير ورکوي.

كتاب السرقة

دا كتاب دی په بيان د غلا كې په دې مقام كې د څو خبرو بيان ضروري دی: ١ـ مناسبت د ماقبل سره ٢. معنی لغوي د سرقې ٣. معنی اصطلاحي د سرقې ۴. ركن د سرقې ۵. محل د دې ۶ـ شرط د دې ٧. نصاب د سرقې ٨. حكم د سرقې ٩. اقسام د سرقې.

١. وجه د مناسبت يې د ماقبل سره دا ده چې مخكې بيان د هغه زواجرو وو چې تعلق يې د صيانت د نفوسو سره وو اوس بيان د هغه زواجرو دی چې تعلق يې د صيانت د اموالو سره دی او صيانت د نفس مقدم دی په صيانت د مال سره نو هغه يې ځكه مقدم كړو [الكفاية٣٣٩\۵].

٢. معنی لغوي د سرقې دا ده چې (**اخذُ الشيءِ من الغيرِ علی سبيل الخفية**) يعنې د غير څخه يو شئ په پټه اخستلو ته وايي.

٣. اصطلاحي معنی يې همدا لغوي معنی ده (**و في الشريعة هي هذا ايضًا**) [فتح ۵\٣٣٩].

۴. (**ركنها الاخذ خفية**) ركن د سرقې اخستل د مسروق دی په پټه سره نو كه په زور يا لوټ طريقې سره يو شئ د چا څخه واخلي نو دېته سرقه نه وايي.

۵. (**و محلها مال محرز مملوك**) محل د سرقې هغه مال دی چې محرز يعنې محفوظ وي يعنې مالك يې قصد د حفظ لري او مملوك وي.

۶. (**و هو شرط فان محل الفعل شرط للفعل لكونه خارجًا عنه محتاجًا اليه**) د فعل د سرقې لپاره شرط دا دی چې دغه مال مسروق به مال محروز مملوك وي ځكه سرقه بغير له دې څخه نه متحقق كيږي (**فان محل الفعل**) ځكه محل د فعل شرط دی لپاره د فعل (**لكونه**) ځكه محل د فعل خارج دی د فعل نه او فعل محتاج دی محل ته نو محل د فعل شرط شو.

٧. (**و نصابها قدر عشرة دراهم مضروبة**) او نصاب د سرقې يعنې هغه مقدار چې لاس وربانديې كټ كولی شي (**قدر عشرة دراهم**) اندازه د لس دراهمو ده دا د سپينو زرو څخه ده اما د سرو زرو څخه بيا د دې لسو درهمو په اندازه باندې به وي (**مضروبة**) په داسې حال كې چې دا درهم به جوړ كړی شوی وي يعنې ټوټې د سپينو زرو به نه وي ځكه عام عرف كې ټوټو ته درهم نه وايي بلكې چې د دې څخه درهم جوړ كړی شي نو بيا عرف كې دېته درهم وايي (**و عند الشافعي ربع دينار ذهب**) د امام شافعي رحمه الله په نزد نصاب د سرقې څلورمه حصه د دينار د سرو زرو ده (**و عند مالك**) او د امام مالك

رحمه الله په نزد نصاب د سرقې درې درهمه دی یعنې په درې درهمو کې به لاس قطع کولی شي

۸ـ (و حکمها القطع) حکم د سرقې قطع او پرېکول د لاس دي لکه ایت کریمه کې راغلي دي [فاقطعُوا ایدیهما] (فإن سرقَ مکلف حر او عبد قدر النصاب محرزًا بلا شبهة) نو که غلا وکړه مکلف یعنې عاقل بالغ اصیل وي یا غلام وي په اندازه د نصاب هغه مال چې محفوظ وي او شبهه پکې نه وي څکه کوم مال کې چې شبهه وي لکه یو سړی چې د ذي رحم محرم د کور څخه غلا وکړي نو بیا لاس نه شي قطعه کولی، څکه دلته هغه شبهه موجوده ده چې حد ساقطوي چې هغه د ذي رحم محرم په کور کې د داخلیدو اجازه ده او خاص طور چې بیا د دوی ترمینځ د ولادت خپلولي هم وي.

(بمکانٍ کبیتٍ اوصندوقٍ اوبحافظٍ کجالسٍ في طریقٍ اومسجدٍ عندهُ ماله واقر بها مرة).

توضیح: (بمکان) دا متعلق دی محرز پورې یعنې چې دغه مال مسروق محفوظ وي په یو مکان کې لکه کوټه کې یا صندوق کې (او بحافظ) یا محفوظ وي په ساتونکي سره (کجالس) لکه یو کس په لاره کې یا مسجد کې ناست وي او خپل مال ورسره وي (و اقر بها مرة) او دغه غل یو ځل اقرار په دې غلا وکړي (هذا عند ابي حنیفة و محمدٍ) د امام ابو حنیفه او امام محمد رحمهما الله په نزد یو ځل اقرار د حد د سرقې لپاره کافي دی (و عند ابي یوسف) د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد د اقامت د حد لپاره دوه ځله اقرار ضرور دی او قیاس په زنا کوي څکه په زنا کې څلور کرتې اقرار شرط دی لکه څرنګه چې څلور ګواهان شرط دي څکه هر اقرار په منزله د یو ګواه دی نو په غلا کې چې دوه ګواهان دي نو دوه اقراره هم ضرور دي (قلنا) د امام ابو یوسف څخه مونږ دا جواب کوو چې په زنا کې څلور کرتې اقرار په نص سره خلاف القیاس ثابت دی نو بل شئ په دې نه شي قیاس کولی (فما سواه بقي) نو د زنا څخه ماسوا لکه غلا قذف قتل شو په دیکې به په خپل اصل پاتې وي هغه دا چې انسان به په خپل اقرار نیولی شي اګر که یو ځل وي.

(او شهد رجلان) یا دوه سړي دده په غلا ګواهي ورکړي (و سألهما الامام) او حاکم د دغه دوه ګواهانو څخه پوښتنه وکړي (کیف هي) چې غلا یې څنګه وکړه مال یې راویستو او که بل چا ورته د هغې طرف څخه ورکړو (و ما هيَ) او دغه غلا شوی مال څه شئ وو (و متیٰ هيَ) او په کوم وخت کې یې وکړه (و اینَ هيَ) او په کوم ځای کې غلا وکړه (و کم هيَ) او څومره مال یې غلا کړو (و ممن

سرق) او د چا څخه يې غلا وکړه (و بیناها) او ګواهانو دغه ټول امور بیان کړل (قطع) نو د غله لاس به قطع کولی شي (يسالُ عما هيَ الخ) د ګواه څخه به ځکه د غلا د ماهيت پوښتنه کولی شي (لانه ربما) ځکه ډير کرتي دا وهم کولی شي چې په سرقه کې به خفیه ته يعنې پټوالی ته ضرورت نه وي لکه په سرقه کبری یعنې قطاع طريقي کې چې خفيت ته يعنې پټوالي ته ضرورت نشته، بل دا چې د سرقي اطلاق په استراق السمع يعنې پټ غوږ كيخودلو باندې هم کيږي چې مونږ کې نقصان وکړي نو د هغه هم سرقه وايي چې د بل عالم د تصنيف نسبت ځانته وکړي د هغه هم سرقه وايي او قطاع طريقي باندې هم د سرقي اطلاق کيږي نو د دفع د دې احتمالاتو لپاره به د ماهيت د سرقي څخه پوښتنه کولی شي (و عن کيف کانت) او د کيفيت د غلا څخه به ځکه پوښتنه کولی شي چې دا معلومه شي چې غله دغه مال په خپله راويستلی (او ناولَ) يا يې ورکړي هغه کس ته چې بهر وو (و عن متی) او د زمان څخه ځکه پوښتنه کولی شي چې معلومه شي چې دا غلا اوسنی ده او که پخوانی ده ځکه که پخوانی وي نو بيا ورباندې حد نشته (و عن اين) او د ځای پوښتنه ترې ځکه کولی شي چې دغه غلا په دار الاسلام کې وه او که دار الحرب کې ځکه که دار الحرب کې غلا شوي وه نو بيا حد ور باندې نشته (و کم هيَ) او د مقدار پوښتنه ترې ځکه کولی شي چې معلومه شي چې دغه غلا شوی مال نصاب دی او که نه، ځکه که د نصاب څخه کم وي نو بيا قطع د يد نشته، هي ضمير سرقي ته راجع دی خو مراد ترې مسروق دی ځکه سرقه په معنی مصدري سره هغه فعل دی چې په کميت نه موصوفيږي (و ممن سرقَ) او د مسروق منه، يعنې د چانه چې غلا شوې ده په باره کې ځکه پوښتنه کولی شي چې معلومه شي چې دغه غلا د ذي رحم محرم څخه وه او که د بل چا څخه ځکه که د ذي رحم محرم څخه شوې ده نو بيا قطع ورباندې نشته.

(فان شارك جمع فيها واصابَ كلا اي كل واحدٍ قدر نصاب قطعوا وان اخذ بعضهم اي مع ان الاخذ صدر من بعضهم فقط).

توضيح: که چیرته په غلا کې ډير کسان شريکان وو او هر يو ته په اندازه د نصاب د غلا مال رسيدلی وو نو د ټولو څخه لاسونه قطع کولی شي (و ان اخذ بعضهم) اګر چې دغه غلا شوی مال بعضې کسانو راخستی وو يعنې سره د دې نه چې بعضې کسانو دغه مال را اخستی وو خو شريک پکې ډير وو نو د ټولو څخه لاسونه پريکولی شي.

(وقطع بالساج والقنا والابنوس والصندل والفصوص الخضر والياقوت والزبرجد واللؤلؤ والاناء والباب متخذين من خشب).

وضاحت: (و قطع) او د غله لاس به کټ کولی شي په غلا د ساج لرګي سره ساج لمنزي ته وايي (والقنا) او د نيزو په لرګي سره (والابنوس) د ابنوس لرګي سره ابنوس لمنزي ته ورته دی (والصندل) او صندل سره، صندل يوه خوشبوداره ونه ده (والفصوص الخضر) او په شنو غميو سره د خضر لفظ اتفاقي دی مطلق غمي سره به لاس قطع کولی شي (والياقوت) او ياقوت سره (والزبرجد) او زبرجدو سره (واللؤلؤ) او مرغلرو سره (والاناء) او لوښو سره لکه کاسه و غيره (والباب) او دروازو سره خو هغه دروازه چې ديوال کې لګيدلي نه وي ځکه که ديوال کې لګيدلي وي نو هغه غير محرز وي، متخذين دا حال دی د اناء او باب ځخه يعنې په داسې حال کې چې لوښي او دروازي د لرګي ځخه جوړي شوي وي او که د داسې شي ځخه جوړ شوی وو چې مباح الاصل نه وي نو بيا خو په طريقه اولی سره قطع کولی.

(انما عدت الخ) دا دفع د يو اعتراض ده چې مصنف رحمه الله ولې دغه شيان ذکر کړل د يته خو ځه ضرورت نه وو ځکه محل د سرقي مال محرز مملوک دی؟ نو شارح رحمه الله جواب وکړو چې د دې لپاره يې دا شيان ذکر کړل چې دا د جنس د هغه لرګيو او تيرو ځخه دي چې مباح دي په دشتو او غرونو کې نو دلته دا وهم راتلو چې ګويا دې شيانو باندې به قطع نه وي نو مصنف رحمه الله دغه وهم دفع کړو چې د دې شيانو په غلا کې هم لاس غوځول شته.

(لابتافه يوجد مباحًا في دارنا الخ)

تشريح: (لا بتافه الخ) (يوجد مباحًا في دارنا) دا صفت کاشفه د تافه دی يعنې د تافه لغوی معنی حقير او کم شيئ ته وائی خو اصل کی تافه دا معنی چې موندلی شي په دار اسلام زمونږ کې مباح (کخشب) لکه لرګي (و حشيش) ګياه (و قصب) او درمي [دروي] (و سمک) ماهي (و صيد) ښکار (و زرنيخ) او هرتاړ [ګوګړ] (و مغرة) او سره خاوره (و نورة) او چونه (و لا بما يفسد) او نه قطع کيږي لاس په هغه شئ سره چې زر خرابيږي لکه شيدي او غوښه (و فاکهة رطبة) او لمده ميوه (و ثمر على شجر) او ميوه په ونه باندې (و بطيخ) او خربوزه، دا د طرفينو په نزد، او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد په هر شئ کې به لاس قطع کولی شي مګر په خاوره او خوشايانو کې نشی قطع کولی (و عند

الشافعي) امام شافعي رحمه الله وايي چې **(لا يمنع القطع)** لاس قطع كول نه منع كيږي په دې چې دا شئ مباح الاصل دى لكه لرګي و غيره او نه په دې چې دا تازه دى لكه ميوه او نه په دې چې دا زر خرابيږي لكه شوروا **(و لنا قول عائشة)** مونږ لره دليل دا قول د بي بي عائشې رضي الله عنها دى چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كې به د غله لاس نه قطع كيدو په معمولي شئ كې، يعنې په كمزوري شئ كې، او دا قول د نبي عليه السلام چې په مارغه كې لاس كټ كول نشته او دا قول د نبي عليه السلام چې په ميوو او ونو كې لاس كټ كول نشته **(و زرعٍ لم يحصد لعدم الحرز)** او په هغه فصل كې هم لاس قطع كول نشته چې لو شوى نه وي **(لعدم الحرز)** ځكه محفوظ نه دى **(و لا في اشربةٍ مطربةٍ)** او نشته لاس كټ كول په هغه مشروباتو كې چې نشه راولي لكه شراب و غيره **(و آلات لهوٍ و صليبٍ من ذهبٍ او فضةٍ و شطرنج و نرد الخ)** او همدارنګه لاس كټ كول نشته په سامان د لهو او ډمتوب كې لكه ډول ديرا وغيره **(و صليب)** او په صليب [تاپي] د عيسايانو چې اوس زمانه كې برنام مسلمانانو هم په غاړه كړي وي د سرو زرو ځخه وي او كه د سپينو زرو ځخه وي د دې په غلا كولو كې لاس كټ كول نشته **(و شطرنج)** او په آلاتو او سامان د شطرنج **(و نرد)** او د لهو په سامان باندې **(لانه يقول)** ځكه احتمال لري چې غل ووايي چې ما خو د دې لپاره واخستل چې شراب وارووم او دا نور د لهو او لعب سامان مات كړم نو د دې وجې د غله لاس نه شي كټ كولى **(و باب مسجدٍ)** همدارنګه كه د مسجد دروازه ۲۷۹ پټه كړي نو هم لاس كټ كول نشته ځكه دا محرز يعنې محفوظ نه وي، خو امام شافعي رحمه الله وايي چې د مسجد په دروازه به نه شي كټ كولى **(و مصحف)** همدارنګه د قرآن كريم په غلا كولو هم لاس نه كټ كيږي ځكه احتمال لري چې غل به وايي چې ما د تلاوت لپاره اخستي وو نو دا شبهه پيدا شوه، د امام ابو يوسف او امام شافعي په نزد به كټ كولى شي ځكه قرآنكريم متقوم دى **(و صبي حر)** او د حر ماشوم په غلا كولو سره لاس نه كټ كيږي ځكه دا مال نه دى او په بالغ حر سره په طريقه اولى نه كټ كيږي **(و لو محليين)** اګر چې قرآنكريم او ماشوم باندې د سرو زرو يا د سپينو زرو حليه او جامه وي، ځكه حليه او جامه تابع ده چې اصل باندې لاس كټ كول نشته نو په تابع باندې خو په طريقه اولى سره نشته. او امام ابو يوسف رحمه الله وايي كه قيمت د جامې نصاب ته رسيده نو بيا د حر ماشوم په غلا كولو سره لاس كټ كيږي د ماشوم يا د قرآن كريم د وجې نه بلكې د جامې د وجې ځخه.

(و عبدٍ و دفترٍ) او د غلام په غلا او د دفتر په غلا لاس نه کټ کيږي مگر که غلام ورکوتي وو نو بيا پرې کټ کيږي ځکه غلام مال دی خو چې غلام لوی وي يعنې د ښو او بدو تميز کولی شي نو بيا دده اخستل يا غصب دی او يا دوکه او چل دی او غلا نه ده، او د دفتر ځخه مراد هغه دی چې په دې دفتر کې وي هغه مال نه دی او غلا هم د هغه څه کيږي چې په دفتر کې ليکل شوي وي او هغه هم مال نه دی، اما دفتر د حساب باندې لاس کټ کول شته ځکه مقصود د دې ځخه مال وي يعنې د چا نوم چې پکې ليکل شوی وي د هغه ځخه مال اخلي او دا دفتر د حساب د بلې فائدې لپاره غير د مالي ځخه نشي غلا کولی.

(ولا في كلب وفهدٍ وخيانةٍ وخلسٍ ونهبٍ ونبشٍ ومالِ عامةٍ كما في بيتِ المال ومالٍ له فيه شركة).

توضيح: او لاس به نه شي کټ کولی په غلا د سپې سره او د پړانګ سره چې يو کس په ملکيت کې وي ځکه جنس د دې دواړو حيواناتو په دار الاسلام کې مباح موندلی شي نو دا هم په حکم د تافه يعنې معمولي شئ کې داخل شو خو د سپې په ماليت کې اختلاف دی د نورو درې مذهبونو والا وايي چې سپی مال نه دی همدا وجه ده چې دوی د سپې بيع هم جائز کړي نه ده، او د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد سپی مال دی ځکه د بعضې سپيو چې فائده ترې اخستلی شي بيع جائز ده لکه د ښکار سپی و غيره، او دا دليل د ماليت دی خو دغه اختلاف يوه شبهه په ماليت کې پيدا کړه نو د دې شبهې د وجې حد ترې ساقط شو **(و خيانة)** او په امانت کې خيانت کولو سره لاس کټ کول نشته ځکه خيانت ته سرقه نه وايي **(و خلسٍ)** او د چا په ښکاره په تيزه مال تختولو سره د غله لاس نه قطع کيږي **(و نهب)** او د چا ځخه په ښکاره په زور سره يو شئ اخستلو سره هم لاس نه قطع کيږي ځکه چې دا شرعًا غلا نه ده ځکه په غلا کې الاخذ خفيةً شرط دی او دې دواړو کې علانيت دی **(و نبشٍ)** او نشته لاس کټ کول د مړي ځخه په کفن ويستلو سره ځکه غير محرز او محفوظ نه وي **(و مال عامةٍ)** همدا رنګه لاس کټ کول نشته په غلا د هغه مال چې د عامو خلقو پکې حق وي لکه بيت المال ځکه هر انسان په ديکې من وجه حق لري نو دې يو قسم شبهه پيدا کړه چې حد يې ساقط کړه **(و مال له شركة)** او هغه مال کې د غله لاس نه قطع کيږي چې د غله په هغې شراکت وي نو دغې شراکت سره حد ساقط شو ځکه شبهه پيدا شوه.

(و مثل حقه حالًا او مؤجلًا الخ) همدا رنګه لاس نه کټ کيږي په غلا د مثل د حق خپل حالًوي او که په نيتي سره وي د غله په يو کس قرض وو حالًوو يا په نيتې سره وو غل ورغی او د خپل حق په مثل

یعنې د همغه جنس څخه غلا وکړه (**ولو بمزید**) اګر که د خپل مقدار څخه زیات غلا وه نو بیا هم د غله لاس نه کټ کیږي ځکه غل د دغه کس سره په اندازه د حق خپل شریک دی (**وما قُطع فیه وهو بحاله**) او لاس به نه قطع کیږي په هغه مال کې چې په هغې کې د دې غله یو ځل لاس کټ شوی وو (**وهو بحاله**) او دغه غلا شوی مال په خپل حال وو یعنې تغیر پکې نه وو راغلی، یعنې یو ځل یې یو شئ غلا کړو په هغې کې د غله لاس کټ شو بیا دغه مال خپل مالک ته ورسیده بیایې غلا کړو خو په دغه مال کې تغیر نه وو راغلی نو زمونږ په نزد به بیا دوباره د دې غله لاس نه شي کټ کولی (**واما عند ابي یوسف والشافعي**) اما د امام شافعي او امام ابو یوسف په نزد به دوباره هم کټ کولی شي د وجې د دې قول د نبي علیه السلام که دوباره یې بیا غلا وکړه نو بیایې لاس قطعه کړي.

(**ولنا ان عصمة المسروق قد سقطت الخ**) مونږ دا جواب کوو چې عصمت یعنې حفاظت د مسروق یعنې د غلا شوي مال ساقط شوی دی، معنی دا چې دغه مال مخکې د غلا څخه معصوم وو حق د بنده یعنې د مال د مالک وو نو کله چې غلا وریاندې راغله نو د غلا څخه لږ مخکې د مال عصمت الله تعالی ته انتقال شو نو د غلا په وخت کې دغه مال معصوم حق د شریعت ګرځیدلی وو لکه دا مسئله به وروسته راشي (**ثم اذا عاد**) بیا چې کله غلا شوی مال بیرته خپل مالک ته واپس شو نو عصمت د مال اګر چې بیرته بنده ته واپس شو (**فشبهة سقوطها**) نو شبهه د سقوط د عصمت یعنې دا شبهه پاتې ده چې عصمت به ساقط شي نو دې شبهې قطع د لاس هم ساقط کړه ځکه حدود په شبهه سره ساقطیږي (**وقوله علیه السلام فان عاد**) شارح دې سره د امام شافعي رحمه الله د دلیل څخه جواب کوي چې د نبي علیه السلام د دې قول چې فان عادَ دی مطلب دا دی چې که دوباره غلا ته راوګرځیده نه دا چې مسروق ته (**لئلا یعارض**) یعنې دغه عود سرقې ته ځکه راجع شو چې د دې لپاره چې دغه حدیث مذکور معارض او مقابل نه شي د دلیل د سقوط د عصمت سره یعنې د هغه دلیل سره چې په باب د سقوط د عصمت د سارق کې راغلی دی چې هغه دا حدیث دی [لا یغرم صاحب السرقة اذا اقیم علیه الحد ـ نسائي] (**علا انه مطعون الخ**) علاوه لا دا چې کوم حدیث باندې چې امام شافعي رحمه الله دلیل نیولی دی ضعیف دی، اما طحاوي وریاندې طعن کړی دی.

(فان تغير فسرق قطع ثانيًا كغزلٍ قطع فيه فنسج فسرق ولا ان سرق من ذي رحم محرم منه الخ)

توضيح: **(فان تغير)** كه مال مسروق يعنې غلا شوي کې تغير راغی **(فسرق)** بيا يې غلا کړو **(قطع ثانيًا)** نو اوس به دويم ځل لپاره بيا هم دده لاس کټ کولی شي **(كغزلٍ)** مثلا په وړي کې د غله لاس کټ شو **(فنسج)** بيا وړی وپيلل شوي يعنې وبدل شوې **(فسرق)** بيا يې دغه پيلل شوی وړي غلا کړي نو اوس به دوباره د ده لاس کټ کولی شي **(و لا ان سرق)** او لاس د غله به نه شي کټ کولی که د داسې خپلوان څخه يې غلا وکړه چې هغه دده محرم وي يعنې د ذي رحم محرم د کور څخه برابره خبره ده چې دغه مال د ذي رحم محرم وي او که د اجنبي کس وي خو د ذي رحم محرم د کور څخه غلا شي ځکه چې د دې په حرز او حفاظت کې شبهه ده هغه داسې چې دده او د ذي رحم محرم تر مينځ مکمله ازادي ده او يو بل ته ورځي نو دې سره احراز ختميږي او احراز شرط د قطع د يد لپاره دی **(بخلاف ماله من بيت غيره الخ)** اما که د ذي رحم محرم مال يې د بل چا د کور څخه غلا کړو نو بيا وربانديې د غله لاس کټ کيږي ځکه حرز او حفاظت موجود دی **(و مال مرضعته)** همدارنګه لاس کټ کيږي په مال د مرضعي کې يعنې تي ورکونکي ښځه باندې ده ته، يعنې يوې ښځې يو ماشوم ته په وړوکوالي کې تی ورکړی وو چې کله لوی شو نو د دې ښځې څخه يې غلا وکړه يعنې د دې مال يې غلا کړو د دې ښځې د کور څخه وي يا د بل چا د کور څخه وي خو مال د مرضعي وي نو د دې غله لاس به کټ کولی شي.

(خلافًا لابي يوسف) خو امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې دده لاس به نه شي کټ کولی **(لان الرضاع)** دا دليل د قطع دی يعنې ځکه چې رضاع ډير کم کرتي مشهوره شي نو د رضيع او مرضعي ترمينځ ازادي او تګ او راتګ ډير نو **(ولا يكفي الاذن)** دا دفع د يو اعتراض ده چې شرعًا خو دغه رضيع ته اجازه شته چې مرضعې کور ته داخل شي نو پکار ده چې دغه اذن د سقوط د قطع لپاره کافي شي؟ نو شارح جواب وکړو چې اذن بالدخول شرعًا نه کافي کيږي ځکه دغه اذن بالدخول خو په رضاعي خور کې هم ثابت دی او سره د دېنه چې هلته لاس کټ کيږي.

(و لا من زوجٍ و عِرسٍ و لو من حرزٍ خاصٍ لهُ) او همدارنګه به لاس نه کټ کيږي د ښځې که د خپل خاوند څخه غلا وکړي او نه به د خاوند لاس کټ کولی شي که د ښځې څخه مال غلا کړي ځکه د دواړو تر مينځ مکمل ازادي وي او يو د بل مال څخه فائده اخلي نو دې سره حرز کامل ختم شو (و

(لو من حرزٍ خاص له) اګر چې دغه اخستل د مال د هر یو د بل د خاص حرز او حفاظت ځخه وي، معنی دا چې دغه مال اګر چې په داسې ځای کې وي چې دوی هلته نه اوسیږي او د هر یو مال په یو خاص ځای کې محفوظ وي نو بیا به هم یو د بل ځخه په غلا باندې لاس نه شي کټ کولی.

(و انما قال هذا) او مصنف رحمه الله دغه و لو من حرزٍ خاص له ځکه وویله چې په دیکې د امام شافعي رحمه الله اختلاف دی هغه وایي که د ښځې یا خاوند مال په یو بل خاص ځای کې محفوظ وي نو که هر یو د ښځې او خاوند ځخه غلا وکړي نو لاس به یې کټ کولی شي او په یو بل قول د امام شافعي رحمه الله کې بیا دا دي چې صرف د خاوند لاس به کټ کولی شي او د ښځې به نه شي کټ کولی، ځکه د ښځې لپاره د خاوند په مال کې حق وي، مونږ د امام شافعي رحمه الله ځخه دا جواب دی چې د ښځې او خاوند تر مینځ په عادت کې په مالونو کې ازادي وي، بل دا چې هرکله ښځې خپل ځان د خاوند لپاره خرچه کړي چې هغه د مال نه ډیر غوره دی نو مال خو په طریقه اولی سره خرچه کوي [فتح القدیر ۵/۳۷۰].

(و لا من سیده او عِرسه او زوج سیدته الخ) او لاس به نه شي قطع کولی د غله په غلا کولو سره د بادار خپل نه یا د بادار د ښځې ځخه او یا د بادارې د خاوند ځخه ځکه عام عادت کې داسې کس ته اجازه د ننوتلو وي د دوی په کور کې نو حرز فوت شو.

(و لا من مکاتبه و مضیفه و مغنم و حمامٍ و بیتٍ أُذنَ في دخوله الخ) او لاس د غله به نه کټ کیږي یعنې د مولی که د خپل مکاتب ځخه غلا وکړي ځکه د مکاتب په ګټه کې د مولی حق وي نو دې سره قطع د ید ساقط شوه **(و مضیفه)** او د میلمه لاس به نه کټ کیږي که د خپل مضیف یعنې کوربه ځخه غلا وکړي ځکه هغه ورته کورته د داخلیدو اجازه کړي چې دې سره حرز فوت شو **(و مغنم)** او د غنیمت ځخه په غلا سره به لاس نه کټ کیږي ځکه په غنیمت کې دده حق هم وي نو دیکې شبهه پیدا شوه چې دې سره قطع ساقطیږي **(و حمام)** او که د حمام ځخه غلا وکړي نو دې سره هم د غله لاس نه کټ کیږي ځکه ده ته په حمام کې د داخلیدو اجازه شوي او دې سره حرز فوت شو نو قطع د لاس هم سقوط شوه.

(و بیتٍ أُذنَ في دخوله) او د هغه کور ځخه په غلا کولو سره لاس نه قطع کیږي چې ده ته په هغې کې د داخلیدو اجازه شوي وي ځکه دې سره حرز فوت شو **(فان کان الاذن الخ)** غرض د شارح دا دی چې دا لاس نه کټ کول په هغه صورت کې دی چې په وخت د اذن کې غلا وکړي، او دویم دا چې

ځانه اجازه شوي وي د همغه لاس نه کټ کيږي خو که يو کس بلا اجازه داخل شي او غلا وکړي نو لاس به يې کټ کولی شي، نو که اجازه ورته د ورځې شوي وه او غلايې د شپې وکړه نو لاس به يې قطع کيږي، ځکه اذن صرف د ورځې وو چې مُخل د حرز وو او د شپې خو اذن نه وو نو حرز هم فوت نه شو نو لاس به کټ کيږي.

(واعلم) شارح رحمه الله وايي چې حرز په دوه قسمه دی: ۱ـ حرز بالمکان ۲ـ حرز بالحافظ [څوکيدار] نو کوم ځای کې چې حرز بالمکان وو نو هلته حرز بالحافظ يا څوکيدار ته اعتبار نشته مثلاً د يو حمام څخه غلا وشوه او حمام څوکيدار هم درلوده نو قطع د لاس نشته ځکه حمام په خپله محرز او محفوظ دی خو په اذن بالدخول سره ديکې نقصان راغلی دی او حرزيې ختم شوی دی او څوکيدار ته اعتبار نشته ځکه حرز بالمکان قوي دی او حرز بالحافظ ادنی دی او د وجود د قوي سره ادنی ته اعتبار نشته او کوم ځای کې چې حرز بالمکان نه وو نو هلته حرز بالحافظ ته اعتبار شته مثلا مسجد محرز نه دی خو که څوکيدار ولري نو دې څوکيدار ته اعتبار شته، نو که يو مسجد څوکيدار ولري او غل ترې غلا وکړي نو د غله لاس به غوڅولی شي لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه غله لاس غوڅ کړ چې د حضرت صفوان رضي الله عنه څخه چې مسجد کې اوده وو او سر ته يې څادر وو او ترې غلايې کړ.

(اوسرقَ شيئًا ولم يُخرجه عن الدارِ اودخلَ بيتًا وناولَ من هوخارج الخ)

توضيح: (اوسرق الخ) يا يو غل کور ته داخل شي غلا وکړي خو د کور څخه يې ونه باسي نو د غله لاس به نه شي کټ کولی ځکه ټول کور يو حرز دی نو بهر ويستل پکې ضروري دي **(او دخل بيتًا)** يا غل يو کور ته داخل شي او د داخل نه يو بل کس ته چې بهر وي مال ورکړي نو د يو هم لاس نه کټ کيږي ځکه خارج کس داخل شوی نه دی او داخل کس پخپله مال راويستلی نه دی نو سرقه د يو څخه هم تمامه نه شوه، دا زمونږ مذهب دی او امام ابو يوسف او امام شافعي رحمه الله وايي چې که غله بهر لاس راويستو او مال يې بل کس ته ورکړو نو د داخل غله لاس به کټ کيږي ځکه د داخل له طرفه اخراج د مال راغی.

(وان ادخل الخ) او که بهرني غله لاس ورداخل کړو **(و ناوله)** او داخل غله شئ ورکړو بهرني غله ته نو د بهرني غله لاس به قطع کيږي ځکه اخراج دده له خوا راغی **(و في الذخيرة)** ذخيره کې راغلي دي چې که يو کس کور ته داخل شي او مال راواخلي او داسې ځای کې يې کيږدي چې د داخل غله او خارج غله تر مينځ وي بيا خارج غل يې راواخلي نو په ديکې دوه روايته دي: يو روايت کې دي

چې د دواړو لاسونه به کټ کولی شي ځکه غلا د دواړو څخه موجوده شوي ده، او په يو روايت کې راغلي دي چې د يوه لاس به هم نه شي کټ کولی ځکه د يوه څخه هم غلا تمام شوې نه ده.

(**او نقب بيتًا فادخل يده فيهِ و اخذ شيئًا**) او يا غله کور سورى کړو او په دې سوري کې لاس ورداخل کړو او څه شئ يې راواخستلو نو دده لاس به نه قطع کيږي ځکه دده له طرفه خفية اخراج نه دى ثابت شوى لکه څرنګه چې غل د صراف په صندوق کې لاس وردننه کړي او مال راوباسي نو هلته اتفاقًا د غله لاس کټ کيږي نو دلته به هم کټ کولی شي (**قلنا ليس**) شارح رحمه الله وايي چې د امام ابو ايوسف رحمه الله څخه دا جواب دى چې کله کور سورى کړي او ورداخل شي صرف لاس ورداخل کړي نو دې سره هتک او سپکاوى د حرز مکمل نه راځي او قطع هم هلته راځي چې هتک د حرز مکمل راشي او دا هتک په داخليدو سره راځي او دلته دخولُ ممکن دى بلکې عادت هم همداسې دى او په صندوق کې خو دخول ممکن نه دى ځکه هلته امکان عادةً دا دى چې لاس ورداخل کړي نه ځان داخلول نو دواړه فرق لري يعني دا قياس مع الفارق شو.

(**اوطرصُرةً خارجةمن كُم غيرِهِ**)

(**او طر**) ياپې وشوکوله [څيرې] کړي (**صرة خارجة**) داسې هميانه [بټوه] چې بهر وه د لستوڼي د بل کس څخه يعنې د يو کس هميانه د لستوڼي څخه بهر وه او غله وشوکوله نو لاس يې نه قطع کيږي (**هذا يشمل ما**) دا چې هميانى د لستوڼي څخه بهر وي نو دا دوه صورتونو لره شامليږي ۱ـ(**اذا كانت الصرة**) چې هميانى د لستوڼي څخه جدا وي يعنې يوه ځانته ټوټه وي، ۲ـ يا به هميانى پخپله لستوڼي کې وي (**بأن جعل**) هغه داسې چې دراهم په لستوڼي کې واچوي او د بهر خوا نه يې وتړي (**فبقي موضع**) نو پاتې کيږي ځاى د دراهمو (**و هو شيء من الكم**) چې هغه يوه حصه ده د لستوڼي څخه (**خارج ما في الكم**) بهر د هغه څه نه چې لستوڼى کې دي يعنې تړلو سره دغه دراهم د نور لستوڼي څخه بهر پاتې کيږي (**فاذا طر**) نو کله چې يې د بهر نه غوځ کړو نو قطع د لاس نه واجبيږي.

(**واعلم انه اذا كانت الصرة الخ**) شارح رحمه الله وايي چې کله هميانه [بټوه] پخپله عين لستوڼى وو نو ديکې بيا څلور صورتونه راځي:

۱ـ(**لانه**) يا به دراهم په داخل د کم يعنى لستوڼي کې وي او تړل به د بهر خوا نه وي.

۲. **(او جعلها)** يا به دراهم د لستوڼي څخه بهر وي او تړل به د داخل څخه وي **(و علی التقديرين)** او بناء په دواړو تقديرينو **(اما ان طر الخ)** يا به يې هميانۍ غوڅه کړي وي او يا به يې غوټه خلاصه کړي وي **(فان طر)** که هميانۍ يې غوڅه کړي وه او تړل د بهر خوا نه وو **(فلا قطع)** نو بيا لاس قطع کول نشته ځکه په دې صورت کې تړل د بهر خوا نه دي، نو په شکولو سره دراهم د بهر څخه اخستل شوي نو هتک او توهين د حرز رانغی **(و ان طر والرباط من داخل)** او که هميانه يې شکولې وه او رباط يعنې تړل د داخل څخه وو **(و ذلک)** او دا شکول يې په داسې طريقه کړي وو چې غله خپل لاس د هغه په لستوڼي کې ورداخل کړي او د دراهمو ځای غوڅ کړي او دراهم سره د هغې ټوټې راوباسي چې دراهم پکې وو او دراهم تړې واخلي نو دې صورت کې به د غله لاس غوڅولی شي **(للاخذ من الحرز)** ځکه د حرز اومحفوظ څخه يې دراهم اخستي دي.

۳. **(و ان حل الرباط)** او که غوټه يې خلاصه کړه او حال دا چې غوټه هم د بهر څخه وه نو بيا به هم د غله لاس کټ کولی شي ځکه کله چې غله غوټه خلاصه کړه نو دراهم په داخل د لستوڼي کې پاتې شول نو ضروري ده چې غل په لستوڼي ته لاس داخلوي او دراهم به اخلي نو هتک د حرز يې وکړو.

۴. **(و ان حل الرباط)** او که غوټه يې خلاصه کړه **(و هو داخل)** او غوټه د داخل څخه وه نو د غله لاس به نه کټ کيږي ځکه غله په لستوڼي کې لاس ورداخل کړي او غوټه يې خلاصه کړي نو دراهم بهر د لستوڼي څخه پاتې کيږي نو اخستل د دراهمو د خارج څخه راغلل نو هتک د حرز رانغی.

(و عند ابي يوسف) او د امام ابويوسف په نزد دادی چې په ټولو وجوهو کې به د غله لاس کټ کولی شي ځکه لستوڼی پخپله محرز دی **(او سرق جملاً من قطارٍ او حملاً و قطعَ ان حفظه ربه)** يا غله يو اوښ پټ کړو د قطار د اوښانو څخه **(او حملا)** يا يو بار د اوښ و غيره پټ کړي نو د غله لاس به نه شي کټ کولی، دليل د دې دا دی چې **(فان القائد الخ)** يعنې قائد مخکې راخکونکی **(والسائق)** او وروسته شړونکی **(والراکب)** او سور کس دوی صرف مقصد د لارې مسافه قطع کول وي نه حفاظت د اوښانو وغيره **(و قطعَ ان حفظه ربه)** خو که خاوند د دې اوښانو او بار څوکيداري کوله نو بيا به د اوښ او د بار د غله لاس کټ کولی شي **(او نامَ عليه)** يا مالک د بار يا د اوښ په بار باندې اوده وو نو بيا به هم د غله لاس کټ کولی شي ځکه په بار باندې خوب کول يا نژدې د هغه **(حفظ له)** حفاظت د بار دی يعنې په بار باندې خوب کول د حفاظت لپاره کافي دي.

(اوشق الحِمل واخذ منه شيئًا فأن الجوالق حرز).

يا بار څيري کړي او د دې څخه يو شئ واخلي نو بيا به هم د غله لاس غوڅولی شي **(فأن الجوالق)** ځکه جوالونه ابوجونه! (حرز) پخپله محفوظ دي حافظ ته ضرورت نه لري نو د جوالونو په څيرې کولو سره يې هتک د حرز وکړو نو لاس به يې کټ کيږي.

(و ادخل يده في صندوق غيره او کمه او جيبه الخ) يا غل خپل لاس د بل کس په صندوق کې يا لستوڼي کې يا په جيب کې د دراهمو د اخستلو لپاره ورداخل کړي نو د غله لاس به کټ کيږي په لستوڼي کې د لاس وردننه کولو څخه مراد دا دی چې د دراهمو د راخستلو لپاره لاس وردننه کړي نه د غوټې د خلاصيدو لپاره.

(اواخرج من مقصورة دار فيها مقاصير الی صحنها اوسرق رب مقصورة من اخرٰی فيها الخ).

يا غل مال راوباسي **(من مقصورة دار)** د کوټې د يو کور څخه **(فيها مقاصير)** داسې کور چې په هغې کې ډيرې کوټې وي **(الی صحنها)** حويلۍ د کور ته يعنې يو کور کې ډيرې کوټې وي د يوې کوټې څخه مال راوباسي حويلۍ د کور ته يا بلې کوټې ته نو لاس به يې قطع کيږي ځکه هره کوټه په اعتبار د اوسيدو سره جدا حرز دی نو دلته اخراج راغی د حرز څخه **(او سرق)** يا غلا وکړي **(رب مقصورة)** د يوې کوټې خاوند يعنې اوسيدونکي **(من اخرٰی)** د بلې کوټې څخه **(فيها)** چې په دغه مقصوره کې وي **(ارادَ موضعًا الخ)** شارح وايي چې د مصنف د دې قول نه چې دار فيها مقاصير مراد هغه ځای دی چې ډيرې کوټې پکې وي او په هره يوه کې انسانان اوسيږي او بلې کوټې پورې تعلق نه لري يعنې ضرورت ورته نه لري لکه مدرسه و غيره نو په دې صورت کې د غله لاس به کټ کيږي وجه يې مخکې بيان شوه **(لا کالدار التي صاحبها واحد الخ)** خو دا مخکې مذکور د دار حکم په شان د هغه دار نه دی چې خاوند يې يو وي او کوټې د دې کور دده په سامان خادمانو وغيره سره مشغوله وي چې د خادمانو ترمينځ ازادي هم وي ځکه د دې کور څخه صرف حويلۍ ته راويستلو سره يا بلې کوټې راويستلو سره د غله لاس نه کټ کيږي ځکه دلته هره کوټه ځانته حرز نه لري د دې ټولو حکم يو دی نو که د کوټې څخه حويلۍ ته يا د کوټې څخه بلې کوټې ته يې وباسي نو اخراج نه ثابتيږي.

(اوالقٰی شیئًا من حرزٍ فی الطریق ثم اخذہٗ اوحملہ علی حمارٍ فساقہٗ واخرجہٗ من الحرز الخ).

یا یې یو شئ واچوه د حرز نه په لاره کې یعني یو شئ د حرز یعني محفوظ ځای څخه راواخسته او په لاره کې یې واچولو بیا یې راواخستلو **(او حمله)** یا یې خره باندې بار کړو **(فساقه)** خریې روان کړو **(و اخرجه)** او مال یې د حرز څخه ویستلو نو د غله لاس به کټ کولی شي دا زمونږ په نزد **(و عند الشافعي یقطع)** امام شافعي رحمه الله وایي چې **(یقطع الخ)** چې کله غله مال د حرز څخه ویستو او لاره کې یې واچوي نو بیا یې بیرته راواخلي او که لاره کې یې پریږدي نو د غله لاس به کټ کولی شي ځکه اخراج دده څخه ثابت شو خو مونږ د امام شافعي رحمه الله څخه دا جواب کوو چې کله یې د حرز څخه وباسي او وانخلي نو دا ضائع کونکی شو غل نه شو او په ضائع کونکي باندې قطع د لاس نشته.

(و عند زفر) امام زفر رحمه الله وایي چې نه په لاره کې غورځولو کې دغله لاس پرې کیږي او نه په خره باندې وړلو کې ځکه لاره کې غورځول اخراج نه دی او په دابه باندې وړلو کې ځکه لاس پریکول نشته چې د غله څخه اخراج نه دی راغلی بلکې د دابې څخه راغلی لکه خر، اس، موټر وغیره **(کمناولة من هو خارج)** لکه ورکول د مال هغه چاته چې بهر وي نو هلته اخراج د داخل غله څخه نه دی موجود شوی.

(قلنا اذا لم یطرا علیه الخ) شارح رحمه الله د امام زفر صراحةً او د امام شافعي رحمه الله څخه ضمنًا جواب کوي چې د مناولې یعنې بل ته په ورکولو سره ځکه د داخل غله لاس پرې نه شو چې نسبت د اخستلو ده ته نه دی شوی بلکې خارج کس ته شوی نو ځکه حکم د قطع د ید ساقط شو، اما په دې صورت کې چې لاره کې یې وغورځوي **(لم یطرا علیه ید)** او لاس ورباندې پیښ نه شي یعنې د بل کس لاس ورباندې حقیقةً ورپیښ نه شي نو دا اوس هم په حکم د لاس دده کې دي **(فتم بالاخذ)** نو کله چې یې بیرته راواخستلو نو فعل د غلا دده څخه پوره شو، اما که لاره کې یې پریخوده او بیرته یې وانخستلو نو دا په حکم د تضیع کې دی **(و في مسئلة الحمل)** او په مسئله د وړلو کې په دابه باندې هلته ځکه د غله لاس کټ کیږي چې د دابې د تګ نسبت ده ته کیږي نو دا غل اخستونکی شو.

(فصل: یقطع یمین السارق من زندہ وتحسم ثم رجله الیسرٰی ان عاد فان عاد ثالثًا لا ویسجن حتی یتوب).

بيان كيفية القطع: طريقه دا ده چې د غله لاس به پريكړى شي **(من زنده)** د مړوند څخه **(وتحسم)** او ګرم به كړى شي په وسپنه يعنې وبه داغلی شي په ګرمه وسپنه يا په تيلو سره د دې لپاره چې وينه ترې زياته لاړه نه شي چې هلاكت ته به ورسيږي **(ثم رجله)** بيايې كه غلا وكړه نو چپه ښپه به يې پريكړى شي **(فان عاد ثالثًا لا)** نو كه دريم ځل يې غلا وكړه نو بيا به يې لاس نه شي كټ كولی **(و يسجن)** او بندي به كړى شي تر دې چې توبه اوباسي **(اما السجن فقط)** يا صرف بندي خانه اويا بندي خانه سره د تعزير څخه لكه وهل وغيره د بعضې علماو په نزد باندې **(و عند الشافعي)** خو امام شافعي رحمه الله وايي چې په دريم كرت به يې چپ لاس پرې كړى شي او په څلورم كرت به يې ښې ښپه غوڅه كړى شي **(لقوله عليه السلام)** د وجې د دې قول د نبي عليه السلام څخه چې چا غلا وكړه نو لاس يې پريكړئ كه بيايې غلا وكړه نو بيايې پريكړئ كه بيايې وكړه نو بيايې پريكړئ، او كه بيايې وكړه نو بيا يې پرې كړئ.

(و مذهبنا ماثور عن علي رضي الله عنه) او زمونږ مذهب د حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل شوى دى نو كه دغه مذكور حديث چې څلور كرتي پكې قطع راغلي كه صحيح وى نو حضرت علي رضي الله عنه به د دې مخالفت نه وو كړى او نه به صحابو د حضرت علي رضي الله عنه په قول عمل كړى وو، او امام طحاوي هم په دې حديث طعن كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث اصل نه لري، او كه صحيح هم شي نو دا حديث به محمول وي په تعزير او سياست باندې او يا دا حديث منسوخ دى په ابتداء د اسلام كې په حدودو كې سختې وه لكه د عرنيو نو چې لاسونه پښې پريكړې او سترګې يې ورته راويستلې.

(فان كان يدهُ اليُسرى اوابهامها اواصبعاها اورجله اليمنى مقطوعةً اوشلاء اوردہ الى مالكهِ قبل الخصومة اوملكه بهبة اوبيع اونقصت قيمته من النصاب قبل القطع اوسرق فادعى ملكه اواحد السارقين وان لم يبرهن اولم يطالب مالكها وان اقرهوبها فلا قطعَ).

بيان الصور التي لا قطع فيها: **(فان كان الخ)** نو كه چپ لاس د غله يا غټه ګوته د چپ لاس دده **(او اصبعاها)** يا د غټې ګوتې نه ماسو نورې دوه يا درې ګوتې د چپ لاس يا ښې ښپه دده غوڅه شوي وه **(او شلاء)** يايې ښې ښپه شله وه يعنې وچه شوې وه **(او رده)** يا دغه غلا شوى مال بيرته خپل مالک ته د قاضي په حضور كې د خصومت څخه مخكې واپس كړي **(او ملكه بهبة)** يا غل د دغه

غلا شوي مال مالک شي په هبې سره یعنې مالک یې ورته هبه کړي **(او بیع)** یا په بیع سره یعنې د مالک څخه یې په روپو واخلي **(او نقصت)** یا د دې مسروق مال قیمت د لاس غوڅولو څخه مخکې د نصاب څخه کم شي یعنې نرخ یې ارزانه شي **(او سرق)** یا غل غلا وکړي خو بیا د ثبوت څخه وروسته دعوه د ملک وکړي یعنې چې دا زما خپل ملک دی **(او احد السارقین)** یا د غلو څخه یو غل د ملک دعوه وکړي **(و ان لم یبرهن)** اګر چې د دوی په دعوه ګواهان هم نیول شوی نه وي یعنې په ګواهانو سره د دوی دعوه ثابته نه شي **(او لم یطالب مالکها)** یا د مال مالک د دې مطالبه ونه کړي اګر چې غل پخپله د دې غلا اقرار وکړي نو په مذکوره ټولو صورتونو کې به د غله لاس نه شي غوڅولی **(لانهٔ قطعت)** شارح رحمه الله د عدم قطع دلائل بیانوي **(لانه لو قطعت)** که چیرې د غله ښې لاس غوڅ شي **(و قوة البطش)** او حال دا چې قوت د نیولو په چپ لاس کې فوت وي مثلا غټه ګوته یې نه وي یا یې نوري دوه درې ګوتې نه وي نو دې سره خو فوت کول د جنس منفعت لازمیږي ځکه د منفعت لپاره جنس دا دوه لاسونه دي چې د یوه لاس ګوتې نه وي او بل لاس پرې کړی شي نو جنس منفعت فوت شو دا په حقیقت د غله هلاکت دی او مقصود د حد څخه هلاکت نه دی بلکې زجر دی.

(و کذا ان کانت الرجل الیمنی) همدارنګه که د یو سړي ښې خپه نه وي یا یې ښې خپه شله وي نو بیا به یې هم لاس نه شي غوڅولی ځکه چې د انسان په یو طرف کې لاس او خپه نه وي نو هغه بلکل تګ نه شي کولی لکن که د دواړو طرفونو څخه وي یعنې د ښې او چپ طرف نه وي نو بیا تخرګ لاندې امسا ودروي نو هغه امسا بیا د فوتي پښې قائمقام ګرځي نو تګ کولی شي **(و اذا رد المسروق)** او کله چې غلا شوی مال بیرته خپل مالک ته وسپاري مخکې د خصومت نه نو بیا دعوه ممکن نه ده ځکه مال ورته رسیدلی دی نو سرقه نه ښکاره کیږي نو اوس هم نه کټ کیږي **(و عندٓ ابي یوسف)** خو امام ابو یوسف رحمه الله وایي چې که قبل الخصومة مال بیرته مالک ته ورکړي نو هم به د غله لاس غوڅولی شي لکه څرنګه چې بعد المرافعه الی القاضي کې د غله لاس غوڅولی شي نو قبل الخصومة به هم غوڅولی شي نو مونږ ورته وایو چې خصومت و نشي نو غلا به ځنګه معلومه شي او بعد المرافعه خو خصومت انتهاء ته رسیدلی وي.

(و انما قال او ملکه بهبة الخ) شارح وایي چې مصنف ځکه داسې وویل چې او ملکه بهبة د دې

لپاره چې معلومه شي چې دلته مراد د هبې څخه هبه مع القبض ده ځکه چې په هبه کې ملک نه راځي مګر په قبض سره او بدون د قبض څخه هبه شبهه نه پیدا کوي **(و عند زفر و الشافعي)** او امام زفر او امام شافعي وايي چې په دې صورت کې به د غله لاس پرې کولی شي ځکه سرقه تمامه شوي او ثبوت د ملک غله ته په هبې سره يا بيع سره يو عارض دی او په عارض سره قيام د ملک نه شي راتلی، نو دا شبهه نشته چې حد ورباندې ساقط شي مونږ جواب کوو چې په حد قائمولو سره به استيفاء يعنې پوره والی د حق راځي يعنې مالک ته به خپل حق سپارل کيږي خو دلته استيفاء نه راځي ځکه به هبې سره .... ۲۹۲ هغه فوت شوی دی **(و کذا نقصان القيمة يقطع عندهما)** همدارنګه کله چې د مسروق قيمت قبل القطع د نصاب څخه کم شي نو د امام زفر او امام شافعي رحمه الله په نزد به د غله لاس پريکولی شي ځکه دوی دا قياس کوي په هغې چې د مسروق په ذات کې چې نقصان راشي نو هلته قطع د يد شته نو دلته به هم وي مونږ د دوی څخه جواب کوو چې ابتدا د نصاب پوره والی شرط دی نو د حد د جاري کيدو په وخت کې به هم شرط وي، او په ذات کې چې نقصان راشې نو هغه خو د غله څخه تاوان اخستلی شي نو په تاوان سره بيرته نصاب پوره کيږي.

(و قد ذکر في کُتُبِنَا) شارح له دې سره علت د هغې بيانوي چې د غلا څخه وروسته غل د مسروق د ملک دعوه وکړي يعنې زمونږ په حنفي فقه کې دا ذکر دي چې د امام شافعي رحمه الله په نزد د غله په صرف دعوي سره چې دا مسروق زما ملک دی قطع د لاس نه ختميږي، ځکه غل خو د ځان د بچ کولو لپاره د داسې دعوو څخه عاجز نه دی **(فيؤدي)** نو که داسې دعوو ته اعتبار ورکړل شي نو دې سره به دروازه د حد سرقې بنده شي **(لکن في الوجيز)** لکه په وجيز کتاب کې چې تاليف د امام غزالي الشافعي دی د دې خلاف دی يعنې هغې کې ذکر دی چې په دې صورت کې به د غله لاس نه شي غوڅولی **(و علل)** او امام غزالي د دې علت داسې بيانوي چې کله غل د ملکيت دعوه وکړي نو غل د اول مدعی سره خصم وګرځيده نو قطع د لاس بنده شوه ځکه که غل ګواهان وړاندې کړي نو بيا خو د غله ملک ثابت شو او غلا ختمه شوه، او که ګواهان وړاندې نه کړي نو د اول مدعی څخه به د قسم مطالبه کولی شي نو که اول مدعی قسم وکړي چې دا زما ملک دی او د غله ملک نه دی نو د هغه په قسم سره خو د غله لاس نه غوڅيږي.

(و قوله او لم يطالب مالکها الخ) شارح وايي چې د مالکها ضمير سرقې ته راجع دي او سرقه په

معنی د مسروق سره ده يعنې که مالک د مسروق مطالبه ونه کړي اګر چې غل په سرقه باندې اقرار هم وکړي نو د غله لاس به نه شي پريکولی ځکه دعوه د ظهور د سرقې لپاره شرط دی نو مطالبه ضروري ده.

(فان سرقا و غابَ احدهما فشهدَا علی سرقتهما قطع الآخر و قطع بخصومة ذي يد حافظة كمودَع و غاصب وصاحب ربوا ای باع دينارًا بدينارين و قبضهما فسُرقا من يده و مستعير و مستاجر و مضارب و قابض علی سومِ الشراء و مرتهن و بخصومة المالك من سرق منهم).

بيان القطع بخصومة ذي يد: (فان سرقا) که دوه کسانو غلا وکړه او يو پکې غائب شو او دوه کسانو د دواړو يعنې غائب او حاضر په غلا باندې ګواهي ووېله (قطع الآخر) نو د هغه بل يعنې د حاضر لاس به پريکولی شي او په غائب باندې خو سرقه نه شي ثبوت کېدلی ځکه قضاء علی الغائب جائز نه دی نو دا همداسې معدوم پاتې کيږي او معدوم شبهه نه پيدا کوي او نه توهم د حدوث د شبهې ته اعتبار نشته (و قطع بخصومة الخ) او په خصومت د ذي يد حافظ باندې به د غله لاس پريکولی شي، يعنې د لاس د پريکولو لپاره دوه امره ضروري دي: ۱ـ خصومت ۲ـ خصومت د مال د مالک ضروري نه دی بلکې خصومت د هغه چا چې قائممقام د ده وي يعنې د چا په لاس کې وي او د چا په ساتنه کې چې وي (كمودَع) لکه هغه کس چې امانت ورته ايخودل شوی وي (و غاصب) او غصب کونکی (و صاحب ربوا) او خاوند د سود يعنې چې يو دينار په دوه ديناره خرڅ کړي او بائع دواړه ديناره قبض هم کړي (فسرقا) بيا دواړه ديناره د دې سودخور څخه غلا کړی شي نو د مودَع غاصب او سود خور په خصومت به د غله لاس پريکولی شي ځکه مال د مودَع په لاس کې دی او په مودَع يې حفاظت هم واجب دی نو خصومت د مودَع هم کافي وي، همدارنګه د غصب په صورت کې مال د غاصب په لاس کې دی نو د غاصب خصومت کافي دی، همدارنګه د سود خور په لاس کې مال په منزله د مغصوب دی نو د سودخور خصومت کافي دی (و مستعير) همدارنګه که يو کس بل کس ته يو شئ سوالي ورکړي بيا د مستعير څخه دغه شئ غلا کړی شي نو مستعير ته حق د خصومت شته (و مستاجر) چې يو کس د بل کس څخه مثلاً يوه دابه په اجرت ونيسي بيا د مستاجر څخه غلا کړی شي نو مستاجر ته حق د خصومت شته (و مضارِب) دا د مضاربت څخه دي او مضاربت هغه عقد شرکت ته وايي چې مال د يو کس وي او کار بل کوي او ګټه د دواړو تر مينځ شريکه وي نو د مال خاوند ته رب المال وايي او عامل ته مضارب وايي نو کله چې د مضارب څخه مال غلا کړی شي نو د مضارب خصومت هم کافي دی.

(و قابضٍ علیٰ سومِ الشراءِ) او قبض کونکي په بیع اخستلو سره یعنې غل غلا وکړي د هغه کس نه چې مال قبض کړي په نیت د اخستلو سره خو لا اخستي نه وي نو دغه کس لره حق د خصومت شته **(و مرتهن)** یعنې څوک چې یو شئ ګرو یعنې ګانه واخلي او بیا د هغه څخه غلا کړی شي نو حق د خصومت لري او د مذکورو کسانو په خصومت د غله لاس کټ کولی شي **(و بخصومة المالک)** او لاس به کټ کولی شي په خصومت د مال د مالک **(مَن سرق منهم)** د هغه غله چې د مذکورو کسانو څخه غلا وکړي یعنې لکه څرنګه چې د ذي ید حافظ څخه غلا وکړي او د ذي ید حافظ په خصومت د غله لاس کټ کولی شي نو دارنګې که د ذي ید حافظ څخه چې مخکې تیر شو غلا وکړي او خصومت د مال مالک وکړي نو د مال د مالک نه خصومت به هم د غله لاس کټ کولی شي.

(اعلم ان الدعوىٰ شرط لظهور السرقةِ ولقطعِ الید الخ).

غرض د شارح رحمه الله د دې عبارت څخه توجیه بیانول دي د خصومت د شرطوالي لپاره چې د دعوي شرطوالی د ظهور د سرقې لپاره ده یعنې چې د غله غلا معلومه شي او د لاس د پریکولو لپاره دي **(و ان کان)** او د لاس پریکول اګر چې د حقوق الله څخه دي خو تر څو چې غلا ښکاره نه شي نو حکم د لاس پریکولو نه مرتب کیږي او غلا تر هغې نه ښکاره کیږي چې خصومت ونه شي **(لانه لاشک)** ځکه بلا شکه مسروق منه یعنې د چا څخه چې غلا شوي ښه پوه ده په حقیقت د حال باندې د ګواهانو څخه یعنې ګواه ته دا پته نه لګیږي چې دا مال څرنګه ده او د چا ده خو مسروق منه ته پوره پته ده **(و کذا من السارق الخ)** همدارنګه مسروق منه د هغه غله څخه هم بند پوه دی چې چا په غلا اقرار کړی دی **(اذ یمکن)** ځکه امکان شته چې دغه غلا شوی مال په حقیقت کې د غله وي په طریقه د میراث سره یعنې چې مورث یې مړ شي او دا غل یې میراث یوسي، یا دغه غلا شوی مال ملک د هغه د ذي رحم وي چې هغه محرم وي د غله څخه **(و هو غیر عالم به)** خو دا غل په دې پوهه نه وي چې دا زما میراث دی او یا دا ملکیت زما د ذي رحم محرم دی خو په غلا اقرار وکړي چې ما دغه مال غلا کړی دی نو چې کله مسروق منه دعوه پریخودله یا غائب شو نو دیکې ګمان او شبهه د عدم وجوب د قطع د ید وي ځکه احتمال لري چې دغه مال د غله وي او یا دغله ذی رحم محرم نو د غله لاس به نه شي پریکولی **(اما غیبة المزلیة)** دا دفع د یو اعتراض ده چې هرکله مسروق منه مخاصمت ونه کړي یا غائب شي نو د غله لاس نه شي کټ کولی.

نو پکار ده چې زنا کې هم داسې وشي د مزنيي په غائب والي سره په زاني حد واجب نه شي ځکه چې کله ګواهان په زنا سره ګواهي وکړي خو مزنيه غائبه وي نو په زاني باندې حد واجبيږي سره د دې دا احتمال نشته چې هغه ښځه داسې يوه دعوه وکړي چې حدود دواړو ځخه ساقط کړي نو شارح جواب وکړو چې د مزنيي غائب والي کې اګر چې دا وهم شته چې که دا حاضره واى نو دي به د داسې امر دعوه کړي وه چې حديې ساقط کړى واى خو دې وهم ته اعتبار نشته ځکه مزنيه ابتداءً اګر چې زنا په زوره سره وه خو انتهاءً کله چې خوند وګوري نو ضرور به راضي کيږي نو دا په زنا راضي وه نو دا متهمه شوه په دعوه د هغه څه کې چې حد ساقطوي (**فهذا هو الفرق**) شارح وايي چې دا هغه فرق وو چې ما وعده په باب د شهادت د زنا کې کړي وه.

(**ثم عطف**) بيا مصنف رحمه الله په ضمير مستتر باندې چې قطع کې دي عطف کړو دا قول چې (**لا من سرق من سارق قطع الخ**) يوه غله غلا وکړه او په هغې کې د دې غله لاس کټ شو بيا بل غل راغى او د دې غله ځخه يې دغه مال غلا کړو نو که د مال مالک يا اولني غل مطالبه وکړي نو بيا هم د دويم غله ځخه لاس نه شي کټ کولى، ځکه هغه غلا سره لاس کټ کيږي چې د معصوم مال سره مقابل شي او کله چې د اولني غله لاس پکې پرې شو نو مال معصوم پاتې نه شو نه په حق د مال کې او نه په حق د اولني غله کې لکن که د اولني غله لاس پکې پرې شوى نه وو نو بيا د دويم غله لاس پکې پرې کيږي ځکه اولنى غل په منزله د غاصب دى.

(**وقُطِع عبد اقر بسرقة وردت الى مالكها**).

توضيح: او د هغه غلام لاس به غوځولى شي چې په غلا باندې اقرار وکړي او غلا شوي مال به خپل خاوند ته وسپارلى شي که موجود وو، دا د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دى بې له تفصيل د دې ځخه چې دا غلام ماذون في التجارة دى يا محجور دى او د امام زفر رحمه الله په نزد د غلام لاس به بلا تفصيله نه کټ کيږي ځکه د غلام اقرار په ځان باندې په حدودو او قصاص باندې نه صحيح کيږي (**اما في رد المال**) لکن په مال واپس کولو کې که غلام ماذون وو نو بيا صحيح ده مال د واپس کړى شي ځکه اقرار د ماذون په مال صحيح دى ځکه د مولى له طرفه ماذون په دې مسلط دى (**و ان كان محجورا**) او که د تجارت ځخه ممنوع وو نو بيا دده اقرار صحيح نه دى ځکه د مولى له طرفه ورته اجازه نه ده شوې نو نه ورباندې لاس پريکول شته او نه تاوان (**و اما عندهما**) او د صاحبينو په نزد که غلام يې ماذون في التجارة وو نو لاس به يې کټ کولى شي او مال به هم واپس

کولی شي. خکه د دوی په نزد د غلام اقرار په حدودو او قصاص کې صحیح دی او اقرار د ماذون په مال هم صحیح کیږي نو دا به نیولی شي او مال به مالک ته واپس کولی شي که موجود وو.

(و ان کان محجور) او که غلام ممنوع وو د تجارت څخه نو غلا شوی مال که هلاک شوی وو یعنې موجود نه وو نو اقراریې په سرقې سره صحیح دی څکه په ده باندې په دې صورت کې صرف کټ کول د لاس واجب دي او اقرار د محجور په دې صحیح دی (و ان کان قائمًا) او که مال موجود وو نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د غله لاس به کټ کولی شي او مال به مالک ته واپس کړی شي، او امام ابو یوسف وایي چې لاس به یې کټ شي خو مال به نه شي واپس کولی، او امام محمد رحمه الله وایي چې نه به لاس کټ کولی شي او نه به مال واپس کولی شي نو اقرار دغلام معتبر دی.

(فنقولُ لزفر) دا د ائمه یې ثلاثو څخه له طرفه امام زفر ته جواب دی په داسې حال کې چې دوی درېواړه په دې قائل دي چې اقرار د غلام په حدودو او قصاص کې صحیح دی ماذون وي که محجور وي، خلاصه دا چې اقرار د غلام په هغه څه سره چې حد او قصاص واجبوي یعنې چې د غلام نفس پکې تلف او هلاک کیږي یایې اندامونه اگر چې په دې سره مولی ته ضرر رسیږي (فهو غیر متهم) خو په دیکې به غلام تهمت نه شي لګول کیدی چې بادار ته به ضرر ورسوي څکه ضرر غلام ته زیات دی د مولی نه څکه د مولی پکې مال ځي او د غلام پکې ځان ځي.

(و ان تخالجَ في صدرک) او که ستا په زړه کې دا تیریږي چې د بعضې غلامانو بد نفسونه وي انتهاء ته رسیدلي وي چې بادار ته ضرر رسولو لپاره د خپل ځان هلاکت هم غوره کوي (فذلک شيءٌ) خو دا شئ چې ستا په زړه کې تیریږي دا ډیر کم دی د دې صلاحیت نه لري چې په دې باندې احکام بناء شي (ثم بعدَ ذلکَ الاصل) د امام زفر د جواب نه وروسته د ائمو تر مینځ د اختلاف توجیه بیانوي چې د امام محمد رحمه الله په نزد اصل رد د عین یعنې د مال دی او قطع تابع د مال ده

(لشرطیة الدعوة) امام محمد رحمه الله دوه دلائل بیانوي:

۱۔ څکه مال اصل دی د وجې د شرطیت دعوی نه یعنې دعوه او خصومت د مسروق منه شرط دی لپاره د ظهور د سرقې او دا دلیل د دې وو چې مال اصل دی او قطع تابع ده.

۲۔ (و ثبوت المال بلا قطع) چې ثبوت د مال بې له قطع د لاس څخه راتللی شي مثلا دوه گواهان گواهي ورکړي چې فلاني غلا کړې یا پخپله غل اقرار وکړي خو بیرته رجوع وکړي نو مال واجب دی خو قطع د لاس نشته اوعکس ددی۳۰۲ نه شي راتللی چې قطع د لاس راشي او مال واپس

كيدل دي پكې نه وي نو دا دليل د دې دی چې مال اصل دی او قطع تابع ده (**و اقرار العبد المحجور بالمال لا يصح**) او اقرار د محجور غلام بالمال سره نه صحيح كيږي نو تابع يې هم نه ثابتيږي چې قطع ده (**قلنا القطع ليس تبعًا الخ**) شارح رحمه الله د امام محمد رحمه الله د قول څخه جواب كوی چې قطع تابع د رد العين يعني د مال نه ده ځكه رد د مال ضمان د محل د هغې سرقې دی چې سرقه پكې واقع شوي ده او قطع د لاس جزاء د نفس فعل ده نو هر حكم جدا جدا دی نو قطع تابع د مال نه ده (**فأبو يوسف**) نو امام ابو يوسف رحمه الله يو هم د قطع او د مال څخه تابع د بل نه ګرځوي (**فيعتبر**) خو امام ابو يوسف د غلام محجور اقرار د خپل ځان په حق كې معتبروي چې هغه قطع ده خو د مولی په حق كې يې نه معتبروي چې هغه مال دی ځكه د محجور ټول مال د مولی دی.

(**و ابو حنيفة**) خو امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې نفس فعل اصل دی او رد د مال تابع دی ځكه محل د فعل يعني د سرقې پشان د شرط وو او شرط تابع د مشروط وي (**و ما قُطِعَ به ان بقي رُد و الا لا يضمنُ و ان اتلف**) او هغه مال چې د غله لاس په هغې كې كټ كړی شي كه پاتې وو نو خپل مالک ته به واپس كړی شي (**و الا**) او كه مال پاتې نه وو بلكې ختم شوی وو نو د غله څخه به تاوان نه شي اخستلی (**و ان اتلف**) اګر كه غل يې تلف او هلاک كړي يعني چې مال ختم شوی وو كه پخپله هلاک شوی وي او كه غله هلاک كړی وي نو په غله باندې د لاس پريكيدو څخه وروسته تاوان نشته (**انما قال**) شارح رحمه الله وايي چې مصنف رحمه الله د و ان اتلفَ قيد د دې لپاره ولګولو چې د امام حسن بن زياد د روايت څخه چې د امام ابو حنيفه رحمه الله څخه كړی دی احتراز راشي هغه داسې چې په استهلاک يعني هلاک كولو سره په غله تاوان واجب دی خو دهلاكت يعني چې پخپله هلاک شي په هغې كې تاوان واجب نه دی.

(**و عند الشافعي**) خو د امام شافعي رحمه الله په نزد په هلاک او استهلاک دواړو كې تاوان واجب دی (**فعنده**) ځكه د امام شافعي په نزد قطع او تاوان دواړه جمع كيږي ځكه قطع او ضمان دوه حقه دي چې سبب د دواړو مختلف دی او خپل مينځ كې منافات نه لري يعني يو حق د الله تعالی دی چې هغه نهي د دغه خاص جنايت څخه او بل حق د بنده دی چې اخستل د مال دي نو د الله تعالی د حق د وجې قطع واجب ده او دبنده د حق د وجې به تاوان ترې اخستلی شي [فتح القدير جلد ۵ صفحه۳۹۹].

(لان الضمان) شارح رحمه الله د امام شافعي لپاره دليل بيانوي ځکه ضمان بناء دی په عصمت د مال باندې يعنې کوم مال چې غله غلا کړی وو هغه مملوک معصوم وو ځکه که مملوک معصوم نه وی نو د مباح غير مملوک مال په غلا د غله لاس نه قطع کيږي نو کله چې مال معصوم وو نو رد د مال او ضمان واجب دی.

(و نحنُ نقول) او مونږ جواب کې وايو چې عصمت د دې مال الله تعالی ته منتقل کيږي يعنې دغه مال قبل السرقة معصوم وو او حق د بنده وو خو کله چې غلا ورباندې راغله نو د غلا ځخه لږ مخکې عصمت د مال الله تعالی ته منتقل شو نو دغه جنايت يعنې غلا په حق د شرع يعنې د الله تعالی کې راغله نو شريعت د خپل حق لپاره حد ورباندې واجب کړو خو حق د بنده پاتې نه شو ځکه چې عصمت د مال په وخت د غلا کې حق د شريعت ګرځيدلی وو نو ضمان هم واجب نه شو چې حق د بنده دی.

(ولا يضمنُ من سرق مراتٍ فقطع بكلها او بعضها شيئًا منها)

حكم من سرق مرات بعد القطع: او تاوان به نه شي اخستلی د هغه غله ځخه چې څو کرتي غلا وکړي او لاس يې پرې کړی شي په ټولو غلاګانو سره يا بعضو سره (شيئًا منها) دا مفعول دی د لايضمن لپاره يعنې تاوان به ترې نه شي اخستلی هيځ يو شئ د دغه مختلفو غلاو ځخه (المسروق منهم) شارح رحمه الله وضاحت کوي چې مسروق منهم يعنې چا ځخه چې غلا شوې، خلاصه دا چې يو غله د ډيرو کسانو ځخه غلا وکړه او د هر يو ځخه په اندازه د نصاب نو که ټول حاضر شول او خصومت يې د قاضي په حضور کې وکړو او د ټولو د خصومت د وجې د غله لاس پرې شو نو يو ته به هم هيڅ شئ تاوان نه شي ورکولی په اتفاق د ائمه ثلاثو زمونږ، لکن که بعضې مسروق منهم حاضر شو او خصومت يې وکړو او د غله لاس پرې شو نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به بيا هم يو مسروق منه هم هيڅ شيئ تاوان د غله ځخه نه اخلي، خو صاحبين وايي چې د کومو کسانو د وجې چې د غله لاس کټ شوی وي هغوی تاوان نه شي اخستلی خو د کومو کسانو د وجې چې د غله لاس نه دی کټ شوی هغوی تاوان اخستلی شي ځکه حاضرين د غائبينو ځخه نائبين نه دي او د ظهور د سرقي لپاره د غائبينو خصومت ضروري دی، او د دوی د وجې خو قطع نه ده راغلې نو د دوی مالونه معصوم پاتې شو نو ضمان ورته واجب دی، خو امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې مبنی د حدودو په تداخل ده نو په ټولو غلاو يوه قطع واجب ده نو کله چې يو ځل قطع راغله اګر چې د بعضې مسروق منه په خصومت وی نو واجب پوره ادا شو نو د ټولو ځخه واقع کيږي.

(ولا قاطعُ يسارِ من أُمر بقطعِ يمينه بسرقة ولو عمدًا وقُطع مَن شق ما سرق من الدارِ ثم اخرجه).

توضيح: (و لا قاطع يسار) او تاوان نشته په پرې کونکي د چپ لاس (من أُمر) د هغه کس چې امر شوی وو په پرې کولو د ښي لاس د هغه په سبب د غلا سره اګر که دغه چپ لاس پرې کول قصداً وي، يعني د يوه غله د غلا په وجه د حاکم له طرفه دده په ښي لاس د کټ کولو حکم وشو نو جلاد د دې مامور کس د ښې لاس په ځای چپ لاس پرې کړو نو په دغه پرېکونکي جلاد باندې تاوان نشته اګر چې قصداً يې پرې کړی وي (و قُطع من شق ما سرق في الدار ثم اخرجه الخ) او کټ کولی به شي لاس د هغه کس چې څيرې کړي هغه شئ چې غلايې کړي وي (في الدار) په کور کې څيرې کړي (ثم اخرجه) بيايې د کور څخه اوباسي، يعنې يو غل يو شئ غلا کړي او په کور کې څيرې کړي او بيايې د کور څخه وباسي نو دده لاس به کټ کولی شي (و انما يقطع) خو هلته چې د پرې شوي شئ قيمت د غلا نصاب ته رسيږي (و عندَ ابي يوسف) خو امام ابو يوسف وايي چې د دې غله لاس به نه شي کټ کولی (لان الثوب) ځکه دغه جامه چې مال پکې دی په سبب د زيات څيرې کولو سره د غله ملک وګرځيده ځکه د څيرې کولو په وجه په غله تاوان راځي او چې تاوان پرې راغی نو د غله ملک وګرځيده (لهما ان الاخذ ليس) طرفين وايي چې دغسې اخذ سبب د ملک نه وي (و انما نقول) او دا خبره چې مونږ وايو چې غله ته د مسروق ملک ثابتيږي دا د وجې د اداء د ضمان نه ځکه که غله ته ملک ثابت نه شي نو اجتماع د بدلينو په ملک د شخص واحد کې راځي، يعنې چې مکمل تاوان ورکړي او غله ته د مسروق ملک ثابت شي نو اجتماع د مبدل منه چې جامه ده او د بدل چې تاوان دی په ملکيت د يو شخص کې به راشي چې هغه مخکنی مالک دی او دا اجتماع د بدلينو غير معقولي ده عقلا او نقلاً (و مثله) او داسې اخذ شبهه نه پيدا کوي چې قطع د لاس ختمه کړي (لا من سرقَ شاةً فذبحها فأخرج) خو د هغه کس لاس به نه کټ کيږي چې ګډ [پسه] غلا کړي او په همدې کور کې حلال کړي او بيايې وباسي ځکه چې غلا په غوښه تمامه شوه او د غوښې په غلا سره لاس کټ کول نشته.

(و من جعلَ ما سرقَ دراهم او دنانير قُطع و ردت) که يو کس سره زر يا سپين زر غلا کړي او د هغې څخه دراهم يا دنانير جوړ کړي نو د غله لاس به کټ کولی شي او مال به بيرته خپل خاوند ته سپارلی شي ځکه ذات د دې باتي دی نو نوم د دې هم باتي دی دا د امام صاحب مذهب دی، اما د صاحبينو

په قول د دې مال واپس کيدل مالک ته نشته (لان الصنعة) ځکه د غه کارګري د دې مال څخه دراهم يا دنانير جوړل د صاحبينو په نزد متقوم دی يعنې قيمت لري نو په دې صنعت سره تبدل د ذات راغی نو بل شئ وګرځيده او په تبدل د ذات سره حق د مالک ختميږي (فان حمره فقطع فلا رد و لا ضمان، ان سوده رُد الخ) يعنې که يو کس جامه غلا کړي او بيا سور رنګ ورکړي بيا دده لاس کټ شي نو د دې مال بيرته واپس کول خپل مالک ته واجب نه دي او که د غله سره هلاک شي نو غله باندې تاوان نشته (و عن محمد) امام محمد رحمه الله وايي چې مالک به خپله جامه واخلي نو غله ته به د رنګ قيمت ورکړي (و ان سوده) او که غله تور رنګ جامې ته ورکړی وو بيا يې لاس کټ شو نو د امام ابو حنيفه په نزد به جامه خپل مالک ته واپس کړی شي ځکه توروالی زيادت نه دی بلکې نقصان دی او حق د مالک په نقصان سره نه ختميږي بلکې په زيادت سره ختميږي.

(و کذا عند محمدٍ) همدارنګه د امام محمد رحمه الله په نزد هم په تور رنګ کې به جامه خپل مالک ته واپس کولی شي څرنګه چې په سور رنګ کې واپس کولی شوه ځکه رنګ سره د مالک حق نه ختميږي نو جامه به مالک ته واپس شي او د توروالي قيمت به غله ته ورکړی شي، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې مالک ته به جامه نه شي واپس کولی ځکه لکه څرنګه چې سوروالی زيادت دی نو دارنګه توروالی هم زيادت دی او په زيادت سره حق د مالک ختميږي.

باب قطع الطريق

دا باب دی په بيان د لارې شکولو کې ، يعنې د تيريدونکو او د مسافرينو په شکولو کې

۹ دويم قس داسقسامو د سرقې، سرقه په دوه قسمه ده: ۱ـ سرقه صغری ۲ـ سرقه کبری، د سرقه صغری بيان مخکې تير شو اوس د سرقې کبری بيان دی خو سرقه صغری زياته وي په نسبت سره کبری ته نو ځکه يې بحث د سرقه صغری مقدم کړو.

د قطاع طريقی لپاره شپږ شرائط دي:

۱.چې د دغه غلو دومره زور وي چې تيريدونکي خلق د هغوی مقاومت نه شي کولی.

۲.چې د ښار څخه بهر وی او لري وي. ۳.چې په دار الاسلام کې وي.

۴.چې اخستل شوی مال د نصاب په اندازه وي.

۵.چې قطاع الطريق ټول د مال د خاوندانو څخه اجنبي يعني پردی وي.

۶.چې د توبې ويستلو څخه مخکې ونيول شي.

(من قصده معصومًا على معصوم اى حال كون القاصد معصومًا اى مسلمًا اوذميًا فأُخذَ قبل اخذ شئ و قتلٍ حُبس حتى يتوب اى يظهر فيه سيماء الصالحين).

توضيح: (من قصده) چا چې قصد او اراده د قطاع طريقۍ وکړه (معصومًا) په داسې حال کې چې قطاع الطريق معصوم وو يعنې مسلمان يا ذمي وو (على معصوم) په يوه معصوم کس يعنې چې مسلمان يا ذمي وي (فأُخذ الخ) نو ونيول شو مخکې د اخستلو د يو شئ څخه يعنې چا څخه يې څه اخستي نه وو (و قتل) او مخکې د قتل کولو څخه يعنې قتل ئې ونيول شو (حُبس) نو تر دې به بندي کړې شي چې توبه وباسي يعنې د نيکانو خلقو اثرات پکې معلوم شي ځکه ايت کريمه کې چې راغلي چې [ان يقتلوا او يصلبوا او تقطع ايديهم و ارجلهم من خلافٍ او يُنفوا من الارضِ] نو دلته آو د اختلاف د احوالو لپاره دی يعنې چې حالت بدليږي نو حکم به هم ورسره بدليږي خو چې مخکې د مال اخستلو او قتل کولو څخه ونيول شي نو بندي کولی به شي ځکه د نفي څخه مراد په ايت کې بندي کول دي ځکه که د نفي څخه مراد د وطن څخه وييستل شي نو بيا دي سره نه زجر راځي او نه شر دفع کيږي ځکه کيدی شي چې هلته قطاع طريقي شروع کړي.

(وان اخذ مالا يصيب لكل واحدٍ منه نصاب السرقة قُطع يده ورجله من خلاف وان قتل بلا اخذ قُتل حدًا اى هذا القتل بطريق الحد لا بطريق القصاص فذكر ثمرة هذا بقوله فلا يعفوه ولي).

وضاحت: (و ان اخذ) او که قطاع الطريق دومره مال واخسته چې هر يوه قطاع الطريق ته د سرقې د نصاب په اندازه مال رسيده نو لاس او پښه به رد او بدل پرې کړی شي يعنې ښي لاس او چپه خپه (و ان قتل بلا اخذ) او که قتل يې کړی وو خو مال يې اخستی نه وو نو دغه غل به په طريقه د حد سره قتل کړی شي نه په طريقه د قصاص سره د دې فائده دا ده چې بيا يې ولي د مقتول نه شي معاف کولی ځکه حد خالص حق د الله تعالی دی او د الله تعالی حق څوک نه شي معاف کولی او په قصاص کې بيا معاف کولی شي.

(وان قتل واخذ قطع ثم قُتل اوصلب اوقتل اوصلب حيًا فقوله اوقتل عطف على قطع اى ان شاء قطع ثم قتل اوصلب وان شاء قتل اوصلب حيًا من غير قطع).

وضاحت: که غلو قتل هم کړی وو او مال يې هم اخستی وو نو د وخت حاکم ته اختيار دی:

۱. (قطع ثم قتل) چې اول لاس او خپه رد او بدل پرې کړي بيا يې ووژني.

[illegible] په دار کړي

[illegible] او [illegible] په غوڅولو

[illegible] او خپې غوڅولو څخه
[illegible] او بدل غوڅه کړي بیابې په دار کړي بیابې ووژني
[illegible] البعج شق البطن) او په خیټه کې به یې په نیزه ووهي تر دې چې مړ شي
[illegible] دا خو مثله ده او مثله په شریعت کې حرامه ده؟ نو جواب دا دی
[illegible] مسوح څخه مستثنی ده څکه صلب یعني په دار کول شرعًا روا دي فتح القدیر (و
[illegible] او [illegible] په دار شوی غل به په دار تر درې ورځو پورې پریخودلی شي (و ما اخذ
فتلف لا یضمن) او کوم مال چې قطاع الطریق هلاک کړی وي او بیا ووژل شي نو د دغې مال تاوان
[illegible] نه ورکول کېږي څکه څرنګه چې سرقه صغری کې د تلف په صورت کې تاوان نه وو (و بقتل احدهم
[illegible] که د غو څخه یو غل هم قتل وکړي نو ټول غله به په حد کولی شي د مباشر معنی دا چې
[illegible] کې په فعل شریک وي (و حجر و عصًا لهم کسیف فان جرح و اخذ قطع و هدر جرحه) او تیږه
[illegible] د قطاع الطریقو پشان د توري ده یعني که قطاع الطرق یو کس په تیږه یا امسا
[illegible] دا لکه په توره چې وهلی وي نو مقابل کې به قطاع الطرق وژلی شي څکه دا حد
دی [illegible] کې قتل بالسیف خاص نه دی بلکې قصاص کې قتل بالسیف خاص دی (فان جرح) نو
[illegible] یو کس زخمي کړي او مال هم ترې واخلي نو د غله لاس او خپه به ردو بدل پرې
[illegible] شي، خو زخم یې هدر دی یعني د زخم تاوان په غله نشته څکه تاوان د حد سره نه جمعه کیږي

(ولمن جرح فقط او قتل عمدًا فتاب اي تاب قبل ان یؤخذ او کان منهم غیر مکلف او ذورحم محرم من المارة او قطع بعض المارة علی البعض او قطع الطریق لیلًا او نهارًا في مصر او بین مصرین فلا حد وللولي [illegible] او عفوه).

تشریح: که قطاع الطریق صرف یو کس زخمي کړي یا قتل قصدًا وکړي خو د نیولو څخه مخکې [illegible] (او کان) یا د قطاع الطریقو څخه یو کس غیر مکلف یعني ماشوم یا لیونی وي (او ذو [illegible]) یا د قطاع الطریقو کې یو کس د لارې تیریدونکو څخه هسې خپلوان وي چې محرم وي (او قطع

يا بعضې لاړې تيريدونکی په بعضې نورو لارو تيريدونکو باندې قطاع الطريقي وکړي **(او بين مصرين)** يا د دوه ښارونو تر مينځ قطاع الطريقي وکړي نو په دې مذکوره ټولو صورتونو کې حد نشته، په اول صورت کې يعنې چې صرف زخم وکړي نه يې مال اخستی وي او نه يې قتل کړی وي، يايې مال اخستی وي خو د نصاب څخه کم څکه حد نشته چې ايت کريمه کې څلور قسمه جزاء په مقابله د څلورو جناياتو کې راغلي او پنځم قسم نشته، او په صورت د توبه کې څکه حد نشته چې صراحةً ايت کريمه کې د دې استثناء راغلې خو په قتل عمد کې ولي ته حق د قصاص شته، او که قصداً نه وو نو بيا ديت دی او د ولي لپاره د عفوي حق شته او په صورت د دې کې چې يو قطاع الطريق غير مکلف وي څکه حد په ټولو نشته چې قطاع الطريقي يو جنايت دی چې ټولو کړی دی نو چې د بعضو په فعل سره حد واجب نه شو نو د نورو په فعل سره هم نه واجبيږي، خو امام ابو يوسف وايي چې غير مکلف قطاع الطريق د مکلفو يعنې بالغو عقلاو سره په غلا کې يو ځای شي **(يحد الباقون)** نو د ماشوم او ليوني څخه ماسوا نور ټول قطاع الطريق به په حد کولی شي او په صورت د ذي رحم محرم کې څکه په قطاع الطريقو حد نشته چې د مقطوع عليهم تر مينځ مال مشترک دی او په قطاع الطريق کې يو د دوی څخه ذو رحم محرم دی نو په ذي رحم محرم حد نشته نو چې په ذي رحم محرم حد نشته نو د نورو څخه هم ساقط شو [فتح القدير ۴۱۳/۵].

او په صورت د دې کې چې بعضې قافله وال قطاع الطريقي وکړي څکه حد نشته چې حرز يو دی څکه قافله په منزله د يو کور وګرځيده او په دې صورت کې چې قطاع الطريقي په يو ښار کې وي يا د دوو ښارونو تر مينځ وي خو چې نژدې وي لکه کوفه او حيره علاقه په داسې شان سره چې غالبا هلته فرياد رسيږي څکه حد نشته چې دا حکما قطاع الطريقي نه ده خو امام شافعي رحمه الله وايي چې دا قطاع الطريقي ده او حد به وربانديې قائمولی شي **(و عند ابي يوسف)** امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې کله په ښار کې يا د دوو ښارونو تر مينځ د ورځې په سلاح سره جنګ وکړي نو حد به ورکولی شي، همدارنګه که د شپې جنګ وکړي په سلاح سره وي او که غيرَ سلاح سره وي نو په حد به کولی شي.

(و في الخنق دية و من اعتاده قتل بالسياسة) او په زندی وراچولو کې ديت دی که څوک چا لره په زندی سره ووژني نو د قاتل څخه به ديت اخستلی شي **(و من اعتاده)** خو که زندی ور اچول د چا عادت وو يعنې ډير کرتې دغه کار کړی وو نو حاکم ته دا شته چې سياسةً او تعزيراً يې ووژني څکه

دا په ځمکه کې فساد کونکی وګرځيده او د فساد مخه به نيسيٰ (الخنق) شارح رحمه الله وايي چې زندۍ کول دا هم صورت دی د قتل بالمثل ځخه او په قتل بالمثل کې د امام ابوحنيفه ځخه ماسوا د صاحبينو په نزد قصاص دی.

كتاب الجهاد

مصنف رحمه الله چې هر کله د بحث د حدودو او د متعلقاتو د دې ځخه فارغ شو نو شروع يې وکړه په بحث د جهاد باندې.

جهاد په لغت کې خپل طاقت مصرفولو ته وايي، او په اصطلاح کې دين حق ته خلق رابلل او څوک يې چې نه قبلوي د هغه سره جنګ کول.

جهاد په دوه قسمه دی: ۱ـ فرض کفائي ۲ـ فرض عين لکه متن کې به د دې تفصيل راشي، او بعضې خلق بيا جهاد په دوه قسمه په داسې ډول بيانوي چې جهاد اصغر او جهاد اکبر، او په ديکې يو حديث هم بيانوي خو دا حديث موضوعي دی چې ابن جوزي رحمه الله په موضوعاتو کې راوړی دی او دغسې نومونه ورکول د مستشرقينو له خوا يعنې د هغه خلقو له خوا ورکولی شي چې د يهودو له خوا په دې مقرر شوي وي چې په مسلمانانو کې د جهاد ماده ورکه کړي، او بيا بعضې د جهاد اياتونه او احاديث په جهاد مع النفس باندې تحميلوي دا هم يو قسم تحريف دی چې د الله تعالى په کتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په احاديثو کې کولی شي.

> **(هو فرض كفاية بدأ اى ابتداءً و هو ان يبدأ المسلون بمحاربة الكفار ان قام به بعض سقط عن الباقين فان تركوا اثموا الا على صبى وعبدٍ وامرأةٍ واعمًى ومقعد واقطع وفرض عين ان هجموا فتخرج المرأة والعبد بلا اذن).**

توضيح: (**هو فرض كفاية**) دا جهاد فرض كفائي دی په وخت د تعرض د مسلمانانو کې په کفارو باندې يعنې چې مسلمانان په يو کفري هيواد باندې تعرض وکړي نو جهاد فرض کفائي دی (**ان قامَ به الخ**) مصنف رحمه الله په دې عبارت سره وضاحت د فرض کفائي کوي چې فرض کفائي دېته وايي چې بعضې کسان عمل وکړي په دې باندې نو د نورو ځخه ساقطيږي ځکه مقصود حاصليږي (**فان تركوا**) خو که ټولو جهاد پريخودو نو ټول ګناهګار دي ځکه فرض يې پريخودو مګر يو څو کسانو باندې ګناه نشته يو ماشوم دی ځکه دا غير مکلف دی (**و عبد**) او غلام دی ځکه دا د مولى په خدمت کې وي ځکه حق د بنده مقدم دی (**وامرأة**) او په ښځه ګناه نشته ځکه دا

اهل د دې نه دی ځکه کمزوری ده او بل د خاوند د وجې چې د هغه خدمت کوي **(و اعمیٰ)** او په رانده باندې **(و مقعد)** او په شل یا ګوډ باندې **(و اقطع)** او په هغه کس چې لاسونه یې غوڅ شوي وي ځکه دا درې ډلې معذوري دي دا د جهاد تعرضي په صورت کې **(و فرض عین)** مصنف رحمه الله د دویم قسم جهاد بیان کوي چې د جهاد دفاعي بیان دی یعنې چې کفار په مسلمانانو حمله وکړي نو بیا جهاد فرض عین دی او دېته نفیر عام هم ویلی کیږي، فرض عین دا معنی چې د بعضو په کولو سره د ټولو مسلمانانو غاړه نه خلاصیږي، بلکې په هر کس فرض دی او خپله ذمه به فارغوي نو ښځه به بې له اجازې د خاوند ځي او غلام بی له اجازې د بادار ځي او بالغ به بغیر د اجازې د مور او پلار ځي وځي لکه قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي [انفرُوا خفافًا و ثقالاً] ووځئ جهاد ته سپک او درانه امام قرطبي او نورو تفاسیرو د دې مختلفې معاني کړي دي:

۱.سواره او پیاده. ۲.ځوانان او بوډاګان. ۳.واده والا او بې واده خلق. ۴.مالداره او فقیران. ۵.چاغ او خوار. ۶.روغ او مریضا. ۷.د سپکو وسلو والا او درنو وسلو والا. ۸.زنانه او نارینه. [قرطبي، فتح القدیر ۵/۴۲۳، عنایه ۵/۴۲۳].

دا د فرض په صورت کې لکه اوس زمانه کې چې ټولو کفري هیوادونو په مسلمانانو خصوصًا د افغانستان په مظلوم ملت تعرض کړی دی نو په ټولو مسلمانانو جهاد فرض عین دی.

(فانه اذا هجمَ الکفار الخ) ځکه چې کله کافران د مسلمانانو په یو ثغر یعنې سرحد باندې حمله وکړي نو جهاد په ټولو هغه خلقو چې دېته نژدې وي او قادره وي په جهاد باندې فرض عین دی **(و اما علی من وراءهم الخ)** او کوم کسان چې د دې ځخه اخوا وي یعنې لرې وي نو کله چې د کفارو د حملې خبرې دوی ته ورسیږي نو په هغوی هم فرض عین کیږي خو چې هغوی ته ضرورت وي هغه داسې چې دوی ته دا ویره وي چې نژدې خلق به د کفارو د مقاومت او مقابلې ځخه عاجزه شي یا عاجزه نه وي خو سستوب به وکړي.

(ثم و ثم) بیا دا فرضیت نقل کیږي اقرب فالاقرب ته تردې چې جهاد فرض عین وګرځي په ټول اهل اسلام والاو باندې شرقًا او غربًا **(و هذا نظیر)** د دې جهاد مثال د جنازې د مانځه دی چې دا اول په ګاونډیانو فرضیږي خو په لرې خلقو فرض نه دی **(فان قام)** خو که مړي ته نژدې خلقو د جنازې مونځ اداء کړو یا بعضې کسانو نو د ټولو ځخه د دې فرضیت ساقط شو **(و ان بلغ)** او که لرې خلقو ته دا خبر ورسیږي چې مړي ته نژدې خلقو د مړي حق ضائع کړی دی **(فعلی الابعد)** نو په

لري خلقو دا فرض دي چې د جنازې مونځ اداء کړي (فـان تـرک الکل) خو کـه لـري خلقـو او نژدې خلقو ټولو د جنازې مونځ پريخودلو (فکل من بلغ) نو هر هغه کس چې د دې مړي خبر ورته رسيږي او د جنازې مونځ يې اداء نه کړي نو ګناه ګار به وي نو همدارنګې د جهاد حکم هم دی.

(وکره الجُعل معرفيءٍ وبدونه لاالخ)

القول الثمين في بيان الجُعل على المسلمين: او چنده مقررول په مسلمانانو سره د بيت المال نه مکروه دی او بغير د بيت المال نه مکروه نه دی.

فئ هغه مال ته ويلی شي چې د کفارو څخه بې له جنګ نه واخستلی شي لکه خراج جزيه و غيره، او غنيمت هغه مال ته ويلی شي چې د کفارو څخه په جنګ کې ونيولی شي خو دلته د فئ څخه مراد مطلق بيت المال دی جُعل هغه څه ته وايي چې يو عامل يعنې کار کونکی لکه عشر راجمع کونکی يا قاضي و غيره ته په عمل ورکولی شي، خو دلته ترې مراد چنده ده.

خلاصه دا ده کـه بيت المال شئ موجود وو نو حاکم بـه پـه مالدارو خلقو بغير د هغوی د زړه د خوشحالۍ نه څه نه مقرروي چې په دې سره مجاهدين قوي شي اما که د زړه د خوشحالۍ نه يو شئ پخپله مجاهدينو ته ورکوي نو ديکې څه باک نشته بلکې دا يو قسم تعاون په نيکۍ کې دی خو که بيت المال کې څه نه وو نو بيا حاکم کولی شي چې په مالدارو خلقو د هغوی د وس مطابق هغومره شئ مقرر کړي چې د مجاهدينو د تجهيز او سامان لپاره کافي شي لکه نن زمانه کی ۳۱۸ چې بيت المال کې څه نشته او بل دا چې بيت المال د کفارو په لاس کې وليدلی دی والله المستعان.

(فان حوصِروااى الکفاربأن حاضرهم المسلمون دُعواالى الاسلام فأن ابَوافالى الجزية فأن قبلوافلهم مالناوعليهم ماعلينا).

انارة الفجر في بيان دعوة الکفار الى الاسلام بعد الحصر: که کفار د مسلمانانو له خوا محاصره شي نو اول به اسلام ته دعوت ورکړل شي که اسلام يې راوړو نو ډيره ښه ده (فـان آبـوا) خو کـه دار اسلام د قبلولو څخه يې انکار وکړو (فالى الجزية) نو بيابه جزيې قبلولو ته دعوت ورکړی شي چې جزيه قبوله کړئ (فان قبلوا) نو که جزيه يې قبوله کړه (فلهم مالنا) نو بيا به د دوی لپاره هغه څه وي چې کوم زمونږ د مسلمانانو لپاره وي (و عليهم ما علينا) او په دوی به هغه څه وي چې کوم زمونږ په مسلمانانو وي يعنې د دوی حقوق بيا د مسلمانانو په شان دي.

(اعلم) شارح رحمه الله وايي چې په دې ګوره خان پوهه کړه چې دا حکم على العموم مراد نه دی تر

دي چې په كفارو هغه عبادات وغيره واجب شي چې كوم په مونږ مسلمانانو واجب دي ځكه كفار په عبادت كولو باندې د كفر په حالت كې زمونږ په نزد مخاطب نه دي (**و اما عند من يقول**) او څوك چې وايي چې كفار د كفر په حالت كې په عبادت كولو مخاطب دي نو بيا د دوی په نزد ذمي او حربي كافر ټول مخاطب دي.

(**و عندَ قبولِ الجزيةِ لا نأمرُهم بالعبادات**) او كله چې جزيه قبول كړي نو بيا مونږ دوی ته په عبادت كولو سره امر نه كوو لكه څرنګه چې مسلمانانو ته كوو بلكې مقصد د دې دا دی چې كه مونږ د دوی په مال يا وينو تعرض وكړو نو د دوی لپاره به په مونږ هغه څه واجب وي چې كوم د يو مسلمان لپاره په بل مسلمان واجب وي، او كه دوی زمونږ په وينو او مال تعرض وكړو نو زمونږ لپاره به په دوی هغه څه واجب وي چې كوم د يو مسلمان لپاره په بل مسلمان واجب وي (**و ذلك لان قبل قبول الجزية**) ځكه چې مخكې د جزيې [ټيكس] قبلولو څخه مونږ د دوی په وينو او مالونو تعرض كوه يعنې قتلول مو او لوټ كول مو او هغوی زمونږ په وينو او مالونو تعرض كاوه (**فقبول الجزية**) نو دجزيې قبلول د همدې تعرض د ختمولو لپاره دي (**يؤيد ذلك**) تائيد د دې خبرې د راكوي چې علماو په دې حكم باندې دليل قولې د حضرت علي رضي الله عنه ګرځولی دی هغه داسې چې (**انما بذلوا**) چې بيشكه كفار چې جزيه وركوي د دې لپاره چې د دوی وينه زمونږ د وينو په شان محفوظه شي او د دوی مالونه زمونږ د مالونو په شان محفوظ شي (**و لا يقاتل من لم تبلغه الدعوة و ندبت**) او جنګ به نه كوي د هغه چاسره چې هغه ته د دعوت د اسلام نه وي رسيدلی (**و ندبت**) او دعوت تازه كول مستحب دي هغه چاته چې يو ځل دعوت د اسلام ورته رسيدلی وي يعنې كومو خلقو ته چې يو ځل دعوت د اسلام رسيدلی وي نو هغوی سره بې له دعوته جنګ جائز دی خو دعوت وركول مستحب دی چې تازه علم ورته حاصل شي (**فان ابوا**) كه د جزيه څخه انكار وكړي (**حُورِبُوا**) نو جنګ دې ورسره وكړی شي (**بمنجنيقٍ**) په منجنيق سره منجنيق يو قسم لويه كاڅې ده چې د دوه لويو لرګيو په سر تيارولی شي او بيا پكې لوی تيږې [كانړي] ايخودلی شي چې د دشمن ديوالونه او قلعه ورباندې ورانوي لكه اوس زمانه كی توپونه دي (**و تحريق**) او په اور سره سوځولو سره چې د دوی مالونه او نفسونه په اور سره وسوځوي (**و تغريق**) او په درياب كې په غرقولو سره (**و رمي**) او ويشتلو سره ځكه په داسې كارونو سره د دوی دبدبه ختميږي او ذله يې

ورکیږي (**و لو معهم مسلم**) اګر چې په دوی کې مسلمان وي یعنې مسلمان بندي یا تاجر وي ځکه د کفارو په ویشتلو کې دفع د ضرر عام ده او د یو مسلمان په قتل کې ضرر خاص دی او ضرر عام مقدم دی په ضرر خاص باندې (**او تترسوا به**) یا دا کافر مسلمان د ډال او سپر په توګه استعمال کړي نو بیا به یې ولي (**بنیتهم**) خو په نیت د کفارو به یې ولي یعنې نیت کې به د کافر ویشتل راولي (**لا بنیته**) خو په نیت د مسلمان نه، یعنې نیت کې به مسلمان نه راولي خو که د کفارو په ویشتو سره مسلمان مړ شي نو دیت او کفارهورباندې نشته ځکه جهاد فرض دی او تاوانونه د فروضو سره نه یو ځای کیږي.

(**وقطع شجر وافساد زرعٍ بلا غدرٍ وغلولٍ ومثلة**).

وضاحت: او په کټ کولو د ونو سره یعنې ونې به ورته کټ کړی شي اګر چې میوه دارې وي (**و افساد زرعٍ**) او د فصل په ختمولو او خرابولو سره یعنې فصل به ورته خراب کړي (**بلا غدر**) بې له دوکې ځکه دوکه به نه کوي (**و غلول**) او بې له خیانت ځکه چې د چا سره به خیانت نه کوي (**و مثلة**) او بې له مثلې ځکه یعنې اندامونه به یې نه پرې کوي لکه پوزه غوږ وغیره (**قال في الهدایة الغدر**) هدایه کې وایي چې غدر خیانت ته او وعدې ماتولو ته وایي (**و قد قال علیه السلام**) او حال دا چې نبي علیه السلام فرمایي چې جنګ چل او دوکه ده (**فتشتبه علی الناس**) نو په خلقو باندې مشتبه شي فرق کول د غدر او خدعة الحرب تر مینځ ځکه چې د غدر او خدعة الحرب تر مینځ فرق نشته نو هرکله چې په حدیث مبارک سره خدعة الحرب جائز شو نو د غدر ځکه ولې منع [illegible]ې وه (**فأقولُ**) شارح رحمه الله د دواړو تر مینځ فرق بیانوي چې (**ما دام الحرب قائمة**) تر څو چې جنګ قائم وي نو خداع ورسره حرامه نه ده (**بأن نریهم**) د خداع معنی دا چې مونږ کفارو ته دا وښایو چې نن ورځ مونږ جنګ نه کوو یعنې داسې ځان ښکاره کړو چې مونږ جنګ نه کوو (**حتی آمنوا**) تر دې چې کفار بې غمه شي (**فنحاربهم فیه**) نو په همدې ورځ ورسره جنګ وکړو (**او نذهب الی صوب آخر**) یا مونږ بل طرف ته لاړ شو (**حتی غفلوا**) تر دې چې دوی غافله شي (**فنأتیهم بیاتًا**) نو مونږ ورته د شپې په وخت کې راشو داسې نورو طریقو باندې چې جنګ کې کومک کوي (**بخلاف ما اذا جرَی**) اما که زمونږ او د کفارو تر مینځ یو قرار او معاهده وه چې په دې ورځ به

جنګ نه کوو (حتى آمنوا) تر دې چې دوی په امن کې شي نو بيا په دې ورځ ورسره جنګ جائز نه دی ځکه دا يو استيمان يعني طلب د امان .... ۳۲۲ نو جنګ کول خو د وعدې او معاهدې ماتول وي او د معاهدې ماتول د مسلمان له طرفه حرام دي او دا معاهده ماتول د خداعة الحرب ځخه نه ده بلکې دا خداع دی د صلحې په حالت کې او دا دوکه ده او دوکه حرامه ده (والغلول) د غلول معنی دا چې د بيت المال ځخه غلا کول يعني د حاکم د اجازې ځخه بغير يو شئ اخستل (والمثلة) مثله د مثل به يَمثل مثلاً ځخه ده لکه قتل يقتل قتلاً په معنی نکل به سره يعنې (جعله نکالاً و عبرة لغيرہٖ) لغيره يعني ويې ګرځوه دغه عبرت د نورو لپاره لکه اندامونو پريکول مخ تورول وغيره (يقال مثل بالقتيل) لکه عرب وايي چې مثله يې وکړه د مړي پورې يعنې پوزه يې ورته غوڅه کړه، او دا مثله حرامه ده.

(و مثلة العرنيين) دا دفع د يو اعتراض ده چې تاسو وايي چې مثله حرامه ده نو نبي عليه السلام خو پخپله عرنين مثله کړي وو؟ نو شارح رحمه الله جواب وکړو چې مثله د عرنينو منسوخ شوي ده په دې قول د نبي عليه السلام سره چې (لا تغلوا) خيانت مه کوئ (و لا تغدروا) دوکه مه کوئ (ولا تمثلوا) او مثله مه کوئ (و في المثلة) علت په مثله کې څه وو چې دا حرامه ده؟ دا ځکه چې دې سره تغير راځي په پيدا ابښت د الله تعالى کې او دغه تغير د شيطان د ګمراه کونکو کارونو ځخه دی لکه شيطان قسم خوړلی چې [و لآمرنهم فليغيرن خلق الله] نو د دې وجې دا حرامه ده، اما که شريعت کوم ځای کې اجازه وکړي نو بيا هلته جائز ده.

(وقتلِ غير مكلفٍ وشيخٍ فانٍ واعمى ومقعدٍ وامرأةٍ الا ملكة اومقاتلاً منهم اوذا مالٍ يحث بهٖ اوذا رأي في الحربِ واب كافرٍ بدأ فيقتله غير ابنه).

توضيح: (و قتل غير مكلف) او غير مكلف لکه ماشوم ليونی به پکې نه وژني (و شيخ فانٍ) او شيخ فاني به د کفارو نه وژني شيخ فاني ديته وايي چې نه جنګ کولی شي او نه د جنګ په وخت چغې وهلی شي او نه ترې ښځې حامله کيږي ځکه چې که بيا بچی وزيږوي نو کفار زياتيږي (و اعمى) او په دوارو سترګو ړوند به نه شي وژلی (و مقعد) او شل به نه شي وژلی (وامرأة) او ښځه به نشي وژلی مګر که پاچا وه يا نور قدرت يې په کفارو درلوده نو بيا به وژلی شي (او مقاتلا منهم) يا که دغه غير مکلفو ځخه يا د بوډاګانو ځخه کوم يو جنګ کاوه نو بيا به هم وژلی شي (او ذا مال يحث

په) يا مالداره كس وي چې په مال سره جنګ تيزوي نو دا به هم وژلى شي (**او ذا رايٍ في الحربِ**) يا په جنګ کې د مشوري والا وي ، دا به هم وژلى شي (**و ابٍ كافرٍ بدأً**) او ځوی به نه وژني خپل پلار كافر ابتداءً يعنې چې پلار په ځوى حمله نه وي کړی نو ځوى به پلار نه وژني لكن كه پلار د ځوی د قتل اراده په داسې طريقه وکړه چې ځوى ته د هغه ښخه د ځآن دفاع ممكن نه وه مګر د پلار په قتل سره نو بيا په دې وخت کې ورته د پلار مرګ جائز دی (**فيقتله غير ابنه**) نو پلار كافر لره به ځوى نه وژني خو د ځوی ښخه ماسوا بل دې ووژني (**و قوله فيقتله بالنصب**) شارح رحمه الله وايي چې فيقتله منصوب دی ښکه فعل مضارع د فاء ښخه وروسته په أن مقدره سره منصوب كيږي خو چې مخكې د فاء ښخه سبب وي د ما بعد د فاء نه يعنې فاء وروسته د ښو شيانو ښخه راځي چې يو د هغې نه نفي ده نو معنى دا راځي چې عدم قتل د ځوى پلار لره سبب ګرځي لپاره د قتل د غير ابن دده پلار لره (**بأن يشغله**) هغه داسې چې ځوى به خپل پلار مشغوله کړي او وخت به وربانديې واړوي چې بل مجاهد راشي او ويې وژني.

(واخراجُ مصحفٍ وامرأةٍ الافي جيشٍ يؤمن عليهم وصولحوا ان خيرًا ويؤخذ منهم مال ان لنابه حاجة و نُبذ ان هوانفع فقوتلوا).

در البحار في بيان حكم المصالحة مع الكفار: او جنګ صحنې ته د قرآن كريم او ښځو راويستل جائز نه دي مګر په هغه لښكر کې چې باور او اطمينان په هغوى باندې وي، د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد كمه اندازه د لښكر ښلور زره ده او كمه اندازه د سريه ښلور سوه ده خو فتح القدير کې ليكي چې لوى لښكر بايد دولس زره وي ښکه نبي عليه السلام فرمايي چې دولس زره فوج به هيڅ كله د وجې د كموالي نه مغلوبه نه شي [فتح القدير عنايه۵\۴۳۴].

(**و صولحُوا ان خيرًا**) او صلح دې وکړی شي د كفارو سره كه مسلمانانو ته په صلح کې خير وو (**و يؤخذ منهم**) او د كفارو ښخه دې مال واخستلى شي كه مونږ لره مال ته ضرورت وو (**و نبذ ان هو انفع**) او معاهده او مصالحه دې وروغورځول شي كه دغه معاهده ماتول مسلمانانو ته فائده ناک وو بيا دې ورسره جنګ وکړی شي نبذ په لغت کې ماتول او غورځولو ته واي او شرعًا د معاهدې ماتولو ته وايي نو كه مسلمانانو ته په معاهده ماتولو کې خير وو نو معاهده به ورسره ماته کړي خو شرط دا دی چې كفار خبر کړي چې زمونږ او ستاسو چې كومه معاهده وه هغه ختمه شوه دا خبر د دې لپاره چې غدر او خيانت رانشي (**لفظ كان**) شارح وايي چې دغه درې ځايونو کې كان مقدر دی

ان خيراً کې يعني ان کان خيراً او ان لنا به حاجة کې او ان هو انفع کې (و قبل نبذ لو خانوا بدأً) جنګ دې ورسره وکړى شي مخکې د معاهدې ماتولو څخه که کفارو ابتداءً خيانت وکړو يعني که مسلمانان د کفارو په خيانت پوهه شو چې دوى د معاهدې څخه غلطه استفاده اخلي، او اول ابتداء د خيانت دوى کوي يعنې معاهده ماتوي نو د معاهدې د ماتولو څخه مخکې يعنې چې مسلمانانو لاخبر نه وي ورکړي د جنګ شروع دې وربانديې وکړي لکه الله تعالى فرمايي او اما تخافن من قوم خيانةً فانبذ اليهم على سواء] ترجمه: که ته ويريږې د يو قوم څخه د خيانت کولو نو معاهده وروغورځوه په يو برابر سره.

(و صولح المرتد بلا مالٍ و لا ردٍ ان اخذنا) او صلح جائز ده د مرتدو سره بې له مال اخستلو څخه د دوى نه (و لا رد ان اخذنا) او بې له واپس کولو څخه دوى ته که مونږ ترې واخستو يعنې صلح د مرتدينو سره هغه وخت جائز ده چې دوى په يو ښار غلبه وکړي او د دوى دار درا الحرب وګرځي خو د صلحې څخه مراد دا ده چې د دوى په قتل کې د تلوار نه کوي ځکه اميد شته چې بيرته اسلام قبول کړي خو که مرتدينو په کوم ښار غلبه نه وه کړې نو بيا د دوى سره مصالحه جائز نه ده ځکه صلح سره بيا په دې وخت کې دوى په ارتداد پريخودل دي يعنې د صلحې مقصد بيا دا راځي چې دوى دې په ارتداد پريخودلى شي (لکن لا نأخذ) که صلح ورسره هم کوو خو څه به ترې نه اخلو ځکه دا بيا جزيه راځي او د مرتد څخه جزيه اخستل جائز نه دي.

(لکن لو اخذنا) لکن که مونږ د مرتدينو څخه څه واخستل نو بيا به بيرته دوى ته نه شي واپس کيدلى ځکه مال د دوى غير معصوم دى ځکه کله چې مسلمانان په مرتدينو غلبه وکړي نو د دوى مال د مسلمانانو لپاره فئ دى.

(و لا يُباع سلاح و خيل و حديد منهم و لو بعد صلحٍ الخ) او په کفارو به سلاح نه شي خرڅولى ځکه دې سره د دوى تقويه راځي (و خيل) همدارنګه به اس هم وربانديې نه شي خرڅولى (و حديد منهم) همدارنګه به وسپنه هم په کافرو نه شي خرڅولى (و لو بعد صلح) اګر که وروسته د صلح څخه وي ځکه صلح ماتيږي يعنې امکان د ماتيدو شته.

(وصح امان حرو حرةٍ فان کانَ شرًّا نُبذَ واُدبَ ولغا امان الذمى واسيرٍ وتاجرٍ معهم ومن اسلمَ ثمه ولم يهاجر الينا وصبي وعبدالا ماذونين ومجنون).

توضيح: او صحيح ده امن ورکول د اصيل سړى يا اصيلې ښځې کافر لره يعنې که يو حر مسلمان يا

حره مسلمانه يو کافر ته امن ورکړي نو دده امن ورکول صحيح دی يعنې دده امن ته به اعتبار وي او جنګ کول بيا د دغه امن ورکړی شوی کفارو سره حرام دي **(فان کان شرًا انبذ)** خو که حاکم د دغه مسلمان کس امن ورکول شر وګڼه نو بيا به کفارو ته خبر ورکړي چې د دغه مسلمان کس امن ورکولو ته اعتبار نشته **(و اُدب)** او حاکم به دغه مسلمان ته چې کافرو ته يې امن ورکړي لږ ادب ورکړي چې ولې تا د دې کار اخر ته سوچ نه کاوه چې ديکې خير دي او که شر چې تا امن ورکوه **(و لغا امان الذمي)** او که ذمي چاته امن ورکړو نو دده امن لغوه دی ځکه ذمي په مسلمانانو د ولايت او تصرف حق نه لري چې د مسلمانانو له خوا چاته امن ورکړي مګر که د مسلمان په امر وي نو بيا جائز ده **(واسير وتاجر)** همدارنګه د بندي او مسلمان تاجر امن ورکولو ته اعتبار نشته ځکه بندي او تاجر د کفارو د تسلط او اثر ځخه لاندې وي نو کفار د دوی ځخه نه ويريږي **(و من اسلم)** همدارنګه د هغه کس امن ورکولو ته اعتبار نشته چې په دار الحرب کې اسلام قبول کړي او دار الاسلام ته يې هجرت نه وي کړی ځکه دا واک د جنګ کولو هلته نه لري نو ده لره حق د امن ورکولو نشته **(و صبي و عبدٍ)** همدارنګه د ماشوم او غلام امن ورکولو ته هم اعتبار نشته ځکه دوی هم د جنګ کولو واک نه لري **(الا ماذونين)** مګر که ماشوم ته د ولي له خوا اجازه وشوه او غلام ته د بادار له خوا اجازه وشوه د جنګ کولو نو بيا د دوی امن ته اعتبار شته **(و مجنون)** همدارنګه د ليوني امن ورکولو ته اعتبار نشته ځکه د ده عقل نه وي **(المراد بالاسير)** شارح رحمه الله وايي چې د بندي ځخه مراد هغه مسلمان بندي دي چې د کفارو سره بندي وي او د تاجر ځخه مراد هغه تاجر مسلمان دی چې د دوی دار الحرب ته په امان داخل شوی وي.

باب المغنم و قسمته

دا باب دی په بيان د غنيمت کې او تقسيم د غنيمت کې

(المغنم) هغه مال ته وايي چې د مجاهدينو په زور او طاقت سره د کفارو ځخه په جنګ کی ونيول شي او که د کفارو ځخه بغير د جنګ نه واخستل شي لکه خراج [ټيکس] او جزيه نو دېته بيا فئ وايي نو په غنيمت کې پنځمه حصه د بادشاه ده يعنې د بيت المال ده او ځلور حصې به غنيمت نيوونکي خپل مينځ کې تقسيم کړي او په فئ کې خمس نشته بلکې ټول به بيت المال کی کيخودلي شي، او کوم مال چې د کفارو ځخه د تحفې په شکل يا د غلا يا د هبې يا د تيختې په شکل واخستلی شي نو دا بيا نه غنيمت دی او نه فئ دی بلکې دا د اخستونکي دی.

(قسم الامام بين الجيش ما فتح عنوة او اقر اهله عليه بجزية وخراج).

اصابة الغرض الاهم في بيان تقسيم المغنم: (قسم الامام) امام او حاكم او امير به تقسيم كړي (بين الجيش) د مجاهدينو د لښكر تر مينځ (ما فتح) هغه مال چې فتح شوي وي د كفارو څخه (عنوة) په زور سره، يعنې كوم مال يا جائداد و غيره چې د كفارو څخه مجاهدين په زور ونيسي نو حاكم به د دې څخه خمس وباسي او باقي به د مجاهدينو تر مينځ تقسيم كړي (او اقر اهله عليه) يا دې پرېږدي خاوندان د دې مالونو په همدې مال باندې په جزيې او خراج يعنې ټيكس سره يعنې امام ته اختيار دى چې كوم شئ يا منطقه په زور فتحه شي چې د مجاهدينو تر مينځ يې تقسيموي او كه د همغې علاقې خلقو ته يعنې خپلو مالكانو ته يې پرېږدي خو بيا به جزيه او ټيكس ورباندې مقرر كړي.

(ثم عطف على احد الامرين وهو قسم او اقر قوله وقتل الاسارى او استرقهم او تركهم احرارًا ذمةً لنا اى ليكونوا اهل ذمة لنا ونُفي منُّهم وفداهم).

تشريح: شارح رحمه الله وايي چې دا قول چې و قتلُ الاساري يا په قسم عطف دى يا په او اقر باندې، خلاصه دا چې كله مجاهدين كفار بنديان كړي نو حاكم ته د درى خبرو اختيار دى د مصلحت مطابق دې حكم وكړي:

۱. قتل الاساري بنديان دې ووژني چې د دوى د مشر څخه خلاص شي او د نورو لپاره عبرت شي.

۲. (او استرقهم) يا دې غلامان وګرځوي خو كه د غلامۍ د ګرځولو څخه وروسته ايمان راوړي نو بيا رق ترې نه ساقطيږي ځكه رق جزاء د كفر اصلي ده نو ترڅو چې ازاد نه شي رق ترې نه ساقطيږي.

۳. (او تركهم احرارًا) ياپي همداسې اصيل پرېږدي نو چې جزيه به مونږ ته راكوي او دوى به بيا ذميان زمونږ وګرځي.

(و نفي منُّهم و فداهم) او نفي كړى شوى مَن د كفارو او فداء د دوى يعنې جائز نه ده مَن په بنديانو كافرانو باندې هغه داسې چې مفت خوشې شي چې نه قتل شي او نه غلامان شي او نه جزيه ورباندې مقرره شي، همدارنګه فداء هم د دوى جائز نه ده چې كافر بندي خوشې شي او مال ترې واخستلى شي يا دده بدل كې مسلمان بندي ترې واخستلى شي (ففي المن) خو په مَن كې د امام شافعي رحمه الله اختلاف دى هغه وايي چې كه امام پكې مصلحت ليده نو جائز ده، ځكه د

رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ځو ځله دا ثابت شوی لکه د حنین په بندیانو و غیره باندې خو د دې څخه جواب دا دی چې دا په ایت د سورة براءة باندې منسوخ شوی دی [فاقتلوا المشرکین] الآیة سره (و اما الفداء) او هر چې فداء ده (فقبل ان تضع) مخکې له دې څخه چې جنګ خپل سامان او سلاح کیږدي یعنې مخکې د جنګ ختمیدو څخه بالمال جائز دی چې مال ترې واخلې او کافر بندي خوشي کړي خو بالاسیر یعنې په مسلمان بندي سره جائز نه ده یعنې چې د مسلمان بندي سره یې عوض او معاوضه کړي (و بعده) او د جنګ نه د خلاصیدو څخه وروسته بالمال فداء جائز نه ده په اتفاق د علماو د مذهب زمونږ (و بالنفس) او فداء بالنفس هم یعنې چې د کافر بندي په مقابله کې مسلمان بندي خوشي کړی شي وروسته د جنګ د ختمیدو څخه د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد جائز نه دی.

او د امام محمد رحمه الله په نزد جائز ده او د امام ابو یوسف رحمه الله څخه دوه روایته دي په یو روایت کې جائز ده په بل روایت کې جائز نه ده او د امام شافعي په نزد مطلقًا جائز ده یعنې بالمال وي که بالنفس وي مخکې د جنګ د خلاصیدو څخه وي که وروسته د جنګ د خلاصیدو څخه وي، د امام شافعي رحمه الله دلیل قصه د بدر د بندیانو ده، همدارنګه نبي علیه السلام دوه مشرکان په دوه مسلمانانو مقابله کړل، خو امام صاحب رحمه الله وایي چې په دې فداء بالنفس سره د کفر معونت راځي ځکه دا بیرته بیا جنګ ته راځي او دده د جنګ شر دفع کول د یو مسلمان د خوشي کیدو څخه غوره دي او د مال د اخستو څخه.

(وردهم الی دارهم وعقر دابة یشق نقلها وذبحت وحرقت وقسمة مغنم ثمه الا ایداعًا فیُردها هنا فیقسم).

توضیح: (وردهم) او همدارنګه جائز نه دي رد کول د بندیانو د کفارو دار حرب د دوی ته ځکه دې سره د کفارو تقویه راځي (و عقر دابة) او جائز نه ده ګوډول د څاروي (یشق نقلها) داسې څاروي چې د هغې نقلول دار الاسلام ته سخت وي (و ذبحت و حرقت) او حلاله دې کړی شي او ودې سوځولی شي یعنې کله چې مجاهدین غواړي چې ټول د دار الحرب څخه دار الاسلام ته بیرته راوګرځي او د دوی سره څاروي وي چې د هغې نقلول ګران وي نو دا جائز نه دی چې څاروي ګوډ کړي او هملته دار الحرب کې پرېږدي ځکه دیکې بلا ضرورته د حیوان تعذیبول راځي او دا مثله هم ده او مثله ناروا ده، بلکې حلال دې کړي بیا د وسوځوي چې کفار ترې فائده وانخلي خو ژوندي څاروي به نه سوځوي ځکه د دې څخه منع راغلې ده او زیاتي اسلحه به هم سوځوي او کوم شئ چې

نه سوځول کيږي نو هغه به داسې ځاى کې دفن کړي چې کافر په دې خبر نه شي (**و قسمة مغنمٍ ثمه الخ**) او جائز نه ده امام ته چې غنيمت تقسيم کړي په دار الحرب کې تر دې چې دار الاسلام ته يې رانقل کړي (**الا ايداعًا**) مګر په طريقه د امانت سره يعنې چې امام د نقل کولو سورلى ونه لري نو بيا به يې په فوج په طريقه د امانت لږ لږ تقسيم کړي د دې لپاره چې دار الاسلام ته يې منتقل کړي (**فيرد ههنا**) بيا به په دار الاسلام کې بيرته حاکم ته واپس کړى شي (**فيقسم**) بيا به تقسيم کړى شي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې د غنيمت تقسيم په دار الحرب کې هم جائز ده منشا د اختلاف دا ده چې زمونږ په نزد په غنيمت باندې ملک د غانمينو نه ثابتيږي مخکې د محفوظ کولو څخه په دار الاسلام کې او د امام شافعي رحمه الله په نزد ثابتيږي ځکه سبب د ملک استيلاء او غلبه وه په مال د کفارو او استيلاء ثابت شوې ده نو ملک هم مجاهدينو ته ثابت شوي له دېنه چې دار الاسلام ته يې نقل کړي نو امام کولى شي چې هلته دار الحرب کې........... ۳۳۳ خو مونږ احناف وايو چې استيلاء دېته وايي چې اثبات د يد حافظه او ناقله دواړه راشي او دلته يد ناقله نه ده راغلي ترڅو چې امام په دار الحرب کې وي نو ملک هم رانغى.

(وردءٌ ومدد لحقهم ثمه كمقاتل فيه اى في المغنم لا سوقي لم يقاتل ثم ولا من مات ثمه).

تشريح: (**وردء**) او امداد يعنې امداد کونکى (**و مدد**) او کومک (**لحقهم ثمه**) چې پيوسته شي په دار الحرب کې (**كمقاتل فيه**) په شان د جنګ کونکو دي په غنيمت کې يعنې که يوه ډله د مسلمانانو دار الحرب ته د مجاهدينو د کومک لپاره ورسيږي نو دوى هم په غنيمت کې په شان د جنګ کونکو مجاهدينو دي يعنې دوى ته به هم سهم ورکوي (**لا سوقي**) خو د هغه بازاري کس چې تجار وي او د تجارت لپاره د مجاهدينو سره لاړ شي او جنګ ونکړى نود ته په غنيمت کې برخه نشته ځکه داپه قصد دجنګ سره دسرحد څخه تير شوى نده بلکې په قصد دتجارت سره تير شوى ده نو سبب ظاهرى ختم شو نو سبب حقيقى ته به اعتبار وى چې هغه جنګ کول دى نو که جنګ ئې وکړو نو برخه به ورکولى شي او که جنګ ونکړى نو برخه به نشي ورکولى **ولا من مات** او نه د هغه کس برخه شته چې په دارالحرب کې مړ شي يعنې چې دغانمينو څخه يو کس په دار الحرب کې مړ شي ځکه د غنيمت مال په احراز سره يعنې چې په دار الاسلام کې محفوظ شي زمونږ ملک ګرځي خو که غنيمت يې د دار الحرب څخه دار الاسلام ته راويستو او بيا مړ شو نو بيا حق په غنيمت کې لري او ده برخه به ده ورثوو ته ورکړل شي ځکه ميراث په ملک کې جاري کيږي او ملک هلته

راځي چې ا حراز په دار الاسلام کې راشي او قبل الاحراز ملک نه راځي. **(و عند الشافعي)** او امام شافعي رحمه الله وايي چې صرف د کفارو په شکست سره ملک ثابتيږي نو که څوک د .... ۲۳۴ مړ شي نو دده حصه په ميراث کې ورلی شي.

(ويُورث قِسط من مات هنا وحل لنا ثمه طعام وعلف وحطب ودهن وسلاح به حاجة بلا قسمة لا بعد الخروج منها ولا بيعها و تمولها ورد الفضل الى المغنم).

توضيح: **(و يورث قسط)** او په ميراث کې ورلی شي يعنې دده ورثوو ته به ورکړل شي حصه د هغه کس چې په دار الاسلام مړ شي **(و حل لنا ثمه)** او مونږ ته په دار الحرب کې حلال دي **(طعام)** خوراکی شيان يعنې چې مسلمان غنيمت ونيسي او په دې غنيمت کې خوراکي شيان وي نو مجاهدينو ته حلال دي چې ويې خوري **(و علف)** همدارنګه واښهٔ خپلو څاروو ته ورکولی شي **(و حطب)** او لرګي چې د ضرورت په وخت کې په خپل کار راولي **(و دهن)** او د خوراکي تيلو استعمال هم جائز دی لکه زيتون و غيره يعنې چې ويې خوري **(و سلاح به حاجة)** همدارنګه د ضرورت په وخت کې د غنيمت سلاح هم استعمالولی شي **(بلا قسمة)** مخکې د تقسيم څخه د مجاهدينو تر مينځ **(لا بعد الخروج منها)** خو که د دار الحرب څخه ووځي نو بيا د مذکورو شيانو استعمال مخکې د تقسيم څخه جائز نه دی ځکه ديکې د غانمينو حق پوره پيدا او ثابت شو نو د هغوی د رضا څخه بغير به د دې څخه فائده نه اخلي.

(و لا بيعها) همدارنګه د کومو شيانو چې مجاهدينو ته په دار الحرب کې د فائدې اخستلو اجازه وه د دې خرڅول جائز نه دي يعنې صرف د ضرورت مطابق به يې استعمالوي، او که خرڅ يې کړو نو قيمت به يې غنيمت ته سپاري **(و تمولها)** همدارنګه د دغه مذکورو شيانو لکه طعام علف، تيل وغيره ذخيره کول د ځان لپاره هم جائز نه دی ځکه دا د ضرورت په اندازه صرف د دې څخه فائده اخستل روا دي **(و رد الفضل الى المغنم)** يعنې که دغه خوراکي شيان وغيره د مجاهد سره زياتي شي نو دار الاسلام ته د راتګ څخه وروسته به هغه زياتي غنيمت ته سپاري ځکه د دې شيان څخه فائده اخستل د ضرورت په اندازه په دار الحرب کې وو نه په دار الاسلام کې نو بيرته به يې غنيمت ته وسپاري.

(و من اسلمَ ثمه) که څوک په دار الحرب کې اسلام راوړي **(عصم نفسه)** نو ده په اسلام راوړلو سره خپل ځان محفوظ کړو نو اوس نه وژلی شي او نه غلام ګرځولی شي **(و طفله)** او خپل بچی يې هم

وساته ځکه بچي هم تبعا مسلمان وګرځیده ځکه ماشوم تابع د خیر الابوین وي په اعتبار د دین سره **(و مالا معه)** او هغه مال یې هم وساته چې له ده سره وي **(او اودعه)** یا یې امانت ایخی وي **(معصومًا)** د معصوم سره چې هغه مسلمان یا ذمي دی ځکه د مسلمان او ذمي مال معصوم وي.

یعنې هغه مال یې هم وساته چې د کوم مسلمان یا ذمي سره یې امانت ایخی وي **(لا ولده کبیرًا)** خو دده په اسلام سره دده بالغ بچي نه محفوظ کیږي ځکه هغه حربي کافر دی او حربي کافر تابع د مور او پلار نه ګرځي **(و عِرسه)** همدارنګه د ده ښځه هم نه بچ کیږي ځکه دا کافره حربیه ده تابع د خاوند نه ګرځي په اسلام کې [فتح۵/۴۷۶].

(و حملها) همدارنګه د ده د ښځې حمل هم نه بچ کیږي ځکه دا د دې .... ۳۳۲ په رق او مملوکیت سره هغه هم رق ګرځي [فتح القدیر۵/۴۷۷] **(و عقاره)** او همدارنګه دده ځمکه هم نه محفوظ کیږي ځکه ځمکه د جملې د دار الحرب څخه ده او د اهل الدار په تصرف کې وه **(ففیه خلاف الشافعي)** خو په دیکې د امام شافعي رحمه الله اختلاف دی هغه وایي چې دده ځمکه به هم دده وي ځکه چې دده په لاس کې ده نو دا په شان د منقولي شیانو وګرځیده خو مونږ ورته وایو چې دا ځمکه اهل الدار په تصرف کې ده او دده وربانديې تصرف حقیقي نشته **(و عبده مقاتلاً)** او دده غلام هم محفوظ نه دی په داسې حال کې چې جنګ کونکی وي **(و ماله مع حربي)** همدارنګه دده هغه مال هم محفوظ نه دی چې د حربي کافر سره وي چې په طریقه د غصب سره ورسره وي او که په طریقه د امانت سره ورسره وي ځکه د حربي ید او تصرف مونږ ته محترم نه دی **(و یُعتَبر وقت المجاوزة)** غرض د مصنف د دې څخه دا دی چې مجاهد به کله حقدار د سهم د غنیمت ګرځي؟ نو وایي چې هلته به دده د سهم استحقاق ته اعتبار وي چې د سرحد یا بونډري څخه تیر شي **(الدرب)** هغه حد فاصل ته وایي چې د دار الاسلام او دار الحرب تر مینځ وي چې هغه لویه دروازه د کوڅې ده یعنې چې سرحد بانديې د دوو ملکونو تر مینځ لګول شوي وي مثلا لکه د تورخم دروازه **(والمضیق)** یا تنګه لاره د لارو د روم څخه چې د هغوی په سرحد ده خو دلته ترې مقصد هغه ځای دی چې مجاهدین په هغې دار الحرب ته داخلیږي.

(و عندَ الشافعي رحمه الله یعتبر وقت شهود الواقعة) خو امام شافعي رحمه الله وایي چې کله د جنګ میدان ته داخل شو نو دا به د سهم مستحق ګرځي.

(فمن دخل دارهم فارسًا فنفق فرسه اى مات فشهد الوقعة راحلاً فله سهمان سهم فارس ومن دخلها راجلاً فشرى فرسًا فله سهم سهم راجلٍ).

القول الراجح في بيان سهم الفارس والراجل: (**فمن دخل**) نو څوک چې دار الحرب ته داخل شو (**فارسًا**) په داسې حال کې چې په اس سور وو (**فنفق**) نو هلاک شو اس دده (**فشهدَ الواقعة راجلاً**) بيا د جنګ ځای ته پياده حاضر شو نو ده لره به دوه سهمه يعني برخې وي سهم د فارس يعنې د هغه کس چې اس ولري چې يوه برخه دده يوه يې د اس (**و من دخلها راجلاً**) او څوک چې دار الحرب ته پياده داخل شو (**فشرى فرسًا**) بيايې اس واخستو نو دده به يوه برخه وي برخه د پياده کس دا زمونږ مذهب دی (**و اما عندَ الشافعي فعلى العكس**) د امام شافعي رحمه الله په نزد په اول صورت کې ده لره يوه برخه ده چې برخه د پياده کس ده او په دويم صورت کې درې برخې دي چې برخه د سور سړی ده ځکه چې امام شافعي د مجاهد د جنګ حالت ته اعتبار ورکوي نو اول کس د جنګ په حالت کې پياده ده نو يوه برخه به اخلي او دويم کس د جنګ په حالت کې سور دی نو درې برخې به اخلي (**و سهم الفارس عنده ثلاثة اسهمٍ**) او د امام شافعي رحمه الله په نزد د فارس لپاره درې برخې دي په بعضې نسخو کې څلور راغلي دا غلط دی ځکه د ائمو اختلاف په درې او دوو کې دی نه په دوو او څلورو کې، دليل د امام شافعي رحمه الله دا دی چې عبدا لله بن عمرو روايت کوي چې نبي عليه السلام د فارس لپاره درې برخې مقررې کړې وې او د پياده لپاره دوه او بل دا چې استحقاق په تکليف سره ده او تکليف د فارس درې چنده د پياده ده .

بسم الله الرحمن الرحيم

ځکه يو دحملی بل دتيښتی لپاره بل دثبات لپاره اوراجل صرف دثبات لپاره دي امام ابوحنيفه وائی چی عبدالله بن عباس روايت کوی چی نبی عليه السلام فارس ته دوه برخی ورکړي اوراجل ته يوه برخه. نو فعل دنبی عليه السلام کښی تعارض راغی چی يو روايت کښی دفارس لپاره دري برخی اوبه بل روايت کښی دوه برخی راغلی دي اوچی فعل کښی تعارض راشی نو قول دنبی عليه السلام ته به رجوع کولی شی چی داقول دنبی عليه السلام دي للفارس سهمان وللراجل سهم اومطلق تيښته مذموم ده خو هغه تيښته ممدوح ده چی دحملی لپاره وي نو دفارس لپاره دوه حالته شو چی يو حالت دحملی اوبل حالت دثبات اودراجل لپاره يو حالت شو چی ثبات دي نو دفارس لپاره به برخی هم دوه وي اودراجل لپاره به يوه وي «فتح القدير ص ۴۸۰ ج ۵ هدايه».

(**ولايسهم الا لفرس**) اوبرخه به نشي وركولى مگر ديوه أس لپاره ددي دوه مطلبه دي يوداچې كه يو كس مجاهد سره دوه يادري أسونه وي نو صرف يوأس ته به برخه وركولى شي اوامام ابو يوسف وائي چې دوه أسونو ته به برخه وركولى شي نه زياتي ته. دويم داچې أس ته به برخه وركولى شي او دأس نه ماسوا نوروته به برخه نشي وركولى لكه قچر ته اوراحلى يعني أوښ ته (**ولا لعبد وصبي وامرأة وذمي**) اوهمدارنگه به برخه نشي وركولى غلام ته ماشوم ته ښځي ته اوذمي ته (**ورضخ لهم**) خو لږ شان شي به وركړي يعني چې دغنيمت دسهم څخه به كم وي خو غلام ته هغه صورت كښي داوركولى شي چې جنگ وكړي اوزنانه ته هغه وخت وركولى شي چې دزخميانو تداوي وكړي څكه دنور جنگ څخه ښځه عاجزه وي اوذمي ته هلته ؤركولى شي چې جنگ وكړي يا رهنمائى وكړي خو ذمي كه جنگ هم وكړي نوپوره سهم به نشي وركولى څكه داجهاد دي اوذمي به دمسلمان سره په حكم دجهاد كښى نه برابربږى .

(**والخمس للمسكين واليتيم وابن السبيل وقدّم فقراء ذوي القربى عليهم ولاشيء لغنيهم**)

تشريح: مخكښى بيان ددي وو چې څلور خمسه به دمجاهدينو ترمنځ څنگه تقسيمولى شي اوس بيان دمصارفو دخمس دي چې خمس به وركولى شى دري ډلو ته (١) مسكين ته (٢) يتيم ته (٣) مسافرته او دنبى عليه السلام هغه خپلوان چې فقيران وي هغه هم په دغه دري ډلو كښى داخل دي خودنبى عليه السلام خپلوان فقيران به په نورو مسكينانو يتيمانو اومسافرو مقدم وي يعني يتيمان ذوى القربى دنبى عليه السلام به په سهم ديتيمانو كښى داخل وي خو په نورو به مقدم كولى شي اومسكينان خپلوان دنبى عليه السلام به په سهم دمسكينانو كښى داخل وي خو په نورو مسكينانو به مقدم وي اومسافر خپلوان دنبى عليه السلام به په سهم دمسافروكښى داخل وي خو په نورو به مقدم وي څكه چې نورو ته صدقه حلاله ده اوپه خپلوانو دنبى عليه السلام صدقه حرامه ده خو مالدارو خپلوانو دنبى عليه السلام ته په خمس كښى هيڅ برخه نشته « فتح القدير ص ٤٩٣ ج ٥ عنايه ص ٤٩٣ ج ٥» .

(**وذكر الله تعالى للتبرك**) اوپه ايات كريمه كښى چې د الله تعالى ذكر راغلى چې فأن لله خمسه وللرسول دادتبرك لپاره راغلى دي نه دسهم لپاره څكه دالله تعالى سهم او درسول الله سهم يو دي (**وسهم النبي صلى الله عليه وسلم سقط بموته كالصفي**) او دنبى عليه السلام سهم چې ايات كريمه كښى ذكر شوى هغه دنبى عليه السلام په وفات سره ساقط شوى دي څكه دنبى عليه السلام سهم دوجې درسالت نه وو اودنبى عليه السلام څخه وروسته هيڅوک په رسالت سره نشي موصوف

کیدلی نو بل څوک دنبی علیه السلام دسهم حقدار نه دي **(کالصفی)** لکه څرنګه چی ساقط دي صفی دنبی علیه السلام دصفی معنی غوره کړی شوی یعنی نبی علیه السلام به دسهم څخه ماسوا یو څه شی دغنیمت دتقسیم څخه مخکښی دځان لپاره خوښه وو لکه څادر توره زغره وینزه وغیره چی دبدر دغنیمتونو څخه یې ذوالفقار توره غوره کړي وه اوخیبر دغنیمتونو څخه یې صفیه بی بی غوره کړي وه خو داصفی هم دنبی علیه السلام څخه په وفات سره ساقط شو دازمونږ مذهب

دي **(اما عندالشافعی فیقسم علی خمسة أسهم الخ)** امام شافعی رحمه الله وائی چی خمس به په پنځو برخو تقسیمولی شی اودنبی علیه السلام برخه به دوخت خلیفه اوامام لره وي ځکه نبی علیه السلام چی ددي برخی مستحق وو دادوجی دامامت کبری دوجی وو نو هرخلیفه او امام چی دده څخه وروسته راځي ددي سهم به مستحق وي خو مونږ داوایو که داسی وي نو خلفاء أربعه بیا دنبی علیه السلام په سهم زیات حقدار وو نومعلومه شوه چی داسهم دوجی درسالت نه وو نه دامامت نه

(وسهم ذوی القربی لهم) مخکښی دنبی علیه السلام دذوی القربی بیان وو خو چونکی ذوي القربی دنبی علیه السلام ټولو قرابتونو ته شامل دي اوحالانکه نبی علیه السلام ټولو خپلوانو ته خمس نه دي ورکړی بلکی بنی هاشم اوبنی عبدالمطلب ته یې ورکړي دي نو شارح رحمه الله دذوی القربی تفسیر او وضاحت وکړو چی دذوی القربی څخه مراد بنی هاشم اوبنی عبدالمطلب دي

(اعلم) شارح اوس دنبی علیه السلام نسب مبارک په تفصیل سره بیانوی اودبنی هاشمو اوبنی عبدالمطلبو او دنورو فرق بیانوی چی نبی علیه السلام نوم مبارک محمد صلی الله علیه وسلم ألف صلوات وسلم دپلار نوم یې عبدالله دنیکه نوم یې عبدالمطلب عبدالمطلب ولد هاشم ولد

عبدمناف اودعبدمناف څلور زامن وو (۱) هاشم (۲) مطلب (۳) عبدشمس (۴) نوفل **(ولما قسم رسول الله صلی الله علیه وسلم غنائم خیبر)** هرکله چی نبی علیه السلام دخیبر غنیمتونه تقسیمول نو هغه خمس چی هغه سهم دذوی القربی وو تقسیم یې کړو دبنی هاشمو اوبنی

عبدالمطلب ترمنځ **(وکان عثمان)** اوحضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه چی دنبی علیه السلام زوم وو دعبد شمس داولادي څخه وو اوجبیر بن مُطعم دنوفل داولادي څخه وو دواړه راغلل اودرسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې خبره وکړه چی مونږ دفضیلت دبنی هاشمو څخه چی په

نورو قبیلو لري انکار نه کوو **(لمکانک)** دوجی دمرتبی ستانه چی الله جل جلاله تاسی په بنی هاشمو کښی ګرځولی یې **(ولکن نحن)** لکن مونږه اوزمونږ نور خپلوان دبنی مطلب څخه تاسی ته

په نسب کښې يوشان يو ځکه ټول دعبدمناف أولاده يو نو ددوي اولادي تاسي ته په خپلولۍ اونسب کې يو برابر دي (**فمابالک أعطيتهم**) نو ستا څه نظر دي چې بني مطلب کورنۍ ته دي خمس کښې برخه ورکړه اومونږ دي ترې محرومه کړو (**فقال عليه السلام**) نو نبي عليه السلام ورته وويل چې ددي علت دادي چې بنی مطلب کورنۍ زما څخه نه په جاهليت کښې جداشوی اونه په ا سلام کښې يعنی هميشه زما سره ملګری وو اوزما سره يې کومک کاوه اودعبد شمس اونوفل اولاد چې وو نو ددوي اودنبی هاشمو ترمنځ جګړي وي (**وشبّک بين أصابعه**) اونبی عليه السلام ددواړو لاسونو ګوتی يو بل کښې ننويستی چې بنی هاشم اوبنی مطلب کورنۍ ماسره دغسی لکه چې .... (**فالشافعي يقسم كما قسم النبي عليه السلام**) نو امام شافعي دخمس تقسيم داسی کوی لکه نبی عليه السلام چې کاوه هغه داسی چې خمس به په پنځو برخو وګرځول شی يوه برخه ديتيمانو يوه برخه دمسکينانو يوه برخه دمسافرو يوه برخه دخليفه اويوه برخه دذوي القربى يعنی دبنی هاشمو اوبنی مطلبو (**ونحن نقول له**) مونږ امام شافعي رحمه الله ته وايو چې نبی عليه السلام حضرت عثمان رضی الله عنه اوحضرت جبير رضی الله عنه ته دخبرو په مهال بنی هاشمو اوبنی مطلبو ته دورکړې علت دابيان کړو چې دوي زماسره ملګری وو اوزماسره يې کومک کاوه اودغه ملګرتيا اوکومک دنبی عليه السلام په وفات سره ختم شو (**فيستحقون**) نو دنبی عليه السلام دوفات څخه وروسته دنبی عليه السلام خپلوان به مستحق دخمس په فقر سره ګرځي (**حيث قال عليه السلام**) ځکه نبی عليه السلام ورته فرمايلی وو چې تاسی باندي دخلکو خيری يعنی صدقه الله تعالى حرامه کړی ده او دهغی په عوض کښې يې درته خمس الخمس درکړي دي (**ولماكان عوضاً**) نوهرکله چې خمس الخمس عوض دزکواة څخه شو نو هغه کس به ددي مستحق وي چې مستحق دزکواة وي چې هغه فقير دي نه غنی (**وقدنقل**) همدارنګه په روايتونو کښې راغلی چې خلفاء راشدينو هم همداسی تقسيم کولو لکه مونږه چې ويلی يعنی خمس به يې په دري برخو ګرځوو يوه برخه ديتيمانو يوه دمسکينانو يوه دمسافرو نومعلومه شوه چې دنبی عليه السلام برخه دنبی عليه السلام په وفات سره ساقط شوی ده همدارنګه دذوي القربى سهم هم ساقط شوي دی (**وكذلک عمر رضی الله عنه**) همدارنګه حضرت عمر رضی الله عنه به دذوي القربى فقراؤ ته خمس ورکولو . سوال داخو تکرار دي ځکه حضرت عمر رضی الله عنه په خلفاء الراشدينو کښې داخل دي

جواب داتكرار نه دي بلكې دمخكښنې خبرې مقصد دادي چې خلفاء الراشدينو به مطلق ذوي القربى ته خمس نه وركولو يعنې مالدارو اوغريبو ته خو ددې خبرې مطلب دادي چې حضرت عمر رضى الله عنه به دذوي القربى فقيرانو ته وركولو نه مالدارو ته (**ومن دخل دارهم فأغار خُمّس الا من لا منَعَةَ له ولا اذن**) كه څوك دارالحرب ته داخل شي (**فأغار**) اودكفارو مال لوټ كړي نو امام به ترې خمس واخلي اوباقي ددوي خو په هغه صورت كښې چې دوي څه زور اوطاقت ياډله لري با دامام په اجازه سره وي ځكه كه دامام په اجازه سره وي نو بيا په امام لازم دي چې ددوي سره كومك وكړي مګر كه چاسره نه طاقت وو اونه ورسره دامام لخوا اذن وو نو بيا به ترې خمس نشي اخستلې ځكه دابيا غنيمت نه دي (**لأن الخمس**) ځكه خمس دغنيمت څخه اخستلې شي اوغنيمت هغه دي چې دكفارو څخه په زور واخستلې شي اودا زور اوطاقت په جماعت اوډلې سره وي نو كه ډله يې هم نه وه خو اذن دامام وو نو دابيا په حكم دمنعه يعنې ډله كښې دي ځكه امام په اجازې كولو سره په ځان باندې دهغه نصرت او امداد لازمي كړو .

(وللامام أن يُنَفِّل وقت القتال حثاً فيقول من قتل قتيلا فله سلبه)

تشريح: (**وللامام**) اوامام او خليفه ته جائز دي چې دجنګ په وخت كښې دجنګ دتيزوالي لپاره وركړي (**فيقول**) امام به خپلو عسكرو ته داسې ووائي چې چاڅوك مړ كړو ددشمن څخه (**فله سلبه**) نو وي به ده لره دقتيل سامان تنفيل باب تفعيل دي دنفل څخه دي په معنى د زائد سره اونفلو ته هم ځكه نفل وائي چې داهم په فرض مانځه زياتي دي خو شرعاً دتنفيل معنى داده چې امام دسهم څخه زياتي شئ يو چاته وركړي دجنګ دتيزوالي په خاطر (**والتركيب**) او تركيب دحروفو دكلمې دتنفيل دلالت په زيادت باندې كوي ځكه دادنفل څخه دي اونفل تبرع اوزيادت ته وائي (**قوله من قتل**) دادفع داعتراض ده چې قتيل خو په معنى دمقتول سره دي اوقتل دمقتول خو غير متصور وي شرعاً وعقلاً ځكه انسان خو دقتل څخه وروسته قتيل ګرځي نه دقتل څخه مخكښې نو داقول به څنګه صحيح شي چې من قتل قتيلا ؟ خلاصه دجواب داده چې داپه اعتبار دمايؤل اليه سره ده نو كوم كس لره چې مجاهد وژني نوهغه ته هم قتيل وائي ددې وجې نه چې دامرګ اوقتل ته نژدې دی (**او لسرية جعلتُ لكم الربع بعد الخمس**) يا امام يوې سريه ته ووائي چې تاسې ته مې دخمس ..... څلورمه يا دريمه وغيره مقرركړه . سريه دامام ابوحنيفه په نزد څلورسوه كسانو ته ويل كيږي كما في الفتح (**لابَعدالاحراز هاهنا**) خو امام ته جائز نه دي چې په

دارالاسلام کښې وروسته دغنيمت دمحفوظ کولو څخه چاته زياتي شي ورکړی ځکه په دغه وخت کښې دادتهولو غانمينو ملکيت وګرځيده اوددوي باطلول جائزنه دي (**الا من الخمس**) مګر که زياتي شيئ چاته دخمس څخه ورکړی نو داجائز دی ځکه په خمس کښې دغانمينو حق نشته نو امام کولی شي چې ديکښې هر قسم تصرف وکړي (**وسَلَبُه مامعه حق الخ**) اوسلب هغه څه ته وائی چې دمقتول سره وي تردي چې سورلی. اوکوم شي چې په سورلی. وي هغه هم پکښې داخل دي (**وهو للكل ان لم ينفل**) که امام چاته په نفل کښې دانه وو ورکړي نو بيا ددي مقتول سره ټول سامان دبيت المال دي اوټول غازيان به پکښې شريک وي (**خلافاً للشافعی**) امام شافعی رحمه الله وائی چې سلب دقاتل لپاره دي برابره خبره ده چې امام اعلان وکړي چې من قتل قتيلا فله سلبه اوکه اعلان ونه کړي خو شرط په قاتل کښې دادي چې دابه دأهل ددي څخه وي چې سهم ورته مقررشي يعنی چې ماشوم ليوني وغيره نه وي دويم شرط دادي چې وقد قتله مقبلاً چې دغه قتل به په داسی حال کښې واقع شوی وي چې مقتول مخامخ او متوجه وي جنګ ته تردي چې که مقتول دشکست په حالت کښې وو يا اوده وو يا په بل څه شي مشغوله وو نو بيا دسلب مستحق نه ګرځی دليل دامام شافعی رحمه الله لپاره داقول دنبی عليه السلام دی چې من قتل قتيلا فله سلبه (**ونحن نحمل**) مونږ دغه حديث حمل کړی په تنفيل باندي يعنی چې قاتل دسلب مستحق ګرځي خو په تنفيل سره چې امام ورته ددي اعلان وکړی اوامام شافعی حمل کړي په وضع دشريعت باندي يعنی چې قاتل دسلب مستحق دي په حکم دشريعت سره .

باب استيلاء الكفار

داباب دي په بيان دغلبې دكفاروكې

مصنف رحمه الله چې هركله فارغ شو دبيان دحکم داستيلاء زمونږ نه په کفارو باندي اوس يې شروع وکړه په حکم دغلبې دکفارو کښې په مونږ باندي. اودغلبې دبعض کفارو په بعض نورو باندي.

> **(اذاسبی بعضهم بعضاً وأخذوا ما لهم اوبعيراً نَدَّ اليهم اوغلبوا على مالنا وأحرزوه بدارهم ملكوه هذا عندنا واما عند الشافعي لايملك الكفار مالنا بالاستيلاء)**

(**اذا سبی الخ**) که بعض أهل الحرب بعض نورو لره بنديان کړی اودهغوی مالونه واخلی (**اوبعيراً**) ياهغه أوښ (**نَدَّ اليهم**) چې دوي ته ورتښتيدی نو کفار دهغی مالکان ګرځی وجه داده چې

دحربيانو مالونه مباح دي نو په دي غلبه داسې ده لکه په مباحو چې غلبه وي اوغلبه په مباحو يو داسبابو دملک څخه دي شرعاً همدارنګه ذات دکفارو غيرمعصوم دي نو غلبه دبعض کفارو په بعض نورو سره په طريقه دبندي کولو سره اثبات دملک راولي (**اوغلبوا على مالنا**) ياکفار زمونږ په مالونو غلبه وکړي اوبه خپل دارالحرب کي محفوظ کړي (**ملکوه**) نوکفار په دي مالکان ګرځي دازمونږ مذهب دي او دامام شافعي رحمه الله په نزد سره کفار زمونږ په مالونو په غلبې سره نه مالکان کيږي (**لماذکر في أصول الفقه أن النهي**) دادليل دامام شافعي رحمه الله دي چې په أصول الفقه کښې ذکر شوی چې نهی دافعال حسيوو څخه قبح لعينه واجبوی اوقبيح لعينه حکم شرعي نه فائده کوی چې هغه ملک دي يعنی استيلاء شرعاً ممنوع ده اوممنوع شيئ ملک نه فائده کوی څکه داد شوافعو يوه قاعده هم ده چې المحظور الشرعي لايُفيد الأمر الشرعي (**قلنا انما**) مونږ ورته وايو چې کفار زمونږ په مال باندي مالکان کيدی شی څکه ددوي په ګمان دا استيلاء په مال غير معصوم ده څکه دوي داګمان کوي چې دمسلمانانو مالونه مونږ ته مباح دي (**وليس لناولاية الا لزام**) او مونږ لره ولايت دالزام نشته يعنی مسلمانانو ته ددوي په الزام يعنی چې دمسلمانانو مال غير معصوم دي ولايت نشته چې مونږ ورته ووايو چې زمونږ مال معصوم دي (**فسقط النهي**) اونهي داستيلاء نه ساقط شوی دکفارو څخه په حق دأحکامو ددنيا کښې څکه شريعت چې نهي داستيلاء څخه کړي دادوجی دحفاظت دمالونو زمونږ اودغه عصمت دمال زمونږ ددوي په ګمان ثابت نه دي (**انما کانت ثابتة**) اوبل عصمت هلته ثابتيږی چې ترڅو دغه مال محرز اومحفوظ وي په دار زمونږ کښې يعنی دارالاسلام کښې (**لتيقن التمکن من الانتفاع**) ددي لپاره چې قدرت په انتفاع دمالک يقيني شی يعنی چې مالک په دي يقينا قادره وي چې زه ددی څخه فائده اخستلی شم (**فاذا زال الاحراز**) خو کله چې احراز او حفاظت دمال ختم شو په غلبې دکفارو سره نو عصمت دمال ختم شو چې عصمت ختم شو نهی داستيلاء څخه په حق ددنيا کښې ساقط شوه .

(**لاحُرَّنا ومدَبَّرنا وأم ولدنا ومکاتبنا وعبدنا آبقاً وان أخذوه**)

توضيح: يعنی که کفار په مونږ غلبه وکړی اوزمونږ أصيل اومدبر اوأم ولدی اومکاتبين بنديان کړی نو دکفارو په دوي ملکيت نه ثابتيږی څکه سبب ملک فائده کوی په خپل محل کښې اومحل مال مباح دي اوحُر مال نه دي څکه معصوم بذاته دي همدارنګه أم ولده مدبر اومکاتب کښې هم

حريت من وجه ثابت دي (**وعبداً آبقاً**) همدارنگه هغه غلام زمونږ دمسلمانانو چې كفارو ته وتښتي اگر چې هغوى يې ونيسى نو بيا دكفارو ملكيت ورباندي نه راځي دامام ابوحنيفه په نزد (**وانما قال وان أُخذوه**) او مصنف رحمه الله ځكه دالفظ وويلي چې وان أخذوه ځكه دامام ابو حنيفه او دصاحبينو ترمنځ اختلاف په هغه صورت كښې دي چې كفار دغه آبق ونيسى (**وقهروه**) اوپه هغه غلبه وكړي (**وقيدوه**) اوهغه وتړى نو په دي صورت كښى دامام ابوحنيفه په نزد دكفارو ملكيت ورباندي نه راځي په خلاف دصاحبينو چې ددوي په نزد راځي (**لكن ان لم أُخذوه قهراً**) لكن كه هغوي په زورنه وو نيولى نو بياباالاتفاق دكفارو ملكيت ورباندى نه راځي (**لهما**) صاحبين وائى چې عصمت ددي غلام دوجې دحق دمولى نه وو خو په تيښتى سره دغه عصمت ختم شو نو دامباح وگرځيده چې دكفارو په لاسونو كښى ولويده (**وله**) امام صاحب وائى چې كوم عصمت چې دوجې دحق دمولى ځخه وو هركله چې هغه په تيښته سره ختم شو نو هغه عصمت رابنكاره شو چې په اعتبار د ادميت او انسانيت سره وو ځكه انسان په اعتبار دذات سره حُر معصوم پيداشوى نو دغه غلام په منزله دحُر وگرځيده نو دكفارو ملكيت ورباندي نه راځي - (**ونملك باالغلبة حرّ هم وما هو ملكهم**) اوكه مسلمانانو په كفارو غلبه وكړه نو مسلمانان دهغوي په حُر يعنى أصيل باندى مالكان كيداى شى (**وماهو ملكهم**) اوپه هغه ځه چې دكفارو په ملكيت دي په هغى هم مونږ مسلمانان مالكان گرځو (**ومن وجد مناماله**) چاچى وموندہ زمونږ دمسلمانانو ځخه يوكس خپل مال يعنى كفارو زمونږ په مالونو غلبه وكړه او دارالحرب ته يې ورسول بيا زمونږ مسلمانانو په هغوى غلبه وكړه دكفارو مالونه يې غنيمت كړل نو په دي غنيمت كښى هغه مالونه هم وو چې كوم كافرانو زمونږ ځخه نيولى وو نوكه دكوم مسلمان مال پكښى بعينه موجود وو او دغنيمت تقسيم هم نه وو شوى نو دغه مسلمان به خپل مال مفت واخلى يعنى قيمت وغيره به ورته نه وركوى (**وباالقيمة ان قسّم**) خو كه غنيمت تقسيم شوى وو نو بياكه دغه مسلمان خپل مال اخلى نو په قيمت به يې اخلى يعنى په قيمت دهغى دورځى چې مجاهد ته داغنيمت رسيدلى دي (**وباالثمن ان شراه منهم تاجر**) اوكه دكفارو ځخه مسلمان تاجر دغه مال اخستى وو نوبيابه يې په همغه ثمن واخلى په كوم چې تاجر اخستى وو دقيمت اوثمن ترمنځ فرق دادي چې ثمن ديته وائى چې په كوم

نرخ اخستل شوی همغه ورته ورکړي اوقیمت دیته وائی چې روز نرخ ورباندي کیښودل شی. (وان أخذه أَرْش عینه مفقوءةً) اګر چې تاجر اخستی وي دیت دسترګی دغلام په داسی حال کښی چې ویستل شوی وي صورت دمسئلی داسی دي چې کفارو یو غلام ونیو اودارالحرب ته یې داخل کړو بیا تجار تري واخستو اوبیرته یې دارالاسلام ته راوړو بیا یو کس ددغه غلام سترګه ویسته یایې لاس ورباندي غوڅ کړو نو تاجر ددغه جنایت کونکی کس څخه دغلام دسترګی دیت واخیسته نو اوس که دغلام مخکښنی مالک دغه غلام اخلی نو په ټول ثمن سره به یې اخلی یعنی په ټولو هغه روپو سره به یې اخلی کومی چې تاجر بائع ته ورکړی دي.

(ولایحط من الثمن) او ددغه ثمن څخه به هیڅ شی په مقابله دهغه دیت کښی چې تاجر اخستی نشی کمولی یعنی مخکښنی مالک دانشی کولی چې دیت دغلام داپخپله واخلی یعنی ددي دیت په عوض کښی دتاجر څخه روپۍ وګرځوي.

(فإن أُسر عبدٌ فبیع ثم کذا فللمشتری الأول أخذه من الثانی بثمنه ثم لسیّده أخذه منه بثمنین وقبل أخذ الأول لا)

توضیح: که یو غلام دیوکس څخه کفار بندي کړی اوبه یو تجاریې خرڅ کړي بیایې دتجار څخه بندي کړي په دویم ځل بیایې په بل تجار خرڅ کړي مثلا دزید غلام وو کفارو بندي کړو اوبه عمرو یې په سل روپۍ خرڅ کړو بیایې دعمرو څخه بندي کړو اوبه بکر یې یې په سل روپۍ خرڅ کړو (فللمشتری الأول) نو أول مشتری چې عمرو دي داغلام به واخلی ددویم مشتری څخه چې بکر دي (بثمنه) په هغه روپۍ چې بکر تری اخستی چې هغه سل دي (ثم لسیده أخذه منه) بیا به دغلام بادار چې مخکښنی مالک دي چې هغه زید دي دغه غلام به داول مشتری څخه چې عمرو دي په دواړو قیمتونو واخلی چې هغه دوه سوه روپۍ دي ځکه دغه غلام عمروته په دوه سوه تمام شوی دي ځکه سل یې بائع ته ورکړي اوسل یې دویم مشتری ته ورکړي (وقبل أخذ الأول لا) اوکه اول مشتری چې عمرو دي ددویم مشتری څخه چې بکر دي وانخلی نو اول مالک چې زید دي حق نه لري چې ددویم مشتری څخه چې بکر دي واخلی ځکه بکر هغه غلام اخستی چې دعمرو داخستو څخه وروسته بندی شوی وو (فلو أخذ زید) نو که زید دغه غلام دبکر څخه واخلی (لضاع الثمن) نو هغه روپۍ به ضائع شی چې عمرو په دغه غلام ورکړی دي یعنی دعمرو روپۍ به ضائع شی نو زید به دغه غلام دعمرو داخستو څخه مخکښنی نه اخلی.

(فلو أبق فأخذهما الكفار فشراهما منهم رجل أخذ العبد مجاناً وغيره بالثمن)

توضيح: كه يو غلام سره دځه سامان دمولى لكه أس وغيره وتښتي اوكفار دواړه يعنى غلام اوسامان دواړه ونيسى **(فشراهما منهم رجل)** بيا ددي كفارو ځخ دغه غلام اوسامان يو تاجر واخلي **(أخذ العبد مجاناً)** نو وابه اخستلي شي دغه غلام مفت بلاثمنه يعنى مولى به دغه غلام دتاجر ځخه مفت واخلي يعنى تاجر ته به ددي روپۍ نه وركوى **(وغيره بالثمن)** اودغلام نه ماسوا يعنى نورسامان به په ثمن واخلي يعنى ځومره روپۍ چې تاجر ورباندي وركړي وى داځكه چې دكفارو په تښتيدونكى غلام باندي ملكيت نه راځى دامام صاحب په نزد اوپه سامان باندي په اتفاق دأئموو دمذهب زمونږ دكفارو ملكيت راځي خو صاحبين وائي كه باداريې اخلى نو غلام اوسامان دواړه به په ثمن اخلي اوكنه نو دواړه به پريږدى **(وعتق عبد مسلم شراه مستأمن هاهنا وأدخله دارهم)** كه يو مسلمان غلام وي اويو حربى كافر چې مستأمن وي يعنى دارالاسلام ته په امن ويزه داخل شوى وي اودلته په دارالاسلام كښى دغه مسلمان غلام واخلي اودارالحرب ته يې داخل كړي نو دغه غلام أزاد شو داد امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دي اوصاحبين وائى چې داغلام نه أزاديږى **(لأن الواجب أن يجبر في دارنا)** ځكه لازم ده په قاضى باندي چې دغه مستأمن په دارالاسلام كښى په دي مجبوره كړي چې دغه غلام خرڅ كړي **(وقد زال)** خو كله چې غلام يې دارالحرب ته انتقال كړو نودغه جبر ختم شو **(اذ لايد لنا عليهم)** ځكه مونږ لره قدرت اوحكومت په هغوى باندي په دارالحرب كښى نشته ځكه تباين ددارينو دي نو غلام دكفارو په لاس كښى پاتى شو **(قلنا)** دامام ابوحنيفه رحمه الله لخوا ځخه مونږ جواب كوو چې كله ولايت دجبر دقاضى ختم شو دوجى دتباين ددارينو ځخه نو اعتاق قائمقام دجبر وګرځيده ددي لپاره چې مسلمان دكافرو دلاس ځخه خلاص شى **(كعبد لهم اسلم ثمه فجاءنا اوظهر عليهم)** لكه هغه غلام چې ازاد دي چې دكفارو وي اوهلته دارالحرب كښى اسلام راوړى نوبيا مونږ ته دارالاسلام ته راغى اويا مونږ په كفارو غلبه وكړه نوپه دي صورت كښى دغه غلام ازاد دي .

باب المستأمن

داباب دي په بيان دمستأمن كې

مستأمن داستيمان ځخه دي طلب دامن ته وائى

(هو یشمل مسلما دخل دارهم بأمان وکافراً دخل دارنا بأمان الخ)

وضاحت: (هو) مستأمن په دوه قسمه دي یو هغه چې مسلمان دارالحرب ته په امان «ویزه» داخل شي او دویم چې کافر دارالاسلام ته په امان داخل شي (**لایتعرض تاجرنا ثمه لدمهم ومالهم**) نو زمونږ تاجر چې دارالحرب ته په امان داخل شي نو په ده حرام دي چې دهغوي وینې ته اومال او ناموس ته تعرض وکړي ځکه ده په استیمان سره داضمانت ورکړی ده چې زه به ددوي وینی اومال وغیره ته تعرض نه کوم نو که تعرض وکړي نو دادوکه شوه او دوکه حرامه ده (**الا اذا أخذ ملِکهم ماله اوحبسه أوغیره بعلمه وما أخرجه أي بطریق التعرض ملکه ملکا حراماً فیتصدق به**) مګرکه دکفارو پاچا ددي تاجر مال واخیسته (**اوحبسه**) یا یې تاجر بندي کړو (**اوغیره**) یا دپاچا نه ماسوا بل کس دتاجر مال واخیسته یایې بندي کړو (**بعلمه**) په علم دپاچا سره یعني پاچا په دي خبر ؤ وربانديي راضي وو نو بیا تجار ته ددوي په مال تعرض حرام نه دي ځکه غدر اودوکه دکفارو لخوا شروع شوه (**وماأخرجه**) اوکه تجار کوم شئ ددوي څخه دتعرض په شکل راوباسي یعني تجار ددوي په مال تعرض وکړي او دارالاسلام ته یې راوړی (**ملکه**) نو تجار ددغه شئ مالک ګرځي خوپه ملک حرام سره ځکه مالک ګرځي چې تجار په مال مباح باندي کامیاب شوی ځکه دحربیانو مال شرعاً مباح دي اوحرام ځکه دي چې دوکه ورسره شوی (**فیتصدق به**) نو تجار به دغه مال فقیرانو ته صدقه کړي خو په دي نیت چې ذمه یې دملک خبیث اوحرام مال څخه فارغه شي نه دثواب په نیت ځکه الله تعالی حرام مال نه قبلوی (**فان ادّانه حربي**) ادّان دباب افتعال څخه دي اصل کښي ادْتدان وو معنی یې یوشي په قرض خرڅول اواستدان په قرض اخستل ددین اوقرض ترمنځ فرق دادی چې دَین هغې ته وائی چې په ذمه دانسان باندي دعقد څخه وروسته لازمیږي اوقرض دیته وائي چې دقرض ورکولو څخه وروسته قبضْ کولی شي ۔ نو معنی داشوه چې که چیرته ددَین معامله وکړه دتجار سره یو حربي یعني داسی تصرف یې وکړو چې دتاجر په ذمه یې دَین لازم کړو یعني حربي یو شي په تاجر باندي په قرضو خرڅ کړو (**او ادّان حربیا**) یا تاجر یو شی ددَین په طریقه په حربي خرڅ کړو (**اوغصب أحدهما من الآخر**) یا غصب وکړو یو دبل څخه یعني تاجر دحربي څخه یاحربي دتاجر څخه (**وجاءا**) او دواړه راغلل (**هنا**) دارالاسلام ته (**لم یُقضَ لأحدهما بشيء**) نو فیصله به نشي کولی دیو لپاره هم په بل باندي نه دحربي لپاره په تاجر زمونږ

اونه دتاجر لپاره په حربی باندي (**لأنه لا ولاية**) ځکه مونږ لره په مستأمن باندي ولايت اوحکومت نشته (**وكذا لو فعل ذلك حربيان**) همدارنګه که دوه حربيانو په خپل منځ کښی دقرض معامله وکړه اويايې يو دبل څخه غصب وکړو (**وجاءا**) او دواړه دارالاسلام ته راشی (**مستأمنين**) دأمان غوښتلو په حالت کښي يعنی ويزه باندي نو مونږ ددوي لپاره به په يو بل باندي دهيڅ شی فيصله نه کوو ځکه مونږ لره په دوي باندي ولايت او قدرت نشته (**فأن جاءا مسلمين قضى بينهما لا للغصب**) که دوه حربيان خپل منځ کښی معامله بالدين وکړي اويا غصب وکړي بيا دارالاسلام ته داسلام په حالت کښی راشی اوزمونږ قاضی ته فيصله ويسی نو قاضی به ددواړو ترمنځ په معامله بالدين کښی فيصله وکړي ځکه په دوي باندي دقضاء په وخت کښی زمونږ ولايت ثابت دي (**لا الغصب**) خو دغصب په مسئله کښی به درباندي فيصله نه کوي ځکه دقرض مسئله په دارالحرب کښي صحيح واقع شوی وه ځکه ددواړو په رضاء شوی وه اوپه غصب کښی نه ددواړو رضاء وه اونه دحربی مال معصوم وي ځکه مال مباح دي

(**فإن قتل مسلم مستأمنٌ مثله ثمه عمداً أو خطأً ودّى من ماله وكفّر للخطأ**) تشريح: که يو مسلمان مستأمن بل مسلمان مستأمن قتل کړی په دارالحرب کښی په قصد سره (**ودّى**) ماضی صيغه ده ددیت څخه يعنی ديت دمقتول به ورکړی په دواړو صورتونو کښی يعنی په صورت دقصد اوپه صورت دخطا کښی ځکه په قتل عمد کښی خو کفاره نشته (**لانه لم يجب القصاص**) ځکه دقتل په وخت کښی قصاص واجب نه وو (**لتعذر الاستيفاء**) دوجی دګران والی داخيستو دقصاص دقاتل څخه (**لانه باالمنعة**) ځکه استيفاء او اخيستل دقصاص په طاقت سره کيږی او طاقت بغير دډلی دمسلمانانو او د امام څخه نه کيږی او داپه دارالحرب کښی نه وو (**فتجب الدية**) نوديت دده په مال کښی په دواړو صورتونو کښی واجب دی (**لوجودالعصمة**) ځکه عصمت دده په مال کښی موجود دی يعنی دده مال معصوم دی نو کوم شی چی په دارالاسلام کښی په ده باندي واجبيده نو هغه به اوس هم په ده واجب وي په قتل خطا کښی خو ديت واجب اصلی دي اوپه قتل عمد کښی ځکه ديت واجب دي ځکه کله چی قصاص ساقط شو نو که ديت هم ساقط شی نو نفس دمقتول به بلاعوضه ضائع شی (**لاعلى العاقلة**) په عاقلو دقاتل ديت نشته (**اذا الوجوب عليهم**) ځکه ديت چی واجبيده په عاقله باندي په دوه خبروسره (**بأعتبار النصرة**) يوپه اعتبار دکومک سره يعنی چی

عاقله دعصباتو او ددیوان او ددفتر څخه له ده سره همکاران وو (**والتقصیر فی الصیانة الواجبة علیهم**) او دویم په اعتبارد کوتاهی سره په هغه صیانت کښی چی په عاقلو واجب وو **یعنی** دقاتل عاقلو داکوتاهی کړی چی قاتل یی محفوظ کړی نه دي دداسی بدو افعالو څخه چی دغه حفاظت دقاتل دبدو افعالو څخه په دوي واجب وو خو دلته نصرت او صیانت دواړه ساقط دي ځکه تباین او جدائی ددارینو راغلی ځکه قاتل په دارالحرب کښی دی او عاقله په دارالاسلام کښی دي نو دعاقلو لخوا تقصیر اوکوتاهی موجود نه شوه نودیت به هم په عاقلو واجب نه وي بلکی په مال دقاتل کښی به واجب وي ځکه دامباشر دهغه فعل دی چی موجب ددیت دي (**وفی الاسیرین کفر فقط فی الخطأ**) اوکه کفارو دوه مسلمانان په دارالحرب کښی بندیان کړل بیا یو بندی بل بندی قتل کړه نو په قاتل باندي صرف کفاره په قتل خطاء کښی ده او دیت ورباندي نشته نه په قتل خطاء کښی او نه په قتل عمد کښی اوپه قتل عمد کښی ورباندی قصاص هم نشته د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندي (**وعندهما**) او دصاحبینو په نزد دقاتل په مال کښی دیت به واجب وي په قتل عمد او خطاء دواړو کښی ځکه عصمت دمال په بندیتوب سره نه باطلیږی لکه په استیمان سره چی نه باطلیږی (**وله**) امام ابوحنیفه رحمه الله وایی چی بندی دکفارو په غلبی سره دکفارو تابع وګرځیده نو احراز باطل شو نو عصمت مقومه ساقط شو عصمت په دوه قسمه دی اول عصمت مقومه دی مقومه دتقویم څخه دي دیته وائی چی په وخت دتعرض کښی مال یاقصاص ورباندی واجبیږی دویم عصمت مؤثمه دتاثیم څخه دي دیته وائی چی په وخت دتعرض کښی په انسان ګناه واجبوي نو اول عصمت مقومه په احراز بالدار سره ثابتیږی یعنی په دار الاسلام سره لکه عصمت دمال په دارالاسلام سره ثابتیږی نه په اسلام سره او عصمت مؤثمه صرف په دی ثابتیږی چی دایو انسان دي نو کله چی یو بندي مسلمان په بل بندي مسلمان په دارالحرب کی تعرض وکړو نو عصمت مقومه ساقط شو ځکه هغه په احراز بالدار ثابتیده او احراز بالدار دلته نشته ځکه دا دارالحرب دي نو دیت واجب نه شو نه په قتل عمد کښی او نه په قتل خطاء کی لکن عصمت مؤثمه په دار الحرب کښی پاتی دي ځکه انسانیت او ادمیت خو پاتی دي یعنی چی دا یو انسان وو نو په قتل خطاء کښی به کفاره ورباندي واجب وي .

(ولایمکن حربی هنا سنةً وقیل له ان اقمت هنا سنةً او شهراً نضع علیك الجزیة فان رجع قبل ذلك).

توضیح: (**ولایمکّن**) دا د تمکین څخه ده د تمکین معنی ځای ورکول خلاصه دا چې نه شي پرېښودلی حربي کافر چې په امان سره دارالاسلام ته راغلی وي په دارالاسلام کښې یوکاله پوري (**وقیل له**) اودغه حربي مستامن ته به وویل شي چې که ته په دارالاسلام کښې تریوکاله پوري یا یوې میاشتې پوري اوسیږې نو مونږ به په تاجزیه مقرره وو یعنې امام به ورته اندازه مقرره کړي چې کمه اندازه به یوه میاشت یادوه وي او زیاته موده به یوکال وي (**فان رجع قبل ذلک**) نو که مخکښې دده مودي څخه دارالحرب ته وګرځیده نو فبها ونعمت (**والا**) او که ددې مودې څخه مخکښې دارالحرب ته ونه ګرځیده (**فهو ذمیّ**) نو دمقررې مودې دپوره کیدو څخه وروسته به دا ذمي وي (**لایترک ان یرجع**) بیابه بیرته دارالحرب ته نشي پرېښودلی ځکه بیا دمسلمانانو په مقابله کښې اودرېږي او دارالحرب کښې بچې هم زیږوي چې دې سره دکفارو ډله زیاتیږي او بل داچې جزیه هم بندیږي دارالحرب ته نه پرېښودل په دې معنی چې دارالحرب ته پوخ لاړ شي اوکه دتجارت لپاره ورته نو بیابه نشي حصارولې (**واعلم**) شارح وائي چې څوک له سره په عربي قواعدو ادراک اوپوه نه لري نو داسوچ کوي چې په (**والا فهو ذمي**) کښې الاداستثناء لپاره ده خو داپدې هم نه پوهیږي چې داخو کلمه د انْ ده د لاء سره او یو په بل کښې مدغم شوی ده .

(**کمالو اشتری ارضاً فوُضع علیه خراجها**) لکه حربي مستآمن چې په دارالاسلام کې ځمکه واخلې او دحکومت لخوا ورباندې خراج مقررشي نو پدې خراج کیښودو سره دا ذمي ګرځي (**لأنه اذا التزمه**) ځکه کله چې مستآمن په ځان باندې خراج لازم کړو (**التزم المقام فی دارنا**) نو په ځان یې اوسیدل لازم کړه په دارالاسلام زمونږ کښې اوپه دارالاسلام کښې اوسیدل په داسې طریقې سره مستآمن ذمي ګرځوي خو صرف دځمکې په اخیستلو سره ذمي نه ګرځي ځکه ډېر کرتې دتجارت لپاره اخلې خراج دیته وائي چې پاچایي په ځمکه مقرر کړي چې کال کښې به دومره راکوې مثلا (**وعلیه جزیة سنة من وقت وضع الخراج او نکحت حربیةٌ ذمیاً هاهنا وفی عکسه لا**) اوپه ده به دیوکال جزیه وي او حساب دجزیې دهغه وخت څخه وي چې دکوم وخت نه خراج ورباندې مقررشوی (**اونکحت حربیة**) یا یوه حربیه ښځه دارالاسلام ته په امان «وېنزه» داخله شي بیا دیو ذمي سره نکاح وکړي نو په دغې نکاح سره دغه حربیه ښځه ذمیه ګرځي ځکه ښځه په اوسیدلو کښې دخاوند تابع وي (**وفی عکسه لا**) او که حربي مستآمن په دارالاسلام کښې دذمیه سره نکاح وکړي نو

حربی کافر صرف په نکاح کولو سره ذمی نه ګرځی ځکه دسړی نکاح کول دلیل ددي نه دی چې دی
په ځان باندي دلته اوسیدل لازم کړل ځکه امکان شته چې ترڅو دلته اوسیږی همغه موده تري فائده
واخلی اوبیرته یې طلاقه کړی اوبیرته دارالحرب ته لاړ شی۔

(فان رجع المستأمن الی داره حلّ دمُه فان اُسر اوظُهر علیهم فقُتل سقط دین کان له علی معصوم) که
مستأمن ددارالاسلام څخه بیرته دارالحرب ته وګرځی نو دنورو کفارو په شان یې وینه حلاله ده **(فان**
اُسر) که دغه مستأمن بندي کړی شو **(اوظُهر علیهم)** اویا دمسلمانانو لخوا پدوي غلبه وشوه اودغه
مستأمن چې دارالحرب ته راګرځیدلی وو قتل شو **(سقط دین)** نو هغه قرض دده ساقط شو چې په یو
معصوم یې وو یعنی په مسلمان یاذمي باندي خو فیئ نه ګرځی ځکه دا دده مال نه دی ځکه دین
ملک دمدیون وي اومالک لره داحق شته چې مطالبه دقرض وکړی چې خپل قرض وصول کړي **(**
واُفیءَ ودیعة له عنده) اوفیء به وګرځولی شی هر امانت چې ددي مستأمن وو دمسلمان یا ذمي سره
په دارالاسلام کښی **(وان مات او قُتل)** که دغه مستأمن چې بیرته خپل دارالحرب ته ګرځیدلي دا
پخپله مړ شو یابی له غلبی دمسلمانانو څخه قتل کړی شو **(فهما لورثته)** نو دغه دین او امانت چې
دمسلمان یاذمي سره وي نو دابه دورثوو ددي مستأمن وي **(وذلک لأن الآمان باقٍ)** ځکه چې امان
دده په مال کښی پاتی دي ځکه دده نفس مسلمانانو ته غنیمت شوی نه دي **(فیرد علیه)** نو که دا
مستأمن پخپله ژوندی وو نو دامال به ده ته واپس کولي شی **(وعلی ورثته)** او ورثوو ته به یې ورکړل
شی که پخپله مړشوی وو یابی له غلبی زمونږ نه په کفارو باندي ووژل شو نو دده مال غنیمت شو
دوجی دتابعیت دده یعنی چې دده نفس مونږ ته غنیمت وو نو مال دده به هم تبعاً غنیمت وی۔

(حربی هنا وله ثمه عرس واولاد وودیعة مع معصوم وغیره فأسلم ثم ظُهر علیهم فکله فیءٌ)

توضیح: (حربی هنا) یوحربی وو په دارالحرب کښی **(وله ثمه)** او ددی حربی په دارالحرب **(عِرس)**
ښځه وه **(واولاد)** اوبچیان یې وو **(وودیعة مع معصوم)** او امانت یې وو دمسلمان یاذمي سره
(وغیره) یادغیر معصوم سره یعنی حربی سره **(فأسلم)** نو دغه حربی اسلام راوړو **(ثم ظهر**
علیهم) بیا دمسلمانانو لخوا په دوي غلبه وشوه **(فکله فیءٌ)** نو دغه ټول یعنی دده ښځه بالغ اولاد
او امانت یې فیء وګرځیده ځکه چې ښځه او بالغ اولاد دده په اسلام کښی دده تابع نه دي **(وأما غیر**

ولك) او ددي نه ماسوا چې نابالغ او لاد دي يا دده مال دي ددي حربي په لاس کښې نه دي

(فاسلامه) نو دحربي اسلام راوړل عصمت نه واجبوي يعنی دحربي په اسلام راوړلو سره په دارالحرب کې عصمت دهغه مال نه واجبوي چې دارالاسلام کښې دي يادحربي سره دی

(وان َسلم فجاء فظهر عليهم فطفله حرمسلم ووديعةٌ مع معصوم له وغيره فيٌء)

تشريح: اوکه حربي په دارالحرب کښې اسلام راوړو بيا دارالاسلام ته راغی بيا مسلمانانو په کفارو غلبه وکړه **(فطفله حرمسلم)** نو دده نابالغ اولاد به دده دتابعيت دوجې ځخه ازاد مسلمان وي ځکه اولاد صغار تابع دمور اوپلار وي په اسلام کې چې کله اتحاد ددار وي **(او وديعة مع معصوم له)** وديعة موصوف مع معصوم صفت موصوف سره دصفت ځخه مبتداء **(له)** خبر نو معنی داچې هغه امانت دده چې دمعصوم يعنی مسلمان يا ذمي سره وي **(له)** هغه به ددي حربي وي چې اسلام يې راوړی دي **(وغيره فيء)** او دنابالغ اولاد ځخه ماسوا او دهغه امانت ځخه ماسوا چې مسلمان يا ذمي سره دي ټول فيء دي.

(ومن آسلم ثمه وله ورثةٌ هنالك فقتله مسلم فلاشيءعليه الاكفارة الخطاء)

تنقيح: که يو حربي په دارالحرب کښې اسلام راوړي او دده مسلمانان ورثه هم هملته په دارالحرب کې وي بيادغه حربي لره يو مسلمان قتل کړو نو په دغه قاتل مسلمان هيڅ شی نشته مگر کفاره دقتل خطاء شته په قتل خطاء کښې او که قتل قصداً وو نو بيا يو شيء هم په قاتل نشته يعنی نه قصاص نه ديت نه کفاره **(وعندالشافعي)** او امام شافعي رحمه الله وائی چې په قتل عمد کښې قصاص واجب دي ځکه قاتل معصومه وينه توی کړه ځکه هغه اسلام راوړی وو اوپه قتل قطاء کښې ديت واجب دي ددی ځخه احناف داجواب کوی چې قصاص او ديت هلته واجبيږی چې عصمت مقومه موجود وي او دلته صرف عصمت مؤثمه موجود دي او په عصمت مؤثمه سره صرف کفاره واجبيږی په قتل خطاء کښې. دعصمت مؤثمه بيان مخکښې تيرشوی دي.

(واخذالامام دية مسلم لا وليّ له) تلويح: که يو مسلمان بل داسی مسلمان په قتل خطاء سره ووژنی چې ولي نه لری نو دده ديت به امام اخلی او په بيت المال کښې به يې اچوی ځکه امام ولي دهغه چادی چې ولي نه لری **(ومستآمنٍ اسلم هاهنا من عاقلة قاتله خطاء)**

تشريح: او وابه اخلی امام ديت دمستآمن چې اسلام راوړی په دارالاسلام کښې دعاقله دقاتل ځخه

په قتل خطاء کښې يعني که يو حربي دارالاسلام ته په امان راشي او اسلام راوړي او ولي يې نه وي بيا په قتل خطاء سره قتل شي نو امام به ددي مستأمن ديت دعاقله دقاتل څخه اخلي. عاقله ددفتر والاو عصبه ته وائي (وقَتَل او أخذ الدية في عمد ولايعفوه) او امام به قاتل ووژني قصاص يابه ديت تری واخلي صلحاً په قتل عمد کښې (ولايعفوه) خو امام به قاتل نه معاف کوی يعني که يو کس مسلمان لره يايو مستآمن لره چې ايمان يې راوړی وي او ولي نه لری قصداً قتل کړی نو امام ته اختيار دی چې يا قصاص تري واخلي او قاتل ووژنی او ياديت کامله واخلي يعنی چې دقاتل سره صلح په ديت وکړي لکن امام لره دا ولايت نشته چې قاتل معاف کړی .

باب الوظايف

داباب دی په بيان دمقرراتو کښې

وظايف جمع دوظيفة ده هغه څه ته وائي چې په ذات دکفارو مقررولي شی نو هغي ته جزيه وائی او که په ځمکو مقررولی شی نو هغی ته عشر او خراج وائی .

(ارض العرب وما اسلم اهلُه اوفتح عنوةً وقُسّم بين جيشنا والبصرة عشرية والسواد وما فتح عنوة واقرّ اهله عليه اوصالحهم خراجية).

(النکتة اللطيفة في بيان الوظيفة) غرض دمصنف رحمه الله ددي عبارت څخه بيان دهغه څه دی چې عشر اوخراج پکښې واجبيږی په طريقه دداسي يو قانون سره چې نور مسائل په دی تفريع شي.

نو دعربو ځمکه او هغه ځمکه چې اهل دهغی اسلام راوړي وي (اوفتح عنوة) يا په زور سره فتح شوی وي (وقسم الخ) او دغه مفتوحه ځمکه زمونږ دعسکر اسلام تر منځ تقسيم شوی وي اوبصره چې په عراق کښې داخله ده ټولي عشري دي ځکه چې دعربو څخه نشی قبلولي مگر اسلام يا قتل اوجزيه په دی نشته نو خراج هم ددوي په ځمکه نشته اوکومو خلکو چې اسلام قبول کړي نو اوس به هم ځمکه ددوي په لاس کښې پاتی وي لکه مخکښې چې عشر يې وه ځکه عشر دمسلمان سره مناسب دي اوکومه ځمکه چې په زور سره فتح شوی او بيا دمجاهدينو ترمنځ تقسيم شوی وي هغه به هم عشري وي او وجه پکښې هم داده چې ددوي په لاس کښې به پاتی کيږی ځکه عشر دمسلمان سره مناسب دي او دبصري ځمکه اگر چې قياس داوائی چې دا دخراجی وي ځکه دخراجی ځمکو څخه ده خو صحابه وو خلاف القياس ورباندي عشر مقرر کړی نو اوس به هم عشروي (والسواد) او اطرافی علاقی لکه کلي وغيره سواد ځکه ورته وائي چې ونې پکښې شنې وي اوزيات فصلونه

پکښې وي نو ددي وجې توري معلومیږي نو دغه علاقې (**ومافتح عنوة**) اوهغه ځمکه چې په زور فتح شې (**واقرّ اهله علیه**) او خاوندان ددي ځمکې په همدي پاتې شي یعنې خاوندان یې په خپل ملکیت پاتې شي او جزیه ورباندي کیښودل شي (**اوصالحهم**) یادکفارو سره صلح وشي او ددوي دغه ځمکه په صلحه فتح شي نه په زور سره نو داځمکې خراجیه دي یعنې په دې ځمکو خراج واجب دي نه عشر (**ارض العرب**) دعربو ځمکه طولا (**مابین العذیب**) په منځ دعذیب کښې عذیب یو ځای دي چې کوفې سره نژدې دي او دعراق دحاجیانو لپاره دکوزیدو مقام دي ددینه (**الی اقصی حجر بااليمن**) تر اخرې تیږې دیمن پورې یعنې تر اخري حصې دیمن پورې (**بمهرة الی حد الشام**) اوعرضاً دعربو ځمکه دیمن دمهرة ځخه تر حد دشام پورې (**وسواد عراق العرب**) او اطرافې علاقې دعراق دعربو دعذیب ځخه تر عقبه دحلوان پورې عرضاً دي او طولاً دثعلبیه علاقې ځخه او بعضې وائې چې دعلث ځخه تر عبادان پورې واقع دي. (**وموات اُحیي یعتبر بقربه**) اوهغه مړه ځمکه یعنې چې اباده شوې نه وي (**اُحیي**) چې ژوندۍ کړې شي یعنې اباده شي نو دابه عشرې وي که خراجې ؟ نو مصنف وویل چې ددي نژدې والې ته اعتبار دی یعنې کومې ځمکې ته چې نژدې وه خلاصه داکه مواته ځمکه دعشرې ځمکو ځخه وه نو دابه هم عشرې وي او که دخراجې ځمکو ځخه وه نو په خاوند به یې خراج وي اوکه نه عشرې وه او نه خراجې وه نو بیا قرب ته اعتبار دی که عشرې ته نژدې وه نو عشرې به وي او که خراجې ته نژدې وه نو خراجې به وي.

> **(وخراج وضعه عمر رضي الله عنه علی السواد لکل جریب یبلغه الماء صاع من بُرّ او شعیر ودرهم الجریب الرطبة خمسة دراهم ولجریب الکرم او النخلة متصلة ضعفها ولماسواه کزعفران وبستان مایطیق).**

الفوائد الأصولیة فی بیان الارض العشریة والخراجیة: او حضرت عمر رضی الله عنه چې کوم خراج په اطرافې علاقو او کلو مقرر کړې وو دهرجریب لپاره چې اوبه ورته ورسیږي یوه پیمانه غنم یایوه پیمانه اوربشې دي او یو درهم چې وزن سبعه پکښې وي (**ولجریب الرطبة**) او دجریب دتازه ترکارۍ مثلا تره ، بادرنګ ، بانجان ، وغیره لپاره پنځه دراهم دي (**ولجریب الکرم**) اولپاره دجریب دانګورو یادخرماؤ خو چې ونې سره پیوسته وي یعنې منځ کښې فصل نه کرل کیږي دوچنده ددي ده چې لس دراهم راځي خو که د انګورو او یاخرماؤ وني دومره سره جداوي چې منځ کښې یې فصل کرل کیده نو بیا یو شيء هم پکښې نشته (**ولماسواه**) او ددینه ماسوا لپاره لکه

دزعفرانو ځمکه یا باغ شو نو بیا په دیکښې دوسْ مطابق دي دبستان نه مراد داده چې وني دومره جداوي چې فصل پکښې کرلی شي.

(الجریب ستون ذراعاً فی ستین ذراعاً الخ) شارح وائی چې یو جریب ځمکې اندازه شپیته ګزه په شپیتو کښې ده نو ټول دری زره او شپږ سوه متره مربع راځي **(وفی کتب الفقه)** شارح وائی چې ددې ګز څخه کوم ګز مراد دي نو دفقهې کتابونو لیکلي چې **(ذراع الکرباس)** یعنی هغه ذراع چې جامه ورباندې ګزکولې شي اوه قبضې ده **(وذراع المساحة)** او دمساحت ګز یعنی چې ځمکه ورباندې ګز کولې شي اوه قبضې او یوه ولاړه ګوته ده دهرې قبضې سره اودولاړې ګوتې نه مراد غټه ګوته ده **(وعندالحُسّاب)** او دحساب دفن ماهرین وائی چې ذراع څلیریشت ګوتې دي اوهره ګوته شپږ اوربشې ده چې دبعضو اوربشو ګېډه دبعضو نوروسره لګیدلې وي خو اوس زمانه کښې جریب دوه زره متره مربع دي چې یو متر سل سانتی راځي.

(ونصف الخارج غایة الطاقة) اودځمکې انتهائی طاقت داده چې دځمکې نیم حاصل ورباندې مقررشي معنی داچې دنیم څخه کم مقررول جائزدي لکه ربع خمس وغیره خو په نصف باندې زیادت جائز نه دي **(ونقص ان لم تطق وظیفتها)** خو که کومې ځمکې دمقررې وظیفې طاقت نه درلوده یعنی حاصل یې کم وو نو وظیفه به ورباندې کمه شي مثلا ربع یې نه شو اداکولې نو خمس دې کړای شي وغیره **(ولایزاد علیها ان اطاقت)** خو کو یوه ځمکه باندې وظیفه مقرره شوه دطاقت په اندازه خو بیایې په حاصل کښې زیادت راشي نو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد به په وظیفه کښې زیادت نه راځي ځکه حضرت عمر رضی الله عنه ته چاخبر ورکړو دطاقت په زیاتوالي سره نو هغه ورباندې وظیفه زیاته نه کړه او امام محمد رحمه الله په نزد په دې صورت کښې بیا زیادت په وظیفه باندې جائز ده لکه دحاصل په کموالي سره چې وظیفه کمولې شي نو دحاصل په زیادت به وظیفه زیاتولې شي او دحاصل په کمولو سره به وظیفه کمولې شي **(ولاخراج لو انقطع الماء عن ارضه او غلب علیها او اصاب الزرع آفة)**

بیان: (ولاخراج الخ) اوخراج به ورباندې واجب نه وي که دځمکې څخه اوبه بندې شوې **(اوغلب علیها)** یا اوبه په ځمکه غلبه وکړه یعنی ځمکه یې لاندې کړه **(او اصاب الزرع آفة)** یافصل ته آفت ورسیده ځکه دخراج تعلق دحاصل پورې دی او چې حاصل نه وي نو خراج هم نشته **(ویجب ان**

عطّلها مالكها) خو كه خراجي ځمكه ددي مالک شاړه كړه يعنې ځمكه كښې صلاحيت دفصل وو خو مالک شاړه كړه نو خراج به وربانديي واجب وي ځكه دخراج لپاره نماء تقديري معتبره ده اودلته شته **(ويبقى ان اسلم المالك اوشراها مسلم ولاعشر فى خارج ارضه)**

تشريح: (ويبقى) اوپه همدې خراج به پاتې كيږي كه د خراجي ځمكې مالک اسلام راوړو او يا ددي كافر څخه دغه خراجي ځمكه مسلمان واخيسته يعنې كه يو كافر باندي په ځمكې كښې خراج مقرر شوى وي بيا اسلام راوړي ياخراجي ځمكه ددي كافر څخه يو مسلمان واخلي نو په دواړو صورتونو كښې به خراج وربانديي واجب وي. **(ولاعشر فى خارج ارضه)** اوعشر نشته په حاصل دځمكې خراجي كښې دازمونږ مذهب دى او امام شافعي رحمه الله وائي دخراجي ځمكې په حاصل كښې عشر واجب دي ځكه خراج او عشر دوه حقه مختلفه من حيث الذات دي ځكه عشر هغه مؤنت دي چې معنى دعبادت پكښې ده او خراج هغه مؤنت دي چې معنى دعقوبت پكښې ده او وجوب ددواړو هم په سببينو مختلفينو راځي ځكه سبب دعشر هغه ځمكه ده چې حقيقةً پكښې نمو او زيادت وي اوسبب دخراج هغه ځمكه ده چې تقديراً نمو پكښې وي او محل ددواړو هم مختلف دي ځكه محل دعشر حاصل دځمكې دي اومحل دخراج ذمه دمالک ده نو ديو په وجوب سره بل نه منع كيږي مونږ ددينه داجواب كوو چې سبب ددواړو حقونو يو دي چې ځمكه نمو كونكې ده خو صرف فرق دادى چې په عشر كښې حقيقةً نمو شرط ده او په خراج كښې تقديراً نمو شرط ده نو ددواړو ترمنځ منافات من وجه دي ځكه خراج په هغه ځمكه كښې واجبيږي چې په زور فتح شوي وي اوعشر په هغه ځمكه كښې واجب دي چې ددي اهل په رضاء سره اسلام راوړي وي نو دوه وصفه په يوه ځمكه كښې سره نه جمع كيږي **(ويتكرر العشر بتكرر الخارج)** اوعشر به تكراريږي په تكرار دفصل سره يعنې كه په يوه ځمكه څو فصله وكړي نو عشر به هم ورسره تكراريږي ځكه عشر په هر حاصل كښې واجبيږي **(بخلاف الخراج)** خو خراج په يو كال كښې نه تكراريږي اگر كه فصل تكرار شي.

(واعلم ان الخراج) هركله چې شارح رحمه الله وويل چې خراج نه تكراريږي نو دلته دايو وهم پيداشو چې مطلق خراج نه تكراريږي نو ددي وهم ددفع لپاره شارح دخراج أقسام اوحكم اوس بيانوي چې خراج په دوه قسمه دي (۱) خراج مؤظف ديته وائي چې يوه معلومه او مقرره وظيفه په ځمكه باندي په كال كښې مقرره شي لكه حضرت عمر رضى الله عنه چې دعراق په قريو باندي مقرر كړي وو (۲) خراج مقاسمه لكه څلورمه حصه دحاصل يا پنځمه وغيره مقرره شي نو كوم خراج

چې په تکرار دحاصل سره نه تکراريږي هغه خراج مؤظف دي او خراج مقاسمه دعشر په شان تکرار
دحاصل سره تکراريږي يعنی دخراج مؤظف او مقاسمی ترمنځ فرق دادي چې دخراج مقاسمه تعلق
دحاصل سره دی دعشر په شان نو څرنګه چې عشر اخيستلی شی همدارنګه خراج مقاسمه
اخيستلی شی خو دخراج مؤظف تعلق دحاصل سره نشته .
دويم داچې خراج مقاسمه په يوکال کښی په تکرار دحاصل سره تکراريږي خو خراج مؤظف
تکراريږي .

فصل الجزية

هرکله چې مصنف رحمه الله فارغ شو دبيان دهغه وظائفو څخه چې تعلق دځمکی پوری لري
شروع يې وکړه په هغه وظائفو چې په سرونو دکفارو مقررولی شی او ديته خراج الرأس هم ويل
شی او جزية ته جزيه ځکه وائی چې داهم کفايت اوبدله ده دقتل څخه يعنی دقتل په عوض کښې
دامقرره ده ځکه کله چې جزيه ورباندي مقرره شی نو دقتل څخه بچ کيږي عنايه ص ٢٨٨ ج
چاپ مکتبه حقانيه» .

(اعلم أن الجزية نوعان جزية وضعت بالتراضی فتقدر بحسب مايقع عليه الاتفاق وجزية يبتدء الامام وضعها اذاغلب عليهم).

تشريح: شارح رحمه الله وائی چې جزيه په دوه قسمه ده (١) هغه جزيه ده چې په کفارو باندي د
رضا مندۍ سره مقرره شی او اندازه ددي په اتفاق دکفارو او مسلمانانو سره وي يعنی خاص
اندازه نه لري خو په کومه اندازه چې اتفاق دجانبينو راشی (٢) چې کله مسلمانان په کفارو غلبه
وکړي او بغير دهغوي درضاء څخه دمسلمانانو أمير ورباندي ابتداءً جزيه مقرره کړي **(ماوضع بصلح لاتغيّر)** خو کومه جزيه چې په صلح او رضامندۍ سره مقرره شوي وي نو هغی کښی به تغير
اوبدلون نشی راوستلی **(وحين غُلبو وأُقرّوا علی املاکهم توضع علی کتابي ومجوسي ووثنی عجمی ظهر غناه)**

توضيح: کله چې کفار مغلوبه شی او د امام لخوا څخه په خپلو املاکو او ځمکو پريښودلی شی نو
مقرره به شی په کتابی باندي يعنی په يهودی او نصرانی باندي **(ومجوسی)** اوپه اورپرست
اوعبادت کونکی باندي **(ووثنی)** اوپه بت پرست باندي خو چې غير عربی وي ځکه په مشرک عربی
جزيه نشته **(ظهر غناه)** داسی کتابی اومجوسی او وثنی چې غناء او مالداری دده ښکاره شوی وي

(فيه خلاف للشافعي رحمه الله) په وثنی یعنی بت پرست کښی د امام شافعی رحمه الله اختلاف دی دده په نزد په وثنی عجمی باندي جزیه نشته بلکی یابه قتل کولی شی اویابه اسلام راوړی خکه قتال دکفارو سره په آیات سره فرض دی **(وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة)** مگر په حق داهل کتابو کښی جواز دترک شته او په حق دمجوسو کښی په حدیثو سره اوددي ځخه ماسوا په خپل اصل پاتی شو چی قتل کولی به شی او یابه اسلام راوړي . خو مونږ جواب کوو چی دبت پرستو رق او غلام کول بالاتفاق جائزدي نو دجزیه اخیستل تری هم جائز دی لکه مجوس اور پرست دي اوجزیه تری اخیستلی شی .

(لكل سنة ثمانية وأربعون درهماً) په کتابی مجوسی او وثنی عجمی مالداره باندي به دکال أته ځلویښت درهمه اینښودلی شی چی په هره میاشت کښی به تري ځلور درهمه اخیستلی شی

(وعلى المتوسط نصفها) اوپه درمیانه باندي چی نه ډیر مالداره وي اونه ډیر غریب وي نیم ددي به وی چی څلیریشت درهم راځی **(وعلى فقير يكسب ربعها)** او په هغه غریب باندي چی کسب کوی ځلورمه ددي چی دولس درهم راځی دي **(وعندالشافعي رحمه الله)** امام شافعی رحمه الله وائی چی په هر مذکر بالغ باندي او په هره مؤنثه بالغه باندي به یو دینار وی فقیر او مالداره به پکښی یو برابر وي لکه حدیث کښی راځی **(على كل حالم وحالمة)** مونږ ددینه جواب کوو چی داحدیث حمل دی په جزیه دصلح باندي **(لاعلى وثني عربي فإنه ظُهر عليه فعرسه وطفله فيء ولامرتدٍ)** .

تشريح: خو په بت پرست عربی باندي جزیه نشته خو که په دغه مشرک عربی باندي غلبه دمسلمانانو وشوه نو دده ښځه او واړه ماشومان به فيء او غنيمت وي چی دمسلمانانو ترمنځ به تقسیمولی شی **(ولامرتدٍ)** همدارنگه به دمرتد ځخه جزیه نشی اخیستلی بلکی که اسلام رانه وړی نو قتلولی به شی **(ولايقبل منهما الاسلام اوالسيف)** اودبت پرست عربی نه او دمرتد نه به نشی قبلولی مگر یا اسلام راوړل او یاتوره یعنی قتلول دده خکه ددواړو کفر سخت دی وجه داده چی مشرکان دعربو چی وو نو نبی علیه السلام ددوي په منځ کښی راولوی شوی او قرآن هم ددوي په ژبه نازل شوی نو معجزه ددوي په حق کښی ښکاره ده نو ددوي کفر او حالت دعجمو دکفر اوحالت ځخه سخت دي او مرتد ته خو د اسلام ټول محاسن اوخوبیانی معلومی وي نو داسلام دهدایت ځخه وروسته دده کفر قبلول نورهم سخت دي نوعذاب به هم سخت وي **(وعندالشافعي**

رحمه الله) امام شافعی رحمه الله وائی چی دمشرکانو دعربو بالغان کسان بغیر دقتل ځنه ددوی غلامان گرځول جائزدي (**ولاعلی راهب لایخالط الناس**) اوپه هغه راهب به هم جزیه نشی اینبودلی چی دخلکو سره گډ ژوند نه کوی راهب دنصاری او یهودو عابد ته وائی

(**وعند أبی یوسف**) امام یوسف رحمه الله وائی او دایو روایت دامام محمد رحمه الله دی د امام ابوحنیفه رحمه الله ځنه که دغه راهب په کارکولو قادره وو نو بیابه جزیه وربانديي مقرروللی شی (**وصبي وامرأة ومملوک وأعمی وزمن**) اوهمدارنگه به جزیه نشی اینبودلی په ماشوم اوښځه او مملوک یعنی غلام باندي اوپه ړانده اوشل باندي ځکه چی جزیه په بدل دقتل اونصرت کښی واجبیږی اوښځه اوماشوم نه وژلی شی اونه جنگ کولی شی ځکه اهلیت پکښی نشته اوغلام هم په نصرت قادره نه دی نو بدل دنصرت وربانديي واجب نه دی ځکه جزیه زمونږ په حق کښی بدل دنصرت ده اوړوند اوشل وغیره نه وژلی شی اونه جنگ کولی شی نو ځکه وربانديي جزیه واجب نه ده

(**وعند أبي یوسف**) او امام یوسف وائی چی که مال ولری نو جزیه وربانديي واجب ده ځکه په بعض اوقاتو کښی داکسان وژلی شی هغه داسی چی مشوري وغیره ورکوي (**وفقیر لایکسب**) اوپه فقیر جزیه واجب نه ده چی کسب او کار نشی کولی ځکه دځمکی خراج په هغه ځمکه نشته چی طاقت دخراج نه لری همدارنگه خراج دسر هم په هغه چا نشته چی طاقت نه لري (**وعندالشافعي**) امام شافعی رحمه الله وائی چی په هغه فقیر چی کار نشی کولی په هغه هم جزیه واجب ده (**وتسقط بالموت والاسلام**) اوجزیه په مرگ او اسلام سره ساقطیږی یعنی که دغه کافر چی جزیه وربانديي مقرره وي مړشی او یا اسلام راوړی نو جزیه تری ساقطیږی (**خلافاً للشافعي فیهما**) امام شافعی رحمه الله وائی که مړشی او که اسلام راوړی نو جزیه تری نه ساقطیږی یعنی چی دجزیه داداء کولو ځنه مخکښی مړشی اویا اسلام راوړی نو جزیه نه ساقطیږی ځکه جزیه بدل دوینی دتوئیدو ده یا بدل دسکنی ده یعنی چی دارالاسلام کښی استوگنه کوی اودغه کافر ته معوض رسیدلی نو عوض تري نه ساقطیږی نو که اسلام هم راوړی نو جزیه به تري اخستلی شی او که مړشی نو دده دمال ځنه به اخستلی شی. (**وتتداخل بالتکرار**) او تداخل به کولی شی په جزیه کښی په تکرارسره یعنی چی یوکال تري جزیه واخستلی نشی نو په دویم کال به صرف یوه جزیه تری اخستل کیږی داد امام أبوحنیفه مذهب دی (**خلافاً لهما**) خو صاحبین وائی چی تداخل به په جزیه کښی نشی کولی.

(ولا تحدث بیعة وکنیسة هنا ولهم اعادة المنهدمة)

تشریح: او تازه او نوي به نشی جوړولی **(بیعة)** عبادت خانه دنصارای وو **(وکنیسة)** او عبادت خانه دیهودو **(هنا)** په دارالاسلام کښی **(ولهم اعادة المنهدمة)** خو که بیعة یاکنیسة دکفارو ورانه شوی وی نو بیایې دوباره جوړولی شی **(ومُیّز الذمي منافی زیّه ومرکبه وسرجه وسلاحه الخ)** اوذمي به زمونږ دمسلمانانو څخه جداوي **(فی زیّه)** په لباس کښی یعنی باید دذمي لباس دمسلمانانو سره فرق ولري نو پټکی او همدارنګه دعلماؤ اونیکانو خلکو لباس به نه اغوندي **(ومرکبه)** اوپه سورلۍ کښی باید فرق ولري یعنی په أس یانوري قیمت بها سورلۍ به نه سوریږي **(وسرجه)** اوپه زین کښی فرق ولري ددوي زین به داسی نه وي لکه دأس زین بلکی دخره دکتی په شان به وي **(وسلاحه)** اوسلاح کښی به فرق ولري یعنی اول به دوی ته سلاح نشی ورکولی خو که امام تري استفاده کوی نو داسی سلاح به نه ورکوی لکه دمسلمانانو بلکی کمزوری به وي **(فلایرکب خیلا)** نو په أس به نه سوریږي مګر دضرورت دوجی نه **(ولایعمل بسلاح)** اوسلاح به نه استعمالوی اونه به یې دځان سره ګرځوی ځکه سلاح ګرځول یو قسم عزت دي او ذمي به ددي څخه منع کولی شی **(ویظهر الکستیج)** او اظهار دذلت به وکړي یعنی کستیج یو قسم کلک تار دی دوړیو دګوتی په اندازه ذمي به یې دجامو دپاسه په ملاوتړی چی دي سره یو قسم اظهار دذلت ددوي راځی خو دغه تار غیر دی دهغه تار څخه چی دوریښمو څخه جوړ وی **(ویرکب علی سرج کالاکفِ)** او په داسی زین به ذمي سوریږی لکه دخره کته یعنی داسی زین به ددوې وي **(ومُیّزت)** او دذمیانو ښځی به فرق لري دمسلمانانو دښځو سره په لاره کښی او په حمام ته په داخلیدو سره **(ویُعلم علی دُورهم)** او دددې کفارو په کوروبه یوه علامه لګولی شی چی خلکو ته معلوم شی چی داد کفارو کورونه دي ددي لپاره چی څوک ورته دښښنی دعاء ونه غواړی لکه سوالګر وغیره **(ونقض عهده)** اوذمي عهداوذمه به ختمه اوماته وي که ذمي زمونږ په یوځای لکه قریه یاقلعه باندي غلبه وکړه **(لحربنا)** دوجی دجنګ زمونږ دمسلمانانو نه **(أولحق)** اویا ددار الاسلام څخه ووتو او ددار الحرب پوری پیوسته شو نو دده ذمه ختمه شوه ځکه مقصد دعقد دذمي څخه دفع دشر دجنګ وه نو چی دفع دشر دجنګ ختمه شوه نو ذمه هم ختمه شوه یعنی دده مال او وینه اوس

مباح شوه (**وصار كمرتد في الحكم بموته بلحاقه**) او دا ذمي پشان دمرتد وګرځيده په حكم كښي په مرګ دده سره (**بلحاقه**) په سبب دپيوسته كيدو دده ددارالحرب سره لكه يو كس چې مرتد شي او پيوسته شي ددار الحرب پورې نو دده په مرګ به حكم كولى شي نو همدارنګه كه ذمي ددارالحرب پورې پيوسته شي نو په ده به هم دمرګ حكم كولى شي او دمرتد په تركه ميراث كښي چې څه حكم دي نو دذمي په تركه كښي هم همغه حكم دى (**لكن لو أُسر يسترقّ والمرتد يقتل**) لكن فرق دادي چې كه ذمي كافر بيا بندي كړاى شي دمسلمانانو لخوا څخه نو دنورو حربيانو په شان به رق اوغلام كولى شي خو كه مرتد ونيولى شي نو سمدست به وژلى شي (**لا ان امتنع عن الجزية الخ**) خو كه انكار يې وكړو دجزيه وركولو څخه نو دذمي ذمه نه ختميږي څكه ددي انكار سره مخكښې كوم شي چې ذمي په ځان لازم كړي وو نه ختميږي نو په زور به هم ترې اخستلى شي (**اوزنى بمسلمة**) يا ذمي دمسلمانى ښځې سره زنا وكړي يا مچه ترې واخلي نو بيابه هم دده ذمه نه ختميږي بلكې حد يا تعزير به وربانديې قائمولى شي (**اوسب النبي صلى الله عليه وسلم**) اويا نبي عليه السلام ته [العياذ بالله منه] كنځل وكړي نو بيا هم دده ذمه نه ختميږي (**وعندالشافعي**) اوامام شافعي رحمه الله وائي چې نبي عليه السلام ته كنځل كول دذمي ماتول دى څكه كه مسلمان نبي عليه السلام ته كنځل وكړي نو ايمان يې ختميږي نو همدارنګه كه ذميْ نبي عليه السلام ته كنځل وكړي نو أمان يې ختميږي مونږ ددي نه داجواب كوو چې داذمي مخكښې هم كافر وو او اوس هم كافر دى لكه مخكښې كفر چې دذمه دعقدسره منافي نه وو نو اوسنى كفر يې هم منافي نه دي (**ويوخذ من مال بالغ تغلبيّ وتغلبيّةٍ ضعف زكاتنا**) تغلبى منسوب دى بنو تغلب قبيلې ته دادعربو يو قوم وو چې دجاهليت په زمانه كښې نصرانيان شول اوروم كښې اوسيدل حضرت عمر رضى الله عنه ددوې څخه دجزيه مطالبه وكړه نودوي انكار وكړو او دائي وويل چې مونږ صدقه وركوو دوچنده خو جزيه نه وركوو په همدى بانديې ورسره صلحه وشوه نو د مال دتغلبي بالغ نه او دتغلبيه بالغې نه به دوچنده دزكاة دمسلمانانو اخستلى شي يعنى چې مسلمانانو څخه څلويښتمه اخستلى شي نو دتغلبيانو دبالغو نه به شلمه اخستلى شي (**ومن مولاه الجزية والخراج**) او دازاد كرده شو غلامانو دتغلبيانو څخه به جزيه او خراج دځمكې اخستلى شي لكه څرنګه چې دنورو ذميانو څخه اخستلى شي (**خلافاً لزفر**) امام زفر رحمه الله وائي چې

دمُعْتَقْ يعنى ازاد كړى شوى غلام څخه به هم جزيه اوخراج نشى اخستلى بلكى دوچنده دزكاة دمسلمانانو به ترى اخستلى شى څكه حديث كى راغى چى (مولى القوم منهم) چى مولى يعنى ازاد كړى شوى غلام دقوم دقوم څخه دى همدا وجه ده لكه څرنگه چى په هاشمى باندي صدقه حرامه ده نو همداسى دده په مولى يعنى ازاد كړى شوى غلام هم صدقه حرامه ده او مونږ وايو چى په تغلبى باندي صدقه دوچنده كول يو قسم تخفيف دي څكه پديكښى ذلت اوسپكوالى نشته كوم چى په جزيه اوخراج كښى دي نو مولى پديكښى دخپل اصل پورى نه پيوسته كيږى اوصدقه څكه دهاشمى په ازاد كړى شوى غلام حرامه ده چى حرمتونه په شبهاتو سره ثابتيږى نو پديكښى فرعه دأصل سره پيوسته شوه (فأنه يوخذ منه) امام زفروائى چى دتغلبى دمولى څخه به دوچنده دزكاة زمونږ ه چى خمس يعنى پنځه راځى په ځمكو كښى اخستلى شى اودځمكو څخه ماسوى په نورو مالونو كښى چى زكاة واجب وي نصف عشر چى شلمه راځى اخستلى به شى (كمولى القرشى) لكه ازاد كړى شوى غلام دقريشو چى دده څخه جزيه اوخراج اخستلى شى لكه دنور اهل الذمه وو څخه چى اخستلى شى سره ددي چى دعربى قريشى څخه جزيه نشى اخستلى يعنى په جزيه اوخراج كښى فرع دأصل پورى تعلق نه لرى نوكه درلودلى بياپكار وو چى دمولى القريشى څخه هم جزيه اوخراج اخستل شوى نه وى (فقوله عليه السلام) شارح ددي سره دامام زفر داستدلال څخه جواب كوى چى داحديث چى مولى دقوم به دقوم څخه وي داحمل دي په حرمت دصدقه كښى يعنى څرنگه چى په قوم صدقه حرامه ده نوددوي په مولى يعنى ازاد كړى شوى غلام هم حرامه ده نو مولى دهاشمى يعنى دبنو هاشمو به پشان دهاشمى وي په دى حكم كښى يعنى په حرمت دصدقه كښى څكه حرمتونه په شبهو سره ثابتيږى.

(ومصرف الجزية والخراج ومال التغلبى وهديتهم للامام وما أُخذ منهم بلا حرب مصالحنا كسدّ ثغور وبناء قنطرةٍ وجسرٍ) ضوء السراج فى بيان مصارف الجزية والخراج: مصنف رحمه الله وائى چى مصرف يعنى ځاى دمصرفولو دجزيې اوخراج اودمال دتغلبى يعنى چى دتغلبى څخه واخستلى شى (وهديتهم للامام) اودهغه مال مصرف چى كفاريې زمونږ امام ته په تحفه كښى راوليږى (وما أخذ منهم بلاحرب) اودهغه مال مصرف چى دكفارو څخه بلا جنگه واخستلى شى (مصالحنا) داخبردى لپاره دمصرف يعنى مصارف ددغو مذكورو مالونو زمونږ مصالح دي يعنى چى نفع اوفائده يې عامو مسلمانانو ته رسيږى (كسدّ ثغور) لكه دسرحداتو جوړول يعنى په

سرحداتوکښې پوستې وغيره جوړول اودسرحد ساتونکو فوجيانو باندي مصرف کول (وبناء قنطرة) اوجوړول دپوخ پُل (وجسرٍ) اودعارضي پُل دقنطرې اوجسر ترمنځ فرق دادي چې قنطرة هغه پُل ته ويلې شي چې په داسې طريقه جوړکړای شي چې دپورته کيدو امکان يې نه وي يعنې داوبو په سر پوخ جوړکړې شي جسر هغه پُل ته وائي چې داوبو په سر ايښودلې شي چې خلک پرې تيرشي خو پورته کولې هم شي يعنې په عارضي ډول جوړشوې وي [فتح القدير ص ۳۰۷ ج ۵ طبعه مکتبه حقانيه]

(وكفاية العلماء والقضاة ورزق المقاتلة وذراريهم) اوهمدارنګه به دجزيه وغيره څخه علماؤته قاضيانو ته (والعمال) اوعاملينو ته يعنې حکومتي کارکونکو ته (ورزق المقاتلة) اونفقه دمجاهدينو(وذراريهم) اودمجاهدينو داولاد به هم ددې جزيې وغيره څخه دومره ورکولې شي چې ددوي کافي کيږي خو دحاجت څخه زيات به نشي ورکولي (ومن مات في نصف السنة حُرِمَ من العطاء الخ) که ددغه مذکورو خلکو څخه چې دبيت المال څخه سهم لري دکال په منځ کښې مړشي نو ددغې ورکړې څخه به محروم وي (فانه صلة) ځکه دايو قسم انعام او احسان دی چې قبل القبض په دی ملکيت نشي راتللی نو په ديکښې نه ميراث چليږي اونه قبل القبض په ديکښې بيع هبه وغيره چليږي خو داپه مياشتې ياکلنې عطاء اوتنخواکښې خو که پاچاځمکه ورکړې نوبياپه هغې کښې هرقسم تصرف کولې شي (ويسقط باالموت) اودغه مياشتنې ياکلنې عطاء اوتنخوا په مرګ سره ساقطيږي يعنې دده دمرګ څخه وروسته بياده ورثه ددې عطاء داخستلو واک نه لري (وأهل العطاء في زماننا) خو زمونږ په زمانه کښې دعطاء زيات لائق خلک قاضيان مفتيان اومدرسين دی ځکه هم دوی دي چې اسلامي أحکام خلکوته رسوي اوتطبيقوي يې.والله اعلم.

باب المرتد

هرکله چې مصنف رحمه الله دبيان دأحکامو دکفر أصلي څخه فارغ شو نو شروع يې وکړه په بيان دکفر طارئ اوعارضي کښې ځکه طاری وروسته دوجود أصلي څخه راځي او مرتد په لغت کښې رجوع کونکي ته وائي اوپه شريعت کښي هوالراجع عن دين الاسلام الى غيره يعنې چې ددين اسلام څخه وګرځي بل دين ته [فتح القدير وعنايه ص ۳۰۷ ج ۵ طبعه حقانيه] .

(من ارتد والعياذ بالله عُرض عليه الاسلام وكشفت شبهته فان استمهل حُبِسَ)

توضیح: که العیاذ بالله څوک داسلام ددین مبین څخه مرتد شو نو اسلام به ورته وړاندی شی اوده ده شبهی به لری شی دکومو دوجی چی د ارتداد باعث ګرځیدلی دي (**فان استمهل**) نو که طلب دمهلت یې وکړو چی ماته وخت راکړې، زه فکر اوسوچ کوم نو دری ورځی به بندی کړی شی چی ونه تښتی (**فان تاب فیها**) نو که توبه یې ویسته یعنی اسلام یې قبول او دنورو باطلو أدیانوڅخه بیزاره شو نو فبها ونعمت (**والا قتلت**) او که توبه یې ونه ایسته نو سمدست به قتل کړی شی همدارنګه که طلب دمهلت ونه کړی نو هم به سمدست وژلی شی (**ومعنی فبها**) اودفبها معنی داسی ده چی (**فبالخصلة الحسنة أخذ**) یعنی په نیک اوښایسته خوی باندي عمل وکړو (**وکلمة والا**) اود والا کلمه داستثناء لپاره نه ده بلکی دا انْ حرف شرط دی او لاء نافیه دی چی یو په بل کښی مدغم شوی دی .

(**وهی أی التوبة بالتبرء عن کل دین سوی دین الاسلام او عما انتقل الیه**)

تشریح: اوداتوبه راځی په بې زاره کیدو سره دهر دین څخه ماسوی ددین اسلام نه (**اوعما**) اویا داتوبه راځی په بې زاری سره دهغه دین څخه چی دامرتد ورته نقل شوی او اوړیدلی دی (**وقتله قبل العرض**) اووژل دمرتد مخکښی داسلام وړاندی کولو څخه دیو مستحب کار پریښودل یعنی مرتد ته بیا اسلام وړاندی کول مستحب دي واجب نه دي نو که مرتد داسلام وړاندي کولو څخه مخکښی ووژل شی نودي سره دیو مستحب کار پریښودل راځی ځکه داسلام وړاندي کول ورته مستحب دي نه واجب (**بلاضمان**) اوبه قاتل باندي په دی صورت کښی نه ضمان ددیت شته اونه کفاره شته ځکه چی په ارتداد سره مستحق دقتل دي نو دده قتل مباح دي اوبه مباح کارکښی هیڅ شی نشته (**وعندالشافعي رحمه الله یجب**) امام شافعی رحمه الله وائی چی واجب ده چی دری ورځی مهلت به ورکوی او ددري ورځو څخه مخکښی یې وژل حلال نه دي ددي لپاره چی داپه یوه شبهی سره مرتد شوی چی دغه موده کښی سوچ وکړی مونږ ورته وایو چی د اسلام ددین حقانیت په ټوله نړۍ کښي مشهور دي اودغه شهرت ده ته کافی دي نو مهلت ته ضرورت نشته البته که طلب یې وغوښته نو بیا مستحب ده چی مهلت ورکړل شی .

(**ویزول ملکه عن ماله موقوفاً فان أسلم عاد وان مات أو قُتل أولحق بدارهم وحُکم به عتق مدبره وأم ولده وحل دین علیه**)

تنقیح: اودمرتد ملک ختمیږی دټول هغه مال څخه چی داسلام په حالت کښې دده په ملکیت کږ وی خو په زوال موقوف سره یعنی که اسلام یې بیرته قبول کړو **(عاد)** نومال به دده په ملکیت کږ دمخکې په شان وي **(وان مات)** اوکه په خپل مرګ مړشو په دارالاسلام کښې یا دمسلمانانو لخ پدی ارتدادسره ووژلی شی **(أولحق بدارهم وحكم به)** یا دامرتد ددارالحرب پورې پیوسته شو اوحکم هم دده په پیوسته کیدو وشی نو دده ملک پوره ختم شو او مدبر او أم ولد یې أزاد ش **(وحلّ دين عليه)** اوکوم قرض چی په دی مرتد باندې په نیته سره وو نو هغه حالاً وګرځیده یعنې سمدست به دده دمال نه أداکولی شی ځکه دامرتد په حکم دمړی کښې وګرځیده او دمدیون پ مرګ سره دین حالاً ګرځی **(وعندالشافعی بقی ماله موقوفاً کما کان)** امام شافعی رحمه الله وائی چی کله ددارالحرب پورې پیوسته شی نو دده مال به همداسی موقوف پاتی وي لکه څرنګه چو مخکې وو .

(وکسب اسلامه لوارثه المسلم وکسب ردته فيء)

تشریح: دده دمرګ څخه وروسته به دده مال تقسیمولی شی دوړثوو ترمنځ نو که داسلام په حالت کښې کومه ګټه کړی وه نودابه دده مسلمان وارث لپاره وی اوکومه ګټه چی د ارتداد په حالت کښې کړی ده هغه به فيء اوغنیمت وي په بیت المال کی به کیښودلی شی.دا دامام أبوحنیفه رحمه الله پ نزد باندې او صاحبین وائی چی د اسلام په حالت کښې ګټه او د ارتداد په حالت کښې ګټه دواړه به دده مسلمان وارث لره وي خو په شرط ددې چی ددارالحرب پورې دپیوسته کیدو څخه مخکښې دغه ګټه کړی وي **(وعندالشافعی کلاهما فيء)** امام شافعی رحمه الله وائی چی دواړه ګټې یعنې چی داسلام په حالت کښې کړی وی اوکه د ارتداد په حالت کښې دواړه به فيء اوغنیمت وي دامام شافعی رحمه الله دلیل دادې چی مرتد کافردې اومسلمان دکافر څخه میراث نشی وړلی نو دده ټول مال به غنیمت وی صاحبین وائی چی مرتد به په اسلام راوړلو مجبوره کولی شی نو په ده باندې به په حق د وژلو کښې حکم داسلام کولی شی نودواړه ګټې دده به دمسلمان وارث وي او امام أبوحنیفه رحمه الله وائی چی دواړو ګټو کښې فرق دې ځکه دده دمرګ نسبت ارتداد ته کیږی نو نسبت دمیراث به دده په هغه ګټه کښې چی داسلام په حالت کښې کړی ده ددې څخه مخکښې وخت ته کیږی ځکه دې وخت کښې هغه مال دده په ملکیت کښې موجود وو نودامیراث وړل شو دمسلمان دمسلمان څخه اوکومه ګټه چی یې د ارتداد په حالت کښې کړی ده ددې نسبت دمیراث وخت داسلام ته نه کیږی ځکه دغه به هغه وخت کښې موجود نه وو نو که ددې مال فیصله دوړثوو لپاره

وکړي شي نو دا به ميراث وړل شي د مسلمان د کافر ځخه او دا جائز نه ده **(وقضى دينُ كلِّ حالٍ من كسب تلك)** او پوره کولى به شي قرض د هر حالت د ګټې د دغه حالت ځخه يعنى قرض په حالت د اسلام کې به پوره کولى شي د هغې ګټې ځخه چې د اسلام په حالت کې کړې وى او قرض په حالت د ارتداد کې به پوره کولى شي د هغې ګټې ځخه چې د ارتداد په حالت کې کړې وي۔

(وبطل نكاحه وذبحه وصح طلاقه واستيلاده) او باطله ده نکاح د مرتد او ذبح د ده ځکه د دي د دواړو اعتماد په يوه عقيده وي او د مرتد عقيده نه وي چې په هغې پوخ ولاړ وي **(وصح طلاقه)** او د مرتد طلاق او ام ولده ګرځول صحيح دي ځکه چې نکاح د ولايت کامله قيام ته ضرورت نه لري ځکه د غلام نه صحيح کيږي نو مرتد نه خو په طريقه أولى سره صحيح کيږي او د استيلاد لپاره حقيقى ملک ته ضرورت نشته ځکه د ځوي وينزه پلار أم ولد ګرځولى شي نو مرتد خو په طريقه أولى سره **(فانه قد انفسخ النكاح)** دا دفع د يو اعتراض ده چې د مرتد طلاق ځنګه صحيح کيږي ځکه طلاق په بقاء د نکاح باندي اعتماد کوى نو د نکاح ځخه مخکښې هم طلاق نه صحيح کيږي او د نکاح د ختميدو ځخه وروسته هم طلاق نه صحيح کيږي او د مرتد په صرف ارتداد سره نکاح ختميږي ؟ شارح رحمه الله د دفع د دغه اعتراض لپاره دوه صورته راوړل (۱) دا چې په ارتداد سره نکاح فسخه شوه نو ښځه معتده شوه نو که په عدت کښې طلاق ورکړي نو واقع کيږي (۲) **(وكذا اذا ارتد معاً)** همدارنګه چې دواړه يوځاى مرتد شي نو بيا نکاح نه فسخه کيږي **(فطلقها)** بيا مرتد طلاق ورکړو **(فأسلما معاً)** نو بيا دواړو يو ځاى اسلام راوړو نو په دى صورت کښې نکاح نه فسخه کيږي نو طلاق واقع کيږي **(وتوقف مفاوضته وبيعه الخ)** او موقوف به وي شرکت مفاوضه د ده يعنى که دغه مرتد د ارتداد ځخه مخکښې د يو مسلمان سره شرکت مفاوضه کړې وو نو د ارتداد په صورت کښې به د ده دغه تصرف موقوف وي ځکه شرکت مفاوضه کښې مساوات وي او د مسلمان او مرتد ترمنځ مساوات نشته شرکت مفاوضه هغه شرکت ته وائى چې دواړه په مال کښې په تصرف کښې په دين کولو برابروي لکه وروسته به ان شاء الله کتاب الشركة کښې راشى همدارنګه بيع د مرتد او اخستل د ده او هبه د ده او اجاره د ده او مدبر کول د ده او عقد کتابت د ده او وصيت د ده به موقوف وي که اسلام يې راوړو نو نافذ به وي او که اسلام يې رانه وړو نو که مړشو يا قتل شو يا د دارالحرب پورې پيوسته شو او د ده په پيوسته کيدو حکم وشو نو دغه ټول تصرفات مذکوره د ده به باطل وي

(اعلم أن النكاح) شارح وائى چې نکاح او ذبح يې با الاتفاق باطل دي او طلاق او ام ولده ګرځول يې

باالاتفاق صحيح دي اوشركت مفاوضه يې با الاتفاق موقوف دي اوباقي تصرفات يې دامام ابوحنيفه په نزد موقوف دي او دصاحبينو په نزد نافذدي (**فان جاء مسلماً**) كه دغه مرتد دحاكم دحكم څخه مخكښې يعني مخكې لدې چې حكم يې دده په پيوسته كيدو سره كړې وي ددارالحرب پورې بيرته دارالاسلام ته مسلمان راغي نو دا داسې ده لكه بالكل چې مرتد شوى نه وي نو ټول حقوق به يې په خپل ځاى وي (**وان جاء بعده**) اوكه دحاكم دحكم څخه وروسته راغي (**وماله مع ورثته**) او دده مال دده دورثوو سره وو (**أخذه**) نو خپل مال به واخلي (**ولاتقتل مرتدة**) اوكه ښځه مرتده شي نو نشي به وژلې او امام شافعي وائي چې ښځه كه مرتده شي نو هم به وژلې شي ځكه نبي عليه السلام فرمائي چې چا دين بدل كړو نو وئي وژنئ اومونږ دادليل وايو چې نبي عليه السلام دښځو وژلو څخه منع كړې ده (**وتُحبس**) نو په محبس كښې به واچول شي تردې چې بيرته اسلام راوړي (**وصح تصرفها وكسباها لورثتها**) اوددې مرتد تصرف صحيح دي ځكه عصمت دمال تابع دنفس دده نو په ردت سره ددې دنفس عصمت نه ختميږي ځكه دانشي وژلې نو همدارنګې به ددې دمال عصمت هم نه ختميږي نو دواړه ګټې ددې به ملكيت ددې وي نو تصرف يې هم پكښې صحيح دى (**وكسباها لورثتها**) او دواړه كسبونه ددې يعنې كسب اوګټه په حالت داسلام كښې اوپه حالت د ارتداد كښې به ددې دمرګ څخه وروسته ددې دورثوو وي.

(**فان ولدت أمته فادعاه فهو ابنه حر أيرثه في المسلمة مطلقاً أن مات أولحق بدارهم وكذا في النصرانية الااذاجاءت به لأكثر من نصف حول منذ ارتد**)

تشريح: كه دمرتدوينزې بچى راوړلو اومرتد دهغې دعوى وكړه چې دا له ماڅخه دي نو نسب ددې ماشوم دمرتد څخه ثابتيږي اوداماشوم به ازاد وي اوكله چې مرتد مړشي په حقيقي مرګ سره ياپه حكمي سره چې هغه ددارالحرب پورې پيوسته كيدل دي نودغه بچې تري ميراث وړلې شي په وينزه مسلمانه كښې مطلقاً يعنې چې دارتداد او ولادت ترمنځ موده دشپږو مياشتو څخه كمه وي اويازياته وي ځكه بچې تابع دخيرالأبوين وي په اعتبار ددين سره نو تابع به دمور وي نو دمور دوجې داهم مسلمان ګرځي اومسلمان دمرتد څخه ميراث وړلې شي (**وكذا في النصرانية**) همدارنګې حكم دى په وينزه نصرانيه يا يهوديه كښې يعنې كه ارتداد او ولادت ترمنځ موده دشپږو مياشتو څخه كمه وه نو بيا ميراث وړلې شي (**الا اذاجاءت الخ**) مګر كه موده دشپږو مياشتو څخه زياته وه نو بيا ميراث نشي وړلې ځكه بيا ولد تابع دپلار وګرځيده اوپلار يې مرتد

دي (ولایتبع الأم) خو بچي په دي صورت کښې دمور تابع نه ګرځي ځکه پلار مرتد به په اسلام مجبوره ولي شي نو پلار نژدې شو اسلام ته دنصرانيي ځخه (وان لحق بماله) اوکه مرتد سره دخپل مال نه دارالحرب ته خان ورساوه (فظهر علیه) بیا دمسلمانانو لخوا وربانديي غلبه وشوه (فهو فيء) نو دغه مال دمرتد به فيء او غنیمت وي په بیت المال کښې به ایښودلی شي (فان رجع فلحق بماله) اوکه مرتد دارالحرب ته بلا ماله خان ورساوه اوقاضي دده په پیوسته کیدو حکم وکړو بیا بیرته دارالاسلام ته راغی بیا دارالحرب ته سره دمال نه پیوسته شو (فظهر علیه) بیا دمسلمانانو لخوا وربانديي غلبه وشوه نو که دغه مال دمجاهدینو غانمینو ترمنځ تقسیم شوی نه وو نو دا دده دوارث لپاره دي ځکه کله چي قاضي دده په پیوسته کیدو حکم صادر کړو نو دده وارث پشان د مالک قدیم وګرځیده اومالک قدیم دمجاهدینو ځخه زیات حقداردي اوکه دمجاهدینو ترمنځ تقسیم شوی وو نو بیابه یې په قیمت اخلی ددي لپاره چي دجانبینو رعایت وشي یعنی دوارث اودمجاهدینو.

(فان قُضي بعبد مرتدٍ لحق لابنه فکاتبه فجاء مسلماً فبدلها والولاء للأب)

توضیح: که فیصله وشوه په غلام دمرتد باندي داسي مرتد چي ددارالحرب پوري پیوسته شوی دافیصله دخوي دمرتد لپاره شوی وه (فکاتبه) نو دمرتد خوي ددي غلام سره عقد کتابت وکړو (فجاء مسلماً) بیا دغه مرتد بیرته دارالاسلام ته مسلمان راغی (فبدلها) نوبدل کتابت یعنی مال دکتابت (والولاء) او ولاء دمکاتب به دپلار لپاره وي (والما کان البدل الخ) اوبدل کتابت او ولاء دمکاتب به ځکه دپلار لپاره وي چي دغه کتابت دخوي لخوا جائز واقع شوی دي اوځوي دپلار خلف اوقائمقام دي په مال کښې نو کله چي یې پلار بیرته دارالاسلام ته مسلمان راغی نو دغه ځوي پشان دوکیل وګرځیده دپلار لخوا نو بدل عتق به دپلار وي اوعتق ددي غلام به هم دپلار ځخه واقع وي.

(ومن قتله مرتد خطأً فلحق أوقُتل فدیته في کسب الاسلام)

توضیح: که مرتد یوکس لره په خطأ سره قتل کړي او بیا ددارالحرب پوري پیوسته شي او یا قتل شي نو دیت ددغه مقتول چي مرتد وژلی په کسب اوګټه داسلام کښې وی یعنی دغه مرتد چي داسلام په حالت کښې کومه ګټه کړي وه. سوال. دیت خو په عاقلو وي نودلته ولي دمرتد په مال کښې مقرر شو؟ نو شارح جواب وکړو چي دیت دلته ځکه په عاقلو نشته چي دیت په عاقلو باندي

دوجی دنصرت اوکومک ځخه وي اودلته دمرتد او عاقلو ترمنځ نصرت قطع شوی دی نو په عاقلو به نه وي بلکه په مال دمرتد کښی به وي خو امام أبوحنيفه په نزد به په ګټه اوکسب داسلام کښی وي ځکه د ارتداد په حالت کښی ګټه غنيمت دي اوصاحبين وائی چی په دواړو ګټوکښی به وي ځکه دواړه دده مالونه دي.

(ومن قطع يده عمداً فارتد والعياذ بالله ومات منه أولحق بدار الحرب فجاء مسلماً فمات منه ضمن القاطع نصف الدية في ماله لوارثه)

تشریح: دچاچی لاس کټ شی قصداً په حالت داسلام کښی اوبيا دلاس پری کيدو ځخه وروسته العياذ بالله مرتد شی او د ارتداد په حالت کښي دهمدی کټ کيدو ځخه مړشی **(أولحق بدارالحرب)** يا دلاس کټ کيدو ځخه وروسته ددارالحرب پوری پيوسته شی بيا بيرته دارالاسلام ته مسلمان راشی **(فمات منه)** بيا په دارالاسلام کښی د اسلام په حالت کښي دلاس کټ کيدو ځخه مړشی نو په دواړو صورتونو کښی په لاس پری کونکی باندي يعنی دده په مال کښی ديت ديولاس دي چی هغه نيم ديت دنفس راځی **(لوارثه)** او دمرتد وارث ته به ورکولی شی **(لأن القطع الخ)** ځکه دلاس کټ کيدل **(حلّ)** واقع شوی **(محلّ معصوماً)** په محل معصوم باندي ځکه دغه وخت دامسلمان وو **(والسراية)** خو چی سرايت يې وکړو مرګ ته **(حلت)** دغه سرايت واقع شو په محل غير معصوم باندي ځکه دغه وخت هغه مرتد شوي وو يا ددارالحرب پوری پيوسته شوی وو **(فاعتبرالقطع)** نو دديت په واجبيدو کښی اعتبار لاس کټ کولو ته دی نه سرايت ته نو ديت ديو لاس يعنی چی نيم ديت دنفس راځی واجب شو **(وانما تجب)** دادفع ديو اعتراض ده چی ديت په قتل کښی اوپه کټ کولو داندامونو کښی په عاقلو وي نو تاسی ځنګه حکم وکړو چی ديت واجب دي په مال دقاطع کښی جواب دادي چی په عاقله باندي ديت په قتل خطأ کښی واجب دي بيا بل سوال دا وارديږی چی قتل عمد سره خو قصاص واجبيږی نو پکار ده چی دقاطع لاس کټ شی نه داچی ديت واجب شی نو شارح رحمه الله جواب وکړو چی **(انما تجب في ماله)** چی ديت دقاطع په مال کښی ځکه واجبيږی چی ديت دقتل عمد عاقله نه برداشت کوی بلکی دقتل خطأ ديت برداشت کوی اوقصاص ځکه واجب نه دي چی دلته شبه موجود ده اوشبه سره قصاص او حدود ساقطيږی چی هغه شبه ارتداد دي ځکه ارتداد سره مرتد غير معصوم ګرځي **(وقوله أولحق)** يعنی ددارالحرب پوری پيوسته شي ... قاطع ... پيوسته ... کښی ... ګرځی.

(وان أسلم هاهنا فمات ضمن كلها)

تنقيح: اوکه دغه مرتد چې لاس یې کټ شوی وو بیرته اسلام په دارالاسلام کښې راوړو یعنې مخکې دلحوق څخه دارالحرب پورې یاوروسته دلحوق نه ددارالحرب پورې خوقاضي لا حکم وربانديٍ دلحوق نه وو کړی (فمات) چې ددي لاس کټ کیدو دوجې مړشو (ضمن كلها) اوس به دیت دټول نفس ورکوی (والما يجب) څکه مرتد په وخت دلاس کټ کیدوکښې معصوم وو یعنې مسلمان وو همدارنګه دغه سرایت مرګ ته هم د ارتداد څخه وروسته په حالت داسلام کښې وو داد امام أبوحنیفه رحمه الله او امام أبو یوسف رحمه الله په نزد باندي (وعند محمد) او امام محمد رحمه الله وائی چې په دي صورت کښې هم نصف دیت دي (لأن الارتداد) څکه مرتد کیدل پس له لاس کټ کیدو څخه (أهدر السراية) باطل یې کړو حکم دسرایت څکه دا هم حکما مرګ دی نو ضمان دنفس نشته بلکې ضمان دلاس کټ کیدو صرف شته (فلا ينقلب) نو په اسلام راوړولو سره بیرته ضمان دنفس ته نه راګرځي .

(ومكاتب ارتد فلحق فأُخذ بماله فقتل فبدلها لسيده ومابقي لوارثه)

تلميح: که یو مکاتب مرتد شي او ددار الحرب پورې پیوسته شي اوهلته په حالت دردت کښې مال وګټي (فأُخذ بماله) او ونیول شو دمال سره یعنې بندی شو بیا قتل شو (فبدلها) نو بدل کتابت به دده دبادار لپاره وي یعنې بادار به تري خپل حق د بدل کتابت واخلی (ومابقی) اوکوم شی چې دبدل کتابت څخه پاتی شي نو هغه دمکاتب د ورثوو دي .

(زوجان ارتدا فلحقا فولدت هي ثم الولد فظهر عليهم فالولد في ءوالاول يجبر على الاسلام لا ولده)

تلویح: ښځه اوخاوند دواړه مرتد شو اودواړه ددارالحرب پورې پیوسته شو بیا دغې ښځې په دارالحرب کښې بچې وزیږاوه (ثم الولد) بیا ددغه بچي بچي پیداشو بیاپه دوي باندي غلبه دمسلمانانو وشوه (فالولدان فيء) نو دواړه بچي یعنې دښځې بچي او دبچي بچي دواړه فيء او غنیمت وګرځیده (والأول) خو اولنی بچي یعنې ددي ښځې اوسړی صلبي بچي به په اسلام مجبوره کولی شي څکه داتابع دمور اوپلار دي په اسلام اوردت کښي او مور اوپلار یې په اسلام مجبوره کولی شي نو داسکنی بچي به یې هم په اسلام مجبوره کولی شي (لاولده) خو ولدالولد یعنې دښځې دأولاد بچي به په اسلام نشي مجبوره کولی څکه داتابع دنیا نیکه او مور اوپلار نه

ګرځي ځکه داتابع ده او تابع دبل چاتابع نه ګرځی او فيء ددي وجی ده چی داپه حکم دأهل الحرب کښی دي (**وفی رواية الحسن**) اوپه روایت دحسن کښی دامام أبوحنيفه رحمه الله څخه راغلی چی ولد الولد به هم په اسلام مجبوره کولی شی (**وهذا بناء**) دا اختلاف مبنی دی په دي باندي چی ولدالولد تابع دنيکه نه دي په اسلام کښي نو دنيکه په اسلام سره ولد الولد نه مسلمان کیږی داظاهر الروايت دي (**ويُتبعه فی رواية الحسن**) اوپه روایت دحسن کښی ولد الولد تابع دجد وي په اسلام کښی نو دابه هم په اسلام مجبورولی شی .

(وصح ارتداد صبيّ واسلامه ويجبر عليه ولا يقتل ان أبى)

القول الفاصل فی ارتداد الصبی العاقل: که يو ماشوم چی عاقل وي يعنی تميز کولی شی او داسلام څخه مرتد شی نو ارتداد يې صحيح دي نو که دده دمرتد کيدو څخه وروسته يې يو مسلمان خپلوان مړ شی نو داماشوم تري ميراث نشی وړلی (**واسلامه**) همدارنګه ددي ماشوم اسلام هم صحيح دي اوداسلام أحکام ورباندي مرتب کیږی (**ويجبر عليه**) اوکله چی ددي ماشوم ارتداد صحيح شو نو په اسلام باندي به مجبوره کولی شی په وهلو اوبندي کولو سره ځکه اسلام دده لپاره مفيد دي (**ولا يقتل ان أبى**) خو که انکار وکړی داسلام څخه نو قتلولی به نشی ځکه دماشوم دقتل څخه منع راغلی ده (**هذا عندنا**) او دارتداد صحيح والی او داسلام صحيح والي زمونږ په مذهب کښی دی (**وعندالشافعی وزفر**) امام شافعی رحمه الله او امام زفر رحمه الله وائی چی نه يې ارتداد صحيح کیږی اونه يې اسلام صحيح کیږی (**ولنا أن علياً رضی الله عنه**) زمونږ لپاره دادليل نقلی دي چی حضرت علی رضی الله عنه په ماشوموالی کښی اسلام راوړی وو او نبی عليه السلام دده اسلام هم صحيح وګڼه (**وافتخاره**) او دحضرت علی رضی الله عنه فخر کول په دی اسلام باندي چی دماشوم والی په حالت کښی راوړی مشهوردي ځکه حضرت علی رضی الله عنه به داسی شعر ويلی شعر: (**سَبَقْتُكم علی الاسلام طراً**) ماوړاندی والی کړی له تاسی ای معاويه او دمعاويه ملګرو په اسلام باندي دټولو څخه (**غلاماً مابلغتُ او ان حلمی**) په داسی حالت کښی چی زه ماشوم ووم اوزه نه وم رسيدلی وخت دبلوغ ته .

باب البغاة

دا اخری باب دي دباب دمرتدینو څخه ځکه باغیان کم وي بغاة جمع دباغی ده اوبغی په لغت کی طلب ته وائی لکه قرآن کریم کښی چی راځی ذلک ماکنا نبغی الله تعالی حکایت دخضر علیه السلام څخه کوی په عام عرف باغی مشهوره دي په طلب دهغه څه کښی چی حلال نه دي لکه ظلم وغیره خو دفقهاؤ په اصطلاح کښی باغی هغه چاته ویل کیږی چی دامام حق دتابع داری څخه ووځی او داپه څلور قسمه دي (۱) چی بی له څه تاویله دامام دطاعت څخه ووځی طاقت اولښکر ورسره وي اوکه نه وي خو دخلکو مالونه اخلی خلک وژنی خلک په لاروکښی ویره وي چی دي ډلی ته قطاع الطریق وائی (۲) چی دامام حق دتابعداری څخه ووځی خو طاقت اولښکر ورسره نه وی لیکن یو تاویل لری نو ددوې حکم هم پشان دحکم دقطاع الطریقو دي (۳) هغه خلک دي چی زور اوطاقت هم لري او ترشا حمایت هم لري داسلامی أمیر په خلاف راووځی په دي تاویل سره چی ددوي په ګمان دا أمیر په باطله دي او په کفر دي او په داسی ګناه دي چی وژل یې پکار دي چی دی ډلی ته خوارج وائی دوي دمسلمانانو وینی حلالی ګڼی اومال یې هم حلال ګڼی یعنی غنیمت یې ګڼی او دمسلمانانو ښځوته کنځلی کوی او صحابوو ته نسبت دکفر کوی لکه اوس زمانه کښی چی خوارج دداعش په جامه کښی راپیداشول چی دمسلمانانو وینه حلاله بولی علماء ئی شهیدان کړل او دخلکو کورونه اومالونه یې چور کړل اودشرعی أمیر شهید ملا أختر محمد منصور رحمه الله په خلاف اوبیا دأمیرالمؤمنین شیخ هیبت الله اخندزاده په خلاف یې بغاوت شروع کړو چی دنړی ټولو علماؤ وربانديي متفقه فیصله وکړه چی داخوارج دي چی اکثریت ددي اوس غیر مقلدین دي نو دجمهورو علماؤ په نزد ددوي حکم حکم دباغیانو دي (۴) هغه مسلمان قوم دي چی دشرعی أمیر په خلاف راووځی خو دخوارجو پشان دچا وینه اوما حلال نه ګڼی دیته باغیان وائی۔ فتح القدیر مع الزیادة ص ۳۳۴ ج ۵ طبعه مکتبه حقانیه

(قوم مسلمون خرجوا عن طاعة الامام دعاهم الی العود وکشف شبهتهم فان تحیزوا مجتمعین حل لنا قتالهم بدءًا)

تعریف البغاة: باغی هغه مسلمان قوم دي چی دطاعت دشرعی أمیر څخه وتلی وي په دي دعوی سره چی حق له مونږ سره دي نه له امام سره **(دعاهم)** امام به دوي ته دعوت ورکړی دبیرته راګرځیدلو اطاعت دأمیر ته **(وکشف)** اوکومی شبهی سره چی دوي داطاعت دأمیر څخه وتلی دي هغه لري کړی **(فان تحیزوا)** .... **(حل لنا)** نو مونږ ته ددوي سره جنګ ابتداءً حلال دي یعنی

که دوي شروع دجنګ نه وی کړی نو هم مونږ ته جائز دي چی شروع دجنګ ورباندي وکړو (**أي انحازوا**) شارح رحمه الله دتحيزو معنی کوی چی په معنی د انحازو سره دي يعنی (**مالوا الی فئة**) يعنی چی دوي مائله شی يو ډلی دمسلمانانو ته چی ددوي سره په مخالفت دشرعی أمير کښي امداد اوکومک وکړي (**واجتمعوا**) او يو ځای ته راجمع شی او يو ځای ونيسی نو مونږ لره ابتداءً په دوي ذجنګ شروع کول جائز دي (**خلافاً للشافعی**) امام شافعی وائی چی باغيان مسلمانان دي او دمسلمان قتل ابتداءً جائز نه دي (**ونحن نقول**) مونږ وايو چی حکم ددليل سره ګرځي چی دليل موجود شو نو حکم به هم موجود وي او دليل دقتال دلته موجود دي چی هغه ددوي په يو ځای کښی راجمع کيدل دی اودشرعی أمير داطاعت څخه انکار دي (**وهو تعسکرهم**) چی هغه ددوي جنګ ته ځان تيارول دي اوراجمع کيدل دی (**فان صبر**) نو که امام دي ته صبر وکړي چی باغيان شروع دجنګ وکړي (**فربما لايمکن دفع شرهم**) نو بيا ډير کرتی ددوي دشر دفعه ممکن نه وي ځکه هغوي ځانونه قوي کړي وي اوډله يې زياته شوي وي لکه همداسی دداعشی خوارجو په رابطه هم وشو چی مجاهدينو ورباندي اقدام نه کاوه چی دابه توبه وباسی خو ددينه دوي غلطه استفاده وکړه او ځانونه يې قوی کړل چی اوس عامو مسلمانانو ته او مجاهدينو ته سردردي جوړه شوی ده.

(**ونجهز علی جريحهم**) او مونږ به تجهيز کوو ددوي په زخميانو تجهيز معنی داده چی (**أتم قتله**) چی قتل يې ورتمام کړي دباغيانو زخمی به وژلی شی ځکه که جوړشی نوويره شته چی بيا باغيانوته ورشی (**وفيه خلاف الشافعی**) او په ديکښی اختلاف دامام شافعی رحمه الله دي هغه وائی چی دباغيانو سره جنګ جائز نه دي مګر دفاعی خو که زخمی شو يا وتښتيده نو ضرورت دفع ته پاتی نه شو (**ونتبع مولّيهم ان لهم فئة**) او که يو کس ددوي څخه دجنګ په وخت کښی وتښتي نو مجاهدين به وروسی کيږی يعنی نه به يې پريږدی که ډله يې درلوده اوپه ديکښی هم دامام شافعی اختلاف دي دليل يې مونږ مخکښی ذکرکړو (**والا فلا أي من لا فئة له**) اوکه چيرته يې ډله نه درلوده چی هغوی ته ورشی اوکومک ورسره وکړي (**لانجهز عليه**) مونږ به دده تمام والی په مرګ نه راولو په داسی حال کښی چی زخمی وي بلکه همداسی به يې پريږدو چی يا مړشی او يا اطاعت دأمير وکړي (**ولانتبعه**) او نه بيا وروسی کيږو په داسی حال کښی چی تيښته کوی (**لأنه**) ځکه بيا داويره نشته چی دنوری ډلی پوری به پيوسته شی نو دده په قتل کښی ضرورت نشته نو نشي به وژلی ځکه مسلمان دي.

(ولانسبي ذريتهم ونحبس ما لهم الى أن يتوبوا ونستعمل سلاحهم وخيلهم عند الحاجة خلافاً للشافعي)

عيون النكاة في بيان ذرية البغاة: او مونږ دباغيانو ماشومان اوښځې نه بندي کوو **(ونحبس)** خو مال به يې ساتې تردې چې توبه اوباسي **(ونستعمل)** او ددوي اسونه او سلاح دضرورت په وخت کښې مونږ استعمالولی شو **(خلافاً للشافعي)** امام شافعي رحمه الله وائي چې ددوي سلاح او اسونو استعمال جائز نه دي ځکه دادمسلمان مال دی بلا رضاء ددي استعمال جائز نه دي مونږ داجواب کوو چې حضرت علي رضي الله عنه دبصرې په ورځ ددوي سلاح دخپلو ملګرو ترمنځ تقسيم کړه خو داتقسيم دضرورت په اساس وو خو کله چې يې جنګ ختم کړو نو بيرته يې ورته سلاح وسپارله [بنايه]. **(ولايجب شيء بقتل باغ مثله ان ظهر عليه)** او نه واجبيږي هيڅ شی په قتل ديو باغي سره بل باغي لره که أهل العدل په دوي غلبه وکړه يعنی که يوباغي بل باغي لره قتل کړي نو نه به دقاتل څخه قصاص اخستلی شي اونه به بل شي ورباندي لازم وي چې کله نورمسلمانان أهل العدل ورباندي غلبه وکړي ځکه کله چې باغي بل باغي لره قتلوو نو دغه وخت امام دأهل العدلو په دوي ولايت نه وو نو يو شی هم نه واجبيږي.

(وان غلبوا على مصر فقتل رجلٌ من أهله آخر منه فظهر عليهم قُتل به)

تشريح: که باغيان په يو ښار غلبه وکړي اوبيايوکس ددي ښار څخه بل کس ددي ښار قصداً ووژني اودغه وخت کښې دباغيانو حکومت په دي ښار وي بيا په دي باغيانو دأهل العدنو مسلمانانو لخوا غلبه وشي **(قُتل به)** نو قاتل به پدي قتل سره وژلی شي يعنی دقاتل څخه به قصاص اخستلی شي خو په هغه صورت کښې چې باغيانو په دغه ښار کښې خپل أحکام جاری کړی نه وي ځکه دغه وخت کښې ولايت دامام ددي ښار څخه نه ختميږي نو أحکام دامام هم پکښې جاری کيږي.

(وباغ قتل عادلاً مدعيا حقيته يرثه الخ)

توضيح: که يو باغي خپل مورث چې عادل وي قتل کړی په داسې حال کښې چې باغي قاتل دعوه دخپل حقانيت کوی چې زه په حقه يم **(يرثه)** نو باغي قاتل دخپل مورث مقتول څخه ميراث وړلی شي ځکه دتاويل فاسد سره چې زور اوطاقت وي نو هغه تاويل فاسد دتاويل صحيح پورې پيوسته کيږي دا دامام أبوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله قول دي او امام أبو يوسف او امام شافعي رحمهما الله وائي چې باغي دعادل څخه ميراث نشي وړلی برابره خبره ده چې دعوه دحقيت

وکړي اوکه دا اقرار وکړي چې زه په باطله يم ځکه تاويل فاسد ته اعتبار په دفع دضمان کښې وي نه په باب داستحقاق دميراث کښې نو باغی دميراث مطلقا محرومه دي ځکه په ناحقه يې قتل کړي دي خو طرفين وائي چې لکه څرنګه چې په دفع دضمان کښې تاويل فاسد ته اعتبارو نو همداسې په دفع دحرمان کښې دميراث څخه هم تاويل فاسد ته اعتبار دي ځکه قرابت او خپلولی سبب دميراث دي (کعکسه) لکه عادل چې ميراث دباغی څخه وړي يعنې چې يو عادل يو خپل مورث باغی ووژني نو دميراث څخه نه محروميږي ځکه داقتل په حق سره دي اودميراث څخه محروميت ناحقه قتل راولي.

(فأن أقرانه على الباطل لا) خو که باغی دا اقرار وکړي چې زه په باطله يم نو بيا باغی قاتل ميراث نشي وړلی ځکه دلته شبه نشته چې هغه داتاويل دی چې داعقيده لري چې زه په حق يم يعنې داعقيده يې هم نشته (وبيع السلاح من رجل ان عُلم أن من أهل الفتنة كره والا فلا)

ترجمه: اودسلاح خرڅول په هغه سړی باندې چې که دامعلومات وو چې داد أهل فتنو څخه دي لکه قطاع الطريق باغيان وغيره مکروه دي ځکه دا اعانت على المعصية دي (والا فلا) اوکه داپته نه وه چې دا دفتنو والا څخه دي نو بيا مکروه نه ده ځکه بيا اعانت على المعصية نه راځي.

كتاب اللقيط

لقيط په لغت کې مايلقط أي يرفع من الأرض يعنې هغه ته وائي چې دځمکې څخه پورته کولی شي فعيل وزن دي په معنی دمفعول سره خو بيا دلقيط غلبه په استعمال کښې په هغه ماشوم وشوه چې غورزول شوی وی ديته هم ځکه لقيط وائي چې داهم په دې مقام کښې دې چې خلک يې راپورته کړي اوپه شريعت کښې دهغه ژوندي پيداشوی ماشوم نوم دي چې دخپل کور اهل والا غورزولی وي دوجې دشرم نه اودوجې دتهمت دزنا نه [فتح القدير ـ کفايه ، عنايه ص ۳۴۲ ج ۵ طبعه حقانيه].

(رفعه أحب وان خيف هلاكه يجب كاللقطة وهو حر الا بحجة رقه

طلق النشيط فی رفع اللقيط)

يعنې دغورزول شوی ماشوم اوچتول مستحب دي اوکه ويره دهلاکت دده وه نو بياه دده اوچتول واجب دي ځکه په ديکښې احياء دنفس راځي او الله تعالی فرمائي چې ومن احياها فکأنما أحيا الناس جميعا اوپه پرېښودوکښې يې ترک ترحم راځي په ماشومانو باندې اوبل په اوچتولو کښې اظهار دشفقت دي په ماشومانو باندې [کفايه ص ۳۴۲ ج ۵].

(كااللقطة) لقطه هغه مال دغير دي چې په لاره وموندلی شی نو ددي راپورته كول مستحب دي اوكه ويره دضائع كيدو وه نو بيا ددي پورته كول واجب دي خو داپه هغه صورت كښې چې په ځان دی باور وي چې زه يې نه خورم اوكه په ځان دی باور نه وو نو بيا يې پريښودل غوره دي نو دلقيط حكم هم پشان دلقطی دي په راپورته كولو كښې (وهو حر) اودغه لقيط ماشوم به ازاد وي يعنې په ده باندي به حكم دحريت كولی شی ځكه أصل په اولاد د آدم كی حريت دي اوخاص طور چې دارالاسلام كښې وي (الا بحجة رقه) مگر كه داسی دليل اوگواهان موجود شو چې دا رقيق يعنې مملوک غلام دی يالقيط په خپله اقرار وكړي چې كله بالغ شی چې زه رقيق يم نو بيابه دده په رقيق والی حكم كولی شی (ونفقته وجنايته فی بيت المال وارثه له) او نفقه دلقيط يعنې خرڅ اوخوراكه وغيره دده به دبيت المال څخه وي ځكه لقيط يو مسلمان عاجز دي دكسب كولو څخه او نه مال لري اونه خپلوان (وجنايته) همدارنگه دده جنايت به هم دبيت المال څخه وي يعنې كه څه جنايت وكړي نو دبيت المال څخه به وركولی شی (وارثه له) كه لقيط مړشی اوخپلوان ونه لري نو دده مال به هم دبيت المال وي (ولايؤخذ ممن أخذه) كه چا لقيط راواخستو نو بل كس ته داحق نشته چې دده څخه لقيط په زوره واخلی ځكه حق دحفاظت ده ته ثابت دي ځكه اول ده راخستی دي .

(ونسبه ممن ادعاه ولورجلين أو ممن يصف منهما علامة به)

توضيح: ددی لقيط نسب به دهغه چا څخه ثابت وي چې چادده دعوه وكړه چې داځما ځوي دي (ولورجلين) اگر كه مدعيان دوه سړی وي خو داپه هغه صورت كښې چې ديوه لپاره دليل مرجح نه وي اوكه دده دنسب دعوه اخستونكی اويو بل كس وكړه نو اخستونكی زيات حقدار دي ځكه صاحب اليد أولی دي (اوممن يصف) اويا دده دعوه دوه كسان وكړي خو چاچې دلقيط په بدن كښې يوه علامه اونښه بيان كړه اوداكس په دي كښې ريښتونی وو يعنې دغه علامه پكښې وه نونسب به دهمدي كس څخه ثابت وي (والا فهما سواء) اوكه يوه هم نښه بيان نه كړه نو بيا دواړه يوشان دي

(ثم عطف علی قوله ولورجلين قوله اوعبداً أوكان حراً)

تويخ: مصنف رحمه الله داقول او عبداً عطف كړو په ولو رجلين باندي يعنې يادامدعی غلام وو نوبيا په دي صورت كی نسب ددي لقيط دغلام نه ثابت دي خو لقيط به أصيل وي ځكه أصل په دارالاسلام كی حريت دي اورق دعارض دوجې ثابتيږی .

(أو ذمياً و كان مسلماً أن لم يكن في مقرهم)

تشريح: يادامدعى دلقيط ذمي وي نو بيا نسب دلقيط به دذمي څخه ثابت وي خو لقيط به مسلمان وي دوجی ددارالاسلام څخه خو كه دذميانو په مقر كښې يعنى ځاى داوسيدلو كښې نه وى يعنى دمسلمانانو په يو ښاريايو كلي كښې وموندل شى **(وذمياً ان كان فيه)** او دغه لقيط به بيا ذمي وي كه دذميانو په مقر كښې وو يعنى ځاى داوسيدلو د ذميانو كښې وموندل شو او دعوه دنسب يې هم ذمي كړي وه **(وماشدّ عليه فهو له)** اوكه څه مال په لقيط تړل شوى وو نو دا دلقيط ملك دى **(وصرف اليه بأمر قاض)** اودغه مال چې دلقيط سره موندل شوى دابه مصرفولى شى په لقيط باندي خو دقاضى په أمر باندي ځكه داضائع كيدونكى مال وو نو دقاضى أمر پكښې ضرورى دي ځكه قاضى ولايت عامه لري **(وقيل بدونه)** خو بعض علماء وائى چې دقاضى أمر ته ضرورت نشته بلكې ملتقط به دغه مال په لقيط بدون دأمر دقاضى څخه مصرفوى **(والملتقط قبض هبته)** او دلقيط اخستونكى ته داجائز دي چې لقيط ته څوک هبه يا صدقه راوړي اودايې قبض كړي همدارنګه ملتقط ته داحق شته چې په لقيط خرچه وكړي لكه طعام جامه وغيره **(وتسليمه في حرفة)** او ملتقط ته داهم شته چې لقيط يو كسب اوكارته وسپارى ځكه دي سره دده تهذيب او دژوند برابر والى راځى **(لا انكاحه وتصرف ماله ولا اجارته في الأصح)** خو ملتقط ته داحق نشته چې لقيط ته نكاح وكړي ځكه چې شبب دولايت نشته چې هغه يا قرابت اوخپلولى ده يا حكومت وغيره دى همدارنګه ملتقط په مال دلقيط كښې تصرف دبيع اوشراء نشى كولى ځكه تصرف مالى په پوره فكر اوشفقت سره ثابتيږى او په ملتقط كښې پوره شفقت نه وي **(ولا اجارته في الأصح)** او ملتقط ته جائز نه دي چې لقيط چاته په اجاره وركړي ځكه ملتقط دا واک نه لري چې لقيط منافع تلف كړي خو شارح په في الأصح كښې اشاره اختلاف ته وكړه چې په يو روايت كښې جائز دى چې ملتقط لقيط لره په اجاره وركړي خو صحيح داده چې جائز نه دي كماقلنا.

كتاب اللقطة

لقطه دهغه مال نوم دي چې په ځمکه غورزول شوی وی لقطی ته ولی لقطه وائی ځکه (**لأنها تلتقط غالبا أي تؤخذ وترفع**) یعنی داغالباً را اخستلی شی اوپورته کولی شی (**كأنه يلقط لكثرة رغبات الناس فيه وميلان الطباع اليه**) یعنی ته به وائی چې دامال خپله ځان راپورته کوی ځکه دانسانانو طبعیت غالبا داسی دي چې ددي را اخستلو ته ډیر چالاکی کوي ځکه دامال دي نو دي مال ته دانسبت نسبت مجازی دي [فتح القدير كفايه ، عنايه ص ۳۴۸ ج ۵ طبعه حقانيه].

(**هي أمانة ان أشهد على أخذها ليردها على ربها والاضمن ان جحد المالك أخذها للرد**)

تشریح: دغه لقطه یعنی غورزول شوی مال امانت دي داخستونکی په لاس کښې خو که ددي په اخستلو سره یې دوه ګواهان ونیول چې تاسی ګواه اوسي چې دغه مال زما په لاس کښې امانت دي (**ليردها**) ددي لپاره می را اخیستی دي چې زه یې واپس کړم (**على ربها**) ددي خاوند ته (**والا**) اوکه ګواهان یې ددي لپاره ونه نیول چې دالقطه ماواپس ورکولو لپاره خپل مالک ته راخیستی ده (**ضمن**) داموندونکی به ضامن وی یعنی په ده باندي ضمان اوتاوان واجب دي (**ان جحد المالك**) که دلقطی مالک ددي ځخه انکار وکړو چې دي ملتقط دغه لقطه خاوند ته ورکولو لپاره نه ده راخیستی.

(**اعلم أن الواجد ان أقر الخ**) شارح رحمه الله وائی چې دلقطی موندونکی که دا اقرار وکړو چې دالقطه ما دخپل ځان لپاره اخیستی وه نو باالاجماع په ده باندي ضمان واجب دي یعنی که هلاک یې کړو نو ضمان وربانديي واجب دي ځکه ملتقط دبل انسان مال بغیر داجازی دهغه ځخه را اخیستی دی اوبغیر داجازی دشریعت ځخه نو داپشان دغصب دی (**وان لم يقر بهذا**) اوکه دا اقرار یې ونه کړو چې داما دخپل ځان لپاره را اخیستی دی نو که داګواهان یې قایم کړل چې ما دا اخیستی دی ددي لپاره چې خپل مالک ته یې ورکړم نو دي صورت کښې بیا په اخستونکی باندي ضمان نشته ځکه اګر چې دمالک داجازی ځخه بغیر یې را اخیستی دی خو شرعاً ورته اجازه شته ځکه ګواهان یې قایم کړي دي (**وان لم يشهد**) اوکه دا ګواهان یې قایم کړی نه وو چې ما ددی لپاره را اخیستی وو چې خپل مالک ته یې وسپارم نو په دي صورت کښې دطرفینو په نزد پری ضمان واجب دي او امام أبو یوسف رحمه الله وائی چې ضمان به تری نشی اخستلی (**بل القول قوله**) بلکی خبره داخستونکی معتبره ده چې ما دالقطه ددي لپاره اخیستی ده چې خپل مالک ته

يې وسپارم (**والاشهاد**) ديته وائي چې اخيستونکی ووائي چې (**من سمعتموه**) چانه چې تاسې واوريدل (**ينشد ضالته**) چې طلب کوله او لټوله يې ورک شيئ (**فدلّوه عليّ**) نو زما طرف ته ورته ښودنه وکړې .

(وعرّفت في مكانٍ وُجِدَتْ وفي المجامع مدة لا تطلب بعدها في الصحيح)

تشريح: او ددي لقطې تعريف به وشي په هغه ځای چې موندل شوی ده هلته يعنی تعريف يې واجب دی تعريف ديته وائي چې په زوره اواز وکړي چې ما يوه لقطه موندلې ده (**لا أدري مالكها**) خو خاوند يې نه پيژنم (**فليأت مالكها**) نو خاوند دي راشي (**وليصفها**) او نښه اونښانه دی ددي بيان کړي (**لأردّها عليه**) ددي لپاره چې زه ئی ورته وسپارم (**وفي المجامع مدة لاتطلب بعدها**) دتعريف په موده کی اختلاف دي چې څومره موده به تعريف کوی خو صحيح خبره داده چې دومره موده به ددي تعريف کوی چې دده داګمان راشي چې نوريې مالک نه طلب کوی يعنی صحيح خبره داده چې ديکی معلومه موده نه ده مقرره شوی (**بل هي مفوضة**) بلکه دابه داخيستونکی رای ته سپارلې شي يعنی دومره موده به تعريف کوی چې دده غالب ګمان دا راشي چې دا لقطه ددي څخه وروسته نور نشي طلب کولی (**وقدّرها محمد رحمه الله**) او امام محمد رحمه الله او امام شافعی رحمه الله او امام مالک رحمه الله دتعريف دمودی اندازه يو کال کړي ده (**من غير فصل**) بی له فرق دلږ مال نه يا ډير مال نه يعنی که لږ مال وی اوکه ډير مال وی نو يو کال به تعريف کوی همدارنګه فرق نشته چې چار پای وی اوکه نورمال وی حکم يې يو دی خو امام مالک او امام شافعی وائی چې که اوښ يا غوا په دشته کښې وموندل شی نو پريښودل يې غوره دي مونږ ورته وايو چې حکم همداسی دي خو چې ويره دضائع کيدو نه وي اوکه ويرة دضائع کيدو وه نو بيا اوښ ، غوا يه ، اس ټول يوشان دي .

(وما أنفق عليها بلا اذن حاكم تبرع وباذنه دين على ربها الخ)

تشريح: اوکومه خرچه چې په لقطه باندي وشي بی له اجازی دحاکم څخه نو داتبرع او احسان دي دموندونکی لخوا يعنی دمالک څخه يې بيا نشي غوښتلی (**وباذنه**) اوکه دحاکم په اجازه يې ورباندي خرچه کړي وه نو بيا دا دلقطې په خاوند باندي قرض ده يعنی دخاوند څخه يې غوښتلی شي .

(وأجر القاضي ماله منفعة وأنفق عليها منه كالآبق)

ترضيح: اوقاضي به يې په اجرت ورکړی هغه شی چی هغه منفعت لري اوخرچه به په همدي باندي وکړی ددي اجرت څخه لکه تښتيدونکی غلام يعنی که لقطه داسی يو شی وو چی منفعت اوګټه يې کوله او امکان ددي وو چی په اجاره ورکړل شي مثلا داسی يو حيوان وو چی په هغی خلک سورلی کوی يا بار وړی نو قاضی به هغه په اجرت اومزدوری ورکړی او په دي باندي به خرچه هم دهمدي اجرت څخه کوی څکه دي سره دغه ذات په ملک دمالک کښی پاتی کيږی اوقرض ورباندي نه اوړي لکه يو غلام چی دخپل مولا څخه وتښتی نو که چا ونيوه نو په اجرت دي ورکړی اودهمدي اجرت څخه دي په ده خرچه کوی تردی پوری چی باداريې معلوم شی .

(وما لا منفعة له اذن بالاتفاق عليها وشرط الرجوع على ربها في الأصح ان كان هو الأصلح والا باعها وأمر بحفظ ثمنها)

تذهيب: اوکه لقطه هغه شي وو چی منفعت اوګټه يې نه درلوده اونه په اجاره ورکول کيده (اذن) نوقاضی به موندونکی ته اجازه ورکړی چی په دي خرچه کوه اوبيا به ددي په مالک رجوع وکړی يعنی حق به تری واخلی (ان كان هو الاصح) يعنی که چيرته دخرچی کولو اوبيا په مالک باندي درجوع کولو اجازه دقاضی په نظر أصلح او خير خواهی وه نو اجازه دی ورته وکړی (والا باعها) اوکه دقاضی په نظر دخرچی کولو اوبياپه مالک درجوع کولو اجازه أصلح اوخير خواه نه وه هغه داسی چی خرچی کولو سره به لقطی قيمت ورک شی اومالک ته به تاوان ورسيږی نو موندونکی ته به قاضی دخرڅولو أمر وکړی اودثمن په ساتلو به ورته أمر وکړی (وانما قال في الأصح) مصنف رحمه الله د في الأصح قيد څکه ووېلو چی په دی مسئله کښی يو بل روايت هم شته هغه داچی قاضی صرف أمر دخرچی ورته وکړو نو بيا اخستونکی ته داصلاحيت شته چی په خاوند يې رجوع وکړی يعنی درجوع کولو دأمر ضرورت نشته لکن الأصح خوصحيح خبره داده چی دخرچی کولو دأمر سره درجوع کولو أمر هم ضروری دی (وللمنفق حبسها لأخذ نفقته) او دخرچه کونکی لپاره شته منع کول دلقطی دخاوند څخه لپاره داخستلو دخرچی خپلی يعنی که دلقطی خاوند راغی او ددي غوښتنه يې کوله نو ملتقط ته دا حق شته چی لقطه دهغه څخه ترهغی حصاره کړی چی خرچه ورکړی څکه لقطه په خرچی سره پاتی شوی ده (فان هلكت بعد حبسه سقطت) که دلقطی موندونکی دغه لقطه دخرچی دحاصلولو لپاره حصاره کړه اوبيا هلاکه شوه نو خرچه ساقط شوه

خکه کله چې دلقطې موندونکې دغه لقطه دخرچې لپاره حصاره کړه نو داپه شان دمرهونې اکانه

اوګرو شوی شيا وګرځيده (وهومضمون بألدين) او مرهون مضمون بالدين وی يعنی که دغه

مرهونه دمرتهن سره هلاکه شی نو ددې په ضمان کښې دمرتهن دين يعنی قرض د راهن څخه

ساقطيږی (وقبله لا) اوکه دملتقط دحصارولو څخه مخکښې يعنی چې دنفقې اوخرچې

دحاصلولو لپاره يې حصارکړی نه وه چې لقطه هلاکه شوه نو دملتقط نفقه نه ساقطيږی څکه

داسی څه نشته چې نفقه ساقط کړی (فأن بين مدعيها علامتها حل الدفع ولايجب بلاحجة الخ)

که دلقطې دعوه کونکې ددې علامه اونښه بيان کړه نو ورکول ورته حلال دي (ولايجب بلاحجة)

خو په لقطه موندونکې واجب نه دي چې بلا دليله اوبلا ثبوته ورته لقطه وسپاری دازمونږ په نزد

باندي (وعندالشافعي) امام شافعي رحمه الله وائی چې که علامه اونښه يې بيان کړه نو په ملتقط

واجب دي چې لقطه ورکړی څکه حديث کښې راځي چې کله يې خاوند راشی اونښه يې بيان کړی

اوشماريې بيان کړی نو ورېې کړه هغه ته مونږ ددينه داجواب کوو چې په دې حديث کښې الز د

باحت لپاره دي څکه بل مشهور حديث کښې راځی چې په مدعی باندي ګواهان دي او په مدعی

عليه باندي قسم دي (وينتفع بها فقيرا) که لقطه موندونکې دلقطې خاوند پيدا نه کړو نو که

فقير وو نو خپله دی فائده تر واخلی اوکه فقير نه وو بلکې مالداره وو نو صدقه دی کړي (ولو علی

أصله وفرعه وعرسه) اګر چې داصدقه دملتقط په خپلو مور اوپلار وغېر وي ياپه اولادي وي ياپه

خپله ښځه وي.

كتاب الآبق

(ندب أخذه لمن قوي عليه وترك الضال قيل أحب)

تحقيق: آبق هغه غلام ته وائی چې دخپل بادار څخه قصداً وتښتي اوضال هغه غلام ته وائی چې

بلاقصده کورته لاره ورکه کړی. نو دآبق غلام نيول هغه کس ته مستحب دي چې وس اوطاقت يې

ورباندي کيږی. او دضال يعنی دهغه غلام چې لاره يې ورکه کړي وي پريښودل بعض علماء وائی چې

غوره دي (والماكان تركه أحب الخ) دضال غلام پريښودل څکه غوره دي (لأنه لايبرح) څکه هغه نه

جداکيږی دهغه ځای څخه چې چيرته لاره تري ورکه شوی وي نو مالک به يې راشی او وبه يې نيسی

اوکه موندونکې ته ددي غلام دمالک کور معلوم وي نو بيا غوره دادي چې مالک کورته يې ورسوي.

(ولرادّه أي الآبق قناً او مدبراً أو أمّ ولدٍ من مدة سفرٍ أربعون درهماً وان لم يعد لها ان أشهد أنه أخذه للردّ ومن أقل منها بقسطه)

تشریح: (ولرادّه) اوهغه کس چې تښتېدونکی غلام بیرته خپل بادارته راولي دغه غلام قن یعنی خالص مملوک وي یا مدبر وي یا أم ولده وي او دسفر داندازې نه چې درې ورځې اودرې شپې راځې راولي نو دده لپاره مزدوري به څلوېښت درهم وي (وان لم یعد لها) اګر چې دغه غلام دڅلوېښتو درهمو په برابر نه وي یعنی ددې څخه يې قیمت کم وي (ان أشهد) خو په هغه صورت کښې دمزدورۍ حق لري چې دنیولو په وخت کښې داګواهان قائم کړی وي چې دایې ددې لپاره نیولی وو چې خپل مالک ته یې وسپارې ځکه که ګواهان یې نیولي نه وي نو بیا دمزدورۍ حق نه لري (ومن أقل منها بقسط) اوکه دسفر داندازې څخه فاصله کمه وه نو بیابه په همغه اندازه یعنی په حساب دهغې سره مزدوري ورکولی شي یعنی چې څلوېښت درهم به په درې ورځو تقسیم کړی شي نو یوې ورځې ته دیارلس درهمه اوثلث رسیږي نو دڅو ورځو فاصله چې وهلې وه نو همغه مقدار مزدوري به ورکړل شي دازمونږ مذهب دي اوامام شافعي رحمه الله وائي چې دغلام مالک شرط نه وي لګولي نو وروستونکی ته هیڅ شي واجب نه دي خو که مالک یې شرط ولګوو چې که چاماته غلام راوستو نو زه به دومره شي ورکړم نو بیا همغه اندازه واجب ده.

(فان أبق منه لم یضمن فان لم یُشهد فلاشيء له وضمن ان أبق منه وعلى المرتهن جُعل الرهن)

انارة الأنق فی بیان عبدالآبق: (فان أبق منه الخ) یعنی که بیرته وروستونکی کس دنیولو په وخت کښې داګواهان قائم کړل چې مادغه غلام ددې لپاره نیولی وو چې زه بیرته مالک ته وسپارم نو که دغه غلام بیا ددغه وروستونکی څخه وتښتې مخکې له دې چې مالک ته یې وسپاری نو ده باندې تاوان وغیره نشته ځکه داغلام دده په لاس کښې امانت وو اوپه امانت کښې تاوان نه وي اونه دده لپاره څه اجرت اومزدوري شته ځکه بیرته وروستونکی دبائع حیثیت لري نو چې بائع مبیع ونه سپاری نو حق یې نشته فکذا ههنا (عنایه).

(فان لم یشهد فلاشيء له) خو که دنیولو په وخت کښې ګواه نه وو نیولي چې داماد بیرته واپس کولو لپاره نیولی دي نو دغه وروستونکی دهیڅ مزدوری حق نه لري ځکه ګواه نه نیول دلیل ددې دي چې داغلام ده دځان لپاره نیولي (وضمن ان أبق منه) که په صورت دعدم اشهاد کښې دغه غلام ترې وتښتي نو مالک ته به تاوان ورکوي ځکه داپه حکم دغاصب کښې دي اودغاصب څخه

تاوان اخستل کیږی (وعلی المرتهن جعل الرهن) اوپه مرتهن باندي به مزدوري دمرهونی وي که مرهون یعنی گرو شوی غلام دمرتهن څخه وتښتي او په فاصلی دمودي دسفر څخه بیرته ورته راوستل شو نو اوس دغه مزدوري په مرتهن ده خو په هغه صورت کښی چی ددي غلام قیمت ددین په اندازه وي یا ددین څخه کم وي اوکه دمزدوري اندازه ددین څخه زیاته وه نوبیا په مرتهن باندي ددین په اندازه واجب ده اوباقی مزدوري په راهن ده (وأمر نفقته کا اللقطة) ددي غلام دخرچي حکم دلقطی په شان دی یعنی که نیونکی دقاضی دأمر څخه بغیر خرچه ورباندي کړي وه نو داتبرع ده په مالک رجوع نشی کولی اوکه دقاضی په اجازه یې خرچه کړی وه او درجوع امرهم ورته قاضی کړي وو نوبیا حق درجوع په مالک لري والله تعالی أعلم.

کتاب المفقود

مفقود مشتق دي دفقد څخه په لغت کښی دأضدادو څخه دي (یقال فقدت الشیء أی أضللته وفقدته أی طلبته) یعنی په معنی دورکیدو سره هم راځي اوپه معنی طلب کولو اولټولو سره هم راځي او دواړه معناګانی په مفقود کښی متحقق دي ځکه دأهل اوکور والاڅخه ورک وي اوهغوي ده په طلب کښی هم وي اوپه شریعت کی هغه غائب ته وائی چی نه یې دژوند پته لګیږی اونه یې دمرګ پته لګیږی. عنایه کفایه ص ۳۲۸ ج ۵ طبعه حقانیه.

(غائب لم یُدر أثره حیٌّ فی حق نفسه فلا تنکح عرسه ولا یقسم ماله ولا یُفسخ اجارته ویقیم القاضی من یقبض حقه ویحفظ ماله ویبیع ما یخاف فساده وینفق علی ولده وأبویه وعرسه)

نودده په مال کی به دده په مرګ په هغه ورځ حکم کولی شی چی دغه موده پوره شوی وه یعنی داسی به ګرزولی شی لکه اوس چی مړ شوی دي نو په دغه وخت کښی چی کوم ورثه دده ژوندي وي نو دده مال به په هغوي تقسیمولی شی او ددي ورځی اومودي څخه مخکښی چی کوم ورثه مړه شوي په هغوي دده مال نه تقسیمیږی (فتعتد عرسه للموت) نو ددغه وخت څخه وروسته به دده ښځه هم عدت دوفات تیره وي (ویقسم) او دده مال به دهغه ورثوو ترمنځ تقسیمولی شی چی اوس میراث وړي کما ذکرنا. (وفی مال غیره من حین فقد فیرد ماوقف له الی من یرث الغیر عند موته الخ) او دمودي دتیریدو څخه وروسته به دده په مرګ باندي په مال دغیر کښی دهغه وخت نه فیصله کولی شی چی دکوم وخت نه ورک شوی دي یعنی داسی به ګرزولی شی چی ګویا په وخت دورکیدو کښی مړشوی دي (فیرد ماوُقف له) نو واپس کولی به شی هغه مال دمورث چی ددي مفقود لپاره موقوف

وو (الی من یرث الغیر) هغه چاته چی میراث دغیر څخه وړي په وخت دمرګ دغیرکښي یعني هغه ورثوو ته چی دمفقود دمرګ په وخت کښي موجود وو (الأصل عندنا) غرض دشارح رحمه الله ددي عبارت څخه توجیه بیانول دي چی څه وجه ده چی مفقود په خپل مال کښي دوخت دتیریدو دمودي څخه مړ وګرزولی شو اوپه مال دغیر کښي دوخت دورکیدو نه مړ وګرزولی شو. نوشارح رحمه الله وائی چی ظاهر الحال چی هغی ته استصحاب الحال هم وائی استصحاب الحال دامعنی چی (ابقاء ماکان علی ماکان) یعني پرینبودل دهغه څه چی مخکښي وو په هغه حالت چی مخکښي وو نو دا استصحاب حجت او دلیل ددفع لپاره کیداي شی یعني چی دبل څخه مانع شی خو د اثبات لپاره حجت نشی کیدلی یعني چی دبل په مال کښي خپل حق ثابت کړی (فاذا تمت) نو کله چی دغه نوی (۹۰) کاله موده پوره شوه نو مفقود په خپل مال کښي مخکښي دمودي څخه ژوندي دی (فلایرثه) نو دمفقود څخه هغه وارث میراث نشی وړلي چی دمفقود دورکیدو په وخت کښي ژوندي وو اوبیا مړشو (لأن الظاهر) ځکه ظاهر الحال ته یعنی (ابقاء ماکان علی ماکان) ته چی ګوری نو مفقود ژوندی دي نو صلاحیت دحجت لري چی ددفع اومنع ددي لپاره چی غیر دده څخه میراث ویسی (وفی مال غیره) اوپه مال دغیر کښي یعني دمورث کښي مړ دي ځکه ظاهر الحال صلاحیت ددلیل ددي نه لري چی دبل په مال کښي دځان لپاره میراث واجب کړی ځکه دژوند معلومات يې نشته (فیرد) نو کومه برخه چی دمفقود لپاره موقوف وه نو هغه به چاته ورکولی شی چی دخپل مورث څخه میراث وړي دمورث دمرګ په ورځ باندي.

کتاب الشرکة

دشرکت مناسبت دماقبل سره څه وو؟ جواب په شرکت کښي دیوکس مال دبل سره امانت وي نو همداسی دمفقود مال هم دحاضر په لاس کی امانت وي دویم داچی کله اشتراک په مال دمفقود کی هم راځي.شرکت عبارت دي دیوځای کولو ده،و حصو څخه په داسی شان سره چی یو دبل څخه جدا نشی

(هی ضربان شرکة ملك وهی أن یملك اثنان عیناً وكلٌّ كأجنبيٍّ فی مال صاحبه وشركة عقد وركنها الإیجاب والقبول وشرطها عدم مایقطعها كشرط دراهم مسماةٍ من الربح لأحدهما)

أقسام الشرکة: شرکت په دوه قسمه دي (۱) شرکت ملک دیته وائی چی دوه کسان یازیات دیو ذات مالکان شی (وكل كأجنبی) اوهریو دشریک نه به په شان دأجنبی وي په مال دملګری کی ځکه

داشرکت متضمن نه دي وکالت لره يعني چې يو دبل وکيل شي (۲) شرکت عقد يعني چې په سـ
دعقد واقع شوی وي **(ورکنها)** اورکن دشرکت عقد ايجاب اوقبول دی هغه داسی چې يوکس ووائي
چې ته مي شريک کړی په فلاني شی کښی اوبل ورته ووائی چې ماقبول کړو **(وشرطها)** اوشرط
دشرکت عقد دادي چې عدم مايقطعها هغه شی به نه وي چې شرکت ختمونکی او فاسدونکی وي
(کشرط دراهم) لکه داسی شرط کيښودل چې دګټی څخه معلومی روپۍ به ديوکس وي يعني
چې يوکس ووائی چې ته مي شريک کړی په دي شرط چې زمابه دګټی څخه خاص حصه وي مثلا
سل روپۍ اوباقی به سره مشترکی وي داسی شرط شرکت ختموي **(لاحتمال أن لايبقى الخ)** څکه
احتمال شته چې ددي معلومو روپو څخه وروسته داسی ګټه پاتی نشی چې دوي پکښی شريکان
شی **(وهي أربعة أوجه)** (۱) مفاوضة (۲) عنان (۳) شركة الصنائع (۴) شركة الوجوه وسيأتي تفصيل
كل واحد منها ان شاء الله .

(۱)مفاوضه مأخوذ ده دفوض نه چې ددي نه فاض الماء هم مشتق ده په معنی د اذاعم سره يعنی په
معنی دعموم سره يا مأخوذ ده دتفويض څخه په معنی دمساوات سره اوشرعا **(هي شركة
متساويين مالاً وتصرفاً وديناً)** مفاوضه شرعا هغه شرکت ددوو کسانو دي چې مساوی وی په مال
کښی په تصرف کښی په دين کښی يعنی مال ددواړو يو برابر وي همدارنګه به په تصرف کښي هم
يو برابر وي تردي که يو دتصرف حق درلوده اوبل نه درلوده هغه داسی چې يو کس ددوي څخه يا
ماشوم وو يا ذمي وو يا غلام وو نو تساوي فوت شو نو بيا مفاوضه هم نه صحيح کيږی همدارنګه
به دواړه په دين کښی هم مساوي وي که يو کافر وي بل مسلمان نو بيا هم نه صحيح کيږی **(المراد
المساوات)** مراد دمساوات فی المال څخه هغه مال مراد دي چې شرکت پکښی صحيح کيږی لکه
دراهم دنانير فلوس **(ولابأس)** خو څه باک نه لري په زيادت دهغه مال سره چې په هغی کښی
شرکت نه جاری کيږی لکه څمکه عروض قرضی .

(فلاتصح الابين متحدين حرية وحلماً وملةً)

التفريع على شرط التساوي: نومفاوضه نه صحيح کيږی مګر په مابين ددوو متحدينو په اعتبار
دحريت سره اودبلوغ سره اوددين سره **(أي لابد أن يكونا)** يعنی داضروري ده چې دواړه مفاوضان
به أصيل وي ديوغلام اوأصيل ترمنځ نه صحيح کيږی اودواړه به بالغ وي نو دماشوم اوبالغ ترمنځ

نه صحيح کيږي ددواړو دين به يو وي **(فلاتصح)** نومفاوضه دکافر اومسلمان ترمنځ نه صحيح کيږي **(وتجوز)** او ددوو بالغانو مسلمانانو ترمنځ صحيح کيږي همدارنګه ددوو کافرانو ترمنځ هم مفاوضه صحيح ده برابره خبره ده چي يو کتابي وي اوبل مجوسي وي يعني په مفاوضه کښي داضرور نه ده چي کافر دپه يوقسم کفر سره وي ځکه ټول کفر يو دين دي **(وهذا)** داخبره چي دمسلمان اوکافر ترمنځ مفاوضه نه صحيح کيږي دا دطرفينو قول دي او امام أبو يوسف وائي چي دکافر اومسلمان ترمنځ هم صحيح کيږي اوامام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله وائي چي مفاوضه بالکل جائز نه ده نه دمسلمانو ترمنځ اونه دکافرو ترمنځ ځکه مفاوضه متضمن ده وکالة مجهول الجنس لره اوکفالي مجهولي لره او دواړه باطلي دي مونږ جواب کوو چي د خلکو په دی عقد باندي دپخوانه تعامل روان دي اوهيڅوا ددي ځخه انکار هم نه دي کړي نو دتعامل په حکم د اجماع کښي دی اوپه اجماع سره قياس پريښودلی شي **(وتتضمن الوكالة والكفالة)** يعني متضمن به وي مفاوضه وکالي اوکفالي لره **(أي كل واحد الخ)** يعني هريو به وکيل وی دبل ځخه په معامله کښي همدارنګه به هر يو کفيل اوذمه واروي دبل نه وکالت ځکه پکښي دي چي مقصود حاصل شوی چي شرکت في المال دي اوکفاله خو ځکه پديکښي شته چي مساوات ثابت شي په هغه ځای کښي چي هغه دواجباتو دتجارت ځخه ده **(فاذا اشترى)** نو که يو دشريکينو متفاوضينو ځخه يو شي واخيسته نو بائع لره شته چي مطالبه دثمن دهغه بل شريک ځخه وکړي يعني بائع داحق لري چي دهريو ځخه ثمن وغواړي دمشتري ځخه باالأصاله اودده ملګری ځخه باالکفاله .

(ومشتری كلٍّ لهما الا طعام أهله وكسوتهم وكل دين لزم أحدهما بما تصح فيه الشركة كالشراء والبيع والاستيجار)

توضيح: **(ومشتری الخ)** اواخستل شوی دهريو به ددواړو وي يعني که هر شريک څه شي واخلی نو هغه به پکی شريک وي مګر دکور بعض ضرورتونه تری مستثنی دي لکه طعام دکور والاجامه دکور والا **(وكل دين)** دامبتداء ده اوضمنه الآخر ي وروسته راځي خبرددي دي نو هر دين چي لازم شي په يو دمشترکينو دمفاوضی باندي په هغه معامله کښي چي په هغی کښي شرکت صحيح کيږي لکه شراء بيع اوپه اجرت نيول نو هلته به هغه بل شريک هم ضامن وي يعني مدعی دائن ته داحق شته چي دشريک غير مباشر سره هم مخاصمت وکړي اوخپل قرض تري واخلی **(فيه احتراز)** شارح رحمه الله وائي چي په کومه معامله کښي شرکت نه صحيح کيږي نو هلته که په احدهما

باندي دين اوقرض لازم شی نوبل شريک دهغی ضامن نه دي لکه جنايت يعنی چی يو دشريکينو څخه څه جنايت کړي وي اوهغه باندي ديت وغيره راشی نو هغه بل شريک دده ذمه وار نه دي يعنی مدعی دجنايت ددي بل شريک سره خصومت نشی کولي همدارنګه که يو نکاح وکړي نوبل شريک ددي په مهر کی نشی نيولی همدارنګه په خلع کولو سره ياپه صلحی کولو سره ددم عمد د احدهما سره بل شريک نه نيول کيږی او نه قسم ورکول کيږی (وکا النفقة) همدارنګه که په يو شريک نفقه دښځي يادنورو اقاربو واجب شی نوپه بل شريک نه واجبيږی ځکه داشيان دأمورو دتجارت څخه نه دي (أوبکفالة بأمر) ياهرهغه قرض چی لازم شی په احدهما باندي په کفالی سره په أمر دمکفول عنه سره (ضمنه الآخر) نوهغه بل شريک به ددي ضامن وي په دي بل شريک هم لازميږی (وبغير أمر لا) اوکه احدهما دچا کفالت اوذمه واري کړي وه بی له أمر دمکفول عنه نه نو بيا په دي بل شريک دَين نه لازميږی يعنی که يو شريک ديو چا کفالت اوذمه واري وکړي دمکفول عنه په أمر وي اوپه ځان دين لازم کړي نوبل شريک يې هم ذمه وار دي اوکه دمکفول عنه دأمر څخه بغير يې کفالت کړي وو نوبيا دابل شريک ددي ذمه وار اوضامن نه دي .

(وان ورث أحدهما اووُهب له مالا يصح فيه الشركة وقبض صارت عنانا)

توضيح: که ميراث ويسی يو دشريکينو مفاوضينو څخه هغه څه چی هغی کښی شرکت نه صحيح کيږی هغه داسی چی دده مورث مړشی اوده ته مال ورسيږی (او وُهب له) يا أحد الشريکين ته هغه شی هبه شی چی هغی کښی شرکت نه صحيح کيږی اوقبض يې کړه نو په دي صورت کښی شرکت مفاوضه باطله شوه اوداشرکت شرکت عنان وګرځيده ځکه په مفاوضه کښی شرط دتساوي دشريکينو دی په کوم شی کښی چی شرکت صحيح کيږی نو کله چی زياتی مال راغی أحدهما ته نو مساوات فوت شو نو شرکت مفاوضه باطله شو اوشرکت عنان وګرځيده ځکه شرکت عنان کښی مساوات شرط نه دي .

(**وفي العرض والعقار بقيت مفاوضة**) عرض دنقدينو څخه ماسوی نورسامان ته وائی نو که ميراث کښی ورته عروض ياځمکه راغله نو مفاوضه په خپل ځای پاتی کيږی ځکه په مال دشرکت کښی زيادت نه دی راغلی ځکه مفاوضه په نقدينو کښی اوهغه چی قائمقام دنقدينو وي په هغی کښی صحيح کيږی .

(ثم شرع فی الوجه الثانی من الشرکة فقال وعنان وهو شرکة فی کل تجارة اوفی نوع ولا تتضمن الکفالة)

أحسن البيان فی شرکة العنان: مصنف رحمه الله دشرکت عقد په دويم قسم کښې شروع وکړه چې شرکت عنان دي عنان دعنّ څخه دي په معنی دښکاره کيدو سره يعنی ده ته هم داښکاره شوه چې بل کس دخان سره په بعض مال کښې ملګري کړي . شرعاً شرکت عنان عبارت دي دشرکت ددوو کسانو يادزياتو کسانو **(فی کل تجارة)** په ټولو اقسامو دتجارت کی **(اوفی نوع)** يا په يو قسم دتجارت کښې لکه درخت تجارت دخوراکی شيانو تجارت وغيره **(ولاتتضمن الکفالة)** خو شرکت عنان کفاله لره متضمن نه دي نويو دبل څخه کفيل نشی ګرځيدلی **(وتصح ببعض ماله)** اوشرکت عنان په بعض مال سره هم صحيح کيږی يعنی په شرکت عنان کښې مساوات شرط نه دي نو په بعض مال سره هم صحيح کيږی **(ومع فضل مال أحدهما)** يعنی په ټول مال سره هم صحيح کيږی سره دزيادت دمال ديو دشريکينونه

(وتساوی ماليهما لا الربح) اوصحيح کيږی شرکت عنان په مساوات دماليتو سره بی له مساوات دګټی څخه يعنی چی ددواړو شريکينو مال مساوی وي خو ګټه مساوی نه وي بلکی ديو زياته وي **(خلافاً لزفر والشافعی)** امام زفر اوشافعی رحمهما الله وائی چی دتساوی دمال سره په ګټه کښې هم مساوات شرط دي ځکه په ګټه کښې زيادت ديته رسيږی چی ګټه بلا تاوانه واخلی ځکه تاوان په رأس المال ده نه په ګټه .

(وکون أحدهما دراهم والآخر دنانير وبلا خلط)

توضيح: شرکت عنان صحيح کيږی سره داختلاف دجنس نه په مال کښې چی ديو کس مال دراهم وي اودبل دنانير همدارنګه سره داختلاف دوصف نه په مال کښې هم صحيح کيږی چی ديو دراهم سپين وي دبل تور وي **(وبلاخلط)** اوشرکت عنان صحيح کيږی بی له يوځای کولو ددواړو مالونو څخه **(خلافاً لزفر والشافعی)** په دواړو مثالونو کښې دامام زفر اوامام شافعی رحمهماالله اختلاف دي ددوي په نزد دخلط دمالينو شرط دي او اتحاد دجنس هم شرط دي ځکه ګټه فرعه دمال ده اوفرعه علی الشرکة نه واقع کيږی مګر پس له شرکت نه اوشرکت بی له خلط دمالينو نه راځی نو مونږ وايو چی په ګټه کښی شرکت مستند دي عقد ته نه مال ته .

(وکلٌ مطالبٌ بثمن مشريه لا غير) اوهر يو دشريکينو دشرکت عنان څخه به مطالبه کولی شی په ثمن اوروپو دهغه څه سره چی ده اخيستی وي نه دبل څخه يعنی کوم شريک چی څه واخيستل نو

دهمده څخه به دمبیعی دروپیو مطالبه کولی شی نه دبل شریک څخه چی غیر مشتری دي ځکه شرکت عنان متضمن کفالې لره نه دي (**ثم یرجع علی شریکه بحقه منه ان أداه من ماله**) بیابه رجوع وکړي په خپل شریک باندي په حصی خپلی سره ددي مال نه که دمبیعی روپۍ یې دخپل مال څخه أداء کړی وي . خلاصه دا که یو شریک یوشی واخلی دشرکت لپاره نو بائع به دهمدي مشتري څخه مطالبه دخپل حق کوی نو که دغه مشتری ددغه اخستل شوی مال روپۍ دشراکت له روپیو ورکړي نو بیاپه خپل شریک رجوع نشی کولی خو که دخپل مال څخه دغه روپۍ أداء کړی نو بیا به په خپل شریک باندي دخپلی حصی په اندازه باندي ددغی روپو څخه رجوع وکړی ځکه داوکیل وو دملګری لخوا دهغه په حصه کی .

(**ولا تصح أن الا بأ النقدین والفلوس النافقة والتبر والنقرة ان تعامل الناس بهما التبر ذهب غیر مضروب والنقرة فضة غیر مضروبة**)

صحاف الألوان فی مایصح باالمفاوضة والعنان: شرکت مفاوضه اوعنان نه صحیح کیږی مګر په نقدینو سره چی دراهم اودینار دي اوپه فلوسو رائجو سره چی اوس زمانه لوټونه دي داپه اصل کښی یو سند دي ددراهمو او دینارو خو اوس دهمغی په ځای پری دخلکو تعامل راغلی دي (**والتبر**) او دسروزرو په ټوټو باندي یعنی چی دینار وغیره تری جوړ شوی نه وي (**والنقرة**) اودسپینو زرو په ټوټو باندي یعنی چی دراهم تري جوړ شوی (**ان تعامل الناس بهما**) که دخلکو تعامل په تبرو اونقري باندي وو یعنی سره زر اوسپین زر اګر چی دتجارت لپاره پیداشوی دي خو ثمنیت یې جوړ شو روپو پوری خاص دي نو که جوړی شوی نه ؤ نو شرکت پکښی صحیح نه دي ځکه دابیا دعروضو پشان دي مګر که دخلکو تعامل ددي په استعمال باندي جاری وو نو بیا دغه تعامل په منزله دجوړو شوو روپو دي نو بیا ثمن هم دي اورأس المال هم صحیح کیږی .

(**وبا العرض بعد أن باع کلّ نصف عرضه عرض الآخر**)

تشریح: عرض هغه سامان ته ویلی شی چی دنقدینو څخه ماسوا وي لکه مکیلی اوموزونی شیان یعنی چی پیمانه کولی شی اوتللی شی نو شرکت مفاوضه اوعنان په عروضو هم صحیح کیږی خو حیله دجواز یې داده چی هریو به خپل نیم سامان دبل په نیم سامان خرڅ کړي .

(**اعلم أنه لایخلو**) شارح وائی چی دغه سامان به خالی نه وي یابه قیمت دسامان ددوارو شریکنو مساوي وي یابه متفاوت وي که مساوی وو نو بیابه هریو خپل نیم سامان دبل شریک په نیم سامان خرڅ کړي بیا به عقد دعقد شرکت عنان وکړي اوکه قیمت کښی فرق وو مثلا دیو شریک

دسامان قيمت زر روپۍ وو دبل شريک دسامان قيمت دوه زره وو (**يبيع صاحب**) نو دکم قيمت والابه خپل دوه ثلثه سامان دهغه بل اوچت قيمت والاسامان په يو ثلث خرڅ کړی (**ليكون كل واحد**) نو دهريو مال به په ثلثونو سره شي (**ثلثاه لصاحب الأكثر**) دوه حصی به داوچت قيمت والاشی اويوه حصه به دکم قيمت والا شي بيا به دواړه بائعين عقد دشرکت سره وکړی (**فيكون الربح**) نو ګټه به په اندازه دملک شي يعني دوه حصی به داوچت قيمت والاشی اويوه حصه به دکم قيمت والا شي (**وانما يحتاج الى عقد الشركة الخ**) دادفع ديو اعتراض ده چی هرکله هريو شريک خپل نيم مال په بل خرڅ کړي نو شرکت فی المال ثابت شو نو بيا ددينه وروسته عقد دشرکت ته څه ضرورت دي نو شارح جواب وکړو چی عقد دشرکت عنان يا مفاوضی ته ددي لپاره ضرورت دی چی داثابت شي چی هريو ددواړو څخه وکيل دي دبل نه ځکه شرکت بغير دعقد څخه چی شرکت فی الملک دي نه وکالت لره متضمن دي اونه کفالت لره (**والما يكون الربح**) داهم دفع ديو اعتراض ده چی مخکښی تاسی وويل چی دتساوی دمالينو سره تساوي دربح شرط نه ده او اوس وائی چی ګټه به په اندازه دملک وي نو شارح جواب وکړو چی دلته ځکه ګټه په اندازه دملک ده چی ګټه په دي ځای کښی نماء دمال ده نو څومره چی مال وو نو همغه اندازه به نماء او ګټه هم اخلی (**بخلاف ما**) اوکه رأس المال يو دنقدينو څخه وو نو بيا مساوات دګټی دمال سره شرط نه دي بلکی ګټه به بيا په شرط سره وي يعنی چی دواړو شريکينو څرنګه شرط مقرر کړي وو (**وأيضاً**) دابل دليل دی چی ددراهمو اودنانيرو تعين په عقد کښی يعنی په مال دشرکت کښی نه وی نو ګټه هم نماء درأس المال نه وي بلکی مستحقه په شرط سره وي خلاصه دجواب داده چی مساوات دګټی دمالينو سره شرط نه دي کله چی رأس المال دراهم اودنانير وي خو کله چی رأس المال عروض وی نوبياګټه په اندازه دملک وي .

(وهلاك مالهما اومال أحدهما قبل الشرط يبطلها)

توضيح: که دشرکت مال ددواړو شريکينو يا مال ديو شريک مخکښی داخستلو ديوشی نه هلاک شو نو شرکت باطلوی ځکه معقود عليه په عقد شرکت کښی مال دي اوپه هغی کښی متعين وي نو کله چی معقود عليه هلاک شی نو عقد باطلوی .

(وهو على صاحبه قبل الخلط هلك في يده أوفي يد الآخر وبعد الخلط عليهما)

تنقيح: اوداهلاکت به په صاحب مال باندي وي يعنی دمال په مالک باندي يعنی دخپل شريک

څخه نيم تاوان نشي اخستلی **(قبل الخلط)** خو چې دغه هلاکت مخکښې ديوځای کولو ددواړو مالونو څخه وي **(هلك في يده)** دغه مال برابره خبره ده چې دمالک په لاس کښې هلاک شي **(أوفي يد الآخر)** اوکه په لاس دغير مالک کښې يعنې په لاس دشريک کښې **(وبعدالخلط)** اوکه مالونه يې سره يو ځای کړی وو نو بياتاوان په دواړو دي.

(فإن هلك مال أحدهما بعد شراء الآخر بماله فمشريه لهما ورجع على الآخر بحصته من ثمنه)

توضيح که يو دشريکينو څخه په خپل مال باندي دشرکت لپاره خريد وکړي يعنې يو شي واخلي بيا دهغه بل شريک مال مخکښې داخستلو ديوشي نه هلاک شي **(فمشريه لهما)** نو دغه اخستل شوی شي به ددواړو وي **(ورجع على الآخر)** اورجوع به وکړي په هغه بل کس باندي يعنې په هغه کس باندي چې مال يې هلاک شوی دي په حصې دده سره دثمن داخستل شوی مال نه ځکه شراء او اخستل ددواړو لپاره شوی دي ځکه شرکت دغه وخت کښې چې متضمن وکالت لره دي موجود وو نوپه هلاکت دمال سره دغه شرکت کې تغير نه راځي **(وعبارة الهداية)** شارح رحمه الله دهدايي عبارت ددی لپاره ذکر کوي چې په بعض ځايونو کښې غلط فهمي راځي نو ددي عبارت وضاحت کوی چې دهدايي عبارت داسې دي که يو شريک په خپل مال باندي دشراکت لپاره يو شي واخيسته اودهغه بل مال مخکښې داخستلو ديو شي څخه هلاک شو نو دغه اخستل شوی شي به ددواړو ترمنځ شريک وی په کوم شرط چې دوی مقرر کړي وو **(فهاهنا)** نو دلته يو ځای شته چې مغالطه فی الفهم راشي اودا تری معلوملي شي چې دبل شريک مال مخکښې داخستلو دأحدهما څخه هلاک شي **(لكن يجب)** داپکارده چې داخبره تری معلومه نشي ځکه دامسئله په هغه صورت کښې وضع شوی ده چې ددي بل مال هلاک شي وروسته دشراء دأحدهما څخه په خپل مال باندي په دليل ددی قول دهدايي سره چې حکم نه بدليږی په هلاکت دمال دآخر سره وروسته له دي نه اوپه دليل ددي قول دصاحب هدايه سره چې يو کس ددواړو څخه په أحدالمالين سره يو شي واخلي اولًا بيا مال دبل هلاک شي.

(فيجب أن يفهم) نو پکارده چې داخبره تري معلومه شي چې ددي بل مال هلاک شي مخکښې له دي څخه چې همدا بل کس په خپل مال يو شي واخلي. شارح وائی چې دهدايي دعبارت توضيح مي ددي لپاره وکړه چې داځای دغلطيدو دي.

(وان هلك قبل شراء الآخر ان وكّله حين الشركة صريحاً فمشريه لهما شركة ملك ورجع بحصة ثمنه والا فلا)

تشریح: كه هلاک شو مال د يو كس ددي دواړو څخه **(قبل شراء الآخر)** مخكښې دا خستو د هغه بل نه يعنې دأحدهما د مال د هلاكت څخه وروسته هغه بل كس چې مال يې هلاک شوي نه دي څه شى واخيسته **(ان وكّله حين الشركة)** كه د مال هلاک شوى والا كس وكالت وركړى وو دغه بل شريک ته چې خريد يې كړى دي په وخت د شركت كښې **(صريحاً)** په صريحى الفاظو سره چې هركله تا په خپل مال څه شى واخيسته نو نيم به زما درسره وي **(فمشريه لهما)** نو دغه اخستل شوى شى به ددواړو ترمنځ شريک وي په شركت ملک سره څكه شركت عقد په هلاكت د مال سره باطل شو صرف وكالت پاتې دي **(ورجع)** نو اخستونكى به رجوع په خپل شريک سره وكړي په حصى د ثمن دده سره **(والا فلا)** او كه صراحةً وكالت يې وركړي نه وو نو بيا به مشتَرى يعنې اخستل شوى شى به د مشتري وي.

(ولكلٍ من شريكي مفاوضةٍ وعنان أن يُبضَعَ ويودع ويضارب ويؤكل والمال في يده أمانة)

توضیح: غرض د مصنف رحمه الله په دي عبارت سره بيان د هغه څه كوى چې كوم شى جائز دي شريک لره په شركت مفاوضه اوشركت عنان كښې اوكوم شى جائز نه دي اصل داده چې كوم شى دتوابعو اولوازمو دتجارت څخه وو نوهغه جائز دي **(ولكلٍ)** اوجائز دي دهريو لپاره دشريكينو دشركت مفاوضه اوعنان څخه **(أن يبضع)** چې ابضاع وكړى يعنې چې چاته مال په بضاعت وركړي بضاعت ديته وائي چې يو كس بل ته مال ددي لپاره وركړى چې هغه پكښې كار وكړي په دي شرط چې ټوله ګټه د مال خاوند ته وركړى اود كاركونكى لپاره پكښې يوشى هم نه وي خو روز مزودرى د مال خاوند وركوى **(ويودع)** اوچاته مال امانت وركړي **(ويضارب)** اومال مضاربةً وركړي مضاربت ديته وائي چې مال ديو كس وى اوكار پكښې بل كوى اوګټه سره شريكه وي **(ويؤكل)** چې وكيل جوړ كړى أجنبى كس لره په اخستلو خرڅولو وغيره **(والمال في يده أمانة)** اومال به په لاس دهريو شريک كښې په طور د أمانت وي **(حتى لايضمنه بلا تعد)** تردي كه تجاوز ونه كړي يعنې پخپله يې هلاک نه كړي نو تاوان هم وربادندى نشته څكه په امانت كښې تاوان نشته خو كه تجاوز وكړي يعنې داي پخپله هلاک كړي نو بيا ورباندي تاوان شته.

(وشركة الصنائع والتقبل هذه هي الوجه الثالث من الشركة وهي)

صیاحة البلبل فی شرکة الصنائع والتقبل: دریم قسم دشرکت عقد څخه شرکت الصنائع اوتقبل دي صنائع جمع دصناعة ده عبارت دي دکسب دصانع یعنی جوړونکی اودهغه دعمل اوکار څخه اوتقبل ته ځکه تقبل وائی چی دامشتمل دی په قبلولو دعمل سره دیته شرکة أعمال أو أبدان هم وائی .

(وهی أن یشترك صانعان کخیاطین اوخیاط وصباغ ویتقبلا العمل لأجر بینهما صحت وان شرطا العمل نصفین والمال أثلاثا)

توضیح: **(وهی)** شرکت الصنائع والتقبل دیته وائی چی دوه کارکونکی اوجوړونکی سره شریکان شی **(کخیاطین)** لکه دوه خیاطان [جامی ګنډونکی] **(اوخیاط وصباغ)** یا یو خیاط اوبل رنګ کونکی دجامو **(ویتقبلا العمل)** اودواړه عمل قبول کړي یعنی چی یو به داکارکوی اوبل دا **(لأجر بینهما)** دوجی دهغی اجرت اومزدوري نه چی ددواړو ترمنځ تاکل شوی وي یعنی په څومره اجرت چی دواړو سره خپل منځ کښی خبره کړي وه چی مساوی یازیات وکم **(صحت وان شرط العمل)** نو دابه صحیح وي اګر چی دواړو شریکانو عمل اوکار نیمائی کړی وو چی نیم به ته کوی اونیم به زه اومال په دري برخو کړي یعنی دمال نه مراد اجرت دي چی اجرت ددواړو ترمنځ په ثلثونو وي چی دوه ثلثه دیو شی اویو ثلث دبل شی مثلا . ځکه رأس المال په شرکة الصنائع کښی عمل اوکاردي اواجرت پکښی مال دي دا زمونږ مذهب دي **(وعندالشافعی)** اوامام شافعی رحمه الله وائی چی دغه شرکت بالکل جائز نه دي ځکه شرکت کښی رأس المال ضروری دی او مقصود ددی نه ګټی حاصلول دي اودلته رأس المال نشته اومونږ وایو چی مقصود دعقد شرکت څخه ګټه حاصلولو دي اودا په توکیل سره کیږی **(وعندمالك وزفر)** اوامام مالك وائی چی شرکة الصنائع والتقبل کی اتحاد دعمل او اتحاد دمکان ضروری دي .

(ولزم کلا عمل قبله أحدهما فیطالب کل بالعمل ویطالب الأجر الخ)

توضیح: اولازمیږی په هر یو شریك باندي هغه عمل چی قبول یې کړی یو کس په دوی کښی یعنی که دواړو کښی یو کس عمل قبول کړی نو په دواړو دغه عمل لازمیږی تردي چی جامو والالره مثلا داحق شته چی دکار قبلونکی شریك په عمل اوکار کولو ونیسی یعنی چی کار تری وغواړی اوهغه شریك ته چی عمل اوکاریې قبول کړی نه دي داحق شته چی دجامو والا څخه اجرت اومزدوری وغواړی ځکه په شرکت سره هریو دبل څخه وکیل وګرځیده نو کوم شی چی دیو لپاره وي نو هغه به دبل لپاره هم وي لکه مصنف رحمه الله وائی چی **(فیطالب کل بالعمل)** نومطالبه به

دهريو څخه په عمل اوکارکولی شی (**عمله أحدهما**) چې يو ددوي څخه کار کړی وي.

(ويبرأ الدافع بالدفع اليه والكسب بينهما وان عمل أحدهما فقط)

تنقيح: او بري به وي ورکونکی دمزدوری په ورکولو دمزدوری سره هريو ته مثلا زيد اوعمرو دواړو سره شرکت وو بکر جامي راوړی اوزيد ته يې درنگ لپاره ورکړي کله چې جامی رنگ شوی نو بکر ددي مزدوري دزيد په ځای عمرو ته ورکړه نو باالکل صحيح ده اوبکر خلاص دي يعنی تاوان وربان‌دي نشته (**والکسب بينهما**) اوګټه به ددواړو شريکينو ترمنځ شريکه وي اګر چې کار يو کړی وي.

(وشركة الوجوه هذه هي الوجه الرابع من الشركة وهي أن يشتركا بلا مال يشتريا بوجوههما ويبيعا)

تبيان الوجوه فی بيان شركة الوجوه: شرکت الوجوه ته ځکه وجوه وائی چې په ديکښې وجوه يعنی مخ خرچه کولی شی يعنی مخ ته پکښې اعتبار وي مراد دمخ نه اعتماد دي ځکه مال پکښی نه وي بعض علماء وائی چې هرکله دواړو سره روپۍ نه وي نو يو ملګري دبل مخ ته ګوری اوبعض علماء بيا وائی چې په دي وجه ورته وجوه وائي چې چاسره مال نه وي نو خلک ورسره قرض معامله نه کوی مګر داچې مرتبه اوشرف ولري. [عنايه ص ۴۰۸ ج ۵].

اوحاشيه شرکت وجوه ديته وائی چې دوه کسان سره بی له مال څخه شريک شی (**ليشتريا**) ددي لپاره چې بی له نقد کولو دثمن دمبيعی څخه يوشي واخلي يعنی په قرضو سره (**بسبب وجاهتهما**) په سبب دعزت او شرافت ددوي سره (**فيبيعا**) بيايې خرڅ کړی (**فماحصل من الثمن**) نو کوم ثمن چې حاصل شی نو دهغی ثمن څخه به بائع ته خپل حق ورکړي (**فأن فضل شي**) نوکه يوشی دثمن دبائع څخه زيات شی نو هغه به ددواړو ترمنځ شريک وي (**وهذه الشركة الخ**) داشرکت داماما شافعي رحمه الله په نزد روا نه دي ځکه ګټه فرعه اوتابع دمال ده اوديکی مال نشته نو شرکت نه منعقد کيږی اوموږ وايو چې دشرکت فی الربح استناد اونسبت عقد ته کيږی نه مال ته. (**فتصح مفاوضةً**) نو په شرکت وجوه کښی شرکت مفاوضه هم صحيح کيږی (**بأن يشترط**) هغه داسی چې کوم مساوات په مفاوضه کښی واجب دي هغه دلته هم شرط شی (**ومطلقها عنان**) اومطلق شرکت وجوه اوتقبل يعنی چې تلفظ په لفظ دمفاوضی سره ونه کړي نو دابيا عنان دي نو بيا پکښی مساوات شرط نه دي (**وكلٌ وكيل للآخر فى الشراء**) يعنی کله چې عقد دشرکت وجوه مطلق وي نو

بيا هريو وکيل دبل دي ځکه مطلق شرکت بغير له دينه نه تماميږی (**أما ان شرطت**) لکن که په مطلق شرکت الوجوه کښی مفاوضه شرط شی نو بيا هريو دبل وکيل دي اوهريو دبل کفيل دي ځکه مفاوضه متضمنه ده کفالت اووکالت لره (**فان شرطا مناصفة المشتری اومثالثته فالربح کذلک وشرط الفضل باطل الخ**)

مسائل شرکة الوجوه: که په شرکت وجوه کښی داشرط کړی چی مشتری يعنی اخستل شوی شی به سره نيمائی وي اوګټه به هم سره نيمائی وي يا اخستل شوی شی به سره په ثلثونو وي اوګټه به هم سره په ثلثونو وي نو دا دواړه صورتونه جائزدي (**وشرط الفضل باطل**) اوشرط دزيادت باطل دي يعنی داشرط کړي چی مشتریٰ به سره نيمائی وي اويابه سره په ثلثونو وي خو ګټه ديوکس به په اندازه دملک باندي زياته وي نو داشرط باطل دي ځکه ګټه په اندازه دملک وي (**لئلا يؤدی**) ددي لپاره چی ونه رسيږی ګټه دمالم يضمن ته يعنی چی تاوان وربانديي نه راځي اوګټه اخلی ځکه دانارو دي (**بخلاف العنان**) په خلاف دشرکت عنان سره چی کله رأس المال غير عروض وي يعنی نقدين وي ځکه رأس المال په دي وخت کښی په تعين سره نه متعين کيږی نو ګټه نمو درأس المال نه ده نوسره دمساوات دمال نه تفاضل پکښی جائزدي .

(**ولايجوز الشرکة فی الاحتطاب والاحتشاش والاصطياد وماحصل لکلٍ فله وما أخذاه معا فلهما نصفين وماحصل له باعانة الآخر فله وللآخر اجر مثله بالغا مابلغ عند محمد رحمه الله ولايزاد علی نصف ثمنه عند أبی يوسف بيان مالايجوز الشرکة فيه**) اوشرکت روا نه دي (**فی الاحتطاب**) په راجمع کولو دلرګيو کښی (**والاحتشاش**) اوپه ګياه او وابنو راجمع کولو کښی (**والاصطياد**) اوپه ښکار کولو کښی ځکه شرکت په مباح شيانو کښی نه صحيح کيږی ځکه شرکت متضمن وکالت لره وي اوپه مباح کښی وکالت باطل دي ځکه وکالت تقاضا دصحت دأمر دمؤکل کوی او مؤکل أمرنه صحيح کيږی ځکه هغه په مباح شيانو ولايت نه لري (**وماحصل لکل فله**) کوم شی چی ددي مباحاتو څخه چاته حاصل شو بی له کومک دبل څخه نو هغه دهمدغه کس دي (**وماأخذاه**) اوکوم شی چی دواړو رانيولی وي اوراجمع کړی وي يوځای نو هغه به ددواړو وي (**وماحصل له باعانة الآخر فله**) اوکوم شی چی يو کس ته دبل په امداد اوکومک کولو سره حاصل شوی وي نو دابه دهمدي کس وي چی چاته حاصل شوی دی (**مثلاً أن يقلع أحدهما**) مثلاچی يوکس ونه له بيخه

راوباسي اوبل يې ورسره راجمع کړي نو دا ونه به دراويستونکي وي **(وللآخر اجر مثله)** او ددي بل کس لپاره يعنى دکومک کونکى لپاره ددي په مثل مزدوري يعنى چې دغه اندازه کار يوکس وکړي نو څومره مقدار مزدوري چې هغه ته ورکولى شي نو دغه کومک کونکى ته به هم همغه اندازه ورکولى شي **(بالغا مابلغ)** څومره مقدار چې وي دا دامام محمد رحمه الله قول دي **(ولايزاد على نصف ثمنه عند أبي يوسف الخ)** خو دامام أبو يوسف رحمه الله په نزد دکومک کونکى مزدوري به ددغه راجمع شوى شي دنيمائى څخه زياته نه وي يعنى که دغه اجر مثل نيمائى دثمن ددغه شي وو ياکم ددي څخه نو وربه کړي شي اوکه اجر مثل ددغه شي دثمن څخه زياته وه نوبيا به ددي ثمن نيمائى ورکړل شي ځکه په نصف دمجموعه ددغه شي باندى خو کومک کونکى راضى وو .

> **(ولا في الاستسقاء بأن كان لأحدهما بغل وللآخر راوية فاستسقى أحدهما فالكسب للعامل وعليه اجر مثل ما للآخر والربح في الشركة الفاسدة على قدر المال)**

توضيح: همدارنګه په اوبو کولو [خړوبولو] داوبو کښى هم شرکت نه صحيح کيږى ځکه اوبه دأمور بماحه وو څخه دي نو شرکت پکښى نه صحيح کيږى **(بأن كان)** داد استسقاء صورت بيانوى چې مثلاً ديو کس قچر وي اودبل راويه وي راويه اصل کښى هغه اوښ ته وائى چې په هغى اوبه راوړلى شي خو بيا ددي استعمال په هغه ګوډى کيږى چې دڅرمنى څخه جوړشوى وي داوبو دوړلو لپاره چې په کوچانى ژبه ورته داوبه خاى وائى **(فاستسقى أحدهما)** نويو اوبه راوړلى يا راويستلى **(فالكسب للعامل)** نو ګټه داوبو راويستونکى او راوړونکى وي **(وعليه اجر مثل ما للآخر)** اوپه اوبه راوړونکى اجر مثل ددي بل کس دي يعنى دګوډى دخاوند مزدوري په اوبو راوړونکى ده **(والربح الخ)** اوګټه په شرکت فاسده کښى به په اندازه دمال وي ځکه ګټه تابع دعقد وي خو چې شرکت صحيح وي اوچې شرکت فاسدشى نوګټه بيا تابع دمال ګرځى نو ګټه به ددواړو ترمنځ دمال په اندازه تقسيمولى شى **(كما اذا شرط)** لکه په شرکت مفاوضه يا عنان کښى چې ديو کس لپاره دګټې څخه معلوم دراهم شرط کړى شي نو شرکت فاسديږى نو ګټه به په اندازه دملک وي ترديکه مال سره نيمائى وو اوګټه يې سره په ثلثونو کړه يعنى چې ديو کس لپاره دوه ثلثه ګټه شى اودبل لپاره يو ثلث شى نو داشرط باطل دي اوګټه به هم نيمائى وي .

(وتبطل الشركة بموت أحد الشريكين ولحاقه بدار الحرب مرتداً اذا قضى به ولم يُزكِّ أحدهما مال الآخر بلا اذنه)

توضیح: اوشرکت عقد باطلیږي په مرګ دیو دشریکینو سره ځکه دامتضمن دي وکالت لره اودشرکت دثبوت لپاره وکالت ضروري دی اوپه مفاوضه کښې کفاله ضروري ده اومرګ وکالت اوکفالت دواړه باطلوی نو دي سره شرکت هم باطلیږی **(ولحاقه بدارالحرب مرتداً)** اوشرکت عقد باطلیږی په پیوسته کیدو دیو شریک سره ددارالحرب پورې په حالت دارتداد کښې خو چې قاضي دده په پیوسته کیدو سره ددارالحرب پورې فیصله کړي وي ځکه لحوق ددارالحرب پورې حکماً مرګ دي **(ولم یزک أحدهما مال الآخر بلا اذنه)** او داجائز نه دي چې یو دشریکینو څخه دبل شریک دمال څخه زکواة بلا اجازې ورکړي ځکه زکواة په تجارت کښې داخل نه دي بل داچې زکواة کښې نیت شرط دي نو اجازه پکښې ضروری ده ددي لپاره چې نیت پکښې ثابت شي .

(فان أذن كل واحد صاحبه فأدّيا ولاءً ضمن الثاني وان جهل بأداء الأول)

تشریح: که هر یو شریک خپل ملګري ته اجازه وکړه چې زکواة دي زما ورکړی **(فأدّيا)** نو هریو شریک زکوة دخپل ځان څخه هم ورکړو اودملګری څخه هم **(ولاءً)** یو بل پسې **(ضمن الثاني)** نو دویم کس یعنی اخري کس به تاوان خپل ملګری ته ورکوی اګر چې دادویم کس داولنی په زکوة أداء کولو ناخبره وو داد امام صاحب په نزد او دصاحبینو په نزد که دویم کس دأولنی په زکوة ورکولو ناخبره وو نوبیا تاوان وربانديي نشته **(وان أدّیامعاً ضمن کلٌّ قسط الآخر)** اوکه دواړو یوځای زکوة دخپل ځان څخه اودملګری څخه أداء کړو نو هریو به تاوان دحصی دبل ملګری ورکوی **(مثل ان أدّی)** هغه داسې چې هریو شریک دبل په غائب والی کښې زکوة ورکړو **(واتفقا)** اومتفق اوبرابره شوه أداء ددواړو په یوه زمانه کښې **(أولایعلم)** یازمانه مختلفه وه خو ذاپته نه لګیده چې کوم یو مخکې دي په بل باندي نو هریو به بل ته دهغه دحصی تاوان ورکوی **(فان شری مفاوض أمةً باذن شریکه لیطأ فهی له بلا شیء)** **خلاصه:** که شرکت مفاوضه کښې یوشریک دشرکت په مال باندي دشریک په اجازې سره یوه وینزه ددي لپاره واخلي چې وطی کړی نه دتجارت لپاره نو دا وینزه دهمدغه کس شوه چې چا اخیستی ده او یوشی هم وربانديي نه لازمیږی. داد امام صاحب أبو حنیفه رحمه الله قول دي **(وأما عندهما)** خو صا[illegible] نیم ثمن اخلی کوم چې

يې دشرکت دمال څخه أداء کړي دي خکه دوينزې دغه ثمن په اخستونکې قرض وو خوده دشرکت دمال څخه أداء کړو نو شريک به يې تري خپل نيم حق اخلي (**ولأبي حنيفة**) امام أبو حنيفه رحمه الله وائي چې دغه وينزه داخستو په وخت کښې په شرکت کښې داخله شوه څکه شرکت مفاوضه تقاضا ددي کوي چې کوم شي مستثنی دمفاوضي څخه نه وي لکه طعام جامې وغيره چې مستثنی دي نو هغه به په شرکت مفاوضه کښې داخل وي اود وينزې اخستل هم مستثنی نه دي نو داهم په شرکت کښې داخله شوه [عنايه ص ۴۱۵ ج ۵ مکتبه حقانيه] .

(**ثم الاذن**) بيا اجازه په شراء سره لپاره دوطي تقاضا دهبې کوي څکه دوطي حلال والي لپاره په شرکت مفاوضه کښې بله لارنشته مگر هبه څکه که همدغه شريک په خپل شريک مشتري باندي خپله حصه په وينزه مشترکه کښې خرڅه کړي نو دغه حصه چې شريک ورباندي خرڅه کړه ددواړو ترمنځ شريکه شوه څکه شرکت مفاوضه کښې داخله شوه نو بيا مشتري لره ددي وينزې وطي کول جائز نه دي خوکله چې دغه اجازه باالوطي تقاضا دهبې وکړه نو په مشتري يو شي هم نه لازميږي څکه په هبه کښې رجوع نه صحيح کيږي (**وأُخذ كلٌّ بثمنها**) اودبائع لخوا څخه هريو شريک ددي وينزې په ثمن نيولې شي يعنې دهريو څخه يې غوښتلې شي څکه مفاوضه کفالې لره متضمن ده يعنې مشتري په طريقې داصالې اوشريک په کفالې سره نيولې شي

كتاب الوقف

وقف په لغت کې حبس اوبندولو ته وائي اوپه اصطلاح کښې (**هو حبس العين على ملك الواقف والتصدق باالمنفعة كالعارية وعندهما هو حبس العين على ملك الله تعالى**) . داوقف بندول دذات دي په ملک دواقف باندي اوپه تصدق اوخيرات کول دي يا منفعت ددي سره لکه عاريه يعنې يوشې چاته سوالې ورکول څکه مستعار شي دمالک په ملک کښې پاتې کيږي خو صرف دانتفاع اجازه بل ته ورکړي نو همدارنګه وقف شي هم دمالک په ملک کښې پاتې کيږي خو منفعت يې صدقه کړي (**وعندهما**) خو صاحبين وائي چې وقف بندول دذات دي په ملک د الله تعالى باندې يعنې نه دواقف په ملک باندي پاتي دي اونه بل چاته انتقال شوی دي (**فلو وقف**) مصنف رحمه الله دامام أبوحنيفه په تفسير باندې تفريع کوي نو که يوشې په فقيرانو وقف کړي (**اوبنى سقاية**) يا داوبو لوښې اوپيمانه يا داوبو خاى چې خلک ترې فائده واخلي (**او خانا السبيل**) خان هغه ځاى ته وائي چې په دشتو دښار په لارو کښې ددي لپاره جوړشوي وي چې کاروان اوقافلې والا پکښې

ښکته کيږي اوپکښې اوسيږي [کفايه ص ۴۴۸ ج ۵] چې فارسي کښې ورته دکاروانانو سرائي وائي نو معنی داشوه چې يادمسافرو لپاره سرائي جوړ کړي (**اورباطاً**) يا مسافرخانه جوړه کړي خو فرق دخان اورباط دادي چې خان دمسافرينو دکاروان لپاره سرائي دي اورباط صرف مسافرخانه ده (**أوجعل أرضه مقبرة**) ياخپله ځمکه دمړو لپاره هديره وګرځوی (**لايزول ملك**) نو دامام صاحب په نزد دموقوف ځخه دواقف ملک نه ختميږي اګر چې واقف دغه وقف ترمرګ پورې معلق کړي لکه (**ان مت فقد وقفت**) که زه مړشوم نو ماداوقف کړې دي (**في الصحيح**) په قول صحيح کښې يعنی داوصيت لازمه دي خو دملک ځخه نه وځي نو تصرف دبيع وغيره هم پکښې نشي کولی (**قد ذكر ان الخلاف**) شارح وائی چې داذکر شوی چې دغه اختلاف دامام صاحب اوصاحبينو ترمنځ په جواز دوقف کښې دي ځکه دامام صاحب په نزد وقف جائز نه دي ځکه وقف تصدق باالمنفعة دي اومنفعت معدوم دي اوتصدق په معدوم نه صحيح کيږي (**لكن على الأصح**) لکن صحيح داده چې اختلاف په لزوم کښې دي ځکه وقف دامام صاحب په نزد غير لازم دي لکه يو حديث کښې راځي چې لاحبس عن فرائض الله (**وان علق باالموت**) اوکه وقف دمرګ پورې معلق کړي نو په ديکښې بيادوه روايته دي دامام صاحب ځخه په يوروايت کښې لازم ګرځي اوپه بل روايت کښې لازم نه ګرځي (**واختار في المتن هذا**) خو په متن کښې دادويم قول غوره کړي چې لازم نه ګرځي خو دصاحبينو په نزد وقف لازم ګرځي اوپه همدي فتوی ده (**والأصل فيه**) بنيادي دليل په باب دوقف کښې وقف دابراهيم عليه السلام دي يعنی دکعبې ځمکه اګر چې دمخکښې نه موقوفه وه لکن ديوالونه اوأبادي ددي په ملک دابراهيم عليه السلام سره جوړه شوی ده اوبيائی وقف کړه (**وعند أبي حنيفة**) خو دامام أبوحنيفه رحمه الله په نزد وقف په دوه شيانو سره لازميږي يعنی دواقف دملک ځخه وځی لکه مصنف رحمه الله چې وائی (**الا أن يحكم به حاكم**) مګر داچې حاکم ورباندي حکم وکړي يعنی داپه غير وقف دمسجد کښې ده لکه مسافرخانه يا د اوبو ځای وغيره چې داپه حکم دحاکم سره لازميږي دويم لکه مصنف وائی (**والا في مسجد بُنِيَ وافرز**) مګر وقف لازم ګرځي په مسجد کښې (**بُنِيَ**) چې جوړ کړی شي يعنی په جوړولو سره (**وأفرز بطريقه**) اوپه راجدا کولو دلاري سره چې لاره يې معلومه شي (**وأذن**) او خلکو ته اجازه ورکړی شي په مانځه سره په ديکښې (**وصلّ واحد**) او يو کس پکښې لمونځ

وکړي (**وان جُعل تحته سرداب لمصالحه**) اګر چې دمسجد څخه لاندې يوه کوټه جوړه کړی شی لپاره دمصالحو او سامانونو دمسجد نو بيا هم مسجد لازم ګرځی (**اختلف فی شرائط**) چې يوځاي مسجد ګرځي ددی په شرائطو کښې دائمه وو اختلاف دي (**فعند أبی يوسف**) امام يوسف رحمه الله وائی چې صرف دغه وينا دواقف کافی ده چې ووائی چې مادغه ځمکه مسجد وګرځوله (**لأن التسليم**) ځکه دځمکې سپارل متولي اوسرپرست ته دده په نزد شرط نه دي ځکه وقف لپاره داسقاط دملک دبنده راځي خالص دالله تعالی درضا لپاره (**وعند محمد**) امام محمد رحمه الله وائی چې داضرور ده چې په جمع سره پکښې لمونځ وشی ځکه دده په نزد تسليم شرط دي (**وعند أبي حنيفة**) او امام أبو حنيفه رحمه الله وائی چې ديو کس لمونځ کول پکښې هم کافی دي (**ثم جعل**) بيا دسرداب يعنی دزير زمينی کوټه جوړول دمسجد څخه لاندې دمسجد مانع نه ګرځی يعنی وقف ته يې ضرر نه رسوی.

(فان جعل لغيرها اووسط داره مسجداً أوأذن باالصلاة فيه فلا)

تشريح: يعنی که دمسجد څخه لاندې دزيرزمينی کوټه دمسجد دضروورياتو څخه غير دبل څه لپاره جوړه کړه نو دامسجد مسجد نه ګرځی همدارنګی که دکور په منځ کښې مسجد جوړ کړي اوخلکو ته دلمانځه اجازه پکښې وکړي نو دي سره هم مسجد مسجد نه ګرځي ځکه لاره يې نه ده جداشوی اونه معلومه شوی (**وعند أبي يوسف**) دامام أبو يوسف رحمه الله په نزد ملک دواقف دوقف څخه په نفس وينا هم ختميږی يعنی چې ووائی چې ماداځمکه دمسجد لپاره وګرځوله اومتولی ته دسپارلو يالاري جداکولو ضرورت نشته (**وعند محمد**) دامام محمد رحمه الله په نزد سپارل ددغی ځمکې متولی ته اوقبض دمتولی په کښې شرط دي بيا مصنف رحمه الله ددغه اختلاف چې دامام محمد او امام أبو يوسف ترمنځ دي فروع بيانوي (**فقال فصح وقف المشاع ان لم يحتمل القسمة**) مشاع هغی ځمکې ته وائی چې مشترکه وی اوتقسيم شوی نه وي. نومشاع ځمکه که احتمال دتقسيم نه لري نو دمسجد او مقبری څخه ماسوا دصاحبينو په نزد ددي وقف صحيح دي اوپه مسجد اومقبره کښې دامام أبويوسف رحمه الله په نزد وقف صحيح نه دي او دامام محمد په نزد صحيح دي (**وان احتمل القسمة**) اوکه احتمال دتقسيم يې درلوده يعنی چې دتقسيم څخه وروسته هم ددي څخه فائده اخستلی شی نو دامحل داختلاف دي نو دامام أبو يوسف په نزد

صحيح ده او دامام محمد رحمه الله په نزد صحيح نه ده خو دامام أبو يوسف په قول فتوى وركولى شي او چې احتمال دتقسيم نه لري ددي مطلب دادي چې داشى په دي شكل وي چې كه تقسيم شى نو فائده تري نشى اخستلى لكه حمام ژرنده وغيره

(وجعل غلة الوقف أوالولاية لنفسه وشرط أن يستبدل به أرضاً آخر اذا شاء عند أبي يوسف رحمه الله خاصة)

توضيح: جائزده چې وګرځوى وقف كونكى غله ياحاصل يا منافع دموقوف لكه ميوه، دانى ، كرايه وغيره دځپل ځان لپاره ياولايت اوتصرف دموقوف دځپل ځان لپاره وګرځوى دامام **أبو** يوسف رحمه الله په نزد او دامام محمد رحمه الله په نزد جائز نه ده ځكه دده په نزد .....**متولى ته** ويستل دموقوف دقبضى دواقف څخه شرط دي نو په ګرځولو دولايت سره دځپل ځان لپاره **يا** دحاصل دځان لپاره دغه شرط فوت كيږى **(وشُرط أن يستبدل به)** او دامام أبويوسف **رحمه الله** په نزد جائزده شرط دواقف دوقف په وخت كښي چې بدلوى به په دي وقف سره بله ځمكه كله چې يې خوښه شوه يعنى بدون دبيع څخه يا داچې دغه موقوف خرڅ كړى اوددي په ثمن ورته بله ځمكه واخلى كله چې يې خوښه شوه خو چې بدله يې كړه نو دويم هم په شان دأولى ګرځي په شرائطو كى خو امام محمد رحمه الله وائى چې وقف جائز دى خو شرط باطل دي ځكه داشرط په منع دزوال دملك كښى څه أثر نشى كولى ځكه وقف بغير له دينه هم تمام شوى دي **(فان شرط الاستبدال)** ځكه دامام أبويوسف رحمه الله په نزد شرط دبدلولو دځمكى صحت دځمكى نه منع كوى ځكه دده په نزد په منځ دصحت دوقف كښى اوپه منځ داستبدال كى څه منافات اومخالفت نشته **(فانه يجوز)** ځكه دامام أبويوسف رحمه الله په نزد په وقف كښى بدلول جائز دى بى له شرط دواقف نه يعنى كه واقف شرط لګولى نه وي نو بياهم ځمكه بدلولى شي خو كله چې موقوفه ځمكه دفصل كولو څخه كمزورى شي **(ونحن لانفتى)** شارح وائى چې مونږ دامام أبو يوسف په دي قول فتوى نه وركوو ځكه مونږ په دي موقوفه ځمكه بدلولو كى دومره زيات فسادونه ليدلى دي چې دشمار څخه وتلى دي **(فان ظلمة القضاة)** ځكه ظالمان قاضيان دغه قول دامام أبو يوسف حيله ګرځوي لپاره دباطلولو داكثره اوقافو دمسلمانانو **(وفعلوا مافعلوا)** اوبيا ورسره هغه څه كوى چې څه يې خوښه وى **(وشُرط لتمامه ذكر مصرفٍ مؤبدٍ)** او دتمام والى دوقف لپاره شرط داده چې ددي مصرف مؤبد ذكر كړى شى لكه مسجد مسكينان وغيره مؤبد دامعنى چې دهغى انقطاع رانشى **(وقال أبو يوسف)** اوامام ابويوسف رحمه الله وائى چې بدون دذكر دتابيد څخه هم وقف صحيح دي

اوکله چې هغه ختم شو چې وقف یې دهغې لپاره کړې وو نوبیابه داوقف فقیرانو ته ګرځولی شي

اګر چې ذکر دفقیرانو دواقف لخوا شوی نه وي (وصح وقف العقار لا المنقول) دامام أبو حنیفه په نزد دځمکې وقف صحیح دی خو دمنقولي شیانو وقف صحیح نه دی ځکه دي شیانو کښې تابید نه راځي اوپه وقف کښې تابید ضروری ده اود امام أبویوسف رحمه الله په نزد په منقولي شیانو کښې هم وقف صحیح دی او امام محمد رحمه الله وائی چې دټولو منقولي شیانو چې دخلکو تعامل دهغې په وقف کښې روان وی جائز دی (کالفأس) لکه تبر (والمرّ) بیلچه (منجد عربی (والقدوم) تیشه (والمنشار) اره (والجِنازة) او دجنازې کټ (وثیابها) جامې دجنازې یعنې چې په جنازه یې اچولی شي (والقدر) کټوی (والمرجل) لوی دیګ یا پتیله [غیاث اللغات] (والمصحف) قرآن شریف اوپه همدې قول دامام محمد رحمه الله اکثره خلک دښارونو عمل کوی (فأذا صح الوقف لایُملک ولایملک) کله چې وقف صحیح شو یعنې شرائط یې موجود شو (لایُملک) نوبیادواقف لپاره مملوک نه ګرځي (ولایملک) اونه دبل چالپاره تملیک قبلوی په بیع وغیره سره یعنې نه خرڅولی شي اونه اخستلی شي اونه هبه کولی شي اونه میراث کښې وړلی شي (اعلم۔أن بعض المتأخرین) شارح رحمه الله وائی چې بعض متأخرینو علماؤ دموقوف یعنې دوقف شوی دبعضې حصې دخرڅولو جواز ورکړی دي خو په هغه صورت کښې چې دموقوف دباقی حصې تعمیر خراب وي اوپه دي تعمیر یې ولګوی ځکه په بیع دبعض سره ابقاء دبعض راځي اوپه نه خرڅولوسره دټول وقف دختمیدو ویره ده اوفائده هم تري نشي اخستلی۔دفقهاؤ یوه قاعده ده (من ابتلی ببلیتین یختار أهونهما) که څوک په دوه امتحاناتو کښې راګیر شي نو اسانه دي پکې غوره کړي (والأصح) خو صحیح داده چې خرڅول یې جائز نه دي ځکه وقف وروسته دصحت نه ملک نه قبلوی لکه حُر چې رقیت نه قبلوی (وقد شاهدنا) اوموږ دوقف په خرڅیدو کښې دومره نقصانونه لیدلي دي لکه په استبدال کې چې مو لیدلي دي .

(ولکن یجوز قسمة المشاع عند أبي یوسف)

توضیح: مصنف رحمه الله استدراک دماقبل څخه کوی مخکښې یې وویل چې موقوفه ځمکه دواقف په ملکیت کښې نه راځي اونه یې دبل چاپه ملکیت کښې راوستلی شي نو ددي څخه داخبره معلومیده چې په دي موقوفه کښې به تملیک باالکل نه جاری کیږي اوداګمان تری کیده چې تقسیم

دمشاع موقوفی به هم جائز نه وي ځکه په تقسیم کښی یوقسم تملیک راځی خاص طور په ځمکه کښی نو ددفع ددغه وهم لپاره حکم وکړو چی تقسیم دمشاع جائزدي دامام أبو یوسف په نزد باندي (فأن القسمة فی غیر المثلیات الخ) مثلیات هغی ته وائی چی مثل ولري لکه غنم وغیره اوغیر مثلیات هغه دي چی مثل ونه لري لکه ځمکه وغیره چی دیته ذوات القیم هم وائی. دتقسیم معنی داده چی تعین الحق الی تمیز کل مایتولی صاحبه اثباته واسقاطه. تعین اومعلومول دحق یعنی تمیز اوجداکول دهریو هغه څه لره چی دده ملګری دهغی اثبات اواسقاط تصرف لري په تقسیم کښی معنی دافراز یعنی جداکول اومبادلی هم شته ځکه هرشریک لره چی کوم حق راجمع شوی دي نودابه بعض دده خپل وي اوبعض به دده دملګری وي نو اول اعتبارته یعنی چی دیته وګوري چی دادده خپل حق دي اوتقسیم یې کړو نو دا افراز شو اوچی دیته وګوري چی بعض دده دملګری یعنی شریک وو نو بیا دا مبادله شوه یعنی دده حصی ته دهغه بل کس څه حصه راغله اودهغه بل حصی ته دده څه حصه ورغله نودایو قسم مبادله شوه نوبه بعض موادو اوځایونو کښی یوه راجح وي نو په مثلیاتو کښی لکه مکیلات موزونات اوعددیات متقاربه کښی تمیز محض یعنی افراز ته ترجیح ورکړل شوی ځکه ددي حصو ترمنځ دومره تفاوت نه وی خو په غیر مثلیاتو کښی لکه ځمکه وغیره کښی مبادله غالبه ده نو ځکه شارح وائی (فأن القسمة الخ) چی تقسیم په غیر مثلیاتو کی غالب وي په دیکی جهت دتملیک نه جهت دافراز (ومع هذا) اوسره ددینه چی تملیک پکښی غالب دي تقسیم دمشاع دامام أبویوسف په نزد جائز دي (مع انه لایجوز) سره ددي چی په غیر مثلیاتو کښی جهت دتملیک غالب دي خو تملیک په وقف کښی جائز نه دي ځکه دامحل دملک لپاره پاتی نه ده نو تملیک هم پکښی نه صحیح کیږی نو جهت دافراز به په اوقافو کښی غالب ګرځولی شي یعنی سره ددینه چی په غیر مثلیاتو کښی جهت دافراز غالب نه وي نو دوقف په خاطر به دیته غلبه ورکولی شی (فأن وقف نصیبه) که چیرته ددو شریکینو څخه یو شریک خپله حصه ځمکه دمشترکی ځمکی څخه وقف کړي نو دغه واقف ته جائز دي چی دخپل شریک سره ځمکه تقسیم کړی اوخپله حصه راجدا کړي. (فأن وقف نصف عقار) که یو کس نیمه ځمکه دټولی هغی ځمکی څخه وقف کړی چی دواقف وی (فالقاضی) نوبیا به قاضی دغه ځمکه دواقف سره نیمانی کړي (لکن لایجوز) یعنی سره ددینه چی تقسیم دمشاع موقوفی جائز دي خو تقسیم دوقف په مابین دمصارفو کښی یعنی دمستحقینو کی جائز نه دي.

(ويبدأ من ارتفاعات الوقف بعمارته وان لم يشترطها الواقف ان وقف على الفقراء)

تشريح: اودوقف دحاصلاتو څخه به اول شروع په عمارت او ابادی دوقف سره شروع کولی شی اګر چی واقف داشرط کړی نه وي خو په هغه صورت کښی چی ددي وقف په فقيرانو وي **(وان وقف على معين)** که وقف يې ددي څمکی مثلا وکړو په معين اشخاصو باندي **(واخره الفقراء)** او اخر ددي لپاره دفقيرانو لپاره وقف کړو مثلا ووائی چی داکور مي وقف کړو دزيد داولادي لپاره بيا دفقيرانو لپاره **(فهي في ماله)** نو ددغی کور دعمارت مصرف به په مال دهمدي معين اشخاصو کی وي يعنی مثلا دزيد د اولادي په مال کی به وي **(فان امتنع أوكان فقيراً)** خو که دغه معين اشخاصو مثلا دزيد اولادي انکار وکړو چی مونږ ددي موقوف تعمير نه کوو اويافقير وو په تعمير باندي يې قادر نه وو **(أجره الحاكم وعمّره بأجرته)** نو حاکم به يې چاته په اجرت ورکړی اوپه دغه اجرت سره به يې تعمير اوابادی وکړي **(ثم ردّه الى مصرفه)** بيابه يې بيرته خپل مصرف ته يعنی چی واقف چاته وقف کړي وسپاری **(ونقضه يصرف الى عمارته)** اومات شوی اومستعمل شوی شی به ددي وقف په ابادي کی مصرفولی شی **(اويدّخر)** ياد ذخيره کړی شی دابادی دضرورت لپاره **(وان تعذر صرفه اليها)** اوکه ددغه مستعملو شيانو صرف کول ابادی ته ګران وو مثلا ضرورت يې ورته نه وو نوخرڅ دي کړی شی او ددي ثمن دي په وقف ولګول شی **(ولايقسم بين مصارفه)** خو دغه مستعمل شيان به دوقف دمصارفو ترمنځ چی فقيران وغيره دي نشی تقسيمولی څکه ددوي حق په ذات دوقف کی نشته بلکی په حاصلاتو کښي حق دي.

والله المستعان وهو الموفق للمزيد وماذلك على الله بعزيز ولله الحمد والمنة واياه أسأل أن يجعل ذلك لوجهه الكريم مصروفا وعلى النفع به موقوفاً وأن يغفرلي خطيئتي يوم الدين وأن يدخلني والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين محمد وآله وصحبه أجمعين والحمد لله رب العالمين.

۱۱۔ذوالقعدة۔۱۴۳۹ هـ ق

۲۔أسد۔۱۳۹۷ ش

۲۴۔جولای۔۲۰۱۸ م